

اسلامي انقلاب؛ بنسټونه او ځانګړنې

د امام خمینی او آیت الله العظمی خامنه ای په لیدتوګو په تاکید سره

(د موجودو آثارو په رڼا کښې)

Download from:aghalibrary.com

د سیاسي او اسلامي انقلاب د تفکر ډله

زیار: محمد حقی

ژباړه: محمدرحیم درانی

1397

لړ لیک

لړ لیک..... ۲

سریزه ۵

خپله خبره..... ۷

لومړۍ برخه: کلیات او مفاهیم..... ۱۵

سریزه: ۱۶

۱. د اسلامي انقلاب تعریف ۱۸

۲: د اسلامي حکومت ضرورت ۳۶

دوهمه برخه: د اسلامي انقلاب نظري بنسټونه ٤٦

سریزه: ٤۷

۱.فلسفی- حکَمی مبناوې ۵٤

۲.عرفاني- اخلاقي بنیادونه ٦۲

۳. فقهي-کړچاري بنسټونه ۷۱

سریزه ۷۸

۱: نظري چوکاټ ۷۹

۱: د امام خميني په مفکوره کې د اسلامي انقلاب علتونه ۸۱

الف: د اسلامی انقلاب جوړښتي علتونه ۸۱

ب: د اسلامي انقلاب د Brokerage (کارګزاری) علتونه ۹۲

څلورمه برخه: د ولایت فقیه نظریه..... ۱۱۳

سریزه: ۱۱۳

۱. د ولایت فقیه د بحث مخینه او موقعیت ۱۱٤
۲. د ولایت فقیه دلیلونه ۱۱۸
۳. د ولي فقیه شرایط ۱۲۲
د مطلقه ولایت فقیه مفهوم ۱۲۷
پنځمه برخه: د اسلامي انقلاب د بریالیتوب عوامل.....۱۳۵
1 .خلک ۱۳۸
د امام خمینی(رح) د لارښود مرحلې:.....۱٤٦
۱. .....ایډیالوجي۱٥٤
شپږمه برخه: اسلامی ډموکریسی.....۱٦۳
سریزه: ۱٦٤
۱.د ډموکریسي نظري چوکاټ ۱٦٦
۲.اسلامي ډموکریسي (تعریف او تاریخی مخینه) ۱۷۰
۳.د ستر لارښود له نظره په اسلامي ډموکریسۍ کښې د خلکو رول ۱۷٤
٤.امر بالمعروف او نهی عن المنکر، د حکومت په چلوونکیو باندې نظر د ټولو دنده.... ۱۷۸
٥.په اسلامي ډموکریسۍ کښې جوړ شوو ارګانونو کښې د خلکو رول..... ۱۸۳
سریزه ۱۹۷
۱.د اسلامی انقلاب دینی او کلتوري هدفونه ۱۹۹
۲.د اسلامی انقلاب سیاسي هدفونه ۲۰٦
۳.د اسلامی انقلاب ټولنیز هدفونه ۲۱٦
٤.د اسلامي انقلاب اقتصادي هدفونه ۲۲۹
اتمه برخه: د ایران د اسلامی انقلاب بیلکه ځانګړتیاوې.....۲۳۷
سریزه ۲۳۸
۱. د اسلامی انقلاب ځانګړتیاوې ۲٤۱

اسلامی انقلاب..... ٤

٢. د ايران د اسلامي انقلاب د نړۍ لويو انقلابونو سره مقايسه..... ٢٤٦

سرچينې..... ٢٦٨

سریزه

د المصطفی (ص) نومې نړیوال تحقیقاتي مرکز په جامعة المصطفی العامیه کښې د اسلامي او انساني علومو او تعلیماتو د تولید او بیا رغونې د یو ډېر لوړ مرکز او د دغې اداري علمي ضرورتونو ته د ځواب ویلو د مرجع په توګه تل په دې لټه کښې دے چې د اسلامي او انساني علومو په زمینه کښې مشهور او ارزښتناک آثار د معرفت نړۍ وړاندې کړي. دې ته په پام سره چې د جامعة المصطفی (ص) د اهدافو او مقاصدو په شمول د ژورو اسلامي نظریاتو پراختیا د جامعة المصطفی (ص) له اهدافو څخه ده او د اسلامي سرچینو د ترجمې د غورځنګ تابیا کول یې له بنیادي سیاستونو څخه ګڼل کیږي، دغې حوزوي اداري د الهي تعلیماتو د خپرولو او د خداے د پاکو اهلبېتو علیهم السلام د نوراني مکتب د معرفي کولو لپاره په مختلفو ژبو د علمي او دیني سرچینو او آثارو د ترجمې تابیا کړې ده.

د «اسلامي انقلاب؛ بنسټونه او ځانګړنې» د امام خمینی او آیت الله العظمی خامنه ای په لیدتوګو په تاکید سره (د موجودو آثارو په رڼا کښې)

په عنوان سره موجوده کتاب د تحقیقاتي اداري په تېره بیا د ترجمې د عمومي اداري د ټولو ملګرو د کوششونو یوه نمونه ګڼل کیږي چې د ښاغلي محمدرحیم درانی لخوا له فارسۍ په پښتو ژبه ترجمه شوے او د ښاغلي عبدالرحیم درانی په بیا کتنې او اصلاح سره اتمام ته رسېدلے دے او د ترجمې د طرحې په اجرا باندې ځارنه د ښاغلي اباذر هاشمي په غاړه وه. دغه کتاب د ترجمې، جاجونې، بیاکتنې،تصحیح او وروستي کنټرول له بهیره وروسته په ټوله نړۍ کښې د اسلامي او انساني علومو مشتاقانو او مینه والو ته د عمومي استفادې لپاره وړاندې کیږي.

حسین متقي

د المصطفی نړیوال تحقیقاتي مرکز مشر

خپله خبره

اسلامي انقلاب چې په يقين سره د شلمې پيړۍ د ورستيو يوه مهمه پيښه او ښکارنده ګڼل کيږي، د نورو انقلابونو اپوټه، ديني او معنوي ماهيت لري او پر نړيوال نظام واکمن مادي پال نظر يې ننګولی او د نړۍ په بې برخې ولسونو او اسلامي ټولنو کښې يې د هيلې يوه څپه پيدا کړې ده.

اسلامي انقلاب د مادي نړۍ ليد د بنسټونو او په نړيواله سويه د سلطې د نظام د پايلو په نفي کولو او د الهي نړۍ ليد په تکيې په داخلي ډګر کښې د ظالمانه نظام په نفي کولو او د نوې بيلګې په وړاندې کولو سره بشريت ته يو نوی افق انځور کړ او د ايران په ټولنه، د اسلامي نړۍ په جغرافيا او د نړيوالې ټولنې په ډګر کښې د ژورو او پراخو بدلونونو سبب سرچينه وګرځيد .

د اسلامي انقلاب د بنسټونو جاج او څيړنه له دې امله مهمه ده چې دغه انقلاب له نوې او ژورې ليدتوګې او نظريې به کارولو سره وکولی شول ځان له سوچه ديني مخينې او جړو سره، د يوې ژوندې سياسي بيلګې په توګه په نړيوال او سيمه ايز ډګر کښې مطرح کړي او ديني بنسټونو او الهي ارزښتونو په اساس يو نوی نظام جوړ کړي او په مختلفو ملي او نړيوالو سويو د پراخو بدلونونو د جوړيدو سبب وګرځي. پر دې اساس د ماهيت او د جوړيدو د شرايطو او اړخونو له نظره لوړ اهميت لري او د هغه د بنسټونو، علتونو، د راتللو د لاملونو، ماهيت، موخو او ځانګړنو پيژندل لا زيات ضرورت لري.

دا کتاب د اسلامي انقلاب د بنسټونو، نظريې، ولايت فقيه، د اسلامي انقلاب د موخو، لاملونو، د اسلامي انقلاب د ځانګړنو، ديني ولسواکۍ او داسې نورو موضوګانو په هکله له ليکلو شويو مختلفو مقاله او کتابونو اخستل شوی دی چې د امام خميني(ره) عليه الرحمه او د اسلامي انقلاب د ستر لارښود مدظله العالي له نظره د اسلامي انقلاب د بنيادونو او ځانګړنو د معرفي کولو هڅه کوي .

د دغه کتاب په جوړيدو کښې، جامعة المصطفی (ص) د علمي پلاوي د غړيو د تخصصي کاري ډلې په جوړيدو، د ضروري عناوينو په تصويب

سره جامعې مقالې او لازم بحثونه برابر او د دې ټولګې په چوکاټ کښې په مختلفو ژبو کښې د ژباړې لپاره وړاندې کړی شول.

د دغه کتاب لومړۍ برخه د کلیاتو او مفاهیمو په باره کښې ده چې پکښې د انقلاب د ټکي له مفهوم شناسۍ وروسته اول د اسلامي انقلاب مفهوم او بیا د اسلامي انقلاب ماهیت راسپړل شوی او په اخره کښې د اسلامي حکومت د ضرورت دلیلونه بیان شوې دي .

دوهمه برخه د اسلامي انقلاب د اساساتو او آرونو په هکله ده چې پکښې د امام خميني(ره) د افکارو په چوکاټ کښې د فلسفي - حکمي، عرفاني- اخلاقي او فقهی کړچاري بنسټونه بیان شوې دي، د دې برخې موخه دا ده چې مونږ د امام خميني(ره) له نظره د اسلامي انقلاب په تحلیل کښې یو جامع نظر لیدلی شو. هغه درې ګونی چوکاټ چې د امام خميني(ره) په اثارو کښې ورته توجه شوې د اسلامي انقلاب په هکله یو جامع تحلیل وړاندې کولی شي. اسلامي انقلاب د فلسفي آرونو له نظره له صداریي فلسفې او حکمت متعالیه متاثره دی.

دریمه برخه د اسلامي انقلاب د نظریې بیان او نظري ماډل یا بیلګې ته بیله ده. په دې بیلګه کښې د اسلامي انقلاب لپاره دوه علتونه یعنې

جوړښتي او کارګزاري علتونه په ګوته کولې شو. په ساختاري يا جوړښتي لاملونو کښې درې ډلې يعنې فرهنګي، ټولنيز او سياسي علتونه شامل دي. امام خميني(ره) د فرهنګي لاملونو په بحث کښې د فرهنګي جوړښتونو بدلون او تحول د هر بدلون بنياد او اساس ګڼي. د امام خميني(ره) له نظره د انقلاب په ټولنيزو لاملونو کښې د ټولنيزو خدماتو نشتون، فقر او بې وزلۍ، او په پردیو پورې پييلتوب ته اشاره کولی شو. او د اسلامي انقلاب په سياسي علتونو کښې خپل سري، قانون دښمني، د سياسي او داسې نورو ازادیو نشتون شامل دی. د امام خميني(ره) له نظره دغه ټول جوړښتي عوامل له کارګزاري (بروکر يا سرور) عواملو سره يو ځای د ډلو، پرګنو، او د ټولنې د سازمانونو د ټولنيزې لام بندۍ او تيارۍ سبب شو چې په حقيقت کښې د ټولنې د سياسي، ټولنيزو او فرهنګي حالاتو په خلاف يې پاڅون وکړ.

د څلورمې برخې موضوع، د ولايت فقيه بحث دی چې پکښې، د ولايت فقيه په تاريخي مخينې، د ولايت فقيه په عقلي او نقلي دلايلو، د ولي فقيه په شرايطو، د فقيه د مطلقه ولايت په مفهوم، له ولايت فقيه سره د اساسي قانون پر اړيکو او داسې نورو مسايلو بحث شوی دی. د دغه برخې په بحثونو کښې، د فقيه د مطلقه ولايت معنا دا ده چې د ولي

فقیه د اختیاراتو لمنه د ضرورت په حد پورې محدوده نه ده بلکښې مطلقه ده او حتی هغه موارد او ځایونه هم پکښې شاملیږي چې مساله د ضرورت حد ته نه وي رسیدلې خو مصلحت او عقلایی توجیه لري. د فقیه مطلق ولایت هیڅکله د ظلم، دیکتاتوری او داسې نورو څیزونو سبب نه ګرځي .

پینځمه برخه د اسلامي انقلاب په ارکانو او لاملونو راڅرخي. په دې برخه کښې اسلامي انقلاب په کامیابی کښې د خلکو، دینی رهبری او اسلامي ایډیالوجی د رول په شان عوامل بیانوي. په دې بحث کښې د امام خميني(ره) مشري د ایران په انقلاب کښې یو ټاکونکی رکن ګڼل شوی او دغه رهبري په مختلفو پړاوونو منجمله د مبارزو په پیل کښې د مبارزانو د مشر په توګه د امام خميني(ره) د مطرح کیدو د وخت، د جلاوطنی په څوارلسو کلونو کښې د د امام د رهبری،د غورځنګ په اوج کښې د غورځنګ د مشری، د پهلوي حکومت د پرځیدو ا د انقلاب د کامیابی او په آخر کښې د اسلامي جمهوري حکومت له جوړیدو وروسته د نظام رهبري څیړل شوې ده. همداراز په دې برخه کښې د اسلامي انقلاب په کامیابی کښې د اسلامي ایډیالوجی رول او د مارکسستي او لیبرالیستي ایډیالوجینو د ناکامی علتونه بیان شوې دي.

په شپږمه برخه کښې ديني ولسواکي بيان شوې ده. په دې برخه کښې، د ديني ولسواکۍ د بحث مفهوم او تاريخي مخينې او په ايران کښې يې مقام ته له اشارې ورسوته د ايران په سياسي نظام کښې د طاقت او واکمنۍ د ارکانو د ټاکنې، په اسلامي ولسواکۍ کښې د موجودو ادارو له لارې د خپل سياسي او ټولنيز برخيکل په ټاکنه کښې د مشارکت او د مشرانو د ټاکنې،د حکومت په جوړولو کښې د خلکو په رول د تاکيد، د واکمن د تعيين او د هيواد د چلولو، د حکومت له خوا د خلکو خبرول او پوهول او د شفافيت حق، د خلکو په وړاندې د حکومت خدمت ګزاري او مسوولیت، د قانون جوړولو او فيصله کولو په چاره کښې د خلکو مشارکت، د طاقت په خاوندانو د خلکو څارنه، په اسلامي او ولسواکه ټولنه کښې د طاقت د پيزواني کولو لپاره د امر بالمعروف او نهی عن المنکر (کړمکړ) څارندويه طريقه او داسې نور مسايل بيان شوې دي .

اومه برخه د اسلامي انقلاب په موخو متمرکزه ده. په دې برخه کښې د اسلامي انقلاب ديني فرهنګي اهداف (منجمله: د اخلاقي فضايلو د ودې لپاره د مناسب چاپيريال جوړل او اسلامي قوانينو اجرا، د اسلامي ښوونې او روزنې پراختيا، د اسلام او د هغه د صحيح احکامو معرفي، له

فکري او فرهنګي بې لاریو سره مبارزه....)، سیاسي اهداف (منجمله: د ظالمانه نظام نسکوریدل او د اسلامي حکومت جوړیدل، د خلکو په عمومي مشارکت سره د هیواد د چارو چلول، د خپرونو، مطبوعاتو، غونډو او لاریونونو قانونمنه ازادي، د سلطه منبې او سلطه پانې نفي، خپلواکي غوښتنه او.....) او ټولنیز اهداف (منمله: د ټولنیز عدالت تحقق، د خلکو لپاره د برابرو حقوقو ټینګول، له ټولنیزو بې لاریو او مفاسدو سره مبارزه....) او اقتصادي اهداف (منجمله: په ټولنه کښې د اقتصادي عدالت تحقق، اقتصادي خپلواکۍ ته رسیدلی او....) څیړل شوې دي.

د دې کتاب اتمه یا آخري برخه د اسلامي انقلاب لوړ او ممتاز مقام ته بیله شوې ده. دغه برخه اول د انقلاب په ځانګړنو متمرکزه شوې چې پر اساس یې فرهنګي اړخونو ته پام، آګاهانه انتخاب ته اهمیت ورکول، د حقه عقیدو د پیاوړتیا هڅه، د اهدافو په دقیقو بیانولو تاکید، د انقلاب هر اړخیز والی، په پردیو د تکیې نه کول، د قوانینو او اصولو ثبات، د متغیر مصالحو خیال ساتل، له ثابت ملاتړه د واکمنۍ برخمنتیا، له غیبي امدادونو برخورتیا، او داسې نورې چارې د اسلامي انقلاب نه جدا کیدونکښې ځانګړنې ګڼل شوی دی. او په دوام کښې د فرانسې او

روسيې له انقلابونو سره د اسلامي انقلاب يوه پرتله شوې ده او ښودل شوې چې اسلامي انقلاب څنګه له ډيرو اړخونو تر هغوی زيات ژور، جدي، او ولسي و او اوسمهاله انسان ته يې يوه نوې نظريه وړاندې کړې ده .

د دغه طرحې اجرا کوونکی قدرمن فاضل ورور ښاغلی محمد حقي دی چې له هغوی له هغو ټولو کسانو د مننې په ترڅ کښې چې د دغه کتاب په جوړلو کښې يې رول لرلی په تيره بيا د المصطفی (ص) د نړيوال څيړنځای د قدرمن مشر ډيره قدرونه کوو؛ د اړوندې ډلې او دهغې د غړو، ښاغليو حجت الاسلام ډاکټر بناري، حجت الاسلام ډاکټر سخاوتي، حجت الاسلام ډاکټر نوروزي او حجت الاسلامی ډاکټر مير علي د ملګرتيا مننه او د دې کتاب په ليکلو کښې د هغوی د صبر او ځيرتيا مننه او قدرونه کوو.

د المصطفی (ص) د نړيوال څيړنکور

د انساني علومو څيړنځای .

لومړۍ برخه: کلیات او مفاهیم

سریزه:

انقلابونه ځانته یو تفکر او لیدتوګه لري چې د هغوي نظري بنسټ او فکري مکتب جوړوي،په بله ژبه لیدتوګې او افکار همیشه له انقلابه د مخکښې حالت یوه برخه وي او له هغوي برته انقلاب نه شي راتللی.د نړۍ لوی انقلابونه د خپلو موخو او ایډیالونو په تناسب ځانته خاص فکري بنسټونه لري او د دغو ارمانونو او ایډیالونو د تحقق لپاره رامینځته شوې دي. د ایران اسلامي انقلاب هم د فکري او اعتقادي آرونو له نظره، بې ساري ځانګړنې لري. د ایران د انقلاب یوه مهمه ځانګړنه د هغوي مذهبي او ديني ماهیت دی. په حقیقت کښې د ایران اسلامي انقلاب په خپل ديني هویت سره، د نړۍ له نورو انقلابونو بیل او پیژندل کیږي، ځکه چې د نړۍ لوی انقلابونه د ماهیت له نظره یا اقتصادي او مادي وو لکه په ۱۹۱۷ کال کښې د روسیې انقلاب، یا سیاسي او ازادي

غواړي لکه په ۱۷۸۹ کال کښې د فرانسې انقلاب؛ په داسې حال کښې چې د ایران په اسلامي انقلاب کښې د هغې د سیاسي اقتصادي عواملو تر څنګ، ایمان او عقیده هم موجوده وه او د هغې اساسي عامل په اسلام د خلکو ایمان او عقیده وه. له دې نظره د اسلامي انقلاب اصلي ماهیت د هغې «اسلامي والی» دی. (باباپور، ۱۳۸۲: ۵۷) همداراز هر انقلابه یوه تاریخي او زماني پدیده ده او په یو تاریخي بهیر کښې او له یو لړ زمینو او عواملو وروسته جوړیږي. له دې امله د هر انقلاب په جاج کښې په تیره بیا د اسلامي انقلاب په جاجونه کښې ضروري ده دهغې زمینو او تاریخي بستر او حالاتو ته پام وکړو، په بله بڼه کښې صحیح او جامع تحلیل لاسته نه شو راوړلی. د اسلامي انقلاب د جوړیدو د چلند او دهغې د اغیزشیندونکي زمینو په شننه کښې داسې مرکزي او مهم ټکي شته چې د انقلاب د حرکت په لاره او د هغې په پیدایښت کښې اغیزمن دي چې د ټاکو غورځنګ، مشروطه غورځنګ، د تیلو د صنعت ملي غورځنګ او د غبرګولي د پینځلسمې پاڅون شامل دي. په بله ژبه، دغه پاڅونونه او غورځنګونه د اسلامي انقلاب تاریخي زمینې او بسترونه دي او اسلامي انقلاب د هغوي لویو حرکتونو د لړۍ وروستۍ کړۍ ده چې د ایران په اوسمهاله تاریخ کښې رامینځته شوې دي. پر

دې اساس په دې برخه کښې د امام خميني(ره) (ره) او د رهبرۍ د ستر مقام له نظرونو چې د قران کريم، او د معصومينو (ع) له کلام او سيرته اخستل شوې د اسلاميانقلاب ديني، مذهبي او فرهنګي ماهيت بيانوو او د اسلامي حکومت د جوړولو په ضرورت خبرې کوو.

۱. د اسلامي انقلاب تعريف

د انقلاب ټکی د باب انفعال له مصدره د عربی ټکی دی او په لغت کښې له قلبه اخستل شوی دی چې معنا يې ده په بل مخ رااړول يا لاندې باندې کيدل، له يوه حاله بل حال ته اوړيدل، ستنيدل، تحول، بدلون او تبديلي يا به پل مخ کيدل، (عميد، ۱۳۵٦: ۱٦۷) د دې مطلب په يو شي کښې پوره بدلونه او يو دوراني څرخ او اوړيدل دي. د دې عربي معادل (الثوره، النهضه، الحرکه) دي او په انګريزۍ کښې يې برابر ټکی Revolution دی. دا ټکی په اصل کښې د نجومو يوه اصطلاح ده چې د کپرنيک د لوی اثر په وجه يې په طبيعي علومو کښې اهميت پيدا کړ.دغه په علمي استعمال کښې خپل کره انګريزي معنا چې د ستورو منظم او قانونمند تاويدونکی او تلونکی حرکت و، وساته.... او په اولسمې پيړۍ کښې د Revolution ټکی په لومړي ځل په ۱۶۶۰

کال کښې په یو هیواد کښې له سیاسي بدلونه وروسته د یوې سیاسي اصطلاح په توګه وکارول شو. (آرنت،۱۳۸۱: ۵۷ و ۵۸)

د انقلاب د ښکارندې پیچلتیاوې د هغې د معنا او مفهوم په باب د نظریه ورکوونکو د اختلاف سبب شوې دي، د ټولنیزو علومو اندیال او ټولن پیژاندي د انقلاب په هکله په هیڅ یو منل شوې تعریف متفق نه دي او هر یو له خاص منظره د انقلاب تعریف کړی دی چې د هغو په اساس ښایی انقلاب داسې تعریف کړی شو چې انقلاب د یوې ټولنې د بنادي افکارو، سیاسي، کلتوري او ټولنیزو جوړښتونو او کړچارونو بدلون دی چې په چټکه توګه او په یو خاص پراو کښې خاصو اهدافو ته د رسیدلو لپاره بڼه غوره کوي. انقلاب په اصطلاح کښې په اقتصادي، سیاسي ټولنیز او یا فرهنګي نظام کښې سخت او ناڅاپي بدلون ته وایي چې د یوې ټولنې د تولید په طریقې، واکمنې پرګنې، ټولنیزو، سیاسي او یا کلتوري ادارو او جوړښتونو کښې بنیادي بدلون راولي. انوری، ۱۳۸۱، ۱: ٦٢٩)

د شهید مطهري د تعریف له مخې « انقلاب هغه سرکښې مخالفت او راپاڅیدو ته وایي چې د یو ټاټوبي خلک یې د مطلوب حالت او نظم د راوستلو لپاره د موجود واکمن نظام په خلاف کوي؛ نو د انقلاب جړې

دوه څیزونه دي: یو له موجود حالته د خلکو ناخوښي او غوسه او بل د یو ښه او مطلوب حالت ارمان او آیډیال»مطهري، ۱۳۸۹: ۵۹) د ټولن پیژندنې په علم کښې د انقلاب معنا په ناڅاپي توګه او له تاوتریخوالي سره یو ځای په ټولنه او ټولنیزو جوړښتونو کښې د یو لړ جړپه ایزو، بنیادي او ژورو بدلونونو راوستل دي. (محمدي، ۱۳٦۵: ۲٦) او دې ته په پام سره چې د انقلاب ټکی په مختفو معناوو کښې استعمالیږي، په یو ډول ارادي عمل دلالت کوي.

پر دې سربیره، د انقلاب توری یو ډول د تقدس او لوړتیا اړخ او تکاملي او مفهوم لري او د نفي او انکار توکی هم پکښې موجود دی. دغو دریو لاملونو ته په پام سره، شهید مطهري د انقلاب ټولنیز مفهوم داسې تعریفوي: لا ښه حالت ته د رسیدلو لپاره په خپله اراده د یو حالت خرابول، او د لا لوړ نظم د ټینګولو لپاره د واکمن حالت رانسکورول او بدلول. (مطهري، ۱۳۸۹: ۷ ـ ۸٦) په عین حال کښې تاکید کوي چې انقلابونه یوازې ټولنیز خصلت نه لري بلکښې د انسانانو په فطرت کښې جړپه لري. مطهري، ۱۳۸۹: ۹۰)

د انقلاب ټولنیز مفهوم په تیره بیا د الهي پیغمبرانو بعثتونو او غورځنګونو ته په پام سره چې قران یې د مبارزو کیسې په مختلفو

ځایونو کښې بیان کړې، لیدلی شو. د بیلګې په توګه د قرآن قصص سوریه د حضرت موسی د انقلاب او د هغه ټولنیز بدلون په اړه چې د دغه انقلاب په پایله کښې راپیدا شوی و فرمایي: إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ... وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ(قصص، آیتونه ٦-٤) په دغو ایتونو کښې قرآن د پیغمبرانو د غورځنګ علت او موخه په هیواد کښې موجود فساد او ټولنیزه زمینه بیانونی(فرعون په مصر کښې لویي خرڅوله) پر دې اساس د خدای اراده انقلابي اراده ده چې د ټولنې ټولنیز سیاسي نظامونه د ظلم ځپلې او محرومې ټولنې په ګټه واړوي، دغه هدف ته رسیدل یو مبارز او بریالي ځواک ته اړتیا لري.. (شجاعیان، ۱۳۸۲: ٤٩).

د انقلاب معنا په خلکو د ظالم پاچا له واکمنۍ سره مقابله، او له منکره نهي او معروف ته بلل او له تخته د هغه راکوزول دي.(امام خمینی، ۱۳۷۸، ٤ ټوک ۱۵۲ مخ) انقلاب داسې حرکت دی چې د ټولنېله زړه راپورته شوی او د خلکو د ارادې غوښتنو او تقاضاوو په اساس جوړ شوی وي. (امام خمینی، ۱۳۷۸، ١٦ ټوک ٢٦ مخ)انقلاب که د خدای لپاره وي، هیڅ ضرر او تاوان نه لري، خو د دنیا لپاره انقلاب دوه مخه لري

یو مخ یې تاوان دی او بل مخ یې ګټه ده (امام خمینی، ۱۳۷۸؛ ۵ ټوک ۳۵ مخ ـ ۳٤)

انقلاب یو اسلامي الهي بدلون دی. انقلاب یو اخلاقي، فرهنګي او عقیدتي بدلون دی چې ورپسې ټولنیز، اقتصادي او سیاسي بدلون او بیا د انسانانو هر اړخیزه وده راځي.(دآیت الله خامنه ای ویناوې، نیټه ۱۳۷۱/۰٤/۲۲)

پر دې اساس د انقلاب مطلب د ټولنې په سیاسي احوالو او حالاتو کښې د خلکو له عمومي سرکښۍ رامینځته شوې بنیادي، چټک، او سخت بدلون او په نتیجه کښې یې د یو بل نظام په ځای د یو سیاسي، حقوقي او اقتصادي نظام راتلل دي. دغه تعریف ته په پام سره او دې خبرې ته په توجه سره چې د یو دین په توګه له اسلامه مطلب د داسې معارفو ټولګه ده چې د خدای له لورې د انسانانو د هدایت او بشپړتیا لپاره نازل شوی او د خدای د رسول (ص) په وسیله انسانانو ته رسول شوی، په اسانه د اسلامي انقلاب په تعریف پوهیدلی شو .

د اسلامي انقلاب په تعریف کښې راغلې دي: د اسلامي انقلاب مطلب دی د اسلامي نړۍ لید او اسلامي ارزښتونو او د امامت د نظام په اساس

د ټولنې په کلي جوړښت او سياسي نظام کښې يې بنيادي بدلون راوستل چې د خلکو په پوهې او ايمان او د متقيانو او صالحانو په مخ په وړاندې حرکت او د خلکو په عمومي پاڅون ولاړ وي. عميد زنجانی، ۱۳۷۷: ١٤)

په يو بل تعريف کښې د اسلامي انقلاب معنا ده: د موجود غير اسلامي نظام د بدلون او پر ځای يې د يو جامع او کامل اسلامي نظام د راوستلو لپاره د مسلمان امت حرکت؛ همداراز د خپل ژوند په ټولو اړخونو کښې د اسلامي قوانينو، اصولو او پروګرامونو د پلي کولو لپاره هڅه. صديقی، ۱۳۷۵: ٤٩) له يوه بل نظره، د اسلامي انقلاب مطلب يعنې يوه داسې لاره چې هدف يې اسلام او اسلامي ارزښتونه دي. انقلاب او مبارزه، د اسلامي ارزښتونو د ټينګولو لپاره ده..(مطهری، ۱۳۸۹: ۹۲) همداراز د اسلامي انقلاب مطلب دی: د جاهليت د ارزښتونو او د طاغوتي نظامونو په خلاف راپاڅيدل چې انسانان يې په زولنو کښې راوستې او د خلکو او ولسونو د مظلوميت، عمومي فحشاء، ظلم، فساد او پرګنيز او توکميز توپير او د ولسونو د بدمرغۍ سبب شوې او هر څه يې د لا ډير ګټې او د زر او زور د څښتنانو د لا زيات ظالمانه واکمنۍ قرباني کړې دي. نو صحيح اسلامي حرکت د دوو ارزښتني نظامونو په مينځ کښې مقابله او د دوو کلتورنو تر مينځ ډغره ده. يو فرهنګ د بشريت د قيدي کولو

او بل د هغه د ژغورلو. آیت الله خامنه ای، حجاج بیت‌الله الحرام ته پیغام، ۱۳۷۰ د غبرګولي ۲۶)

پر دې اساس اسلامي انقلاب د ټولنې په افکارواو کړونو کښې د اسلامي عقایدو، اخلاقو او احکامو د ژوندي کولو او ژورتیا لپاره د یوې ټولنې چټک او بنیادي بدلونونه دي چې د سیاسي اسلامي نظام د جوړیدو سبب وګرځي.

1. د اسلامي انقلاب ماهیت

د اسلامي انقلاب ماهیت او له نورو انقلابونو د هغه بیلول او پیژندل ګران نه ښکاري او د نړۍ له نورو انقلابونو سره د دغه انقلاب فرق د هغې په اسلامي والي کښې دی. پر دې اساس، که یو نظام خپلې ماهیتي ځانګړنې او له نورو سره د فرق وجوهات هماغه راز وسائي ادعا کولی شو چې لا یې خپل ماهیت نه دی بایللی. خو که دغه فرق یې ونه ساته، باید داده شو چې دغه انقلاب له خپلې اصلي لارې غړیدلی او تاوان یې لیدلی دی. مصباح یزدی، ۱۳۹۰، ص۸۷) د اسلامي انقلاب د ماهیت او څرنګوالي د پیژندلو لباره، مختلف نظرونه په تیره بیا د انقلاب مشران،

د انقلاب د وخت مبارزان او د اسلامي انقلاب په هکله د نظریه ورکوونکو نظرونه څیړو.

دې ته په پام سره چې امام خميني(ره) د ایران د اسلامي انقلاب اندیال او بنسټ ګر ګڼل کیږي او د ایران انقلاب د نړۍ په بیلا بیلو سیمو کښې د امام خميني(ره) په نوم پیژندل کیږي، مناسبه ده چې د ایران د انقلاب د ماهیت په هکله د هغوي نظر وڅیړو. د امام خميني(ره) ویناوې، اعلانیې او خبرې د اسلامي انقلاب په هکله دهغوی د نظر د اخستلو لپاره ښه سرچینه ده. دوي په مختلفو پراوونو کښې د اسلامي انقلاب ماهیت، لاملونه او ارکان بیان کړې دي. امام خميني(ره) چې په انقلاب کښې د رهبرۍ ټول رولونه او کړچارونه یې په ښه توګه جوړ او اجرا کړې دي، د یو کوماندان، معمار او نظریه پرداز په شان رول او د انقلاب حرکت د تاکتیکونو، او ستراتژیو د جوړولو په شان کارونه او داسې نور. هغه حضرت انقلابه په خپلو مخکښې او وروستیو اعلامیو او ویناوو کښې د اسلامي انقلاب د واقع کیدو د څرنګوالي، څه والي او علتونو په باب په یو پوره فرهنګي حل لارې عقیده لرله.(ملکوتیان، ۱۳۸۷: ٦٥) د اسلامي انقلاب په فرهنګي والي تاکید او د خپل کلتور او شناخت بیا لاسته راوړل هغه مسایل دي چې د اسلامي انقلاب په هکله

د امام خميني(ره) په نظرونو کښې مطرح شوې او له دې نظره اسلامي انقلاب د پهلوي د زمانې د سياستونو له امله راپيدا شوې هويتي بحران ته يو ځواب و. له همدې کبله امام، انقلاب ته يو فرهنګي انقلاب وايي: مونږ غواړو چې دا خپل انقلاب، خپل فرهنګي انقلاب، خپل اسلامي انقلاب، ټولو اسلامي هيوادونو ته صادر کړو. امام خمینی، ۱۳۷۸، ۳: ۲۲۷)

د ايران د انقلاب ماهيت له اسلام او د اهل بيتو له ظلم مخالفو تعليماتو اخستل شوی دی، نو د امام خميني(ره) له نظره، الامي انقلاب د خپلواکه هويت او په « الله» په بشپړې او هر اړخيزې اعتقادي پييلتيا سره وکړل شول د ټولو طاقتونو په وړاندې مقاومت وکړي. په دې اړه امام خميني(ره) باوري دی چې «نور انقلابونه په ختيځ او لويديځ پورې تړلې وو خو د ايران اسلامي انقلاب د اسلام په بنياد يو ملي انقلاب او د الهي پيغمبرانو د انقلابونو په شان دی او بې له خدايه په هيڅا تکيه او پييلتيا نه لري» امام خمینی، ۱۳۸۷، ج۱۵، ص ۱۱۸) امام خميني(ره) په خپلو ويناوو کښې په خپل کلتور په تکيې او د لويديځ په نفي کولو ټينګار کوي او د دې ټکي يادونه کوي چې د ايران د خلکو انقلابي حرکت د لويديځ کلتور د نفي په لړ کښې و. عيوضی او هراتی، ۱۳۸۹: ۱٤٥)د

دوي له نظره د اسلامي انقلاب د راتګ او بري راز بايد د خلکو د ځان په بدلانه کښې يعنې په ايمان او اسلام غوښتنه کښې، د اسلامي حکومت د جوړولو په غوښتنه، په خدای په تکيې، شهادت غوښتنې، په اسلامي بنياد د ولس په يووالي او په ځان په باور کښې ولټوو.(ملکوتيان، ۱۳۸۷: ٦٥)

امام خميني(ره) د انقلاب هدف د انسان او ټولنې جوړول، د عدالت تحقق، پر عدالت ولاړ حکومت، او په ټولنه کښې د عدالت او انصاف ساتنه بلله او باوري و چې « زمونږ اسلامي انقلاب مختلف اړخونه لري: انقلاب د فاسد رژيم د راپرځولو، د حق رژيم د قايمولو لپاره و، او هيله ده چې د انسان او د يو انساني هيواد د جوړولو لپاره هم وي... انقلاب د عدل د حکومت او اسلامي جمهوريت د تحقق لپاره چې ورپسې ګام دی.. او د عدالت د ساتلو لپاره»امام خمینی، ۱۳۸۷، ج ۸، ص ۳۱۷) د دوي له نظره نه يوازې انقلاب او مبارزه د اسلام د ساتلو او پراخولو لپاره کيږي بلکښې د اسلامي اهدافو او قوانينو اجرا او پلي کول هم يو ضرورت دی نو ځکه په قيام او مبارزه کښې د اسلامي موخو، ايډيالونو او قوانينو پلي کول په خپله يو لوړ هدف دی. د امام خميني(ره) له نظره زماني ټولنه به ديني او اسلامي ټولنه وي چې د اسلام ديني احکام

او قوانین پکښې تحقق پیدا کړي. جمشیدی، ۱۳۸۸، ص٤١٠) دوي په دې اړه فرمایي: « مونږ د دې لپاره غورځنګ وکړ چې اسلام او د اسلام او قران قوانین زمونږ په هیواد کښې حکومت وکړي»امام خمینی، ۱۳۸۷،ج ۹، ص ١٦٦)

د امام خميني(ره) د نظر په اساس، په ټولو سياسي، اقتصادي او ټولنيزو ارکانو کښې پر بنسيټيز بدلون سربيره، فکري، ايډيالوجيک، عقيدتی او کلتروي بدلون هم د انقلاب په تحقق کښې يوه ضروري چاره ده. د انقلاب په معنوي او محتوايي اړخ د هغوي ټينګار ته په پام سره امام خميني(ره) په دې باور و چې انقلاب يو فکري غورځنګ ته اړتيا لري. امام خمینی، ۱۳۷۸، ۱۱: ۱۹٦)، ځکه چې غير نظرياتي انقلابونه په خلکو کښې دروحي او دننيز بدلون نه راولي او د زورواکۍ او سادويۍ سبب کيږي. د امام خميني(ره) له نظره اسلامي پارامیټر د روحي بدلون سبب ګرځي ځکه چې لوی هدف يعنې په ځمکه د خدای د احکامو اجرا مطرحوي چې که د ولس نصب العين وګرځي په سيوري کښې يې د ټولنې د پرګنو په مينځ کښې وحدت، اتحاد او يو زړه توب لاسته راځي او د همدغه روحي تحول په سيوري کښې چې په خدای په اعتماد ولاړ دی، له غير خدا ځان جدا کول، ميړانه، د شهادت په هرکلی او شهادت

نیکمرغي ګڼل دي چې بهرنی انقلاب راځي. پر دې اساس، امام خميني(ره) د انقلاب لپاره د ځان او بهرنیو ښکارندو په هکله د خلکو په نظر او ادارک کښې بدلونه ضروري ګڼي. دهشیری، ۱۳۷۷، ص ٤٤) امام خميني(ره) د دنیا عام انقلابونه دنیاوي انقلابونه خو د ایران انقلاب الهي انقلاب او د یو اسلامي غورځنګ پایله ګڼي.« ستاسو ایرانیو ځوانانو پاڅون، ستاسو د ایراني ولس پاڅون چې الهي پاڅون و، الهي غورځنګ و، قرآن ژوندی کړ، اسلام ژوندی کړ، اسلام ته یې نوی ژوند وبخښه»امام خمینی، ۱۳۸۷، ج ۸، ص ٢٤٦)

پر خلکو تر حده زیات فشا، د سیاسي سادوبې پیدا کول، او په مختلفو اړخونو کښې د ازادۍ او خپلواکۍ تروړل هغه لاملونه دي چې امام خميني(ره) یې د اسلامي انقلاب د راتللو مهم لاملونه ګڼي « هغه څه چې په لنډه یې ویلې شو دا دي چې د پاچا تر حده زیات فشار، خلک دومره په تنګسیا کښې راوستل چې هغوی په یو عمومي پاڅون لاس پورې کړ. پاچا زمونږ سیاسی، پوځي، کلتوري او اقتصادي خپلواکي له مینځه وړې ده او ایران یې په ټولو اړخونو کښې په لویدیځ او ختیځ پورې تړلی دی. د ایران خلک تر شکنجو لاندې او د جیل په تورو کوټو کښې ووژلې دي. ټول عاملان او خطیبان یې د حقایقو له ویلو منع کړې

دي. دا ټول سبب شوې چې د ايران مسلمان خلک د يو اسلامي حکومت غوښتونکښې شي»امام خمینی، ۱۳۸۷، ج٤، ص٥٣٣)

امام خميني(ره) د اسلامي انقلاب او غورځنګ د جوړيدو لپاره دوه مهمې سرچينې په ګوته کوي: « د دغه غورځنګ بنياد له دوو ځايونو سرچينه اخلي: يو له سختو بهرنيواو کورنيو فشارونو او بهرنيو او کورنيو چورتالانونو او بې خرته بې شرميو چې په تيرو څو پنځوسو کلونو کښې ايران او ولس يې يوه ښه ورځ ونه ليدله او په دا وروستيو کښې ډيرې زياتې او ګډې وژلې چې د ايران په اکثرو سيمو کښې شوې دي خلک دې ته مجبوره کړل چې له دغه غورځنګ سره ملګرتيا وکړي او بل، د يو اسلامي او عادلانه حکومت لپاره زمونږ ارمان چې د طاغوتي رژيم په وړاندې يو بل رژيم وي، او اسلامي مسايل د اسلامي د لومړيو وختونو په شان په ايران کښې پلي کړي»امام خمینی، ۱۳۸۷، ج ۸، ص ۸۵)

امام خميني(ره) د مبارزې او انقلاب يو غوره هدف د اسلام د دين ساتنه، اسلامي اهداف او په نړۍ کښې يې پراختيا ګڼي. د بدعتونو او د اسلام د مخالفانو د حملو مخنيوی د هر مبارز مسلمان يوه مهمه دنده او موخه ده. دا هغه اصل دی چې د حرکت او پاڅون له هماغه پيله ورته امام پام کاوه ا د عمر تر پايه پورې يې پرې تاکيد لره. دوي

په ۱۳۴۲ کال کښې له جيله له خوشې کيدو وروسته وفرمايل: مونږ بايد ځان قربان کړو د اسلام لپاره، بايد خپلې ارزوګانې او هيلې د اسلام لپاره فدا کړو.(جمشيدی،۱۳۸۸: ٤٠٨، به نقل از امام خمينی،۱۳۷۸، ۱: ۳۰۷)

امام خميني(ره) د انقلاب محرک د ذاتي ګټو او يا نفساني خواهشاتو لپاره نه بلکښې د خدای د رضا لپاره ګڼله.د دې ايت شريف مطابق چې "قل انما اعظکم بواحدة ان تقوموا لله مثنی و فرادی" د ټولنې ټول وګړي او ټولې ډلې او اجتماعات به يې پاڅون ته بلل او له دې امله په دې اړه يې ټولې فردي او ګډې حل لارې ضروري ګڼلې. (دهشيری، ۱۳۷۷: ٤٤) دې ته په پام سره چې انقلاب يوه داسې چاره ده چې د انسان د وجود دوو اړخونو يعنې بهرني او يا ټولنيز اړخ او دننيز ته شاملیږي او له بل پلوه له دې امله چې انقلاب يو ډول بدلون دی چې هم د انسان له وجوده بهر او هم يې دننه او په نفساني حالاتو کښې تحقق پيدا کولی شي امام خميني(ره) د بهرني انقلاب پر تحقق او يا مادي بدلون سربيره، دننيز بدلون هم د اسلامي انقلاب د پرځايښت اساسي شرط ګانې او باطني بدلون ته يې په بهرني بدلون ترجيح ورکاوه. جمشيدی، ۱۳۸۸: ٤٢٢) دوي په دې باور وو چې: کارونه بايد بدل کړی شي. بايد بدلون راشي، بايد ټول ولس بدل شي. يوازې دا دې نه وي چې مونږ انقلاب

راوسته. باید باطني انقلاب راولو. باید نفسونه مو هم بدل شي. که تر اوسه د شیطان او طاغتون تر سلطې لاندې وو، باید بدل شو او له دغه شیطاني پوښښه رابهر او د رحماني پوښښ لور ته لاړ شو. دا په دې ډول کیدی شي چې مونږ د اسلام د نظام مطابق عمل وکړو. امام خمینی، ۱۳۷۸، ۱۱: ٥٠٤)

ایت الله خامنه ای هم د اسلامي انقلاب په فرهنګي والي په ټینګار سره باوري دی چې: « اسلامي انقلاب له نورو ټولو انقلابونو سره فرق لري؛ نه یوازې یو معنوي او فرهنګي انقلاب دی، نه یوازې اقتصادي انقلاب دی، نه تش سیاسي انقلاب دی؛ یو هر اړخیز انقلاب دی. په خپله د اسلام په شان دی. لکه څنګه چې اسلام معنوي او اخلاقي اړخونه لري، الهي اړخونه لري، په عین حال کښې د خلکو د ژوند خیال هم ساتي؛ په اسلام کښې اقتصادي، سیاسي او ټولنیز اړخ شته دی؛ اسلامي انقلاب هم بیلابیلو اړخونه لرل او د اسلامي انقلاب د پاتیدا او په نړۍ او سیمه کښې د ورځ په ورځ لاژوندي کیدا راز یې همدا د مختلفو اړخونو لرل دي چې د انسان له اړتیاو سره غبرمله او اندوله دی(د ۱۳۸۷ لمریز کال د غبرګولي په څوارلسمه د امام خميني(ره) په حرم کښې د ایت الله خامنه ای ویناوې)

ایت الله خامنه ای د ایران د اسلامي انقلاب یوه اصلي ځانګړنه د هغې اسلامي والی ګڼي: « دا انقلاب په دین متکي و، په اسلام (متکي و)... زمونږ انقلاب خپل هر څه، خپل هدفونه، اصول، او حتی مبارزاتي رودۍ او همداراز د نوي نظام شکل او د هغه د چلولو ډول له اسلامه واخسته. دا انقلاب ته حیرانوونکي اړخونه ورکوي او د هغه د کامیابۍ یو نوی تعریف وړاندې کوي» (د ۱۳۶۶ لمریز کال د وږي په یو دیرشمه د ملګرو ملتو د عمومي اسمبلۍ په دوه څلویښتمه غونډه کښې وینا) دوي اسلام ته ستنیدا د ایران د انقلاب په بري کښې یو مهم عامل ګڼي او باوري دی: « که په اسلام د خلکو ایمان نه وی، انقلاب به نه و کامیاب شوی.. په هغه لوی بدلون چې په دنیا کښې راغی، په اسلام د ایمان رول، لومړۍ درجه رول دی. له دې امله چې مونږ د اسلام لپاره کار کوو، خدای تعالی هم خپله مرسته په مونږ نازلوي. له دې امله چې د ایران ولس په خدای، اسلام او قران ایمان لري، د نړۍ نور ولسونه هم زمونږ د ولس په وړاندې د درناوي احساس کوي»(ویناوې،۱٤/ ۰٤/ ۱۳٦۸)

د انقلاب د ستر لارښود له نظره د ایران انقلاب استثنایي ځانګړتیاوې لري چې پکښې دوو ځانګړتیاو په ایران کښې د ایران د انقلاب په څیرې کښې تر ټولو زیاته اغیزه لرله.. دغه دوه خصوصیتونه دا دي: لومړی دا

چې د دغه انقلاب بنياد ديني، اخلاقي او معنوي ارزښتونه وو او دوهم دا چې انقلاب د حکومت په جوړولو او چلولو کښې د خلکو د غوښتنې او ارادې په اساس باقي پاتې شو. دوي دې ته په اشارې سره چې نور انقلابونه غالبا د مادي تفکراتو په اساس راغلي دي او يا دا چې په يو مادي مکتب عقيده ونه لري؛ بلکښې د مادي تفکراتو په اساس عمل وکړي، حتی هغه انقلابونه چې مقدمات يې مذهبي يا اسلامي وو په آخر کښې له اسلامي حالته بهر شول، ټينګار کوي: « زمونږ په هيواد کښې انقلاب د مذهب له کور يعنې جومات او ديني مدرسې پيل شو او په انقلاب کښې مذهبي دريځ نيونه ورځ په ورځ زياته شوه او د مذهب او معنوي ارزښتونو رول يې دومره پياوړی شو چې داسې کسان يې د انقلاب ډګر ته راوستل چې معمولا په هيڅ انقلاب کښې، دغه شان کسان ميدان ته نه راځي. زمونږ په انقلاب کښې د خلکو غوسه د يوې مادي مسالې په وجه نه وه: بلکښې د دين معنويت او د خدای خبره وه. بيا هم کله چې انقلاب کامياب شو يو حکومت جوړ شو د انقلاب په اساس، يو اسلامي حکومت و؛ يعنې اسلامي جمهوريت، دغه حکومت ښې او کيڼ لورې ته حرکت ونه کړ؛ بلکښې د دين په نيغه

لاره کښې پاتې شو.. دین د انقلاب ځانګړنه وه او پاتې شوه»(ویناوې د ۱۳۶۸ کال د سلواغې شلمه)

ایت الله خامنه ای په دې په ټینګار سره چې د ایران د ولس د انقلاب د کامیابۍ راز، اسلام ګروهنه او د اسلام او قرآن په پیاوړو آرونو تکیه ده، باوري دی چې: « ډیرو له دې ډیر موثر حقیقته غفلت وکړ؛ خو د انقلاب د کامیابۍ راز په دې ټکي کښې وو؛ ځکه چې د ایران ولس د زړه له کومې په اسلام باوري او مومن او پیلی و او دی. اکثره مسلمان ولسونه همداسې دي او که له لارې یې خنډونه لرې کړی شي، په اسلام به د هغوي ژور ایمان ښکاره شي. نو کله چې خلکو د امام په لاس کښې د اسلام بیرغ ولیده او باور یې وکړ چې امام د اسلامي عظمت د ژوندي کولو او د اسلامي نظام د راوستلو لپاره د مبارزې ډګر ته داخل شوی، پر هغه راټول شولو. وروسته هم چې انقلاب کامیاب شو، په همدې محرک سره، په خپله خوښه او ګروهنه د خطر په میدانونو کښې حاضر شول؛ ځکه چې په اسلام د هغوی ایمان ژور و.(ویناوې د ۱۳۸۹ لمریز کال د غبرګولي څوارلسمه)

د رهبرۍ ستر مقام د انقلاب په جوړیدلو او بري کښې د ایران د خلکو د دیني عقیدو د رول په چورلیز ګرځولو سره ټینګار کوي: « که انقلاب

په ديني عقيده او اسلامي ايمان متکي نه واى، نه شو کاميابيدلى. د ټولو خلکو ايمان و چې دغه حرکت يې راوپنځاوه او دوام يې ورکړ. له اسلامي انقلابه مخکښې ټولو يو نيم سل کلنو غورځنګونو همدا هدف تعقيب کړ خو له ناکامۍ سره مخ شو. انقلاب وکړى شول په هماغه لاره کښې په طاقت سره پر مخ لاړ او د خپلې ناکامۍ په لاملونو غلبه وکړي. ولې؟ ځکه چې اسلامي انقلاب نوې خبره وکړه داسې نوې خبره چې د نړۍ په عمومي افکارو په تيره بيا په اسلامي نړۍ کښې يې د ځان لپاره ځاى خلاصولى شو. د دغه نوې خبرې لويه برخه توحيد وه؛ توحيد يعنې په ټولنې د الهي ارزښتونو واکمنياو د طاغوتي، ظالمانه، فاسدو او له سوچه او اسلامي ارزښتونو د سرغړاندو حکومتونو نفي. پر دې اساس توحيد د اسلامي شعار اساسي رکن او د ملا تير او د اسلامي انقلاب پيغام و.(ويناوې، ۱۳۸۲/۷/۲۲)

۲: د اسلامي حکومت ضرورت

د انسان ژوند يو ټولنيز ژوند دى او د هغه معيشت د ټولنې، ملګرتيا او مبادلاتو په سيوري کښې ممکن دى. ټولنيز ژوند د ټولنې د وګړو تر مينځ د ټکرونو او ډغرو سره تړلى دى؛ يعنې کله چې وګړي وغواړي له يو بل سره په ټولنيز ژوند کښې ملګرتيا وکړي او د دغه ملګرتيا برياوې

په خپلو کښې وويشي او تقسيم يې کړي، د هغوي د ګټو تر مينځ يو لړ ټکرونه پيدا کيږي؛ ځکه چې ځينې کسان غواړي زياته وندې يوسي او له طبيعي او ټولنيزو لورينو لا ډيره استفاده وکاندي؛ يا له نورو انسانانو سره د چلند طريقه په خپله خوښه وټاکي او دا خبره د نورو خوښه نه وي؛ نو مجبورا د ټولنې په ډګر کښې ځينې کشمکشونه پيدا کيږي چې د ټولنيز ژوند د لړزانتيا او ړنګيدا سبب کيږي. پر دې اساس د دې لپاره چې انساني ټولنه وکړی شي خپل ټولنيز ژوند ته دوام ورکړي او لوړ انساني هدف ته ورسيږي، دوو اصلونو ته اړتيا لري: الف: د عادلانه او پرمختللې قانون شتون چې د هغه د ټولو مادي او معنوي اړتياوو پوره کوونکښې وي. ب: د قدرتمن حکومت نظام او رهبر شتون چې د عمومي قانون او هدايت اجرا په غاړه ولري، د خلکو په مينځ کښې عدالت ټينګ کړي. نتيجه دا چې حکومت د انساني ټولنې لپاره يوه ضروري چاره ده او د انسان ژوند د ټولنيز ژوند له ټولو لومړيو او پرمختللو پراوونو هيڅکله له حکومته خالي نه دی پاتې شوی .

د امام خميني(ره) له نظره د حکومت د جوړولو د ضروري والي دلايل

امام خميني(ره) په مختلفو عقلي او نقلي دليلونو سره د حکومت د جوړولو ضرورت ثابتوي چې په هغو کښې دغو مواردو ته اشاره کولی

شو د اجرايي موسسو لازمولای، د اسلام د پيغمبر(ص) سنت او روده، د احکامو د اجرا د دوام ضرورت، د حضرت امير المومنين(ع) روده، د اسلامي احکامو کيفيت او ماهيت او داسې نور. اوس دغه دليلونه راسپړو:

الف: د اجرايي موسساتو لازموالی: د قانون ټولګه د ټولنې د اصلاح لپاره کافي نه ده. د دې لپاره چې قانون د انسانانو د اصلاح او نيکمرغۍ سبب شي، اجرائيه قومې او اجرا کوونکي ته اړتيا لري. له همدې امله خدای تعالی د قانون د يوې ټولګې يعنې د شرعې د احکامو د راليږلو تر څنګ يو حکومت او اجرايي سسټم او اداره هم ټاکلې ده. رسول اکرم (ص)د مسلمانانو د ټولنې او د اجرايي تشکيلاتو يا حکومت په سر کښې و. د وحي پر رسولو او د اسلام د عقايدو احکامو او نظاماتو پر بيان او تفسير سربيره يې د احکامو اجرا او د اسلام د نظام او اصولو د ټينګيدو هڅه هم وکړه چې اسلامي دولت جوړ کړي. په هغه زمانه کښې يې مثلا د جزا د قانون په بيان بسنه نه کوله، بلکښې په ضمن کښې به يې هغه اجرا کاوه هم: لاس به يې پرې کاوه، حد به يې جاري کاوه او رجم (سنګساري) به يې کوله. له رسول اکرم (ص) وروسته خليفه همدا دنده او مقام لري. د خدای رسول ۰ص) چې خليفه وټاکه يوازې

د عقایدو او احکامو د بیان لپاره نه و؛ بلکښې همداراز د احکامو د اجرا او د قوانینو د نفاذ لپاره هم و. د احکامو اجرا او د اسلامي نظام نافدول وو چې د خلیفه ټاکنه یې تر دې حده مهمه کړې وه چې بې له هغې پیغمبر اکرم (ص) ما بلغ رسالته، خپل رسالت نه شو بشپړولی. ځکه چې له رسول اکرم (ص) وروسته مسلمانانو هم یو چا ته ضرورت درلود چې قوانین اجرا کړي؛ اسلامي نظامونه په ټولنه کښې اجرا کړي چې د دنیا او اخرت نیکمرغي یې تامین شي.

اصولا قانون او ټولنیز نظامونه اجرا کوونکي ته ضرورت لري. د نړۍ په ټولو هیوادونو کښې او همیشه همداس ده چې تشه قانون جوړونه فایده نه لري. یوازې قانون جوړونه انسان نه شي نیکمرغه کولی. د قانون له تشریحه ورسوته باید یوه مجریه قوه جوړه شي. مجریه قوه ده چې قوانیناو د محکمو حکمونه اجرا کوي او د قوانینو او د محکمو د عادلانه حکمونو له میوې خلک برخمنوي. له همدې امله اسلام لکه څنګه چې قانون جوړ کړی مجریه قوه یې هم ټاکلې ده. «ولی امر» د مجریه قوې چلوونکی هم دی. امام خمینی، ۱۳۷۸: ۲۵(

ب: د رسول اکرم سنت او سلوک: د پیغمبر اکرم (ص) سنت او کړچار د حکومت د جوړولو پر لازموالي دلیل دی. ځکه چې:

لومړی خو يې په خپله حکومت جوړ کړ. او تاریخ ګواهي ورکوي چې حکومت يې جوړ کړی او د اسلامي قوانینو او نظامونو اجرا يې کړې او ټولنه يې اداره کړې ده: نورو سیمو ته به يې والیان لیږل، قضاوت به يې کاوه، قاضیان به يې ټاکل، بهرنیو هیوادونو او د قبایلو مشرانو او پاچاهانو ته به يې استازي لیږل؛ تړون او معاهدې به يې کولې؛ د جنګ کومانده يې کوله او لنډه دا چې حکومتي احکام به يې اجرا کول.

دوهم دا چې: له ځانه وروسته يې د خدای په امر « حاکم» ټاکلی دی. کله چې خدای تعالی له پیغمبر اکرم(ص) وروسته د ټولنې لپاره واکمن ټاکي، د دې معنا دا ده چې حکومت د رسول اکرم (ص) له رحلته وروسته هم ضروري دی او له دې امله چې رسول اکرم (ص) په خپل وصیت سره الهي حکومت خلکو ته رسوي له دې د اسلامي حکومت د جوړولو ضرورت هم معلومیږي.(هماغه ۲۶)

ج: د احکامو د اجرا د دوام ضروري والی: څرګنده ده چې د احکامو د اجرا ضرورت چې د رسول اکرم (ص) د حکومت جوړیدل يې ضروري کړې، یوازې د هغه حضرت په زمانې پورې محدود او رالنډ نه دی؛ او له رسول الله مبارکه (ص) وروسته هم دوام لري. د ایت شریف مطابق، د اسلام احکامو په کوم خاص وخت او ځای پورې محدود نه دي بلکښې

تر ابده باقي او لازم الاجرا دي. يوازې د رسول اکرم (ص) د زماني لپاره نه دي راغلې چې ګوندې له هغه وروسته پريښودل شي او نور حدود او قصاص يعنې د اسلامي جزايي قوانين اجرا نه شي؛ يا ډول ډول مالياتونه ونه لګول شي؛ يا د اسلام له ټاټوبي او اسلامي امته دفاع ختمه او تعطيل شي. دا خبره چې د اسلامي قوانين چوټي کيدونکي او يا په کوم خاص وخت او ځای پورې محدود دي د اسلام د اعتقادي ضروریاتو او عقيدې په خلاف ده. پر دې اساس، له دې امله چې د احکامو اجرا له رسول الله مبارک (ص) وروسته او تر ابده ضرورت لري، د حکومت جوړول او د اجرايي سسټم او نظام ټينګول او اداره ضروري ده. د حکومت له جوړولو او د اجرا او اداري له سسټمه پرته چې د وګړو ټولو فعاليتونه او بهيرونه تر يو عادلانه نظام لاندې احکام جاري کړي، ګډوډی رامينځته کيږي او ټولنيز، عقيدتي او اخلاقي فساد پيدا کيږي نو د دې لپاره چې ګډوډۍ او بې کنټرولې پيدا نه شي او ټولنه له فساد سره مخامخ نه شي بله چاره نيشته مګر دا چې يو حکومت جوړ شي او په هيواد کښې ټولې چارې د هغه تر نظم او انتظام لاندې راشي. پر دې اساس د شرعې او عقل په حکم هغه څه چې د رسول الله مبارک(ص) او امير المومنين علی ابن ابی طالب (ع) په ژوند کښې ضروري و، يعنې

یو حکومت او اجرایي سسټم او اداره، له هغوي وروسته او زمونږ په زمانه کښې هم ضروري دي. هرڅوک چې دا خبره کوي چې د اسلامي حکومت جوړول ضروري نه دي، د اسلامي احکامو د اجرا د ضرورت منکر شوی دی او د احکامو د جامعیت او د اسلام د مبین دین د تل پاتې والي انکار يې کړی دی. (هماغه ۲۷)

د: د امیر المومنین علي ابن ابیطالب (ع) سیرت: د رسول اکرم (ص) له رحلته ورسوته هیڅ یو مسلمان په دې خبره کښې چې حکومت ضروري دی شک نه درلود. هیڅا ونه ویل چې د حکومت ضرورت نیشته. داسې خبره له هیڅا نه ده اوریدل شوې. د حکومت د جوړولو په ضروري والي ټول یوه خوله وو. اختلاف یوازې په هغ کس کښې و چې دغه چاره په غاړه واخلي او د حکومت مشر شي. نو ځکه، د رسول اکرم (ص) له رحلته وروسته د خلاقت د چلوونکي او د حضرت امیر (ع) په زمانه کښې هم حکومت جوړ شو. دولتي اداره موجوده وه او احکام به اداره او اجرا کیدل.

ه: د اسلام د قوانینو ماهیت او څرنګوالی: د حکومت د جوړولو په ضرورت یو بل دلیل، د اسلام د قوانینو (د شرعي د احکامو) ماهیت او څرنګوالی دی. د دغه قوانینو ماهیت او کیفیت ښیي چې د یو دولت

د جوړولو او د ټولنې د سیاسي، اقتصادي او کلتوري اداره کولو لپاره راغلې دي. لومړی دا چې شرعي احکامو ډول ډول قوانین او اصول لري چې یو کلي ټولنیز نظام جوړوي. په دغه حقوقي نظام کښې هر هغه څه چې انسان ورته اړتیا لري برابر شوې دي: له ګاونډیانو اولاد، خپلوانو قوم او هموطنول سره د سلوک له څرنګوالي او د ګډ ازدواجي ژوند له خصوصي چارو نیولې، تر د جنګ او سولې او له نورو ولسونو سره تر راکړې ورکړې پورې؛ له جزایي قوانینو تر د تجارت د حقوقو او صنعت او کرهنې پورې. څرګنده ده چې اسلام تر کومه حده حکوت او د ټولنې سیاسي اقتصادي اړیکو ته اهمیت ورکوي چې ټول شرایط او حالات د مهذب او با فضیلته انسان د تربیت په خدمت کښې راشي. قران مجید او سنت ټول هغه اوامو او احکام لري چې انسان ورته خپل کمال او کامیابۍ ته د رسیدلو لپاره اړتیا لري .

بله دا چې: د شرعي د احکامو په ماهیت او کیفیت کښې په ځیرتیا سره پوهیږو چې د هغوی اجرا او پرې عمل د حکومت جوړولو ته ضرورت لري؛ او د یو لوی او پراخ حکومت او نظام له جوړولو پرته نه شي اجرا کیدی او په د الهي احکامو د اجرا په دندې عمل نه شي کولی.(امام خمینی، ۱۳۷۸: ۲۸)

و: د سیاسي اسلامي انقلاب ضروري والی: د رسول اکرم(ص) له رحلته وروسته، دښمنانو او بني امیه و پرې نه ښودله چې د اسلام حکومت د علي ابن ابیطالب په ولایت سره ټینګ شي. پرې نه ښودله چې هغه حکومت چې د خدای تعالی او رسول اکرم د مرضۍ و جوړ شي. په نتیجه کښې، د حکومت بنیاد یې ګډ وډ کړ. د دوي د حکومت پروګرام زیاتره د اسلام له پروګرام سره په ټکر کښې و. د بني امیه او بني عباسو د حکومت طرز او سیاست اسلامي ضد و. د حکومت سسټم بیخي اپوټه او پاچاهي شو؛ او د ایران د پاچاهانو او د روم د سترواکانواو د مصر د فرعونانو په ډول شو. او په راتلونکو پراوونو کښې یې غالبا په همدغه غیر اسلامي شکل دوام پیدا کړ. د دې خبرې دلیلونه څرګند دي. ځکه چې د غیر اسلامي سیاسی نظام ټینګیدل د اسلامي د سیاسي نظام د بې اجرا پاتې کیدو په معنا دي. همداراز په دې وجه چې هر غیر اسلامي سیاسي نظام شرکیه نظام دی ځکه چې واکمن یې «طاغوت» دی او مونږ دنده لرو چې د شرک اثار د مسلمانانو له ټولنې او د هغوی له ژوندە لرې او ختم کړو. او بیا په دې دلیل چې دنده لرو د مومنو او با فضیلته کسانو د تربیت لپاره مناسب ټولنیز شرایط برابر کړو. مونږ بله چاره نه لرو بې له دې چې فاسد او فاسدوونکي حکومتي سسټمونه له

مینځه یوسو او واکمن خاین، فاسد او ظالمان حکومتونه نسکور کاندو. دا هغه دنده ده چې په هر اسلامي هیواد کښې ټول مسلمانان یې باید ترسره کړي، او سیاسي اسلامي انقلاب کامیابه کړي.(هماغه: ۳۴)

دوهمه برخه: د اسلامي انقلاب نظري بنسټونه

سریزه:

د ایران د اسلامي انقلاب په بهیر کښې د دې کتونکښې یوو چې د هغه زمانې یو د فکري او فرهنګي ډګر ځینې فعالان چې د امام خميني(ره) د شاګردانو په توګه مطرح دي د حکمت متعالیه روزل شوې کسان دي. له استاد مطهري نیولې تر آیت الله مفتح، ډاکټر بهشتی، علامه محمد تقی جعفری، انصاری شیرازی او جوادی آملی، ټولو په دغه فکري ماحول کښې وده کړې ده. له همدې امله ده چې ویل شوې د ایران اسلامي جمهوریت له صداریي اسلامي فلسفې خړوبه شوی او ورته جمهوري متعالیه (لک¬زایی، ۱۳۹۰: ۱۲۵-۱۲۸) ویلی شو. په ډیرو ځایونو کښې ممکنه ده یوازې فقهي نظر مونږ ته ځواب رانه کړی شي. دا فلسفي ملاتړ او مخینه ده چې له مونږ سره د زمانې له اړتیاو او

پوښتنو سره د ماډرنو نظرونو په پیوندولو کښې مرسته وکړي. پر دې اساس باید د امام خميني(ره) په لیدتوګه او سیرت کښې په دغه شان یو نظر سره غور او فکر وکړو. د امام خميني(ره) په باره کښې د ایت الله خامنه ای خبره او تعبیر هم همدې مطلب ته پام سره دی: « امام خميني(ره) د ملا صدرا د مکتب تومنه او نچوړ دی» (خامنه ای ۱۳۸۶/۰۹/۰۸)

خو سره له دې عمومي خیال دا دی چې امام خميني(ره) مخکښې له دې چې حکیم او فیلسوف وي، د فقیه او د خلکو ديني مرجع و او همدې خبرې په ټولنیز او سیاسي ډګر کښې د هغوي د کامیابۍ اسباب برابر کړل (ورعی و ناصری، ۱۳۸۸: ۱۵۵-۱۸۸ و میرباقری، ۱۳۸۹: ۱٦۹-۱۷۵). په دې کښې شک نیشته چې امام خميني(ره) داسې فقیه او مرجع دی چې زیات پلویان لري خو دا پوښتنه پیدا کیږي چې آیا د اسلامي انقلاب په تحلیل کښې یوازې په همدې فقې او فقاهت او د مجعیت په نظر بسنه پکار ده او نورو ډګرونو ته توجه نه ده پکار یا دا چې د امام خميني(ره) آثارو او افکارو ته په پام سره اسلامي انقلاب ته جامع نظر پکار دی او یو جامع ځایی تعریف وړاندې کول پکار دي؟ پر دې اساس پر فقهي نظر سربیره د حکمت او فلسفې او اخلاقو او

عرفان له نظره هم دهغوي په فکري منظومې کښې پوښتنه کولی شو. په دې بنیاد دا پوښتنه هم ځواب مومي چې امام خميني(ره) چې کلونه يې د ملا صدار فلسفه او حکمت ښودلی او مختلف اخلاقي او عرفاني اثار يې پنخولې د اسلامي انقلاب په پراو کښې هم له حکمت او فلسفې او عرفانه نه دی لرې شوی او يوازې په فقاهت او اجتهاد يې بسنه نه ده کړې او له دې امله د اسلامي انقلاب په تحليل او شننه کښې هم بايد د يوې منظومې په شان د هغوی فکري اړخونو او ګوټونو ته پام وشي .

د اوسنۍ برخې نظري چوکاټ د درې اړخيزو نظرونو (برزگر، ۱۳۸۹: ۴۳-۷۲ و فدايی مهربانی، ۱۳۹۳: ۱۸-۱۱۶) په اساس دی. دغه درې ګونی ويش چې د سالام له درې ګونو برخو (عقايدو، اخلاقو و احکامو) اخستل شوی او له پخوا تر اوسه د فقيهانو، محدثينو او فلسفيانو په اثارو کښې استعمال شوی دی، په متعاليه فلسفې کښې لا ژور اړخونه پيدا کړې دي.پر دې اساس، عالم وجود په درېو عالمونو جبروت، ملکوت او ناسوت تقسيميږي. البته تر دغو دريو عالمونو ورهاخوا يو د لاهوت عالم هم شته چې د انسان له لاسرسۍ بهر دی او په دې درې ګوني ويش که نه ذکر کيږي .

د دغو دریو لایو یا استرونو په اساس او له دې امله چې انسان عالم صغیر دی، درې څارونکي ځواکونه ی د عقل، خیال او احساس قوت موجود دی. دغه درې قوې درې ډول علمونه جوړوي، فلسفه و کلام، اخلاق و عرفان او فقه او تجربي علوم. عقلي پوښ د انسان د بصیرت موندلو ډګر دی؛ دغه لایه د ازادۍ ډګر دی او انسان په مختلفو مکتبونو، فرقو او مذهبونو کښې غور کولی او خاص بصیرت او نظر پیدا کولی شي. دوهمه لایه یا پوښ هغه ډګر دی چې په انسان کښې یوه خاصه ګروهنه جوړیږي او هغه یو ټاکلی مذهب او اخلاق غوره کوي. دغه پوښ د عقلي او حسي پوښ تر مینځ موجود دی او له دواړو ځینې ځانګړنې لري؛ اخلاق نه تش تفکر او تعقل دي او نه عمل او کړنه ده، بلکښې د دغو دوو په مینځ کښې یو شی او په عمل ولاړ تفکر دی. عالم مثال یا عالم ملکوت هم دغه شان ځانګړنه لري، نه پرې تش تجرد واکمن دی او نه تشه ماده ده. آخري پوښ چې حسي لایه او پوښ دی او د عالم ناسوت او د ځمکښې له عالم سره اړه لري، د تجرد اړخ نه لري او د فقې او نورو انسانیاو تجربي علومو په شان علمونه پکښې شاملیږي چې له ورځنیو حقایقو او واقعي دنیا سره سروکار لري. ملا صدرا شیرازي د دغو دریو پوښښونو په هکله لیکي چې انسان مختلفې درجې او

مقامونه لري چې ځینې حسي او د محسوساتو له نړۍ سره اړوند دي او ځینې خیالي او دخیال په ډګر دې دي او ځینې نور فکري او تعقلي او د فکراو لیدتوګې له عالماو عقلي ادراکاتو سره اړه لري. او ځینې نور بیا شهودي او له عالم شهود او عیان سره مربوط دي او دغه مرتبې، درجې او نړۍ، د هغوی عالمونو په بدل کښې دي چې د عالم وجود د نظام د ترتیب مطابق ټاکل شوې او پکښې ځینې عالمونه تر نورو لوړ او اوچت دي. شیرازی، ۱۳۷۵: ٤٦٦) پر دې اساس بشري ادراکات هم د نړۍ د نظام په شان مرتبې او درجې لري او له ډیرو ټیټو مرتبو پیل او ډیرو لوړو درجو ته رسیږي. نو حسي ادراکات په ډیرو ټیټو معرفتي مراتبو کښې او روده پیژندنه او تعقلي ادراکات په تر ټولو لوړو مرتبو کښې راځي. د هستي شناسۍ، معرفت شناسۍ او روش شناسۍ له مخې چې په اسلامي نړۍ کښې چې نوموړو دریو پوښښونو په اساس ولاړ دي، د نړۍ ټولې ښکارندې په دریو پوښښونو یا لایو یعنې حسي، مثالي او عقلي کښې راځي. په دغو دریو سطحو یو ډول تشکیکي وحدت ګروهنه واکمنه ده. (پزشکی، ۱۳۹۵: ۹٤)

د هستۍ عالمونه د انسان وجودي پوښښونه یا لایې د اسلام تعلیمات

اسلامی علوم سیاسی پوهه

عالم جبروت	عقل او روح	د عقیدو نظام
(نظرونه)	فلسفه او کلام	سیاسی فلسفه
سیاسی کلام		
عالم ملکوت	نفس او زړه	د ارزښتونو نظام
(ګروهنه)	اخلاق او عرفان	سیاسی اخلاق
سیاسی عرفان		
عالم ناسوت	جسم او ظاهر	د کړنو او عملونو نظام
(عمل)	فقه او تجربی علوم	سیاسی فقه
سیاسی علوم		

داسې ښکاري د اسلامي انقلاب شننه هم له دغه دریو لایو یا پوښښونو بهر نه ده. او پر دې اساس دغه نظر ته پام د انقلاب د تحلیل په هکله صحیح نظر وړاندې کولی شي چې د اسلامي انقلاب په بیان او شننه کښې د دودو او معمولو نظریو نیمګړتیاوې ونه لري.

د امام خميني(ره) ليدتوګه مختلف کلامي، فقهي، فلسفي، اخلاقي، عرفاني او قرآني اړخونه لري. امام خميني(ره) له يو اړخه لوی فقيه ده چې د اجتهاد د پوړيو په وهلو سره د شيعيانو د عمومي مرجعيت په سر کښې راغلی او له بل پلوه يو کامل او واصل عارف دی چې له عرفاني نظره يې په ټولنه ډيرې اغيزې شيندلی دی او هم يو صدرايي حکيم او فيلسوف دی. که ومنو چې امام يو حکيم او لوړی صدرايي فيلسوف دی او د هغوی د فکر او عمل نظري او علمي اړخونه له دغه حکمته متاثره دي، ضروري ده چې دغه اړخونه لا ډير راوسپړو او رابرسيره يې کړو او د اسلامي انقلاب په شننه کښې له اخلاقو، عرفان او فقې سره د هغو د نسبت يادونه وکړو او شه يې بيان کړو.

په دوام کښې هڅه کوو د همدغه نظري چوکاټ په اساس د امام خميني(ره) نظر او ليدتوګه بيان کړو او د هغوی د نظر په اړخونواو زاويو يو ځل بيا نظر واچوو. طبيعات د دغه تحليل يوه پايله او بريا دا ده چې د انقلاب تحليل او شننې ته يو جامع نظر وشي په دې ډول چې په دغه استريزې بيلګې سره د مختلفو لايو او استرونو ترمينځ اړيکې او له نورو لايو سره د هرې لايې او استر د اهميت اندازه معلومه شي.

١. فلسفی- حِکَمی مبناوې

مدعا دا ده چې امام هماغه اندازه چې فقیه، مجتهد او د تقلید مرجع دی د هغوي فقه، اجتهاد او مرجعیت په هغه نظر پورې تړلی دی چې دوي په حکمت، فلسفې،اخلاقو او عرفان کښې لاسته راوړی دی. په حقیقت کښې امام خميني(ره) مخکښې او زیات تر دې چې د تقلید تر ټولو لوی مرجع او د پیړۍ تر ټولو د لوی انقلاب رهبر شي، یو صدرایي فیلسوف او الی الله سالک او عارف دی. له دې امله د هغوي ولایت فقیه هم د حکمت او فلسفې په نظر ولاړه ده چې په استراتژیکه توګه یې د هغوی حرکت مخکښې وړی دی. دغه نظر ایت الله جوادي آمله هم تاییدوي. دوي د د ولایت فقیه په هکله د صدرالمتألهین شیرازی د نظر په جاجونه کښې په دې نظر دی چې ملا صدرا « د هغه فقیه لپاره چې فیلسوف نه وي، د ولایت قایل نه دی بلکښې ولایت د هغه فقیه لپاره ګڼي چې د دواړو فقهو (الفقه الاکبر و الفقه الاصغر) لرونکی وي لکه په اوسنۍ زمانه کښې امام خميني» جوادی، ١٣٨٧: ٨٩).پر دې اساس بې له حکمته د ولي فقیه تصور نه شي کیدی. په حقیقت کښې د دوي په تعبیر هغه نظریه چې ملا صدرا وړاندې کړې ده په امام خميني(ره) کښې ځلا او ظهور موندلی دی .

په دې اړه چې څه شی، یو کس فلیسفو او یا د مسلمانانو په تعبیر، حکیم جوړوي باید ووایو چې حکیم د اسلامي فلسفې په اکثرو اثارو کښې هغه کس ته ویل کیږي چې علم او عاقلانه چلند ولري. په قران کریم کښې دواړه معنې د حکمت لپاره استعال شوې دي خو غالبا حکیمانو د هغه په دعملي حکمت په اړخ تر نظري حکمته زیات تاکید کړی دی. هغوی حکیم هغه کس ته وایي چې د علم له زده کړې او د نفس له تهذیب او پاکۍ وروسته په وګړنیز، کورنیو او ټولنیز عمل کښې تعادل او انډول وساتي او له عدله کار واخلي او د شهوت او غضب په قواوو او فکر کښې له افراط او تفریطه ډډه وکړي او په صراط مستقیم کښې حرکت وکاندي. که حکیم یوازې په شناخت او معرفت کښې مهارت لاسته راوړي، نو نظري حکمت لري او که په ټولنیزو کړو او عملونو کښې په عقل او پوهې سره عمل وکړي، د عملي حکمت لرونکی دی. (غفاری، ۱۳۸۰: ۱٦۱-۱٦۲). دامام خمیني(ره) له نظره « د حکیم معنا دا ده چې په هغه کښې هیڅ کمی او نیمګړتیا نه وي او دومره کامل وي چې په هغه کښې د نظم هیڅ خلاف نه شي تصور کیدی. (اردبیلی، ج۱، ۱۳۸۱: ۳۱۵).

لکه څنګه چې مو وویل د حکیم په تعریف کښې عملي او کړچاري اړخ زیات مهم دی یعنې باید د یو کس په کړنو او فیصلو کښې انډول موجود وي. صدر المتالهین هم په اسفار اربعه کښې دحکمت په هکله دې ته نزدې معنا ذکر کړې ده هغه وایي چې «د حکمت مطلب دی له خدای سره یو شان کیدل» (شیرازی، ۱ ټوک، بی¬تا: ۲۲). له دې امله ده چې هغه فیلسوف چې یوازې په نظري اړخ تکیه کوي او خپل علم په صحیح لاره کښې نه کاروي یا نه پوهیږي چې څنګه له خپل علمه علمي استفاده وکړي، باطل فیلسوف بلل کیږي. (صلیبا، ١٣٦٦: ٣٢٣).دا ټول له یو بل سره د دریو معرفتي لایو او پوښونو د هماهنګي په شتون دلالت کوي د دې په ترڅ کښې چې په دې کښې هره یوه لایه ځانته خاص مهارت او تخصص غواړي. امام په کشف الاسرار کتاب کښې د فلسفې د ضروري والي په باب ځینې مهمې خبرې بیان کړې دي. د دوي له نظره هر څوک عقلي بحثونو ته نه شي داخلیدلی. په عین حال کښې چې ځینې پرګنې له قران او حدیث استفاده کوي خو اجازت نه لري چې عقلي بحثونو ته داخل شي. پر دې سربیره چې د ملاصدرا په شان لوی فیلسوفان هم لوړ عقلي مطالب د قران له ایتونو اخلي خو د دوي

او دهغو کسانو په مینځ کښې چې په دې وادۍ کښې نه دي موجود فرق دی:

«قران او حدیث د خلکو د مختلفو پرګنو لپاره راغلې دي. په دې کښې ځینې داسې علمونه دي چې یوازې په وحي پورې مخصوص کسان پرې پوهیږي او نور خلک ترې بیخي بې برخې دي لکه هغه برهانونه چې د خدای په واجب تجربه او د هغه په قیومي احاطې راغلې دي چې که تاسو ټول قران هم ولټوئ دغه شان مسایل له قرانه نه شئ استفاده کولې خو د هغې اهل لکه د صدرالمتألهین په شان لوی فیلسوف او د هغه لوړ رتبه شاګرد فیض کاشاني لوړ عقلي علوم له همدغه ایتونو او اخبارونو (حدیثونو) چې ستاسو سر پرې هیڅ نه خلاصیږي، راوباسي. هو هر چاته نه ده پکار چې د قران او حدیث په علومو کښې لاس ووهي» (خمینی، بی¬تا: ۳۲۳).

فلسفي نظر یو بنیادي نظر دی چې په خپل وار، د یو مفکر فکري بنیادونه جوړوي. په حقیقت کښې د دغه فلسفي نظر په وجه ده چې د یو متفکر افکار لازم انسجام پیدا کوي. د بیلګې په توګه د امام په سیاسي لیدتوګه کښې د نفس او بدن د ارتباط د فلسفي قاعدې د اثراتو خبره کوله شو. د دغه قاعدې مطابق د سیاست او شریعت په ارتباط، د

ديني حكومت په لازموالي او د ټولنيز او ولسيز انقلاب په ضروري والي پوهيدلی شو. د انسان نفس جسماني حدوث لري او د انسان د مادي بدن له زړه راوځي؛ په بله ژبه نفس له بدنه له بهر څخه له هغه سره نه يو ځای کيږي بلکښې په جنين (سخړه) کښې د ادراک د لومړيو نخښو په جوړيدو سره پکښې نفس پيدا کيږي او له بدن سره يو ځای کيږي. نفس په خپلې بقا کښې بدن ته اړتيا لري تر هغه وخت چې کامل تجرد ته ورسيږي او له نفسه بې نيازه شي.(اردبيلی، ۱۳۸۱: ص ٦٦ و ۷۳)

هغه د شريعت او سياست اړيکې د نفس او بدن د اړيکو په شان ګڼي. شريعت هم له سياسته وروسته او د هغه له زړه راوځي او د خپلې بقا او دوم لپاره د ټولنې سياسي او مادي ځواکونو ته اړتيا لري. امام خميني(ره) دغه دوه د ټولنې مادي او معنوي ځواکونه بولي. خلک، دولت او د ټولنې مختلفې قواوې بدن دي او او د ټولنې معنوي ځواکونه لکه عالمان او روحانيت او دين د ټولنې نفس او روح دي. ټولنه دواړه ته اړتيا لري او د يو په نشتون کښې هر يو د ښاريزو لپاره نهايي نيکمرغي او کاميابي نه شي راوړلی. له دې نظره ده چې هغه په کشف الاسرار کتاب کښې په رضا خاني پاچاهۍ نيوکه کوي چې ولې يې د

عالمانو او ديني جوړښتونو په کمزورې کولو سره د ټولنې د روحاني او مادي قوې تر مينځ جدايي راوستې او ټولنې ته يې تاوان رسولی دی. خمینی، بی تا: ۱۹۰) هغه د ټولنې لپاره د معنوي ځواک فايدو ته اشاره کوي او وايي چې حتی که حکمت له ارزښتي لحاظه له دين او عالمانو سره دلچسپي نه لري او په هيڅ دين باوري هم نه وي، له روشي نظره او د ټولنې لپاره د دغه قوې د ګټو په وجه بايد دين او ديني قواوې په ټولنې کښې پياوړې کړي..(هماغه: ۲۰۵) هغه د ټولنې لپاره د روحاني او عالمانو د قوې فايدو ته اشاره کوي منجمله دا چې د دين د ځواک په پياوړې کولو سره د دولت او ولس ترمينځ رابطه پياوړې کيږي، ډير ټولنيز فضيلتونه لکه د خپل فرض پيژندل، او کار سم ترسره کول، پياوړې کيږي. او ډير جرمونه لکه غلا، رشتون، د دولتي مامورانو خيانت، او هغه ټول کارونه چې په کچرو او محکمو کښې حل او فصل کيږي، کميږي. (هماغه: ۲۰۲) له همدې نظره د ديني حکومت په باب د امام خميني(ره) په عقيده پوهيدلی شو. د دغه فلسفي قاعدې مطابق، تر ټولو ښه حکومت ديني حکومت دی چې پکښې د دين او دولت ځواک د يو او بل تر څنګ وي. هغه په دې باور دی چې ښه دا ده چې دولت ديني شي نه دا چې روحانيت او عالمان يو وران دولت ته ورننوځي؛ دا

کار به د عالمانو د بدنامۍ سبب شي.(هماغه، ۲۵۳). پر دې اساس ټوله هڅه باید د سیاسي نظام د بدلولو لپاره وشي؛ خو دغه بدلون باید په خپله د خلکو له لورې وي. تر هغه وخته چې خلک چې د ټولنې مادي ځواک دی بدل نه شي، د دین ځواک هیڅ کار نه شي کولی(هماغه، ۲٤۰ و ۲۸۳). هغه د ولایت فقیه د بحث په شننه کښې بیانوي چې دیني حکومت د کلامي او فقهي بحثونو مطابق د عالمانو همیشنۍ غوښتنه پاتې شوې ده خو خلکو لازم چمتووالی نه دی لرلی او د ولایت فقیه مساله د خلکو له هرکلي سره نه دی مخامخ شوې له دې امله ده عالمانو د قدر مقدور د قاعدې مطابق موجود حکومتونه ومنل او تر هغه وخته چې حکومت دخلکو او هیواد د صلاح خیال ساتي له هغه سره ملګرتیا هم کوي. (هماغه، ۱۸٦). هغه د د دین او دولت د ځواک د یو ځای کښیناستلو د ضرورت له مخې له مختلفو حکومتونو سره د عالمانو ملګرتیا توجیه کړې ده. (هماغه، ۲۲۷). د ایران اسلامي انقلاب د خلکو په مبارزې سره راغی. په حقیقت کښې لکه څنګه چې نفس له بدنه راجوړیږي، د ټولنې مادي ځواکونو (خلکو) د دیني حکومت د جوړیدو غوښتنه وکړه. لکه څنګه چې نفس د خپلې بقا لپاره بدن ته اړتیا لري، دین او دیني حکومت همیشه د خلکو شتون او ملاتړ ته اړتیا لري او

امام خميني(ره) په خپل ټول زور سره دا خبره بيانوي چې دا انقلاب خلکو کامياب کړ او په خپله يې بايد وساتي. له دې امله هغه له فلسفي لحاظه په ديني ولسواکۍ باور لري .

د امام خميني(ره) د سياسي مفکورې نظري اړخونه د حکمت متعاليه د مختلفو فلسفي قاعدو په اساس توضيحولی شو.د امام خميني(ره) په سياسي ليدتوګې د نفس او بدن د فلسفي قاعدې اثر چې په برنيو کړښو کښې ورته اشاره وشو د ليکوال د روان تحقيق يوه برخه ده. کولی شو د جوهري حرکت، د نفس د جسماني حدوث او روحاني بقا، نفس د قواوو د کثرت په حال کښې د هغه د وجود د مرتبو د قواو اتحاد، د انسان د هستۍ د جامعيت، د ربوبي نړۍ په لور د انسان د بوتلونکي سياست د علم په شان قواعدو او داسې نورو په اساس چې د سياسی تفکر د تحليل لپاره د فلسفي بيلګو رول لري (پزشکی، ١٣٩٥: ١١١-١٣٠) د امام خميني(ره) سياسي ليدتوګه او په تيره بيا اسلامي انقلاب تحليلولی او څيړلی شو.

امام د شوروي سوشلستي جمهوريتونو رييس ګورباچوف ته په خپل مشهور ليک کښې هم ټينګار او جوته کړې چې د دغه هيواد حکيمان او فلسفيان دې ايران ته راشي او متعاليه حکمت دې زده کړي. په دې

لیک کښې لیکي: « او له لویو استادانو وغواړئ چې د صدرالمتألهین (رضوان الله تعالي علیه و حشره الله مع النبیین و الصالحین) متعالیه حکمت ته مراجعه وکړي چې معلومه شي چې د علم حقیقت هماغه له مادې مجرد وجود دی او له هر ډول مادي فکر منزه او پاک دی او د مادې حکم وربانديي نه شي چلیدلی. (خمینی، ١٣٦٨، ج٢١: ٢٢٤) ایت الله جوادي آملي چې د دغه مهم لیک وړونکی و او هلته یې ګورباچوف ته دغه پیغام بیان او تفسیر کړ په خپله د متعالیه حکمت یو حکیم دی او له دې نظره د امام خمیني(ره) بیانوونکی او د هغه د خبرو تفسیروونکی دی.

٢. عرفاني- اخلاقي بنیادونه

هغه څه ته په پام سره چې تیر شول ویلی شو چې د امام خمیني(ره) فکري فلسفي ملاتړ او مخیني ته له اشارې پرته د امام خمیني(ره) په شخصیت او افکارو بحث او په تیره بیا اخلاقي او عرفاني بحثونو ته له پامه پرته، یوه نیمګړې څېړنه او بحث دی. بنیادي پوښتنه دا ده چې څنګه امام خمیني(ره) وکړی شول دغه شان یو ملاتړ او مخینه چې څو پیړۍ یوازې په کتابونو او یو ګوټ کښې پرته وه، د نن زمانې د ژوند ډګر ته رابهر کړي او هغه د خپل اسلامي انقلاب ملاتړ وګرځوي او ټولنه

ورسره رهبري کړي او بيا د يو اسلامي جمهوريت د حکومت بنسټ کيږدي؟ ښايي وويلی شو حکمت متعاليه په برهان، عرفان او قرآن تاکيد ته په پام سره د امام خميني(ره) فکر ته خاص انسجام او نظرم ورکړی او له بلې خوا يې د اوسنۍ زمانې له چيلنجونو، مسايلو او پوښتنو سره د هغوي د مخامخيدو لپاره لازمه تومنه او توښه برابره کړې ده له همدې امله ده چې هغه د اسفار اربعه د اتل په توګه ياد شوی دی (جوادی آملی، ١٣٧٥: ٧٦) البته د دې معنا دا نه ده چې حکمت او فلسفه په خپله اصلي هدف دی بلکښې د امام (ره) په تعبير « فلسفه وسيله ده او په خپله مطلوب او هدف نه دی.خمینی، ١٣٨٨ب: ١٠٩(

هغه متعاليه فلسفه چې امام خميني(ره) يې پيروکار، شارح او استاد دی، د اسلامي نړۍ د څلورو فکري بهيرونو جامعه ده (مطهری، ١٣٦٨: ١٨١) چې دا دي: ١: مشايي فلسفي روده چې په استدلال او عقلي برهان تکيه لري. ٢: اشراقي فلسفي روش چې په عقلي استدلال او برهان او د نفس په مجاهدې او پاکولو تکيه او تاکيد کوي او د حقيقت د کشفولو په فکر کښې دی. ٣: عرفاني سلوکي طريقه چې پکښې حقيقت ته رسيدل مهم دي.۴: د متکلمينو کلامي استدلالي روش چې پکښې په عقلي استدلالونو تکيه کيږي. په اسلامي نړۍ کښې دغه څلور بهيرونه

په یو ټکي یعنې حکمت متعالیه کښې سره یو ځای شول. دغه بنیاد صدرالمتألهین شیرازی کیښوده. د استاد مطهري په اند، دا مکتب د روش او رودې له نظره اشراقي دی؛ یعنې په استدلال او کشف او شهود عقیده لري خو د اصولو او نتیجه ګیرۍ له نظره متفاوت دی. د صدرا په مکتب کښې ډیر هغه مسایل چې د مشاء او اشراقیانو پرې اختلاف و یا د عراف او فلسفې او یا د کلام او فلسفې تر مینځ پرې اختلاف و حل شوې دي. ملا صدرا په فلسفي بحثونو سره چې د سلوک له نظره فکري او عقلي دي، هغه څه ته ورته یو نظام وړاندې کړ چې عارفانو په قلبي او روحي سلوک کښې بیان کړی دی. عارفان عقیدن لري چې سالک د عارفانه رودې په کارولو سره څلور سفرونه ترسره کوي:

۱. سیر من الخلق الی الحق. په دغه مرحله کښې سالک هڅه کوي له طبیعت او پنځونه تیر شي او یو لړ ماوراء طبیعي عالمونه هم تیر کړي چې د حق ذات ته ورسیږي او د هغه او حق تر مینځ کوم حجاب نه وي.

۲. سیر بالحق فی الحق. په دغه پراو کښې وروسته له هغې چې سالک د حق ذات له نزدې وپیژنده، په خپله دهغه په مرسته د هغه په کمالاتو، نومونو او صفاتو کښې سیر کوي.

٣. سير من الحق الى الخلق بالحق. په دغه سير کښې سالک دوباره خلکو ته ستنيږي خو د هغه ستنيدل د حق له ذاته د جدايۍ او لرې کيدو په معنا نه دي، د حق ذات له هر څه سره او په هر څه کښې ويني؛

٤. سير فی الخلق بالحق. په دغه مرحله کښې سالک د خلکو اراشد او هدايت او لاسنيوی يا مرسته کوي او هغوی حق ته رسوي.

صدرالمتألهين د فلسفې مسايل په دې اعتبار چې فکر يو ډول ذهني سلوک او تګ دی، په څلورو ډلو ويشلې دي او الحکمه المتعاليه فی الاسفار الاربعه العقليه کتاب په دغو څلورو ډولونو ترتيب شوی دی دغه څلور ډلې دا دي:١: هغه مسايل چې د توحيد د بحث او له خلقه حق ته زمونږ د فکر د سير او تګ اساس او سريزې دي چې د فلسفې عامې خبرې دي. ٢: د توحيد او خدای پيژندنې او الهي صفاتو بحثونه چې بالحق فی الحق سير دی. ٣: د باري افعالو د وجود د کلي عالمونو بحثونه چې من الحق الی الخلق بالحق سير يا تګ دی. ۴: د نفس او معاد بحثونه چې سير فی الخلق بالحق دی.

امام خميني يوه موده د الحکمه المتعاليه فی الاسفار الاربعة العقلية کتاب او د حاجی ملا سبزواري ليکلې شرح منظومه تدريس کړې ده.د امام خميني د فلسفي تقريراتو په نامه دغه درې ټوکيزه ټولګه په ښه توګه د دې ښودونکې ده چې امام په دغه فلسفي سسټم کې جدي

شتون لرلی دی. دهغوی د بحثونو بنیاد له دغه حکمته متاثر و. (هراتی، ۱۳۹۰: ۳۸٦-۳۷۰).لکه څنګه چې ښکاري په ټولنه کې د امام شتون او د ټولنې سیاسي مشري په حقیقت کې د هغوی د عرفاني سیر و سلوک د مراحلو وروستۍ او څلورمه مرحله ده. په حقیقت کې دغه شتون د امام په سیاسي مفکورې د عرفاني لیدتوګو د تاثیر په معنا هم ګڼل کیدی شي. دغه عرفاني نظر او سلوک، د ټولنې او خلکو په مینځ کې شتون او او دهغوي په حرکت راوستل دي. دغه خبره د ځینو اوسمهاله نظرخاوندانو له نظره هم پټه نه ده پاتې.

سید حسین نصر د خپل عمر په وروستیو کلونو کې په سیاسي ډګر کې د امام خميني ننوتل د متعالیه حکمت د عرفاني بحثونو په تیره بیا په څلورګونو عقلي اسفارو کې د عرفاني سیر و سلوک طبیعي نتیجه ګڼلې ده:

د ډیرو کسانو لپاره د توجه وړ ده او حتی ښایي حیرانوونکي وي چې ويني ایت الله خميني د خپل عمر په لومړیو کې نه یوازې له نظري عرفان بلکې له عملي عرفان سره،چې په ریاضت او د دنیا په پریښودلو ټینګار کوي ډیره مینه لرله، خو د عمر په وروستیو کې د سیاست ډګر ته داخل شوی دی. د دغه معما او دوښې کنجي باید تر هر څه زیات په هماغه د معنوي سلوک په مرحلو او له خلقه د حق په لور د انسان په سفر او له حقه د خلق په لور د هغه په ستنیدو کې چې ملا صدرا د اسفار اربعه په پیل کې بیان کړې، لټولی شو. په دغه اسفارو (سفرونو) کې هم له «خلقه» د «حق» په لور د تګ مرحله شامله ده او هم له

«حق»سره یو ځای د «خلق» په لور انسان د ستنیدو مرحله. دوهمه دا چې د دغه معما کنجي باید د دغه سفر له مراحلو د ایت الله خميني په تفسیر او په خپل ځان او په ژوند کې په خپل رسالت او پیغام د هغه په تطبیق کې لټولی شو.(نصر، ١٣٨٤: ٥).

باید یاد ولرو چې له نورو حکمتونو د متعالیه حکمت جدایي او ټمیز په عرفان سره کولی شو. اسلامي حکمتونه د عرفان له پر رنګه او ډیر شتونه بې برخې دي او حتی که په دغو حکمتونو کې د عرفان کوم څرک هم وي، په فکري او فلسفي سستم کې یې نیشته. خو دغه ټمایز په متعالیه حکمت کې خپل رنګ بایلي او لکه څنګه چې مشهوره ده ، عرفان له نورو حکمتونو د متعالیه حکمت د جدایۍ او ټمایز ټکی دی او د امام خميني انقلابي حرکت تر یوه حده عرفاني رنګ و بوی پیدا کړی دی. زمانی غیر زمان‌ها: امام، شیعه و ایران نومې کتاب د دغه لیدتوګې تیوري جوړه کړې ده او د ایران اسلامي انقلاب یې په لومړي ځل د شیعه عرفان له نظره تحلیل کړی دی. (عشقی، ١٣٧٩: ١٠). د دغه نظر اثرات په معاصرو بدلونونو او په تیره بیا د اسلامي انقلاب په کامیابۍ کې د امام خميني په اصلاح پاله عمل او بیا په نسکورووونکي او انقلابي عمل کې په ښه توګه لیدلی شو.

له دې نظره، د امام خميني تر ټولو لویه اندیښنه او فکر دا و چې انسان لوړتیا او تکامل ومومي او په ځان کې ارزښتونه و پالي او پاخه یې کړي. دا لوړ انسان دی چې یوه لوړه ټولنه او حکومت جوړولی شي. باید انسان بیدار کړی شي چې په خپله په ټولنه کې بدلون راولي. دا

ټکی ان د امام خميني د انقلابي مبارزو تر پيله کلونه مخکې هم ليدلی کيږي هغه په کشف الاسرار کتاب کې چې په ۱۳۲۲ لمريز کال کې يې د زر کلنو رازونو د مطالبو په رد کې ليکلی دی، ليکي : ما خپله دنده چې د خلکو ويښول وو ترسره کړه او شويو پوښتنو او شبهو ته مې ځواب ورکړ؛ اوس دا خلک دي چې بايد د دغه شان کسانو قلم مات کړي او د تباهکارانو لاسونه لنډ کړي. هغه نه يوازې ديندارانو بلکې د ايران ټولو خلکو ته خطاب کوي او ټول خلک مبارزې ته بلي..(کشف اسرار، بی‌تا: ٦٩، ٧٤ و ٨٠)

د امام خميني حرکت او اسلامي انقلاب د لوړ انسان، د لوړې او متعالي ټولنې او دولت او لوړ حکومت د جوړولو لپاره و. امام خميني د اسلامي انقلاب اصلي هدف د انسان تربيت او خودسازي ګڼي. سياسي او اقتصادي پراختيا په هره ټولنه کې راتللی شي خو د اسلامي انقلاب ټمايز او فرق دا دی چې د ټولنې په معنوي او اخلاقي پراختيا او لوړاوي ټينګار کوي. د امام خميني له نظره که د انسانانو په اخلاق کې دغه شان بدلون رانه شي نه يوازې اسلامي انقلاب خپل هدف ته نه دی رسيدلی بلکې د ظلم او ديکتاتوری په لور هم تللی دی. (خمینی،١٣٦٨، ج ١١: ١٩٦) له همدې امله ليکي چې: « او دا چې پيغمبران په دې پسې وو چې په دنيا کې يو عادلانه حکومت جوړ کړي د دې لپاره ده چې که حکومت عادلانه وي، که حکومت په الهي محرک سره او د اخلاقو انساني ارزښتنو په انګيزې سره وي، که داسې يو حکومت پرځايښت پيدا کړي، ټولنه پيزواني کوي او تر زيات حده يې اصلاح کوي او که حکومت د ظالمانو په لاس کې وي، د بې لارو په لاس کې وي، د

داسې کسانو په لاس کې وي چې ارزښتونه په نفساني خواهشاتو کې ګڼي... تر څو چې دغه شان حکومتونه قایم وي، انسانیت به د ځوړتیا په لور روان وي»خمینی،١٣٦٨، ج ١٦: ١٦٢)

اسلامي جمهوریت هم یو متعالي او لوړ جمهوریت جوړیدلی شي؛ ځکه چې هم پکې الوړ اخلاقي ارزښتونه پټ دي او هم د خلکو شتون او ګډون لري او هم یې مشر په داسې مکتب او دین پابند دی چې د شیعه تفکر په نسب وړلو سربیره، د متعالیه اسلامي حکمت پامته داره او لرونکی هم دی. امام خپل زوي ته په سپارښتنه کې لیکي: « ای زویه، له ما وروسته ښایي تا ته د یو خدمت (پوسټ) وړاندیز وشي که ستا اراده د اسلامي جمهوریت او د ګران اسلام خدمت وي نو مه یې ردوه؛ او که خدای مه کړه د خپلو نفساني خواهشاتو او د شهوتونو د پوره کولو لپاره وي نو تري ډډه وکړه ځکه چې دنیاوي مقامات د دې ارزښت نه لري چې ځان یې په لاره کې تباه کړې» (خمینی، ١٣٨٨ب: ١٢). پر دې اساس هغه څه چې د امام خمیني له نظره اهمیت لري معنوي ارزښتونه دي چې د اسلام او اسلامي جمهوریت په خدمت کې جلوه ګر کیدی شي.

امام خمیني په نظري او عملي دواړو اړخونو کې کامیاب و، هغه نه یوازې فلسفي او عرفاني اثار لري بلکې د اخلاقو په برخه کې هم د اوسمهاله زمانې د اخلاقي کتابونو یو لوی لیکونکی دی چې ټینګار کوي اخلاقي کتاب باید عمل ته ورسوي او یوازې په معلوماتو بسنه ده پکار. اخلاق درملګر دی او باید یوازې د نظر او علم تر حده پاتې نه شي. له

همدې نظره ښايي هغوی په ځينو اخلاقي اثارو او د هغو په ليکونکو سختې نيوکې کوي. منجمله دا خبره چې « نه شو ويلی چې غزالي بې خبره کس و، خو کتاب يې يو اخلاقي کتاب نه دی؛ ځکه چې په خپله اخلاقي سړی نه دی نو نه دی کامياب شوی چې خپل عمل لوستوال ته تزريق او داخل کړي. اخلاقي سړی هغه دی چې حقايق بيان کړي او ووايي چې کوم سړي کومه مضبوطه اخلاقي خبره کړې ده»اردبيلی، ج۳، ۱۳۸۵: ۳٦۰)

امام خمينی د خپلو فلسفي بنسټونو په اساس باور لري چې انسان ناقص او نيمګړی مخلوق دی چې د خپل تکامل لپاره د قوت او فعل تر مينځ د دايمي حرکت په حال کې دی.انسان د ځان د بدلولو طاقت لري؛ دغه بدلون د انسان په عمل سره ممکن دی او د انسان نهايي کمال په عملي عقل کې دی. عملي عقل له يوې خوا تهذيب او تزکيې ته اړتيا لري او له بلې خوا قوي محرک او د ارادې طاقت ته چې د عمل ډګر ته ورسيږي د ايمان او عمل تر مينځ متقابله رابطه موجوده ده. ايمان د ارادې او د عمل د انګيزې او محرک سبب کيږي او عمل د ايمان د زياتيدو سبب ګرځي. (کيخا، ۱۳۸۹: ۲۵۸)، د دغه څرخې دوام په انسان کې د عرفاني معرفت سبب کيږي. په حقيقت کې عرفان يو ډول لوړ شناخت دی چې په انسان کې د اخلاقو او عملي عقل نتيجه ده.

د امام خميني په سياسي ليدتوګه کې اخلاق سياسي –ټولنيز چوکاټ لري. امام باوري و چې د دين درې واړه لايې د ټولنې د هدايت لپاره

راغلې دي او درې واړه سياسي تعليمات لري. د اسلام اخلاقي قواعد هم سياسي ټولنيز اهداف تعقيبوي چې په ټولنه کې د مينې او وروروليۍ ټينګول دي.(لک زايی، نجف، ۱۳۹٤، صص ۱۱۸-۱۳۹). هغه مختلفې سپارښتنې چې د صبر، سرښندنې، عفوې او بخښښ وغيره په هکله شوې دي. د يوې توحيدي ټولنې د جوړيدو لپاره دي چې د ټولنې وګړي داسې له يو بل سره متحد او يو ځای شي چې ته وا يو مخلوق دی او په دې بڼه کې به يو بل ته تاوان نه رسوي. (خمینی، ۱۳٦۸، ج ۱۱: ٤۹۳-٤۹٤)

۳. فقهي-کړچاري بنسټونه

که تير بحث ته دوام ورکړو د امام خميني په ليدتوګو او اثارو کې د فقې او حکمت پيوند ته رسيږو چې نومورې حلقه بشپړوي او يو د پام وړ ټکی دی چې له يوه جامع نظره د اسلامي نقلاب د تحليل ښودنه کوي.د دې په ترڅ کې چې د امام خميني په ليدتوګه کې د حکمت او فقهې تر مينځ پياوړې پيوند ټينګولی شو. سياسي فقهه په اصل کې د علمي عقل يا سياسي اجتهاد په ډګر کې ده. د امام خميني له نظره، حکومت د واقعي مجتهد له نظره د انسانانو د ژوند په ټولو اړخونو کې د ټولې فقهې عملي فلسفه او اجرا ده(خمینی، ۱۳٦۸، ج۲۱: ۲۸۹). په بله ونيا «د فقهې په هکله د امام خميني د فلسفي نظر نهايي انعکاس بيان شوی دی» (پاکتچی،۱۳٦۷، ج ۲۲: ٦۹٦). فقه په يو ډول د عقلي او معنوي تعليماتو د عملي انجام ډګر او عيني سطحه ده؛خو پر دې سربيره په خپله د انسان د وجود په اخلاقي او عقلاني اړخونو او سترونو هم اغيزه شيندي.د اسلام په عملي احکامو عمل د يوې عادلې ټولنې د جوړيدو سبب کيږي. د دغه شان ټولنې عملي زمينه جوړونه ده چې د

هغه د سريزو مقدمه سازي د د اسلامي انقلاب د راتللو سبب کيږي. دغه سريزې له فقهي اړخه زياتې جوتې وې او د تجويز او تکليف يا فريضې له ډلې دي. د زمانې د غوښتنو مطابق د ځينو فقهي قواعدو تطبيق او مطلوبې ټولنې ته رسيدل، په ځينو مواردو منجمله د تقيې، په فقهي بحث کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر د حکومت د جوړولو اقدام او د ولايت فقيه د نظريې بيان د امام خميني تر ټولو مهم فقهي بحثونه دي. هغه د تقيۍ له استثنائاتو سره ځينې نورې موارد ورزيات کړل چې په هغو کې يوه دا د چې تقيه هغه وخت کيدی شي چې د دين له ضروریاتو يو ضرورت له بدلون سره مخامخ شي او يا تقيه کوونکی کس ټولنيز اهميت ولري په داسې بڼو کې تقيه نه ده پکار. د کړ مکړ (امر بالمعروف نهی عن المنکر) په بحث کې هم امام باوري دی چې که د معروف ترسره کول يا د منکر ختمول د ځينو کسانو راغونډيدو ته اړتيا ولري، بايد هغومره کسان اقدام وکړي. د شاهنشاهي رژيم د نسکورولو لپاره ګډ اقدام لازم دی. امام خميني د امر بالمعروف او نهی عن المنکر نوې مصاديق بيان او معرفي کړل او د استبداد (ظلم) د بې ګناهو د وژلې، د اسلام د قوانينو د خلاف ورزی، د اسلام ختمول، او د امريکا او اسراييلو په شان د پردیو ولکه د نويو منکراتو په ډله کې معرفي کړل. (ناصری،۱۳۹۰: ۱۵۰) د اسلامي حکومت د بحث په دې عنوان مطرحول چې يوازې معصوم او د شرايطو جامع او لرونکي فقهيانو مشروعيت لري او نور حکومتونه نامشروع او ظالم دي سبب شول چې امام خميني د جامع شرايطو فقيهانو له خوا د

شرایطو جوړول په انفرادي یا ډله ایزه توګه د حکومت د جوړولو لپاره واجب اعلان کړي.

امام که څه هم عقل په نظري او عملي تقسیم کړی خو د هغه منتخب نظر دا دی چې په دواړو عقلونو کې د غایت له یو شان والي سره سره ، په دواړو کې عمل لازم دی او د انسان کمال په عملي عقل سره دی نه نظري عقل؛ ځکه چې کیدی شي انسان په برهان ا استدلال پوه وي خو د کفر او شرک په مرتبه کې پاتې شي (اردبیلی، ج ۳، ۱۳۸۵: ۳٤۱ و ٤٦۳). پر دې اساس له دې نظره فقه ډیر اهمیت پیدا کوي؛ ځکه چې له عمل سره غوټه خوري.

امام خميني د خپلو فلسفي اثارو په یو بل ځای کې نظري عقل په حکمت او عملي عقل په ذاتي حریت او ازادۍ معنا کړی دی. له موجود نظام خبریدو او علم حاصلول او د د عالم د موجوداتو د نظام مطالعه حکمت دی او ذاتي حریت له حرص او شهوته د انسان ازادیدل دي. له تیرو بنسټونو په سره ارتباط کې د حکمت او حریت اصلونه د امام وینا ده؛ یعنې حکمت له نظري عقلي سره اړوند دی او ذاتي حریت له عملي عقل سره او دواړه موردونه کمال ته د انسان د رسیدلو لپاره ضروري ګڼي. د دې په ترڅ کې چې لکه چې اشاره وشوه په دوي کې هر یو بل ته اړتیا لري. له نظري عقله راپیدا شوې ذاتي صفات د انسان د قواوو د انډولیدو او او د کمال دواړو اصلونو ته د انسان د رسیدلو سبب کیږي. (هماغه: ۳۳۹).

دغه مطالب د دې په ترڅ کې چې د يو داسې فلسفي په توګه چې د تفکر يو منسجم او کوټلی نظام لري د امام خميني د فکر په مختلفو اجزاوو کې په رابطې ټينګار کوي، د فقې او فلسفې د پيوند يادونه هم کوي له بلې خوا د حکمت په باب کې د امام د فکر مختلف ګوټونه، د يو حکيم د بشپړو ځانګړنو انځوروونکي دي چې د فکر او عمل په ډګرونو کې ژوند کوي.

ډير مهم ټکی دا دي چې امام فقاهت او مرجعيته هم ډيره ګټه پورته کړې ده؛ يعنې هغه څه چې د امام خميني څلورم سفر ته په ټولنه کې عينيت ورکوي، د هغوي د فقاهت او مرجعيت ډګر دی. د ايت الله جوادي املي په وينا کوم بحث چې امام په ولايت فقيه کې لري، هغه د فقهې له ډګره وباسي او د کلام حوزې او ډګر ته يې داخلوي. (جوادی آملی، ۱۳۷۷: ٤۱۹). له دې نظره د متعاليه حکمت د نظر وړ ولې فقيه بايد حکيم هم وي. ايت الله جوادي املي په مختلفو بحثونو کې دغه راسپړي او فرمايي: د متعاليه حکمت ولې فقيه بايد عارف هم وي يعنې بايد هم حکيم او هم عارف وي البته له فقهې او فقاهته هم بې نيازه نه شي کيدي. (جوادی آملی، ۱۳۷۵: ۹۵-۹٦). دلته يو درې مخيز نظر موجود دی چې عقلي سويه په نظره کې نيسي او هم اخلاقي او عرفاني سطحې ته نظر کوي او هم حسي، فقهي ، نقلي او تجربي بحث ته پام کوي. له دې امله بايد هغوی درې ګونو مراتبو ته چې د امام خميني د نظر وړ دي پام وشي که څه هم هغه څه چې راښکاره او مهم شوې همدا اصلاح غواړی عمل او کړچار او له هغه ورسته انقلابي عمل دی چې بايد په بحث کې ورته پام وشي چې دغه ښکارندې ته يو جامعه

نظر دی او په یو ډول ټولو مراتبو او درجو ته یو ځای او په یو وخت پام کوي.

له دې برخې دا نتیجه اخستلی شو چې: په دې برخه کې اصلي موخه د اسلامي انقلاب د شننې لپاره د امام خميني د بحثونو یو چوکاټ وړاندې کول دي. دغه درې پوښیز چوکاټ چې له عالم وجود، د انسان له قواوو، د دین له اجزاوو او بشري علومو اخستل شوی ، د اسلامي انقلاب په تحلیل کې یو جامع چوکاټ دی. پر دې اساس د امام خميني شخصیت یو جامع شخصیت ګڼلی شو. په حقیقت کې که څه هم د امام تفکر د فقې او مرجعیت په چورلیز مشهور شو او دوي د عمومي ديني معرجعیت په سر کې ولاړ وو او ادعا دا ده چې تر اوس د دوي عمل او کردار په دغه شان یو نظر سره تحلیل شوی دی خو د هغه څه په اساس چې ذکر شول باید ټینګار او جوته کړو چې د امام خميني تفکر د اسلامي حکمت او فلسفې په چورلیز ولاړ دی. پر دې اساس دامام خميني شخصیت او تفکر په عین حال کې چې د وحیاني تعلیماتو پامته داره دی خو دغه تعلیمات له حکمت او عرفان سره هم غږمله شوې او دوي ته یې یو جامع او استراتژیک نظر ورکړی دی. په تیره بیا د دغه استراتژیک نظر اثرات په اوسمهاله سیاسي او ټولنیزو بدلونونو او د جوهري حرکت د نظریې په اساس د ایران د اسلامي جمهوریت په جوړولو، د نفس او بدن په رابطې اسفار اربعه او د امام خميني په افکارو کې د هغې په سیاسي او ټولنیزو اثراتو کې په ښه توګه لیدلی

شو. له دې امله ویلی شو چې امام خميني په هماغه اندازه چې فقيه دی او د شيعيانو عمومي مرجع دی او انقلابي او اصلاح غواړی کردار يې ادا کړی، په هماغه اندازه له حکمي، فلسفي او عرفاني تعليماتو او زده کړو هم خړوب شوی دی. په دغه شان نظر سره د اسلامي انقلاب د فلسفي، عرفاني او اخلاقي ملاتړ او له اسلامي انقلاب سره د حکمت متعاليه د اړيکو خبره هم کولی شو.

په دې څيړنه کې د امام خميني په سياسي افکارو کې د مطرحو دريو استرونو او لايو او له اسلامي انقلابه د امام په تحليل او ځينې مصاديقو کې د هغو د اثراتو د ښودلو په ترڅ کې د دغو دريو لايو په فلسفي بيان هم ټينګار شوی دی. د امام خميني په سياسي افکارو کې د دغو دريو لايو د اثراتو د جاج په ترڅ کې پر يو بل د دغو لايو په تاثيراتو هم بحث وشو. په دې ډول چې حکمت متعاليه په فقې هم اغيزه شيندي او کولی شي فقه له هغه ټمتيا چې ممکنه ده پرې اخته شي، ژغورلی او ورته تحرک ورکولی شي حکمت د امام خميني په فقهي ليدتوګه کې اغيزه شيندونکی دی. د هغوی فلسفې تقريرات او بيانونه چې د اسفار اربعه او شرح منظومه په موضوع کې خپاره شوې په دغه بحثونو په لا خاص ډول غور کولی شي چې پر اساس يې د امام خميني فلسفي منظومه وړاندې کړو.

حکمت متعاليه د صدرالمتالهين له زماني څخه د امام خميني تر زماني پورې يوه خاصه لاره وهلې چې له نظري ډګره عملي ډګر ته رسيدلې ده. دغه سير او تګ ښيي چې متعاليه حکمت له علمي او تئوريک او

نظري اړخه ، سياسي عملي او ټولنيز اړخ ته داخل او رسيدلی دی. امام د ټولنې غوښتنو او ضروریاتو او هغوی پوښتنو او اړتياوو ته په پام سره چې په اوسمهال کې په ټولنه او په علمي افکارو کې موجود وو د سیاست ډګر او ټولنې ته د داخليدلو لپاره پلانونه وکړه او په حکمت متعاليه ته يې په ټولنيز ډګر کې عينيت او تحقق وروباخښه. البته لکه څنګه چې مخکې مو ذکر کړه، داسې ښکاري چې دا د هغوي هماغه څلورم عرفاني سفر وي چې پکې عارف په ټولنه په شتون سره په ټولنه کې خپل سفر بشپړوي او د مخلوق او انسانانو لاس نيسي چې هغوي هم معنوي سفر ته بوځي. له دغه مرحلې د عارف تيريدل يوازې په ټولنه او خلکو کې په حضور سره ممکن دي. او په هر حال وجودي ظرفيتونو ته په پام سره عارف او حکيم د متعاليه حکمت د سياسي ، عيني، او عملي اړخونو د تحقق لپاره هم حرکت کولی شي او امام خميني دغه کار په ښه توګه ترسره کړ. د عوامو د مرجعيت په مقام کې د امام شتون د هغوي د ايډيالونو په تحقق کې کليدي رول لري . په حقيقت کې فقه د هغوي عملي اړخونو ته په ښه توګه تحقق ورکوی.

متعاليه حکمت د انقلاب حکمي او فلسفي ملاتړ هم ګرځيدلی شي. امام خميني د حکمت متعاليه په وسيلې سره د متعاليه حکمت عملي تفسير وکړ او د يو ولسواکه سياسي نظام د جوړولو هڅه يې وکړه. په سياسي ډګر کې دغه شان فلسفې او حکمت ته متعاليه سياسي حکمت او فلسفه ويلی شو.

دریمه برخه: د اسلامي انقلاب نظریه[۱]

سریزه

په بشري ټولنو کې تل انقلابونه او ټولنیز بدلونونه راغلي او انسان همیشه له موجود حالته ښه حالت ته د رسیدلو او د حالاتو د بدلولو لپاره په هلو ځلو کې و. انسان دغه کمال ته د رسیدلو لپاره یو مطلوب او په الهي قوانینو ولاړ تولنیز چاپیریال ته اړتیا لرلې ده. د انسان دغه فطری کمال غوښتنه او خدای پالنه د ټولو حرکتونو، غورځنګونو او انقلابونو اساس او بنیاد پاتې شوی دی. د انقلابونو د وضاحت او بیان لپاره له نظري چوکاټونو او ماډلونو استفاده کیږي. د انقلاب نظریه د انقلاب د علتونو، بهیرونو او چلندونو یوه منسجمه ټولګه ده. په حقیقت کې د انقلاب نظریې په مختلفو پراووونو کې د انقلاب د راتللو او پرمختللو سببونه او هغه مسایل چې په هر پراو کې موجود دي، مطرح او په ډاګه کوي. (پناهی، ۹۹، ۳۲٤).

---

[۱] مقاله «د امام خميني (ره) له نظره د اسلامي انقلاب بيلګه» ليکنه:عباز کشاورز شکری، زاهد غفاري هشجين او معصومه شيخي، خپره شوې په :د اسلامي انقلاب د تحقيقنامي علمي څيړنيزه دري مياشتيزه. ۱۰ ګڼه ، پسرلی ۱۳۹۳.

د لویو انقلابونو اکثره مشران د هغه انقلاب نظریه ورکوونکي نه وو. خو په اسلامي انقلاب کې امام خميني نه يوازې دانقلاب مشري او لارښوونه وکړه بلکې د هغه لوی نظریه ورکوونکی هم و نو د هغوي اسلامي انقلاب د نظريې ځيرنه خاص اهميت او ضرورت لري. خو بايد پام ولرو چې امام خميني په خپلو ليکونو، ويناوو او لارښوونو کې د اسلام يانقلاب د کلي نظريې ليکې بيان کړې دي، خو هغه يې د يوې منسجمې او مرتبې نظريې په توګه په چوکاټ او ترتيب کې نه دي راوستې. په دې برخه کې مونږ هڅه کوو د امام خميني د اسلامي انقلاب نظريې ته په پام سره چې د هغ وي له افکارو راپورته کيږي، يو منسجم او مرتب ماډل وړاندې کړو.

۱: نظري چوکاټ

د امام خميني د اسلامي انقلاب نظرياتي بنيادونه په انسان پيژندنه او معرفت شناسۍ کې جړه لري او دغو دواړو هم له اسلامی نړۍ ليده سرچينه اخستې ده. په دې برخه کې د امام انسان شناسي او معرفت شناسي راسپړو:

د معرفت پيژندنې په برخه کې د امام خميني په افکارو کې دوه رودې يعنې عقلي او نقلي مطرح دي. امام په عقلي رودې سره د ټولنيزو سکارندو د پيژندلو هڅه کوي. دوي په عقلي روده کې له عقلاني دليلونو او قضاياو د بيلابيلو مسايلو په تيره بيا د ولايت فقيه د مسالې د پيژندلو لپاره استفاده کړې ده. دوي په دې روده کې د نبوت ، امامت او په ټولنه کې د رهبرۍ او حکومت د ضرورت په دليلونو او برهانونو استناد

درلود. خو په نقلي روده کې امام له قرآني ایتونو او روایتونو په استفادې سره د سیاسی انقلاب د ضرورت دلایل بیانوي. امام خميني د انساني سازۍ، د تحرک د وسایلو او د نفوسو د تزکیې په شان ځانګړنو ته اشاره کوي او د قران په ایتونو په استناد سره د اسلامي احکامو د جاري پاتې کیدو او د اسلامي حکومت د جوړیدو د ضرورت ، د سیاسي انقلاب په لازموالي او د اسلامي حکومت او نظام د ټینګولو لپاره د عدالت په اجرا ټینګار کوي. خو د رویتونو په جاج کې ، له مختلفو روایتونو لکه د حضرت زهرا (س) په خطبې، دامام علی (ص) په روایت او له امام رضا (س) په یو روایت سره د اسلامی وحدت د ټینګولو، د ظالم حکومت د نسکورولو ضرورت ، د مظلومو او بې برخې خلکو د ژغورلو او د یو اسلامي حکومت د جوړولو ضرورت ته اشاره کوی او همداراز له امامانو او داسې نورو د مختلفو روایتونو په بیانولو سره د ولایت فقیه لپاره نقلي دلایل بیان کړل.

امام خميني د انسان پیژندنې په مبانیو کې د یو ټولنیز څیړاندي په توګه د انسان د ازادۍ حدود، مقام او اړخونه جاجولې دي. امام د انسان ذاتي ځانګړنې او اکتسابي ځانګړنې بیانوي. همداراز انسان یو دوه اړخیز مخلوق ګڼي او هغه د ځمکې په مخ د خدای خلیفه بولي . دوي د انسان د ازادۍ په هکله دوه ازادۍ یعنې فلسفي او حقوقي بیانوي.

۱: د امام خميني په مفکوره کې د اسلامي انقلاب علتونه

الف: د اسلامی انقلاب جوړښتي علتونه

امام خميني په جوړښتی علتونو کې د اسلامي انقلاب په راتللو د ټولنيزو جوړښتونو اثر ته اشاره کوي او باوري دی چې د ټولنې اساسي جوړښتونه چې پکې فرهنګي، ټولنيز او سياسي جوړښتونه شامل دي، د خلکو په راپاڅولو او د اسلامي انقلاب په کاميابولو کې د پام وړ اغيزې لرلې.

۱: فرهنګي جوړښتي علتونه

د امام خمينی له نظره، فرهنګ يا کلتور تر ټولو لويه موسسه ده چې ولس يا تباهۍ يا لوی عظمت او قدرت ته رسوي. (امام خمينی(ره)، ټوک ٦، ١٣٦٩: ٢٥٢).د امام له نظره د دغه لويې او مهمې موسسې لپاره تر ټولو مهمه ضروري ځانګړنه د هغې خپلواکي ده. نو دوي په پردیو پورې تړلی کلتور يو ناسالم او وايرس کلتور ګڼي. دا هماغه کلتور دی چې د پردیو او د استکباری طاقتونو تر يرغل او واکمنۍ لاندې جوړی شوی او د پردیو په نقشې سره جوړيږي او په ټولنه يا ټولنو تپل کيږي. (يزدانی، ١٣٧٦: ٣٢).

له فرهنګه د امام تعريف، انضمامي او مصداقي تعريف دی چې ځينې مصداقونه او فرهنګي توکي يې دا دي: علم ، ادب، تعليم او تربيت، عقيدې، اخلاق او عمل، فکري ګروهنې، عادتونه، باورونه، ارزښتونه، اخستونونه، هنر، اجتماع او په ټولنه کې يې قواعد، دغو موردونو ته

په پام سره ویلی شو چې د فرهنګ غیر مادي برخه د امام لپاره زیات اهمیت لري. (محبوبی¬منش، ۱۳۸۰: ۱۷۷۳).

د امام له نظره، د د ټولنې په اصلاح کې تر ټولو آري او بنیادي لامل فرهنګي او د کلتور اصلاح کول دي: «د ټولو اصلاحاتو په سر کې د کلتور اصلاح ده» (خمینی، ټوک۵۵، ۱۳۶۹: ۱۰).«د یو هیواد د اصلاح لاره دهغه د کلتور او فرهنګ اصلاح ده. اصلاح باید له کلتوره پیل شي... کله چې کلتور صحیح شي یو هیواد اصلاح او رغیږي» (هماغه، ټوک ۹۷: ۱). تر ټولو لوی بدلون چې باید راشي، په کلتور کې باید وي. باید کلتور په داسې طریقه جوړ کړئ او داسې یې ورغوئ چې ستاسو د ولس لپاره ګټه ور وي» (هماغه، ټوک ٦: ۲۹۲).

په حقیقت کې د امام له نظره کلتوري او روحي بدلونه پر مادي بدلون مخکې دی او فرهنګي خپلواکي په نورو اړخونو کې تر خپلواکۍ مخکې ده او امام (ره) کلتوري بدلون له فکري او فرهنګي پیلتیا په ژغورېدو پورې تړلی ګڼي.

د امام له لیدتوګو پوهیږو چې په فرهنګي او کلتوري اصلاح کې دغه موارد شاملیږي: په ټولنه کې د سوچه اسلامي کلتور خپراوی او نیغې لارې ته د خلکو بلنه؛په مذهبي آرونو تکیه او د اسلامی او انقلابي کتابونو په خپرولو سره د ولس پوهول او ویښول؛په جوماتونو کې د ولسي غونډو جوړول او د مذهبي دستورو برابرول او پکې برخه اخستل؛ له استعماري کلتوره د ښوونې او روزنې د مدرسو په پاکولو سره د تعلیمي مرکزونو اصلاح ، د پوهنتون اسلامي کول او له حوزې (دیني

مدرسو) سره يې پيوند او له مقدس وزمه او ملا وزمه کسانو د حوزې پاکول؛ په امر بالمعروف او نهي او عن المنکر سره د فساد له مرکزونو سره مبارزه او له فرهنګي پييلتياوو د پيدا شوې انحرافاتو په وړاندې پاڅون او د پييلتيا غوڅول او په نهايت کې د يوې داسې ټولنې جوړول چې له اسلامي فرهنګ سره د برابر حقيقي هويت لرونکې وي او په حقيقت کې د داسې سالمو کسانو پيدا کول چې صحيح اسلامي ارزښتونه ولي او له ذهني او عيني نظره انقلابي پوهې ته رسيدلې وي.

د مبارزې د پيل په کلونو کې د امام خميني لومړنۍ دنده، د خلکو خبرول او د هغوي په ذهن او فکر کې د بدلون راوستل وو چې د لويديځو ارزښتونو به لرې کولو سره خپلو ديني او ځايی عقيدو او باورونو ته ستانه شي او د خپل کلتور او فکر له ځيرې د د پردې توب او د لويديځ کلتور په وړاندې د ځان بايللو د دوړو په څنډلو سره په ځای کې باور او اعتماد پيدا کړي. په بله ژبه ، لکه څنګه چې رسول الله مبارک له معنوي طاقت او سياسي ديني زمينو په استفادې سره د خپلې زمانې فرهنګي مديريت په غاړه واخسته او د جاهلو عربو د اهدافو او محرکونو په بدلولو سره يې هغه ته معنوي لوری ورکړ او ټولنه يې د الهی ارزښتونو په اساس ژوندۍ کړه. (قائدان، ۱۳۸۵: ۳۸).

«مونږ دنده لرو د مومنو او با فضيلته وګړو د روزنې لباره مناسب ټولنيز شرايط برابر کړو او دا شرايط د ناروا طاقتونو او طاغوت د واکمنۍ په اپوټه او ضد کې دي... مونږ له دې بله چاره نه لرو چې فاسد او فاسدوونکی حکومتي سسټم له مينځه يوسو او خاين ، فاسد

او ظالم واکمن حکومت نسکور کړو دا هغه دنده ده چې په هر یو اسلامي هیواد کې یې ټول مسلمانان باید ترسره کړي او اسلامي انقلاب کامیاب کړي. (امام خمینی، ۱۳۸۷: ٤۰).

امام خمینی(ره) د ټولنې د کلتور اصلاح د وګړو د شخصیتي هویت او شناخت د جوړیدو له هماغه لومړیو مرحلو واجبه او لازمه ګڼي « د کلتور اصلاح او منجمله له ښوونځي تر پوهنتونه د ټولو مرکزونو اصلاح ته جدي پام وکړئ او په ټول طاقت سره د بې لارې توب مخه ونیسئ... ټول باید د خپل وس په اندازه د دغه حیاتي چارې په لاره کې هڅه وکړو چې د عزتمنو مجاهدو ځوانانو وینه او د ولس هڅې او بې دریغه قربانۍ یې په اوبو لاهو نه شی» (امام خمینی، ۱۳٦۹).

همداراز د امام خميني له نظره، د ګډ ارتباط وسایل د ښوونې د مرکز په توګه هم د ځوان نسل د تربیت او هم د مثبتو یا منفی تبلیغاتو د وړاندې کولو لپاره د تبلیغ د یو عنصر په توګه استعمالیدلی شي.

«مطبوعات باید د ولس او اسلام د پیغام وړونکي وي او د اسلام د حکامو دودوونکي او د اسلام د احکامو اجرا کوونکي او د ټولې تهذیبوونکي، په ټولنه کې باید اخلاق خپاره کړي- الهی اخلاق- د طاغوت په زمانه کې بیخي د دې په اپوټه د مطبوعاتو کار دا و چې زمونږ هیواد د طاغوت د رسنیو په دغه اوږدو تبلیغاتو سره، ټول اسلامي مسایل او ټول هیوادني مسایل د طاغوت د ګټو په لور بوځي. څومره تاوان چې اسلام له مطبوعاتو او طاغوتي رسنیو لیدلی دی له ډیرو کمو څیزونو یې دومره تاوان لیدلی دی.. دا مجلې او دا ریډیو او ټیلی ویژن

او ټولې ډله ایزې رسنۍ وې چې زمونږ ځوانان یې په ځای د دې چې پوهنتون ته کش کړي، د علم او ادب لور ته یې بوځي، فساد ته یې بوتلل. (هماغه، ج۱۶: ۲۲۷).

۲: ټولنیز جوړښتي علتونه

۲-۱ د ناخوښۍ او خپګان زیاتیدل

د امام له نظره د هیواد ټولنیز حالت د انقلاب له کامیابۍ په مخکې کلونو کې داسې و چې په هغه زمانه هیڅ پرمختګ نه وه. اکثره نفوذ کلیوال و او په بې وزلۍ کې اوسیدل او په لویو ښارونو کې پرګنیز شګاف او درز ډیر لوی و او خلک په جونګړو کې اوسیدل. امام خميني د اصلاحاتو په لټه کې و او د ټولنیزې اصلاح سر یې د فقیرانو د حالت اصلاح ګڼله او د فقر او بې وزلۍ یو اصلي سبب یې د حکومتي چارواکو اسراف او فضول خرچي ګڼله چې د لویدیځ له کلتوره په اغیزمنلو او له بهره د راوړې آزادۍ تر تاثیر لاندې د چکلو، شرابخانه او جواري خانو د پراختیا او په نهایت کې د هیواد د ځوانانو د فساد او تباهۍ سبب شوی و. شاه او دولت د تجملاتي سامانانو په واردولو سره چې د کورنیو له تش مصرفي کیدو سره یې مرسته کوله او همداراز د اسلامی کلتور په ځای د لرغوني ایران د کلتور په راوستلو ، اسلام ځپلو او پراخ ظلم او بې عدالتۍ سره د خلکو د عمومي خپګان د پیدا کیدو شرایط برابر کړل.

ستاسو په خیال دا شور ماشور چې په ریډیو کې یې جوړوي رښتیا دي؟ تاسو په خپله لاړ شئ له نزدې وګورئ چې خلک په څنګه حالاتو کې

ژوند کوي! په هرو سلو دوو سوو کلو کې یو کلینک هم نیشته ، د بې چاره ګانو او وږو خلکو فکر نه دی شوی، مهلت هم نه ورکوي چې اسلام هغه فکر چې د بې وزلو لپاره کړی ، عملی کړي. اسلام د فقیرانو او بې وزلې مساله حل کړې او د خپل پروګرام په سر کې یې راوستی دی. «انما الصدقات للفقراء...» اسلام پام کړی چې باید اول د فقر مساله حل کړي، د بې چاره و کار اصلاح کړي خو دوي نه پریږدي چې دغه پروګرام اجرا شي. خوار ولس په فقر او لوږه کې دی او د ایران حکومت او کابینه هره ورځ له خلکو دومره مالیات (ټیکس) اخلي خو په خپلو فضول خرچیو یې لګوي. فانتوم الوتکې اخلي چې اسراییلي پوځیان او ګوډاګیان یې زمونږ په هیواد کې پوځي زده کړې وکړي...»

(هماغه، ج۵: ۲۸۲).

د امام (ره) له نظره، سپین انقلاب یو استعماري او د پردیو په حکم انقلاب و او هغه یې د اسلام او د اسلامي امت او د ایران د خپلواکۍ په خلاف یو جوړ شوی پروګرام ګانې، ځکه چې په ټولو تجارتي، صنعتي ، کرهنیزو، کلتوري، پوځی او سیاسي اړخونو د امریکا او صهیونزم د واکمنیدو او په پردیو پورې د لا ډیرې پیلتیا سبب ګرځیده. امام (ره) همداراز ځمکني اصلاحات له بهره راوړل شوې ښکارنده او « امریکایي نظریه او د ایران د کرهنې دختمولو او په ټولنه د یو محصول او پروډکټ د اقتصاد د تپلو لپاره یو پروګرام ګانې (خمینی، ج ۱: ۱۲۱) هغه یې د « امریکا او د امریکا د شعبو لپاره د بازار جوړول ګڼل» (هماغه، ج۱۶۸) چې په نورو پورې د ایران د پیلتیا سبب شوی دی. د

امام خميني له نظره د دغه انقلاب نورې نتيجې د هيواد د حيثيت له مينځه وړل، او امريکايي پوځيانو ته د خوندي توب په ورکولو سره د قضايي خپلواکۍ ختمول او په آخر کې له ټولنيزو حقوقو د ولس محرومول وو چې د خپګانونو د لا زياتيدو سبب شوې وو.

۲-۲ د ټولنيز ډلو لامبندي او تيارسی

امام اسلام د خلکو د تيارسۍ (بسيج) سرچينه ګڼله. د امام خميني له نظره دا اسلام دی چې ټولې پرګنې له يو بل سره پيوندوي او يو لوی تيارسی جوړوي او په دې عقيده و چې اکثره ډلې او پرګنې منجمله عالمان، پوهنتونيان، ډاکټران، انجنيران، کارکوونکي، بازاريان او ښځې په هغه روحي بدلون سره چې اسلام پيدا کړی، تيار او بسيج شوې او سياسي ګډون ته يې مخه کړې ده او د غورځنګ په تيارۍ او کاميابۍ کې يې زياته ونډه لرلې ده. د امام له نظره کومو کسانو چې دا غورځنګ بريالی کړ له بې وزلو پرګنو او له ايماندارو ښځو او سړو جوړ وو چې سړکونو ته راووتل او د شاه رژيم په خلاف پاڅيدل.

همداراز د امام خميني له نظره مذهبي مشرانو او عالمانو په جوماتونو کې په تيره بيا د محرم او روژې په مياشتو کې د غونډو په جوړولو سره ، خلکو ته د آګاهۍ په ورکولو او په ټولنه د واکمن حالت او د فرهنګ د فساد او تباهۍ ، ساډوبۍ او ګډو وډو ټولنيزو حالاتو او د حکومت د ظلم په هکله د هغوی په خبرولو، او د اکثرو ولسي پرګنو تر مينځ د وحدت په رامينځته کولو سره د خلکو بيلا بيلې ډلې تيارسس کړې او د شاه رژيم د نسکورولو هڅه يې وکړه.

امام خميني (ص) په خپله يوه وينا کې په دې اړه فرمايي: « اسلام دی چې ټولنې پرګنې له يو بل سره ګنډي او يو داسې عمومي تيارسی رامينځته کوي! د بسيج مساله هماغه خبره ده چې د اسلام په لومړيو وختونو کې وه،کله به چې جنګ شو نو مختلف طايفې او قبيلې به راتللې او جنګ ته به تللې او دا کومه نوې خبره نه ده بلکې په اسلام کې يې مخينه شته. زمونږ په هيواد کې چې کله دا مساله يعنې د اسلام د اسلام او د اسلام په لاره کې د سرښندنې مساله وي نو ټول خلک حاضر وي. ځکه چې زمونږ خلک پوهيږي چې د اسلام په لومړيو وختونو کې په خپله پيغمبر اکرم (ص) او امامانو څنګه سرښندنې وکړې او د اسلام د لومړيو وختونو مسلمانانو سره له دې چې شمير يې کم و هغه شان فعاليت او جنګ وکړ او زمونږ هيواد الحمد الله غالب اکثريت پکې دا احساس لري چې د اسلام او د خپل هيواد لپاره خدمت وکړی.

(امام خمینی(ره)، ج۱۹: ۲۲۱، ۲۲۰).

۳: سياسي جوړښتي سببونه

د امام خميني له نظره د شاه په زمانه کې سياسي سسټم ظالمانه ، خپل سره او زورواکه و او د حکومت شکل پاچاهي و چې پکې ظلم او فساد په ټولو اړخونو کې موجود، په ټول هيواد کې خپور و. د امام خميني له نظره شاه په اسلام مخالفه سياسته سره د اسلام د کمزورولو او له سياسته د دين د جدايۍ د تفکر د خپرولو او د عالمانو د ګوښه

کولو اراده لرله. همداراز دولت خلکو ته بې پروا و او د دولت او ولس تر مینځ کوم اعتماد موجود نه و.

۱-۳

خپل سري او ساډوبي

له دیکتاتوری او زورواکۍ او د یو کس او یا په ټولنه د واکمن سیاسي نظام د ظلم مطلب دا دی چې د خلکو د رایې او مصلحت هیڅ پروا ونه لري او په پوځي طاقت او اداري سسټم سره په خلکو حکومت وکړي. (جعفری، ج۳، ۳۳۵ـ ۳۳٦). په دې بڼه کې د واکمن سیاسي نظام له خوا په خلکو ظلم کیږی، د انسانانو په حقوقو تیری او د ساډوبۍ او فکری ټمتیا فضا موجوده وی؛ حاکم ځان هدف ګڼي او نور وسیله ګرځوی او د خلکو له ازادۍ ، تفکر او احساساتو سره لوبې کوي.

(امام خمینی(ره)، ج۱: ۱۳٦۹، ۲۳۹).

د امام خمینی(ره) له نظره، سیاست د ولس او واکمن تر مینځ اړیکې، په نورو حکومتونو د واکمن تر مینځ اړیکې او د فساد مخنیوی دی (هماغه، ۱۳۳) دوي د سیاسي سسټم فساد او ساډوبي او دیکتاتوری په ټولنه کې تر ټولو زیات فساد ګڼي او لیکي: « الخائن خائف، یعنې خائن له خپلې ویرې ازادي نه ورکوی» (هماغه،۱۰۸) د امام خمینی په ظلم ځپونکې نظریې کې د شاه پارلیمان ، تشریفاتي او د هغه قانون غیر حقیقي دی (هماغه ، ۱۶۸) هغه په شاه سخته نیوکه کوي او

هغه استیضاح کوی او د هغه فاسد دولت د ټولو مفسدو او ستونزو سرچینه ګڼي.

۳-۲ د قانون مخالفت

امام په ډیرو پیغامونو او ویناوو کې د ژوند په پرمختګ کې په قانون د ژمنې د اثر خبره کړې او بې قانونۍ یې د ټولو ټولنیزو مفاسدو او ګډوډیو سبب ګڼله: « په هغه هیواد کې چې قانون حکومت نه کوي په تیره بیا هغه قانون چې اسلام دی دغه هیواد ته اسلامي نه شو ویلی»(هماغه ،۱۴ ټوک : ۲۶۸)« په اسلامي کې قانون حکومت کوي. پیغمبر اکرم (ص) هم د قانون تابع و ، د الهی قانون منونکی، له هغې یې سرغړونه نه شوه کولې. (هماغه ۱۰ ټوک :۲۹)

« هغه حکومت چې ټول بشري قوانین ، د نړۍ ټول قوانین تر پښو لاندې کړي او هر څنګه یې چې زړه غواړي له یو ولس سره سلوک کوی، مونږ ورسره مخالف یوو. مونږ غواړو یو داسې حکومت وي لکه اسلامي حکومت چې بې له قانون هیڅه واکمن نه وي، هیڅه، یوازې قانون حکومت وکړي» (امام خمینی(ره)، کوثر، ټوک۲: ۲۱۵).

۳-۳ د سیاسي ازادیو نشتون

دامام خميني له نظره، ازادي ډیر لوړ مقام لری. ازادي لومړی ، فطری او خدای ورکړی حق دی . دغه حکومتونه نه دي چې خلکو ته ازادي ورکوی، بلکې د انسان پالونکي هغه ازاد پیدا کړی او ورته یې ازادي ورکړې ده. حکومتونو نه ښاریزو ته ازادي ورکړې او نه پرې سترګې

پټولی شي. ازادي يو داسې حق دی چې خدای ورکړی دی. حکومتونه بايد د هغه خيال وساتي او حفاظت يې وکړي. (حیدری، ۱۳۷۸: ۱۲۰).

امام خمینی(ره) همیشه د سیاسي ټولنیزو ازادیو په محدودولو سخته نیوکه کوله او باوري و چې رژیم د سیاسی ازادیو په مخنیوي سره د خپلو استعماری موخو په لاره کې تر تولو د لوی خنډ په توګه د علماوو او روحانیت د لرې کولو به فکر کې دی. (فوزی، ۲۹٦: ۱۳۸۰). امام(ره) همداراز باوري و چې د پاڅون د پیدا کیدو یو لامل همماغه د خلکو د سیاسي شعور لوړیدل ، د ولس بیداري، د خلکو بدلون، او د هغوی د سیاسی پوهې اوچتیدل، او د ازادیو او مشروعو حقوقو په نشتون د خلکو عمومي خپګان دی. له یوې خوا د خلکو د شعور او پوهې لوړاوی او په خلکو کې د شاه رژیم د اړاني نیشتوالی او د ازادی او سیاسي مشارکت نشتون و چې د ایران انقلابي خلکو په اسلامي پاڅون لاس پورې کړ ا چې خپلو شرعي ازادیو او حقوقو ته ورسیږي. (دهشیری، ۱۳۸۰: ۵۵ـ ٥٦).

۳-۴ له خلکو د حکومت جدايي

امام له خلکو د شاه د حکومت د جدایۍ په هکله فرمايي: « که يو کشور غواړي چې روغ پاتې شي بايد د حکومت او ولس تر مينځ تفاهم موجود وي، افسوس چې په شاهنشاهي رژيم کې او په تيره بيا په وروستي حکومت کې دا خبره اپوټه وه، يعني واکمنان په يو قطب کې پراته وو او ولس په بل لوري کې. دغه واکمن پلاوي هڅه کوله په ويرولو، فشار، ځورولو، بندي کولو او داسې نورو سره له ولس سره

چلند وکړي او ولس هم چې زور يې نه لاره هڅه يې کوله چې مالیات ورنه کړي، او د هر څه مخالفت وکړي، ځومره چې کولی شي د دولت په کار کې کارړنګونه وکړي او له دې امله د دولت او ولس تر مینځ درز پیدا کیده او دولت هم هیڅ ملاتړی نه درلود او حکومت (په خپله خیال) خپلواکه و چې له ولس سره يې هیڅ اړیکې نه لرلې، ولس پرې هم هیڅ باور نه درلود هغه يې خپل دښمن ګاڼه او دولت په ولس کې د اډانې نه لرلو په وجه مجبوره وو چې ځنګته شي...»

(امام خمینی(ره)، ج۷: ۱۳٦۹، ۱٦۹).

۳-۵ په پردیو پورې د سیاسي نظام پییلتیا

د امام (ره) په نظر کې په اسلامي هیوادونو کې د ښکیلاک خطر ځانګړی مقام لري. امام خپلو ډیرو خبرو کې همیشه لوی قدرتونه د استکباري او استعماري طاقتونو په نامه یاد کړې دي چې هدف يې اسلامي ولس په زیرمو سلطه، د ایران د مظلوم ولس اسیرول، د قران او د اسلامي عالمانو ختمول، د اسلامي امت او اسلامي هیوادونو تباهي او د مسلمانانو تر مینځ د تفرقې جوړول دي.

(بی¬تا، دفتر۱٦، ۱۳٦۱: ۳۵ـ ۳۹).

ب: د اسلامي انقلاب د Brokerage (کارګزاری) علتونه

په دې برخه کې د امام خميني په افکارو کې د اسلامي انقلاب د ټولنیزو کارګزارانو عواملو جاجوو . په دې اړه باید رهبرانو او مشرانو ته د کارګزاری د یو عامل په توګه ګورو او بیا به د خلکو رول وجاجوو.

۱: د امام خميني د مشرۍ رول

امام خميني (ره) د خپل غورځنګ د يو مطلوب ټکي په توګه يو آرمان او آيډيال غوره کړه او دغه ارمان يې د سلطنتي رژيم نسکورول او د اسلامي حکومت جوړول وو. په تيرو پاڅونونو کې د اسلامي حکومت جوړول د يو هدف په توګه په نظر کې نه وو نيول شوې. البته په تيرو دورو کې د سياسي نظام له اصل سره ډغره نه وهل د عالمانو له خوا د هغه د مشروع يا روا منلو په معنا نه وو بلکې په تيرو پراوونو کې روحانيت دغه هدف ته رسيدل ممکن او شوونې نه ګڼل.

(پارسانيا، ۱۳۷۹: ۳۰٤).

د امام خميني يوه لويه ځانګړنه د هغه « پريکنده ايمان» او « نه لړزيدونکی باور» و. د هغه روحياتو او فيصله کولو د اسلامي غورځنګ په بهير او د اسلامي انقلاب په کاميابۍ نيغ په نيغه او نه انکاريدونک اثر لرلی دی. ايت الله مطرهي د اسلامي انقلاب په کاميابۍ کې د امام خميني (ره) مشري « پيغمبرډوله» ګڼلې او هغه يې د الهي پيغمبرانو د رهبرۍ له ډول ګڼلې ده.امام خميني وکړی شول د خدای پالنې او خدای منني احساس چې د هر وګړي په فطرت کې پروت دی راويښ کړي او خلک په همدې لاره کې په حرکت راولي. له دې امله د امام خميني شخصيتي، جذابې او لوړې ځانګړنې، که څه هم د رهبرۍ په مقام کې د هغه حضرت په راتللو او هغوی ته دخلکو په ګروهيدلو کې بې اغيزې نه وې، خو مرکزي او اصلي رول يې نه درلود. (جمشيدی، ۱۳۹۰: ۱۳۰، ۱۳۲، ۱۳۲، ۱۳۹).

شهید مطهری امام خميني ته د خلکو د ګروهیدل او د هغوی د ټولنیز مقبولیت د علتونو په شننه کې په تاریخي او کلتوري جوړښتونو ټینګار کوي او وایي: « د دې خبرې سبب چې امام خميني د دغه غورځنګ بې سیاله او بې چون و چرا مشر شو دا و چې پر دې سربیره چې د یو مشر واقعي شرایط یې لرل [لکه صداقت، رونړ اندي، میړانه او قاطعیت..] دوي په فکري او روحي او د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو په لاره کې هم ولاړ وو هغه لاره چې نور پکې نه وو ولاړ»(مطهری، ۱۳۷۸، الف: ۸٦).

امام خميني هم د یو ديني مرجع او انقلابي مشر په توګه ثابته کړه چې اسلام د پهلوي رژیم مخالفانو ته ضروري فکري لیکه ورکولی شي. (رایت، ۱۳۸۲: ۳۱). دوي له یوې خوا د خلکو تیارسې او د سیاسي مبارزې د سرخټه کولو اقدام وکړ او له بلې خوا د اسلام په سیاسی لیدتوګې ولاړ د انقلابي آیډیالوجۍ اصلي جوړوونکی او د نویني نظام بنسټ ایښودونکی شو چې له شیعه مذهب سره د انقلاب مبارزې په پیوندولو سره یې خلک د پهلوي د ظالم نظام د نسکورولو لپاره تیار کړي. (ایمان-پور، ۱۳۸۷: ۱۷۸) او ددیني ارزښتونو د جاذبې په بیا لاسته راوړلو او احیا سره خلک خپل سوچه اصل ته وبلل. (اکبرزاده، ۱۳۸۰: ۱۸٦).

الف: امام خمینی(ره) د اسلامي انقلاب نظریه وړاندې کوونکی

د اسلامي انقلاب آیډیالوجي د اصل له نظره، له دننه یوه راپیدا کیدونکي آیډیالوجي او د کلتوري اصالت لرونکي، هر اړخیز او تقریبا

ټولو خلکو ته شاملیدونکې ده. (ملکوتیان، ۲۹۰: ۱۳۸۹). په کلي ډول هغه لاملونه چې د اسلامي انقلاب د آیډیالوجۍ په هڕ اړخیزوالي او پراخولي او د ټولو لخوا په منل کیدو کې یې رول درلود دادي: ۱: د هغې ځایي والی او له ځانه راخوټیدل او دخلکو له اسلامی تاریخي کلتور سره یې پیوند؛۲- له ذهنونو د شبهو او شکونو د لرې کولو لپاره د اسلامي ډلو هیڅې او داسلامي مفاهمیو د انقلاب معنا مطرحول؛ ۳- د امام خميني شخصیت، افکار، استراتژۍ او کړچار؛۴- په امام خميني د عوامو او خواصو باور او دهغوي روحانیت او لیدتوګې.

د امام د آیډیالوجۍ وتلې ځانګړنې دا دي:

- بنسټ پالنه او د موجود نظم بشپړه نفي: امام نیغ په نیغه د پاچاهي نظام بشپړې نفي ته اشاره لرله؛

- پر مذهب تکیه:دامام آیډیالوجۍ دوهمه ځانګړنه، پر مذهبه ډیر زیات ټینګار دی، دغه تاکید له اړخونو مطرحولی شو: اول د محتوی او مینځ پانګې له نظره او دوهم د بیلګو او د استعمالیدونکې ژبې له نظره؛

- د سادګۍ عنصر؛ د مبهمو او پیچلو حقیقتونو ساده کول (امام خمینی(ره)، ج۳، ۱۳۷۸: ۳۳۲)؛

-د بسیج د خندونو واړه ګڼل: د ستونزو او خندونو د هواري وړ ښودل،په ولسي حرکت کې د انګیزې د راوستلو لپاره د امام خميني یوه طریقه وه. (هماغه، ج۳: ٤٦٥).

-د کامیابۍ حتمي ګڼل او په ډیرو کړکیچنو حالاتو کې هم مثبت سوچ: په کامیابۍ د یقین پیدا کول او د هدف قابل حصول ګڼل، د حرکت یوه بله لازمه ده. حسینی، ۱۳۸۱؛ ۱٦۱، ۱٥٦، ۱٥۳).

ب: امام خميني (ره) او د ولسي ډلو تیارسی کول

امام د انقلاب د راتګ په وخت د مختلفو ډلو خلکو په عمومي تیارولو او راغونډولو سره (چې عوام او خواص پکې شامل وو) هغوی ډګر ته راوویستل. اسلامي انقلاب په هغه کې د ګډونکوونکو عوامي ډلو او خواصو د اندازې له پلوه په اوسمهاله انقلابونو کې بې ساری دی. د پخواني رژیم پر پیلو کسانو سربیره چې د انقلاب په وړاندې ولاړ وو د ټولنې تقریبا ټولې پرګنې راډګر ته شوې او د امام خميني امر یې وماندە. په امام خميني او په رهبرۍ کې د هغوي په طریقو دخلکو باور او د مظاهرو د پیلولو په مرکزونو د جوماتونو او امامبارو بدلولو او په درست هیواد کې دعالمانو رول یو ډیر پراخ او ځواکمن حرکت جوړ کړ چې د شاه رژیم او د هغه بهرني ملاتړي یې حیرانه او له هر ډول مخنیونکي غبرګونه یې ناتوانه کړل.

(ملکوتیان، ۱۳۸۹: ۲۹٦).

۱: ولسي جذب او سرځنه کول

امام همیشه هڅه کوله د انقلابي ځواکونو تر مینځ کلي غږملتیا او نظم رامینځته کړي. امام (ره) مدام د عالمانو رول ته د داسې پرګنې په توګه چې د خلکو د جذبولو او منظمولو لپاره کار کوی اشاره کوله. دوي د

منظمو او منسجمو تشکیلاتو په لرلو ډیر تاکید کاوه او په دې اړه یې عملي استراتژۍ وړاندې کولې. امام (ره) د اسلام د مکتب په اساس د پاڅون لومړی زړی وکاره. د امام تربیت شوې کسان د امام (ره) د ارمانونو او آیډیال د تحقق لپاره چې هماغه د سوچه محمدي اسلام اجرا و، تیار او فعال وو. (دهقان، ۱۳۸۲: ۱۵۹).

د اسلامي رهبر په توګه د مبارزې د رودو په انتخاب کې د امام خميني (ره) هڅې هم دقیقې وې. دوي د انقلاب په هر پراو کې موجود شرایطو ته په پام سره ځینې تاکتیکونه او استراتژۍ خپلې کړې چې که د هغو په ځای یې نورې خپلې کړې وې د اسلامي انقلاب چټک راتګ او کامیابي ناممکنه وه. منجمله د انقلاب له راتللو مخکې د انقلابي ځواکونو د روزنې استراتژي او د منفي مبارزې استراتژي یعنې له میلیوني غونډو کار اخستل او عمومي هړتالونه او د انقلاب د راتللو په وخت له وسله والو ځواکونو سره د نه نښتلو استراتژي. (احمدعلی خسروی، ۱۳۷۹).

«... اوس چې ایران پاڅون کړی... باید یو نظام او حکومت ولري، بې نظامه دې نه وي. باید اړیکې موجودې وي د تهران او قم او د نورو ښارونو د حوزو تر مینځ، هر څه رابطو ته اړتیا لری، باید دغه نظام سرځنې او منظم کړئ. هرڅوک دې په خپله لاره نه وي روان ، نظم و ضبط پکار دی چې که یوه ورځ قم ودریده ټول ولس ودریږي، ډلې ډلې مه اوسئ، ځانګې دې ټولې له یو بل سره متحدې شي. (امام خمینی(ره)، ج۱: ۱۳٦۹: ۱۳۱، ۱۳۰).

امام(ره) له ولسي پرګنو سره د اړیکو په جوړولو کې خاص نبوغ او هوښیارتیا لرله چې له ډیرو کمو لیدل شوې ده. هغه په دې ساده او د ټولو حتی د ډیرو بې تعلیمه خلکو لپاره په پوهې وړ کلام سره حتی ډیر پیچلي سیاسي ټولنیز مسایل مطرح کړل او په خپل بیان سره یې د مومن او معتقدو انسانانو په زړه کې نفوذ وکړ. باید په نظر کې ولرو چې په اسلامي انقلاب کې د امام (ره) د مبارزې او رهبرۍ روده، د یوې اوږده تاریخي سنت پایله ده چې د اسلام له لومړیو وختونو پیل شوی و. (محمدی، ۱۳۸۱: ۱۱٤).

شیعه عالمان چې دامام خميني (ره) له اسلامي غورځنګ سره یې ملګرتیا کوله، د رهبر او د عامو خلکو تر مینځ د «واسطې ډله» شمیرل کیږي.د ایران د اسلامي غورځنګ په بهیر کې « بسیجي مشر» او له هغوي په وروسته مرتبې کې « د عالمانو پرګنې» د سیکولر ټولنیز نظم او د اسلام د ټولنیز نظم ترمینځ له موجود جوړښتي تضاد او ناغړملیږ خپله پوهه او درک تدریجا او په مختلفو وسیلو لکه (بیانیو، مظاهرو، پرلتیو، او په اسلامي مناسبتونو په جوماتونو او امامبارو کې په ویناوو، د مذهبي نشریو په خپرولو وغیره) سره عامو خلکو ته منتقل کړ. (جمشیدی، ۱۳۹۰: ۱٤٥، ۱٤٦).

رهبر د انقلاب د چلوونکي او جوړوونکي په توګه دانقلاب د اداره کولو او پخولو او د انقلاب حالت د کنټرلولو دنده په غاړه لري. د ایران په اسلامي انقلاب کې امام (ره) هم دانقلاب آیډیال او کړنلاره په خلکو کې پخه او بنسټیزه او جمهوریت او اسلامیت یې د ټولنې په ټولو غړو

او ستنو کې د خلکو د غوښتنې مطابق محقق کړ او هم یې د مخالفتونو او ګواښونو په پیژواني کولو سره د اسلامي حکومت د جوړیدو او دوام زمینه برابره کړه.

(احمدی او نور، ۱۳۸۹: ۱۰۷).

۲ ـ د اسلامي انقلاب د ټولنیزو کارګزارانو او چلوونکو په توګه د ولسي پرګنو رول

امام خمینی(ره) د عام خلک چې تشکیلات یې نه لرل او زیاتره د ټولنې له بې برخو او ټیټو پرګنو وو، د مستضعف او محروم په نامه یادوي چې د اسلامي انقلاب په کامیابۍ کې یې لوی او غالب رول درلود. د امام (ره) له نظره انقلاب په کومې خاصې پرګنې متکي نه و: په عین حال کې « په ولسي پرګنو» کې لوی رول هماغه مستعضفو، بې وزلو، فقیرانو، جونګړه میشتو، د ښارونو په خوا کې اوسیدونکو او محرومانو یا دریمې پرګنې او د امام په تعبیر «اعلاء طبقې» په غاړه درلود، لکه څنګه چې مومن مستضعفان د تاریخ په اوږدو کې هم د عالمانو، اولیاوو او انبیاوو پیروکاران او د حزب الله په ډله کې شمیرل کیدل. پر دې اساس د امام له نظره لوړو پرګنو د انقلاب په کامیابۍ کې رول نه درلود او د انقلاب د راولاړیدو ځای او سرچینه زیاتره محرومه پرګنه، په کلیو او جونګړو کې اوسیدونکي او پاې لوڅې خلک وو چې په خدای تعالی په تکیې سره یې غورځنګ پر مخ بوتله او د اسلامی انقلاب په کامیابۍ کې یې لوی رول ولوباوه.(دهشیری، ۱۳۸۰: ٦۰).

امام خمینی(ره) د خلکو په خبرولو او له دوو توکو یعنې امر بالمعروف او نهی عن المنکر او الهي فریضې په استفادې سره په یوازې او یک تنها خلکو ته له دښمنانو سره مبارزه او د دیني الهي هدایت لارې چارې خلکو ته وښودلې او خپل بیان او کلام سره یې په خلکو کې خپل پاڅون او بلنه خپره کړه. (شیدائیان، ۱۳۸۵: ۱۲۲). امام خمیني ته د خلکو د ګروهنې سبب، اولا او بالذات د « اسلامي-شیعي تفکر او فرهنګ» په اساس و. (پارسانیا، ۱۳۸٦: ۷۳).

ویلی شو چې خلکو خپل ارمانونه او موخې داسې د امام خمیني په نظر او عمل کې جلوه ګرې ولیدلې چې د «امام» او « امت» تر مینځ یو ډول وحدت جوړ شو له دې امله امام په یو بشپړ طبیعي، په خپله راټوکیدلې او ولسي بهیر کې د ایران د خلکو د غورځنګ او انقلاب د مشرۍ په مقام کې راغی . همداراز امام (رع) د مرجعیت په مقام کې و چې په شیعه کلتور کې له امام معصومه (س) وروسته ترټولو لویه دیني درجه ګڼل کیږي. پر دې اساس په خلکو کې د تقلید د یو مرجع د خبرې اثر ډیر ژور او حیرانوونکی و. خو هغه عوامل چې د پراخ ټولنیز نفوذ او لوړ ولسي بسیج او تیارسی له توانه برخمن وو، دا دي: ۱: د غایب امام (عج) د نیابت په مقام کې د واقع کیدو په وجه معنوي او مذهبي سپیڅلتیا او احترام؛ ۲: د دین د تعلیماتو او احکامو د بیان له نظره د خلکو فکري او عملي مرجعیت؛۳: د اخلاقي فضایلو منجلمه ، ساده ژوند، تقوا، زهد او اخلاص لرل؛۴: له سیاسي واکمنیو خپلواکي؛۵: له خلکو سره پرله پسې او نزدې اړیکې؛۶:په درست هیواد کې د انساني ځواک د پراخ او لوی چینل لرل؛ او ۷: په اسلامي –شیعي فرهنګ کې د

اجتماع او ارتباط جوړوونکو زماني او مکاني جوړښتونو لرل لکه جوماتونه ، امام باړې، مذهبي اخترونه او عزاداری. (کشاورزشکری او نور، ۱۳۹۱: ۷۲، ۷۱).

۱ـ د عوامو ځانګړنې

۱ـ ۱ـ په خدای ایمان

حضرت امام(ره) دغورځنګ د معنوي طاقت په توګه په خدای په ایمان او د هغه ذات په لایزال قدرت په تکیې ټینګار درلود او باوري و چې « د ایران د ولس د طاقت سرچینه په خدای تعالی تکیه ده» (امام خمینی(ره)، نور، ۱۳٦۹، ج۱۹، ۱۷، ۱۲: ٤۰، ۳، ٦۸). امام(ره) باوري و چې دایران د ولس پاڅون د خدای لپاره او د خدای په ملاتړ سره و او د خدای عنایت د ټولو کامیابیو سرچینه ده. له دې امله حضرت امام (ره) په هغه مقدس او حق ذات او لایزال طاقت تکیه، له نفسه حق ته هجرت او له دنیا د غیبو نړۍ ته تګ، له ځانه پریکون او له خدای سره پیوستون د غورځنګ د کامیابۍ راز ګڼه او په دې باور و چې « کامیابي په تورې نه راځي، کامیابی په وینې او د ایمان په طاقت راځي» (هماغه، ج٦، ۱۱، ۱۷، ٤: ٤۹، ۱۰، ۷۳، ۷۲).

۱-۲ سرښندنه او شهادت

ایثار، سرښندنه، له ځانه تیریدنه او په خپل هدف ټینګ دریدنه، د امام خمینې له نظره د نورو ارزښتونو په سر کې راځي. د عاشورا غورځنګ په خلکو کې د شهادت غوښتنې د روحیې په پیدا کولو کې

اغیزشیندونکی رول لرلی دی. له تاریخي نظره د شهادت غوښتنې بیلګه د شیعیانو د دریم امام حضرت امام حسین (ع) په مظلومانه شهادت کې او ژوند کې موندلی شو. امام خمیني (ره)د فیضیه او په تبریز کې د طالبیه مدرسې د طالبانو له شهادته وروسته باوري و چې « باید لاره جاره وساتو؛ ځکه چې له دغو دوو ښیګړو په یوې باوري یوو، یا کامیابي یا شهادت، او په ډاکه وایي چې مونږ به که خدای کول په خپله الهي دنده عمل وکړو او احدی الحسنین ته به ورسیږو»

(امام خمینی(ره)، ج۱، ۱۳۹٦: ٤۳، ٦۹).

امام خمیني (ره) شهادت په غیبو او ماورالطبیعه نړۍ د ایمان بیلګه او به توحید او یوخدای مننې په عقیدې ولاړه الهي ډالۍ ګڼله. له علت العلل په عقیدې په برکت سره ده چې شهادت غواړو انسان د خدای په رضا راضي وي او د خدای تقدیر او مشیت مني او په خپل برخلیک کې یې موثر ګڼي. (دهشیری، ۱۳۸۰: ۱۱۳). امام(ره) شهادت د صبر او د صبر مقام ته د رسیدلو سمبول ګڼه چې د ایمان له لوړو درجو دی او دا روحیه یې د روح د نه ماته خوړلو او په نهایت کې په تورې د ویني د کامیابۍ سبب ګڼله.(هماغه ۱۱۳)

۳ـ ۱ـ صبر او استقامت

د امام صبر او استقامت د دغه شریف ایت الذین قالوا ربنا الله ثم استقاموا ښکاره بیلګه و او یوه شیبه یې هم د سختیو او ربړو په

وړاندې د عاجزۍ اظهار ونه کړ او په ډاګه يې فرمايل: « که زمونږ د هډونو يو يو بند جدا کړي، که سر مو په دار وځړوي، که ژوندي ژوندي مو په اور کې وسوزوي، که زمونږ ښځې بچي او هر څه مو د سترګو په وړاندې اسير او لوټ کړي، هيڅکله د کفر او شرک امان نامه نه لاسليکوو» (امام خمینی(ره)، ۱۳۷۲: ۲۷). « که څه هم د ايران غيرتمن ولس په خپلې لويې سرښندنې او د خدای په در کې د کابو پينځلس زرو شهيدانو په ورکولو سره ظاهرا وځپل شو او د پهلوي جنايتکار رژيم وينه زبيښونکو خپل پنځوس کلن ابدي شرم نور هم زيات کړ... (امام خمینی(ره)، ج١٤، ١٣٦٩: ١٦٣).

٤ـ ١ـ د امت يو والی

امام خمینی(ره) د خلکو د وحدت او يووالي په هکله فرمايي: « زمونږ د ولس اوسنی عظيم غورځنګ د شاه او د پاچاهي نظام په خلاف دی، پر دې اساس د دغه رژيم د نسکورولو لپاره د ټولنې د ټولو پرګنو ترمينځ د وحدت او يو خوله والي راوستل ضروري دی. (هماغه، ج٢: ٢٥٨).

حضرت امام(ره) اتحاد او يوهيږوالی، د نظر يووالی او او د طاغوت ماتې ته د ټولو خلکو پام او د خدای د رسۍ د نيولو په اساس وحدت په ډګر کې د خلکو د يوخيږي شتون او په سياست کې د هغوي د دخالت سبب باله او باوري و چې د عوامو تيارسی، له يو بل سره د خلکو د پرګنو پيوستون او يو زړه والی، د انقلاب په بهير کې د هغوي شتون او په اوسپنيز هوډ او ارادې سره مبارزه د غورځنګ د کاميابيدو

او د خلکو په خپل لاس د هیواد د برخلیک د ټاکل کیدو لوی لامونه ګټل کیږي چې په دې منیځ کې له ولس سره د پوځي ځواکونو، پولیسو، ژندار مري او شهرباني (د ایران د هغه وخت د پولیسو بیلا بیلا شکلونه) یو ځای کیدل د یووالی له مصداقونو او د غورځنګ د کامیابۍ ضامن ګټل کیږی.

(هماغه، ج ۱۵، ۱۱، ۸: ۱۵۵، ۱۹۰، ۷٤، ۱۰۷).

۲: د خلکو د تیارسۍ یا بسیج وسیلې

۲-۱ په جوماتونو کې غونډې

جوماتونو له پخوا راهسې د ظالمو حکومتونو او د پردیو د نفوذ په خلاف په مبارزو حساس او مهم رول لرلی دی او په حقیقت کې د راغونډیدو، د افکارو د تبادلې او د اطلاعاتو او ټولنیزو فعالیتونو لپاره یو ځای پیدا شوی دی. امام (ره) په جوماتونو او امامبارو کې غونډې او اجتماعات د ټولنیزو تعلیماتو او تبلیغاتو لپاره چې په خلکو کې د شعور او آګاهۍ سبب کیږي، یوه حل لاره ګڼي او تبلیغات او تعلیمات دوه مهم او اساسي فعالیت او په یو ډول د وګړو دنده ګڼي. امام مذهبي دستورو او شعایرو ته په اهمیت ورکولو او په دې بیان سره چې عالمان دې په خپلو خطابو او ویناوو سره د ټولنې مصیبتونه بیان او د ښکیلاګرو سپیره پروګرامونه اشوا کړی، همیشه د ظلم د ختمولو په لټه کې و او غونډې به یې د ولسي بیداری او لامبندۍ لپاره یوه وسیله ګڼله.

« په دې لاره کې مونږ لومړی فعالیت تبلیغات دي، باید د تبیلغاتو په وسیله پر مخ لاړ شو.. همیشه له اوله ځواکونه او طاقت نه وو موجود او یوازې د تبلیغاتو له لارې پرمخ تللې دي. بدماشي او زوروینه به یې غندله او ولس به یې خبراوه او خلک به یې پوهول چې دا بدماشي غلط کار دی. ورو ورو د تبلیغاتو ځنه پراخه شوه او د ټولنې ټوې ډلې پکې شاملې شوې. خلک به بیداره او فعاله کیدل او نتیجې ته به رسیدل» (امام خمینی(ره)، ۱۷۲: ۱۳۸۷).

«تبلیغات او تعلیمات زمونږ دوه مهم او اساسي فعالیتونه دی. د فقیهانو دنده ده چې د اسلامی احکامو، او نظاماتو تبلیغ وکړي او خلک ته یې ورزده کړي چې د احکامو د اجرا او د اسلامي نظاماتو د ټینګیدو زمینه په ټولنه کې برابره شی» (امام خمینی(ره) هماغه: ۱۷۳).

« او... خپلې غونډې په تیره بیا د جمعې په ورځ لا زیاتې کوټلې کړئ او مذهبي دستورو او شعایرو ته اهمیت ورکړئ او د زوروینو او قانون ماتونو په وړاندې چوپ مه پاتې کیږئ او په ډیر ارامښت سره د ظالمو حکومتونو غلط کارونه د ایران ولس او مسلمانو ولسونو ته بیان کړئ او له خدایه د ولي عصر (عج) په وسیله مرسته وغواړئ چې ظالم دولتونه د اسلام او د قرآن د قوانینو په خلاف ګام پورته نه کړی شي. (خمینی، ۱۳۶۹، ج۱: ۱۰۱).

۲ـ ۲ـ مظاهرې

امام مظاهرو ته د موجودو مسایلو او ستونزو د حل لارې په توګه عقیده لرله او دا چې د مظاهرو په کولو سره بې له دې چې دغه وسله وال غورځنګ ترسره شي، د رژیم د نسکورولو ورو ورو برابریږي. په حقیقت کې امام مظاهرې د شاه په خلاف یوه ټولپوښتنه (ریفرنډم) ګانه. امام مظاهرې دغورځنګ حقیقي موخو ته د رسیدلو او د شاه رژیم د نسکورولو او د اسلامي حکومت د ټینګولو لپاره یوه وسیله ګڼله.

« د ایران انقلاب یو اسلامي غورځنګ دی چې روان دی او د شاه په تګ سره به هم روان وي. اصولا له مشروطه سلطنتي حکومته خلک ډیره سخته کرکه کوي. له هر لوري ناممکنه ده چې شاه ظلم ځپلو خلکو ته ازادي ورکړي ، آیا د ایران د درستو خلکو هڑتال د شاه په خلاف یو ریفرنډم نه دی. (هماغه، ج۳: ۵۰).

۳ـ ۲ـ هڑتالونه

امام خميني په پارليمان کې د شاه رژیم د چاروالو د غولوونکو او مبتذلو صحنه جوړولو او د ځان د تبرئه کولو او له خلکو سره د خیانت په وړاندې د هڑتال وړاندیز کوي.« اوس د ټولو ایرانیانو د اعتراض غږ پورته شوی، او ټول ایران په هڑتال کې دی، که دا پوځي حکومت او نظام لرې کړي خلک به په یوه ګینټه کې د دې حکومت ټغر ټول کړي او ټول به کامیاب شي، ځکه چې له دغو چاروالو یې بد لیدلې دي»(هماغه، ۲ ټوک: ۱۴۹).د امام خميني له نظره، مظاهرې، هڑتالونه او د ټولنیزو اعتراضونو نور شکلونه، نه یوازې تبلیغي ارزښت لري، بلکې

په استبدادي دولت کې نفوذ هم کوي او که ټول خلک د دولت په اقداماتو اعتراض وکړي هغوی به لاس واخلي. اخوان¬مفرد، ۱۳۸۰: ٥٦)

په وروستۍ برخه کې او تیرو بحثونو ته په پام سره د امام خميني په لیدتوګو کې د اسلامي انقلاب د نظري بیلګې جاج اخلو. په دې ماډل یا بیلګه کې دوه ډول جوړښتي او د کارګزارۍ علتونه په ګوته کولی شو. په جوړښتي علتونو کې، درې ډوله عواملو، فرهنګي، ټولنیز او سیاسي راځي. امام خميني د فرهنګي علتونو په بحث کې، کلتوري جوړښتونو بدلون او تحول د هر بدلون اساس او بنسټ ګڼي. امام په دې لړ کې او د حکومتي کلتور په ځای د بل کلتور د پراختیا لپاره، د یو لړ اصلاحاتو په لټه کې دی او دغه اصلاحاتو پیلامه د زده کړې له مرکزونو، ښوونځیو او پوهنتونو ګڼي. امام (ره) په دې باور و چې پکار دي د اسلامي کتابونو په خپرولو سره د ټولنې ذهنونه د اسلامي کلتور په لور واړوو. امام ټول خلک په ټولنه د واکمن او پیلي استعماري کلتور له نفوذه له رامینځته شویو بې لاریو سره مقابلې ته بلي او د استعماري کلترو د مرکزونو د ختمولو او د پیلتیا د غوځولو غوښتنه کوي. په حقیقت کې امام د ټولنې د وګړو صحیح اصلامي تربیت غواړي. د امام خميني له نظره (ره) د ولس په بیداریۍ سره پر اسلامي کلتور ولاړ له نویو ارزښتونو او باورونو سره د نوی هویت او شناخت پیدا کیږي او د انقلابي پوهې د جوړولو لپاره زمینه برابریږي.


د امام خميني (ره) له نظره د انقلاب په ټولنیزو علتونو کې، د ټولنیزو خدماتو نیشتو، فقر او محرومیت، او په پردیو پورې پیلتیا ته اشاره

کولی شو چې دا ټول د ټولنیز خپګان سبب کیږي. همداراز دولت د تجملي او تشریفاتي سامانونو په واردولو او د پردی کلتور په خپرولو سره، کورنۍ تشي مصرفي تربیت کړې او ټولنیزو ګډوډیو ته یې لمنه ووهله. امام غوښتل چې محرومیتونه او د ټولنې فسادونه ختم کړي او په ټولو اړخونو کې عدالت او خپلواکي قایمه کړي. د امام خميني (ره) له نظره د اسلامي انقلاب په سیاسي علتونو کې، د دولت خپل سري، د قانون مخالفت، د سیاسي ازادیو نشتون او په پردیو پورې د سیاسي نظام او حکومت پییلتیا شامله وه چې دغو لاملونو د حکومتي ظلم او د امپریالیستي ښکیلاک په خلاف د د پاڅون زمینه برابره کړه.

د امام خميني (ره) له نظره دغه ټول جوړښتي عوامل له کارګزاري او بروکریج عواملو سره یو ځای د ډلو، پرګنو او د ټولنې د سازمانونو د ټولنیز بسیج او لامبندۍ سبب شول چې په حقیقت کې د ټولنې د کلتوري، ټولنیزو او سیاسي حالاتو په خلاف یې پاڅون وکړ. د امام خميني له نظره په کارګزاري او بروکریج عواملو کې دوه عامله یعنې راهبران او خلک شامل دي. امام خمینی (ره) د اسلامي انقلاب د مشر په توګه درې ځانګړتیاوې لرلې یعنې آیډیالوجیک مشر، بسیجي رهبر او مدیر مشر. دوي د اسلامي انقلابې نظریې په وړاندې کولو سره او په حقیقت کې د ټولنې وګړو ته د رښتیني اسلام په ورښودلو سره، د الهي خود آګاهۍ او د اسلامي افکارو د پرځایښت زمینه برابره کړه چې په صحیح اسلامي طریقه د انسان تربیت غواړي. دغه آیډیالوجۍ، د باورونو او ارزښتونو په بدلولو او له سوچه اسلام او انقلاب له لارې سره د خلکو

د افکارو په غږملولو کې د پام وړ رول درلود او انقلابي پوهه يې عام کړه.

خو دوهم رول د بسيجي توب يا عوامي رضاکارانه رول و. امام د يو بسيجي مشر په توګه د ټولنې د مختلفو پرګنو په تيره بيا ځوانانو د جذبولو او دهغوي د سرښنه کولو په لټه کې و چې د شاه رژيم په خلاف د ټولنې د تقريبا عمومي بسيج او لامبندۍ سبب شو. خو دغه جذب او نظم ورکول بيا په جوماتونو، امام بارو، او د محرم او روژې په مياشتو کې زيات و د مدير رهبر په رول کې د امام خميني په مديريتي وس کې د انقلاب بهير د مديريت او له انقلابه وروسته د ټولنې د مديريت رول شاملیږي.د عوامو د رول په باره کې د امام نظر: د امام له نظره عوامو په خدای د ايمان او په سوچه اسلام د عقيدې او پرې د ژمنې په وجه وکړی شول د انقلاب د ارمانونو او ايډيالونو د تحقق لپاره پاڅون وکړي. او آخر د تاريخ په يو خاص پړاو کې د جوړښتي او کارګزاري عواملو يو ځای کيدل د اسلامي انقلاب د کاميابۍ او د اسلامي حکومت د جوړيدو سبب شول.


کارگزاران اجتماعی
ساختارهای اجتماعی
رهبران
مدیر
پیروگر
ایدئولوگ
ایدئولوژی انقلابی
جذب سازمانهای مردمی
توده ها
اجتماعات
تظاهرات
پیوند توده های اجتماعی
ایمان به خدا
ایثار و شهادت
صبر و
وحدت
امت
مقابله با انحرافات
تشکل کتب،شعر و...اسلامی
ترویج فرهنگ اسلامی
تشکلگیری هیئت
اصلاح مراکز آموزشی
بیداری مردم
خلل فرهنگی
تربیت صحیح اسلامی
تفسیر ایدئولوژیها و باورها
ایجاد آگاهی انقلابی
فزایش نارضایتی اجتماعی
پیوند اجتماعی گروه ها،طبقات و سازمانها جامعه
نبود خدمات اجتماعی
فقر و محرومیت
وابستگی به بیگانه
خلل اجتماعی
قیام علیه استبداد
قیام علیه استعمار
خودکامگی
قانون ستیزی
جدایی از مردم
نبود آزادی سیاسی
وابستگی نظام سیاسی به بیگانه
خلل سیاسی
سرکوب دولت
ادامه مبارزه انقلابی
پیروزی انقلاب اسلامی
تشکیل حکومت اسلامی
دستاوردهای انقلاب

څلورمه برخه: د ولايت فقيه نظريه[۲]

سريزه:

اسلام ته د امام خميني(ره) نظر سياسي دی او هغه څرګندوي: د قرآن له عبادي آيتونو سره د هغه د اجتماعياتو نسبت، له يو سره د سلو له پرتلې هم زيات دی،(امام خمینی، ۱۳۸۷: ۱۱). دوي باوري دي چې سياست د اسلام راز دی ځکه نو د دوي په اند فقه هم سياسي ده او د سياسي فقهې په کلمه کښې سياسي قيد يو مخنيوی کونکی نه بلکې يوازې يو وضاحتي قيد دی.

په بله وينا فقه د امام له نظره د اخلاقو او فلسفې په شان په فردي او اجتماعي او په سياسي او غيرسياسي نه ويشل کيږي بلکې نيغ په نيغه په ټولنې، اقتصاد، کلتور او سياست پورې تړاؤ لري او په دې منځومان کښې (فقه) د اسلام د قانون رول لوبوي. په همدې وجه هر کس چې په اسلامي نظام کښې کوم مسئوليت لري بايد د خپل فعاليت په چارو کښې د اسلام له قانون يعنې اسلامي فقهې سره بلد وي، داشان د حکومت له لورې څُوکې واخلې د هغه تر لمنې پورې ټول د فقهې په ساحه کښې شاملیږي. نو بس

---

[۲] - دا برخه په ۱۳۸۷ کال کښې د امام خمینې(رح) د ښوونځې او تحقیقاتي موسسې د خپرندويو لخوا د آیت الله مصباح یزدي له لیکلي "نگاهي گذرا به نظریه ولایت فقیه" کتاب له پنځم باب څخه او په ۱۳۹۵ کال کښې د انتشارات المصطفی لخوا د رضا لک زايي له لیکلي "مولفه های بنیادین اندیشه سیاسی امام خمینی(ره)، کتاب څخه اخیستل شوې ده.

اسلام یعنې هغه حکومت او سیاسي نظام چې فقه یې قانون دی. د امام له نظره کوم کس چې اعتقادي او اخلاقي وړتیا لري یعنې عادل وي او د اسلام له قوانینو سره بلد یعنې فقیه وي باید د حکومت په سر کښې راشي. په دوام کښې د امام خمیني(ره) له نظره د ولایت فقیه او د هغه د مخینې، دلایلو او شرایطو بحث جاجوو.

۱. د ولایت فقیه د بحث مخینه او موقعیت

آیت الله جوادي آملي فرمایي: ډیر کلونه تیر شوي وو چې په کښې د فقیه او خلکو اړیکه د محدث او مستمع (اوریدونکي) اړیکه وه، ځکه چې اخباري ګري واکمنه وه او فقیه د استنباط او فکر کولو حق نه درلود، تر دې چې دغه فکري تحجر د اصول پالو په تیره بیا د اروابشاد وحید بهباني لخوا ختم کړی شو او اجتهاد ژوندی شو او د فقیه او خلکو اړیکو د تقلید د مرجع او مقلد په رابطې بدله شوه. ډیر کلونه په دې طریقه تیر شول او ورو ورو د ولایت فقیه مسئله چې که څه هم جرړې یې د مخکښانو په لیکنو کښې ترسترګو کیدې، د فقهي کتابونو کښې مطرح شوه او ځان یې څرګند کړ، البته د ولایت فقیه مسئله چې د اروابشاد نراقي په شان کسانو لخوا مطرح کیدله، یوازې د بحث د یوې فقهي مسئلې په توګه او د نورو ګڼو فقهي مسائلو په شان ګڼله کیده خو په هر حال غوره وه چې ولایت فقیه د مستقله او خپلواکه توګه مطرح شي. د رهبرۍ ستر مقام هم ولایت فقیه د شیعه فقهي یوه جوته برخه ګڼي او څرګندوي، څوک چې د فقهاؤ له خبرو سره بلد دي پوهیږي چې د (ولایت فقیه) مسئله په شیعه فقه کښې یوه روښانه او واضحه مسئله ده. (د آیت الله خامنه ای، وینا، ۱٤/ ۰۳/ ۱۳۷۸)

په هر حال څه موده تیره شوه تر دې چې د امام خمیني(ره) زمانه راغله. کوم کار چې اروابشاد امام وکړ دا و چې ولایت فقیه یې چې تر هغه وخته مظلوم و، له فقهي نه خپل اصلي منزل یعنې کلام ته راوسته او بیا یې دا

مسئله په عقلي او کلامي دليلونو سره وسپړله. پس له دې وو چې ولايت فقيه چې په خپله اصلي ځايګاه کښې غوړيدلی و، خپل چتر يې د فقهې په سر خور کړ او فقه يې تر خپل سيوري لاندې راوستله او ولايت فقيه چې تر اوسه يې سِه وده نه درلوده، هغه شجره طيبه شوه چې «أَصْلُها ثابِتٌ وَ فَرْعُها فِي السَّماءِ.» (ابراهيم: ٢٤)

د دې وجه چې حضرت امام به بيا بيا فرمايل که څوک ټول دين وځيړي نو وبه ويني چې دين، سياست له ځان سره لري، د سياست اټکل يې کړی او اجرا کونکی يې له نظره لرې نه درلود دا وجه وه چې دوي فقهې ته د کلام له نظريې کتلي او د کلام له لوړ افق څخه فقهي مسائلو ته ګوري ځکه چې د ولايت فقيه مسئله د معصوم امام د (امامت) جانشيني ده. په دې بنياد جامع الشرايط فقيه د غيبت په زمانه کښې د معصوم امام ځاې ناستی دی او د معصوم امام په شان، له دې ورتير چې د خدای حکم به يې بيانوه، حکومتي چارې به يې هم چلولې او د هغه او خلکو ترمينځ اړيکه د امام او امت اړيکه وه، ځکه د معصوم امام د جانشينانو اړيکه چې د علم او عدل په شرايطو پوره دي، د امام او امت رابطه به وي. او دا مام خميني و چې د مرجع او مقلّد اړيکه يې د امام او امت رابطې ته ورسوله. له دې نظره ولايت فقيه ته ضرورت اسلام او معصومو امامانو عليهم السلام ته له ضرورته د بيليدو وړ نه دی.

د انقلاب حکيم او پوه رهبر د نړۍ په ماډرن سياسي ادبياتو سره د دې نظريې د مطرح کولو په طريقه کښې د امام خميني(ره) نوښت او د دې نظريې اپ ډيټ کول، پرې دليل راوړل او د هغې لوړول او د پوهيدو او منلو وړ يې جوړول د يوې سياستي نظريې په توګه ګڼي، او فرمايي: کوم کار چې امام وکړ دا و چې وړومبی وتوانيده هغو نويو او سترو اړخونو ته په پام سره چې ننۍ دنيا او ننې سياستونه او ننې مکتبونه يې لري، دا فکر برابر کړي، دويمه

دا چې هغه پوخ، کلک، مستدل او معیاري کړي یعنې داسې شکل ورکړي چې هر هغه د نظر خاوند انسان ته د منلو او پوهیدو وړ وي چې د ورځې له سیاسي مسائلو او اوسنیو سیاسي مکاتبو سره بلد وي. (آیت الله خامنه ای، بیانات، ۱٤/ ۰۳/ ۱۳۷۸)

خو پوښتنه دا ده چې امام خمیني(ره) دا نظره څنګه پخه، مضبوطه، مستدله او کیفیت لرونکې کړي او ترقي یې ورکړه؟ داسې ښکاري چې اول د دې نظریې په منظم او منطقي تدوین او برابرونې او د فقهې په درس خارج کښې د علیمه حوزې په ترټولو لوړه علیمه سویه د فقهې او فقاهت په مرکز یعنې د نجف په عملیه حوزه کښې شوې او لیکنه یې د شیخ انصاري چې په حوزه کښې د شیخ اعظم په توګه یادیږي، تر بحثونو لاندې شوې.

د امام بل کار هم دا و چې د دوي د دیارلسو ویناؤ ټولګه سربیره پر دې چې خپله د دوي لخوا په عربۍ ژبه او په فقهي قلم سره د دوي د البیع کتاب په دویم ټوک کښې لیکل شوې، راخیستی شوې او په فارسۍ ژبه البته د البیع کتاب هومره په ځیر سره نه خو په هم هغې محتوا سره لیکل شوې او د دوي لخوا تایید شوه او د ولایت فقیه (اسلامي حکومت) په عنوان سره د یو ځانله کتاب په شکل کښې خپره شوه او د انقلابیانو د تفکر لاس ته ورسیده.

د امام یو بل ډیر بنیادي او مهنم کار دا و چې د دې نظریې کلامي اړخونه یې هم مطرح او بیان کړل او د دې په ترڅ کښې چې په مسئلې یې له فقهي نظره غوره او څیړنه کړې ده، د هغې د کلامي لورو له بیانولو او د امامت تر نظریې لاندې د هغې له مطرح کولو هم غافل نه شو.

په دې وجه د نورو عالمانو په پرتله د امام خمیني(ره) ستر امتیاز دا دی چې نورو به ویل چې ولایت فقیه شته خو د هغه شرایطو به یې تحصیلي نه

بلکې حصولي ګڼل، حال دا چې کوم کس چې ولایت د امامت په شان ګڼي باوري دی چې د ولایت د اعمالیدو ځینې شرطونه حصولي دي او مهمه برخه یې تحصیلي ده، په دې معنا چې شرایط باید تحصیل او ترلاسه کړی شي او د مرجع او خلکو رابطه د امام او امت رابطه وګرځي او داسې نه ده چې که خلک تیار شول او امکان یې و چې بې له خطره اسلامي نظام جوړ کړي نو یو فقیه د دغه نظام واګې په لاسو کښې واخلي، بلکې د ولایت او رهبرۍ زیاتره شراطی تحصیلي دي نه حصولي، په بله وینا شرط واجب دی نه شرط وجوب. په دې وجه د عدل قایمولو لپاره باید وینه ورکړی شي او له سره تیر شي او خطرونو ته غاړه کیږدي، لکه څنګه چې امام د بند او جلاوطنۍ په شان نورو ډیرو رنځونو او کړاؤنو ته غاړه کښیښودله.

یوه پوښتنه چې د مطرح کیدو ځاې لري، دا ده چې بلآخره امام خمیني(ره) څنګه وتوانیده دا فکر، هغو نویو او سترو افقونو ته په پام سره چې ننۍ نړۍ او ننې سیاستونه او ننې مکتبونه یې لري، تدوین او برابر کړي؟ داسې ښکاري چې د ولایت فقیه لپاره د دوي مهم او اصلي علت، همهغه ډول چې د ولایت فقیه د بحث په پیل کښې یې مطرح کړی دی، د هغه (جوت والی) دی او جوت یعنې جوت. یعنې یوازې سم تصور یې د تایید سبب دی. یعنې د امام خمیني(ره) دلیل یوازې حدیثونه او روایتونه نه دي چې څوک عقلي دلیل وغواړي او یا د حدیث په دلالت باندې نیوکه وکړي او مدلول رد کړي، راوړی شوی دلیل عقلي دی او ټول پرې پوهیږي او د منلو لپاره له تفکره زیات انصاف ته ضرورت دی. باید پاملرنه وشي چې د دې تفکر له زړه څخه د تشیع لپاره ولایت فقیه او د اهل سنت لپاره دیني ولسواکي زیږیږي لکه چې امام خمیني(ره) فرمایي: ځینو کسانو باور کړی دی چې باید د هر زورویونکي اطاعت وشي، امام باوري دی: دا هم د زورویونکو کسانو په لاس پیدا شوی دی. (امام خمینی، ۱۳۷۸، ج ۲۰:۱۲۰) ځکه چې نه شي کیدی چې خدای تعالی دین راولیږي او بیا ووایي یو بې دینه کس اطاعت وکړئ، امام

دا چاره له هغو بې لاریتوبونو ګڼي چې د اسلام د دښمنانو پیاوړو لاسونو رامینځته کړي دي. (هم هغه)

۲. د ولایت فقیه دلیلونه

الف. عقلي دلیل

امام خميني(ره) ولایت فقیه د هغه کس په معنا چې کولی شي حکومت جوړ کړي او د حکومت په سر کښې وي ضروري ګڼي او باوری دی چې ولایت فقیه یوه هغه موضوع ده چې تصور یې د تصدیق سبب کیږي او برهان او دلیل ته هیڅ اړتیا نه لري. خو د ولایت د نظریې د بداهت او جوت والي وجه څه ده؟ امام خميني(ره) فرمایي: هر کس چې د اسلام عقاید او احکام حتی اجمالاً او سرسري هم ترلاسه کړي وي نو څنګه چې ولایت فقیه ته ورسي او تصور یې وکړي بې له ځنډه به یې تصدیق کړي او هغه به ضروري او جوت وګڼي.(امام خمینی، ۱۳۸۷: ۹) د امام خميني(ره) د وینا په وضاحت کښې ویلې شو چې د اسلام احکام، قانون دی او څرګنده ده چې قانون، قانون جوړونکي او اجرا کونکي ته ضرورت لري، داسې نه شي کیدی چې قانون دې وي خو قانون جوړونکی او اجرا کونکی دې نه وي. په دې وجه د قانون شتون، د قانون د اجرا کونکي د شتون خبر ورکوي، اوس پوښتنه دا ده چې څوک به قانون اجرا کوي؟ هغه کس چې په هغه قانون پوره خبر دی که هغه څوک چې له سره ورسره بلد نه دی؟ ځواب یې روښانه دی، په دط وجه د قانون پیژاندي لخوا د قانون اجرا ته وایي ولایتِ فقیه.

شه نو که ولایت فقیه دومره ساده او روښانه بلکې جوت دی نو ولې پکښې دومره لانجې او بحث شوی او کیږي؟ امام خميني(ره) په ولایت فقیه (اسلامي حکومت) کتاب کښې فرمایي: علت یې په عمومي توګه د مسلمانانو ټولنیز حالات او په ځانګړې توګه علیمه حوزې دي.(هم هغه) امام خميني(ره) په دوام کښې د اسلام په نیمګړې پیژندګلۍ کښې د استعمار

تبليغات او د هغوي هلې ځلې او البته د مسلمانانو ځان بايلنه او د علميه حوزو کمزوري د دې حالت وجه ګڼي او هغه په تفصيل سره مطرح کوي او بيانوي. دوي د اسلام بشپړه معرفي او دا چې اسلام د سياست دين دی او کوم کسان چې وايي دين له سياسته جلا دی، بې دينه دي او پر ځان اعتماد او د اسلامي حکومت د جوړولو هڅه خپله دنده ګڼل د دې ستونزې حل لاره ګڼي.

ب. نقلي دليل

امام خميني(ره) ليکي: فولاية الفقيه بعد تصوّر أطراف القضيّة، ليست أمراً نظرياً يحتاج إلى برهان، و مع ذلك دلّت عليها- بهذا المعنى الوسيع- روايات نذكر بعضها(امام خمينی، کتاب البيع، ج۲: ٦۲۷) يعنې ولايت فقيه له تصور وروسته جوت او ضروري دی او کوم نظري مطلب نه دی چې دليل ته دې اړتيا ولري، په هر حال ځيني روايتونه چې په ولايت فقيه دلالت لري، راوړو، بيا امام خميني(ره) مقبوله عمربن حنظله، مرسله فقه، روايت علی بن ابی حمزه، موثقه سکونی، په حضرت ولی عصر عجل الله تعالی فرجه الشريف پورې منسبوه توقيع، مشهوره ابی خديجه، صحيحه قداح او داسې نور بيانوي (هم هغه: ٦۲۷) چې د مثال په توګه د عمر بن حنظله په مقبوله روايت کښې د امام استدلال ته اشاره کوو.

عَنْ عُمَرَ بْنِ حَنْظَلَةَ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا عَبْدِ اللَّهِ عليه السلام- عَنْ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِنَا بَيْنَهُمَا مُنَازَعَةٌ فِي دَيْنٍ أَوْ مِيرَاثٍ فَتَحَاكَمَا إِلَى السُّلْطَانِ وَ إِلَى الْقُضَاةِ أَ يَحِلُّ ذَلِكَ قَالَ مَنْ تَحَاكَمَ إِلَيْهِمْ فِي حَقٍّ أَوْ بَاطِلٍ فَإِنَّمَا تَحَاكَمَ إِلَى الطَّاغُوتِ وَ مَا يَحْكُمُ لَهُ فَإِنَّمَا يَأْخُذُ سُحْتاً وَ إِنْ كَانَ حَقّاً ثَابِتاً لِأَنَّهُ أَخَذَهُ بِحُكْمِ الطَّاغُوتِ وَ قَدْ أَمَرَ اللَّهُ أَنْ يُكْفَرَ بِهِ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَ قَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ قُلْتُ فَكَيْفَ يَصْنَعَانِ قَالَ يَنْظُرَانِ إِلَى مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مِمَّنْ قَدْ رَوَى حَدِيثَنَا وَ نَظَرَ فِي حَلَالِنَا وَ حَرَامِنَا وَ عَرَفَ أَحْكَامَنَا فَلْيَرْضَوْا بِهِ

حَكَماً فَإِنِّي قَدْ جَعَلْتُهُ عَلَيْكُمْ حَاكِماً فَإِذَا حَكَمَ بِحُكْمِنَا فَلَمْ يَقْبَلْهُ مِنْهُ فَإِنَّمَا اسْتَخَفَّ بِحُكْمِ اللَّهِ وَ عَلَيْنَا رَدَّ وَ الرَّادُّ عَلَيْنَا الرَّادُّ عَلَى اللَّهِ وَ هُوَ عَلَى حَدِّ الشِّرْكِ بِاللَّهِ...(اصول کافی، ج۱: ٦٧)

عمر بن حنظله وايي: له امام صادق عليه السلام څخه مې پوښتنه وکړه: که په مونږ کښې دوه کسان د يو ميراث په سر ونښلي او د محاکمې لپاره د وخت باچا يا قاضي ته ورشي نو آيا دا کار روا دی؟ ويې فرمايل: څوک چې په يوه حق يا باطله موضوع کښې د محاکمې لپاره د هغوي خوا ته ورشي داسې دی چې د محاکمې لپاره ظالم ته ورغلی وي او هغه څه چې ظالم د هغه لپاره حکم وکړي نو که څه هم د هغه جوت حق وي خو داسې دی چې کوم حرام مال اخلي ځکه چې د ظالم په حکم يې اخيستی دی په داسې حال کښې چې خدای امر فرمايلی دی چې له هغه لرې ووسي او خدای تعالی فرمايلي دي چې غواړي د محاکمې لپاره ظالم ته ورشي حال دا چې پکار وه له هغه لرې ووسي.

عرض مې وکړ: نو څه وکړي؟ ويې فرمايل: خپله په تاسو کښې دې داسې کس ته دې وګوري چې زمونږ حديث روايت کړي او زمونږ په حلالو او حرامو کښې نظر واچوي او زمونږ په احکامو پوه شي، د هغه په حکميت دې راضي شي بې شکه چې ما هغه ستاسو حاکم وټاکه، که زمونږ له حکم سره سم يې حکم وکړ او په دغو دوو کښې يو تن ونه منه نو بې شکه چې د خدای حکم يې سپک ګڼلی او زمونږ يې رد کړي يو او څوک چې مونږ رد کړي خدای يې رد کړی او دا له خدای سره د شرک په حد کښې دي. (هم هغه: ۸۷)

امام خمينی په فقيه پورې د دې روايت د ځانګړتيا په ثابتولو کښې په داشان څو روايتونو باندې استناد کوي.

وړومبی: څوک چې حدیث روایتوي او د اهل بیتو حلالو او حرامو ته پام کوي او په احکامو پوه وي هغه فقیه دی ځکه چې د معصومو امامانو علیهماالسلام په وختو کښې د حدیث راوي فقیه و او د دې عبارت (څوک چې زمونږ حدیث روایتوي) ظاهر دا دی چې کار یې هم دا وي او په هغه زمانه کښې داسې کس فقیه و. او په هغه زمانه کښې رسم هم دا و چې فتوا به یې د روایت په نقلولو سره بیانوله.

دویم: (زمونږ په حلالو او حرامو) استناد کوي ځکه چې حلال او حرام د متعال خدای لخوا ټاکل کیږي نه د امامانو علیهما السلام لخوا، او ځانته یط د حلالو او حرامو نسبت ورکول په دې وجه دي چې دغه پاکې بزرګواران د حلالو او حرامو بیانونکي دي، په دې وجه د قضاوت منصب د هغه چا لپاره ټاکل شوی چې د معصومینو خبرونه او فتاوې څیړي او حلال او حرام پیژني او دا کار له فقیه نه علاوه د بل چا نه دی.

دریم: دوي فرمایي ممکنه ده په (زمونږ احکام وپیژني) عبارت باندې استناد وکړي، په دې بنه کښې مثل دا دی چې امام صادق علیه السلام فرمایلي وي: د قضاوت منصب یوازې د هغه کس لپاره ځانګړی شوی چې زمونږ احکام وپیژني او زمونږ فتوا له نورو بیله کړي څو واقعي حکم بیان کړی شي او روښانه ده چې دا هم د فقیه کار دی.

څلورم: د (او هغه دواړه په حدیث کښې اختلاف وکړي) عبارت هم د قاضي په فقیه توب دلالت کوي ځکه چې په حدیث کښې له اختلافه مطلب په ظاهره د هغه په نقل کښې نه بلکې په معنا کښې یې اختلاف دی او دا هم په فقیه پورې اړه لري ځکه په حکم کښې اختلاف چې په روایت د پوهیدو له اختلافه رامینځته کیږي، زیاتره په اجتهاد او استنباط سره مل دی.

پنځم: د (د هغه کس حکم چې زیات عادل او ډیر فقیه دی، نافذ دی) او د (که ودې لیدل چې دواړه فقیهان له کتاب او سنت څخه په حکم پوه شول) په دې خبره دلالت کوي چې فقاهت د قاضي لپاره فرض دی او بې شکه څوک چې تقلید کوي فقیه او زیات فقیه نه شي کیدی.

دوي بلآخره فرمایي: د (بې شکه چې ما هغه حاکم وټاکه) عبارت دلالت لري چې فقیه د قضاوت پر منصب سربیره د حکومت د منصب خاوند هم دی. د دې په ترڅ کښې چې د خبرې په سر کښې پوښتنه کونکي چې وویل (باچا یا قاضیانو ته رجوع وکړي) د مورد په شاملوالي دلالت لري او په قضاوت او واکمن او والي پورې اړوندې چارې پکښې شاملیږي، ځکه زیاتره هغه چارې چې په واکمن پورې اړونده دي، په قاضیانو پورې اړه نه لري، داشان چې په سیاسي چارو کښې دخالت د واکمنانو او والیانو په صلاحیت کښې دی. اوس چې د روایت پیل په قضاوت مشتمل دی نو بس په قضاوت پورې د حاکمیت محدودول هیڅ دلیل نه لري او د اطلاق تقاضا یې دا ده چې د فقیه لپاره د سیاسي او قضایي په شمول مطلق او چورلټ حاکمیت جعل شوی دی. (امام خمیني، اجتهاد او تقلید:۲۵)

۳. د ولي فقیه شرایط

اوس پوښتنه دا ده چې کوم کس ولي فقیه جوړیدی شي؟ په بله وینا، ولي فقیه باید کوم شرایط ولري؟ آیا ضروري ده چې د تقلید مرجع دې وي؟

امام خمیني(ره) د دې پوښتنې د ځواب لپاره بحث د اسلام پیل ته بیایي او باوري دی چې اسلامي واکمن د عقل او تدبیر په شان له عامه شرطونو وروسته پکار دي دا دوه ځانګړنې ولري:

یو: په قانون پوهه

دوه: عدالت

دوي فرمايي: د مسلمانانو له نظره پر قانونه پوهيدل او عدالت د واکمن بنيادي شرط او رکن دی او عقل هم د دې غوښتنه کوي. ولې چې اسلامي حاکم بايد د اسلام احکام اجرا کړي او د اسلام حکومت د قانون حکومت دی نه د خپل سرې او نفساني خواهشاتو او د کسانو حکومت. په دې وجه د واکمن لپاره د قوانينو د علم لرل ضروري دي او که واکمن په قانوني مطالب پوه نه وي نو د حکومت وړ نه دی.

ښه نو څه فرق کوي چې د اسلام واکمن فقيه او قانون پوه نه وي او د يو فقيه تقليد وکړي؟ آيا په دې صورت کښې هغه واکمن کيدی شي؟ امام خميني(ره) په دې باور دی چې څوک چې تقليد کوي هغه د مسلمانانو واکمن نه شي کيدی (ځکه که تقليد وکړي نو د حکومت قدرت يې ماتيږي او که تقليد ونه کړي نو د اسلام د قانون اجرا کونکی او واکمن نه شي جوړيدی)(امام خمينی، ۱۳۸۷: ٤٨)

ښه نو اوس چې اسلامي واکمن بايد قانون پوه وي نو د حکومت د نورو کارکونکو لپاره څه حکم دی؟ آيا ضروري ده چې هغوي هم قانون پيژاندي او قانون پوهان وي؟ د امام خميني(ره) له نظره په ټولو فقهي قوانينو باندې د اسلامي ټولنې د کارکنانو، کارکونکو او مسئولانو اشراف او پوهيدل ضروري نه دي او يوازې په خپل کار او دندې پورې په اړوندو قوانينو پوهيدل يې پوره دي او که کومه مسئله ورته پيښه شي نو د چارو له مشر څخه دې پوښتنه وکړي.(هم هغه: ٤٩)

(هر کله چې د ادارو د مسئولانو لخوا د اسلامي حق او اصولو خلاف کوم حرکت ترسره شي، په هغې ادارې پورې اړوند ژمن کسان او زړه سواندي کارکونکي ترټل کيږي چې په دې لړ کښې ولې د حق او اصولو او قانون خلاف عمل شوی دی، او که هغوي په خپلو مسئولانو اعتراض وکړي نو په ځواب کښې يې وايي: له مسئولانو سره دا ډول چلندونه د اداري ولايت

خلاف دي او که اداري ولايت په ولايت فقيه او ولايت امام او پيغمبر او خداى باندې ختميږي نو بس معترض کس- چې د قانون له لارې او د هغه مشر د حکمونو په منلو سره يې خپل اعتراض مسئولانو ته وړاندې کړى- کافر او ملحد دى. مهرباني وکړئ په دې لړ کښې غوره نظريه بيان کړئ؟

د امام خميني(ره) ځواب دا دى: په اسلام کښې اداري ولايت نشته او په ادارو کښې کارکونکي او مسئولان يوازې دا دنده لري چې د ادارې د مقرراتو او د اسلامي حکومت د اصولو مطابق عمل وکړي او په کوم کس يا څيز باندې هيڅ ولايت نه لري او که د شرعي يا قانوني اصولو خلاف عمل وکړي نو نور کولى شي چې بې د ګډوډي او فساد له رامينځته کولو هغوي ته خبرداری ورکړي. (امام خمینی، استفتاءات، ج۳: ۵۹)

د واکمن بل شرط دا و چې اعتقادي او اخلاقي کمال ولري او عادل وي او لمن يې په ګناهونو ککړه نه وي. ځکه کوم کس بايدالهي حدود جاري کړي يعنې د ضرورت په وخت د اسلامي سزا قانون اجرا کړي، د بيت المال او د هيواد د عايد او خرڅ مسئول وي او خداى ورته د خپلو بندګانو د اداره کولو اختيار ورکړي هغه پکار دې چې ګناهکار نه وي: «قالَ لا يَنالُ عَهْدي الظّالمينَ». خداى تبارک و تعالى ظالمانو ته داسې واک نه ورکوي. واکمن که عادل نه وي نو هغه به د مسلمانانو د حقوقو په ورکولو، د مالياتو په ترلاسه کولو او د هغو په سمې لګونې او د جزا د قانون په اجرا کښې عادلانه کړچار ونه کړي او ممکنه ده خپل خپلوان او ملګري پر ټولنې وروتپي او د مسلمانانو بيت المال په خپلو شخصي کارونو او عيش عشرت ولګوي.

په دې وجه د طرزِ حکومت او په دې اړه د شيعه نظر چې کوم کس يې بايد په غاړه واخلي، د رسول اکرم(ص) له وفات نه د امام زمان تر غيبته پورې څرګند دى. د هغه له مخې امام بايد په احکامو او قوانينو عالم او فاضل او د هغوي په اجرا کښې عادل وي.

دوي اعتراف کوي چې که يو لايق کس چې دغه دوه خصلتونه لري راپورته شي او حکومت جوړ کړي نو همهغه ولايت چې رسول الله مبارک د ټولنې د اداره کولو په کار کښې درلود، لري او په ټولو لازمه ده چې د هغه اطاعت وکړي. البته ضروري نه ده چې واکمن د تقليد مرجع وي. لکه څنګه چې امام خميني(ره) فرمايي:

زه له اوله باوري وم او ټينګار مې درلود چې د مرجعيت شرط ضروري نه دی. د ټول هيواد د محترمو خبرګانو د تاييد وړ عادل مجتهد کافي دی. د اساسي قانون په اصل کښې ما دا خبره کوله خو ملګرو د مرجعيت په شرط ټينګار وکړ نو ما هم ومنله. زه هغه وخت پوهيدم چې دا کار په نزدې راتلونکي کښې د عملي کيدو وړ نه دی. (امام خمینی، ۱۳۷۸، ج۲۱: ۳۷۱) بايد وويل شي چې امام خميني، تتجزی مجتهد (هغه کس چې په ټولو برخو کښې نه بلکې په ځينو احکامو کښې د اجتهاد درجې ته رسيدلی وي) د ولي فقيه په لړ کښې د ضروري صلاحيت خاوند نه ګڼي،(تحرير الوسيله، ج۱: ٥٤٩) په دې وجه فقيه د پيغمبر په شان اختيارات لري. دلته څو مسئلې بايد له يوبله بيلې کړو.

وړومبی دا چې امام خميني(ره) فرمايي: فقيهان چې هم هغه د پيغمبر ولايت لري يوازې د اسلام د قوانينو په اجرا پورې تړاؤ لري او دا توهم نه دی پکار چې ګڼي د فقهاؤ مقام د رسول اکرم صلوات الله عليه و آله او ائمه عليهم السلام له مقام سره برابر دی. مونږ د لازيات وضاحت لپاره ويلی شو چې نبي او امام په نوم سره د خدای لخوا ټاکل کيږي، د فقيه په اړوند چې په وصف ټاکل کيږي. بله دا چې نبي او امام معصوم دي خو فقيه معصوم نه دی. خو د اختياراتو په برخه کښې د نبوي او علوي حکومت اختيارات او د فقيه د حکومت او د مهدوي حکومت اختيارات مساوي او برابر دي. مثلاً يوه چاره چې د ولايت په ګډه ناست فقيه يې واک لري د حدودو يعنې د

اسلام د سزا د قانون اجرا ده. آیا د حدودو په جاري کولو کښې د رسول اکرم(ص) او امام او فقیه ترمینځ کوم فرق شته؟ یا لپاره د دې چې د فقیه رتبه ټیټه ده نو باید له ټاکله حده کمه سزا ورکړي؟ د مثال په توګه د زنا کونکي حد چې صد تازیانې دی، که پیغمبر اکرم(ص) یې جاري کړي نو یو نیم سل تازیانې به وهل کیږي او د امیر المومنین علي(ع) په حکم سل تازیانې او د فقیه په حکم پنځوس تازیانې؟ یا دا چې واکمن د اجراییه قوې مشر دی او باید د خدای حد جاري کړي که هغه رسول الله وي، که امام علي وي او که په بصر یا کوفه کښې د هغوي استازی یا قاضي وي یا د خپلې زمانې فقیه. (امام خمینی، ۱۳۸۷: ۵۲) بس واکمن د اجراییه قوې مشر دی او کوم ولایت چې د حکومت د جوړولو او اجرا او د اداري د مشرۍ لپاره د رسول کرم صلوات الله علیه و آله او امام لپاره دی، د فقیه لپاره هم دی.(همان: ۵۳) یعنې د فقیه، امام او نبي اختیارات یو دي خو له معنوي نظره هغوي یو شان او همرتبه نه دي.

یوه بله پوښتنه چې دلته رامینځته کیږي دا ده چې دې ته په پام سره چې ولایت فقیه همهغه د رسول الله ولایت دی، آیا که څوک ولایت فقیه نه مني نو مسلمان دی؟ د دې پوښتنې ځواب له پورته ذکر شوي وضاحته روښانه کیږي ځکه چې په حقیقت کښې د فقیه اختیارات او دندې هم هغه د رسول الله اختیارات او دندې دي نه دا چې کوم مقام چې رسول الله لري او تر څو چې یو کس د هغوی په رسالت اقرار ونه کړي مسلمان نه دی، نه لري.

دویمه: ولایت فقیه

دویمه: ولایت فقیه د عقل جوړ کړی یو څیز دی او بې له جوړولو کوم حقیقت نه لري)همماغه: ۵۱(

دریمه: د امام لپاره د ولایت او حکومت د ثابتولو لازمه دا نه ده چې معنوي مقام ونه لري د امام لپاره معنوي مقامونه هم دي چې د حکومت له دندې بیل دي او هغه د کُلّي الهي خلافت مقام دی چې کله کله د امامانو علیهم السلام په خبرو کښې یاد شوی دی خو په هکله به یې په یو بل ځاې کښې خبرې وکړو.

د مطلقه ولایت فقیه مفهوم[۳]

د ولایت فقیه د ثابتولو دلایل د ولایت فقیه د اطلاق غوښتنه کوي او تقاضا یې دا ده چې هغه ټول اختیارات چې د اسلامي ټولنې د ولي امر په توګه د معصومو امامانو(ع) لپاره ثابت دي، د فقیه لپاره هم ثابت وي او ولي فیقه له دې نظره هیڅ حد او محدودیت نه لري مګر دا چې یو داسې دلیل رامینځته شي چې د معصوم امام ځینې اختیارات ولي فقیه ته نه وي ورکړی شوي. خو له دې مواردو په تیریدو سره (چې شمیر یې ډیر کم دی) ولایت فقیه د پیغمبر او معصومو امامانو له ولایت سره هیڅ فرق نه لري. دا هغه څه دي چې د (مطلقه ولایت فقیه) په توګه بلل کیږي او د ایران د اسلامي جمهوریت بنسټګر حضرت امام خمیني(ره) به هم فرمایل: ولایت فقیه هم هغه د رسول الله(س) ولایت دی.

یوه شبهه چې کله کله په کلي توګه د ولایت فقیه د اصل او کله کله هم په خاصه توګه د (مطلقه) په لړ کښې مطرح کیږي دا ده چې وایي، ولایت فقیه او په تیره بیا ولایت مطلقه فقیه هم هغه استبدادي او ظالم حکومت دی او مطلقه ولایت فقیه یعني ډیکټاټوري، یعنې دا چې کله فقیه حکومت ته ورسیږي نو هر کار یې چې زړه غواړي کوي یې او هر حکم چې یې خوښ

---

۳. په ۱۳۸۷ کال کښې د امام خمیني(رح) د ښوونځي او تحقیقاتي موسسې د خپرندویو لخوا د آیت الله مصباح یزدي له لیکلي "نگاهي گذرا به نظریه ولایت فقیه" کتاب پنځم باب.

وي، صادروي او د څوک چې وغواړي په کار ګماري يا يې ترې لرې کوي، لنډه دا چې مطلق واک لري او هيڅ څوک ترې پوښتنه نه شي کولی. په بله وينا، وايي چې حکومت دوه ډوله دی: د حکومت جوهره يا ليبرالي او د خلکو د غوښتنې په اساس دی يا فاشيستي او د يو کس د راې او نظر تابع دی او کومه خبره چې تاسو د ولايت فقيه د نظام په هکله کوئ او په خپله په جار وايئ، د ولايت فقيه نظام يو ليبرالي نظام نه دی نو طبعاً بايد ومنئ چې يو فاشيستي نظام دی.

د دې شبهې په ځواب کښې بايد ووايو چې په دوو ډولونو د حکومت ويشل او د ليبرال او فاشيسټ تر دوو قسمونو يې محدودول يوه مغالطه ده او زمونږ له نظره د حکومت لپاره د يو دريم ډول تصور هم کيږي چې واکمن نه د خلکو د غوښتنې او سليقې په بنياد (ليبرالي حکومت(او نه د خپلې خوښې او غوښتنې په اساس (فاشيستي حکومت) بلکې د متعال خدای د غوښتنې او ارادې په اساس حکومت کوي او د الهي قوانينو او احکامو تابع وي او د ولايت فقيه نظام له هم دې دريم ډول څخه دی نو په دې وجه فاشيستي نه دی. په دې وضاحت سره همداشان روښانه شوه دا خبره چې ويل کيږي مطلقه ولايت فقيه يعنې دا چې د فقيه چې هر څه د زړه خوښه وي ترسره کوي يې او هر حکم چې وغواړي صادروي او مطلق اختيار لري او هيڅ ذمه واري او مسئوليت نه لري، حقيقت نه لري او په حقيقت کښې د مطلقه د قيد په فهم او تفسير کښې په غلطۍ سره پريوتي دي او البته احتمالاً ځينو په غرضي او عمدي توګه داسې کړي دي. په هر حال دلته ضروري ده چې د دې مغالطې د ختمولو لپاره (په مطلقه ولايت فقيه) کښې د مطلقه د قيد په هکله ځيني توضيحات وړاندې کړو.

په مطلقه ولايت فقيه کښې د مطلقه کلمه يولږ ټکيو ته اشاره لري چې البته خپله هغه ټکي هم په خپلو کښې تړاؤ لري. لاندې دغو ټکيو ته اشاره کوو.

په هغو کښې یو ټکی دا دی چې مطلقه ولایت فقیه د هغه محدود ولایت اپوټه دی چې فقیهانو د طاغوت په زمان کښې درلود. وضاحت یې دا چې: د اسلامي انقلاب له بریالیتوب مخکښې د طاغوت د واکمنۍ په زمانه کښې چې د تنګلاسۍ زمانه بلله کیږي، شیعه فقیهانو د هغو محدودیتونو او خنډونو په وجه چې د حکومتونو لخوا ورته موجود وو، په ټولنیزو چارو کښې ډیر دخالت نه شوی کولی او خلکو یوازې دومره کولی شول چې په خپلو ځینو ټولنیزو چارو کښې، هغه هم په پټه او د واکمن د حکومت له سترګو لرې، فقیهانو ته مراجعه وکړي. مثلاً د واده، طلاق، وقف او د خپلو ځینو نورو اختلافاتو او حقوقي چارو په لړ کښې به فقیهانو ته ورتلل او فقیهانو به هم د هغه ولایت په کارولو سره چې یې درلود، دغه کارونه ترسره کول. خو لکه څنګه چې مو اشاره وکړه د فقیهانو لخوا د دې ولایت عملي کیدل که هغه د محدودې له نظره و او که د مورد له نظره، ډیر محدود او کم و او هغوي نه شو کولی په هر هغه څه کښې چې شرعاً یې حق و او واک یې د متعال خدای او معصومو امامانو علیهم السلام له خوا دوي ته ورکړی شوی و، دخالت وکړي. په ایران کښې د اسلامي انقلاب په بریالیتوب او د امام خمیني(ره) له خوا د اسلامي حکومت په جوړیدو سره د شیعه فقیهانو د پوره پوره حاکمیت د اعمالیدو لاره هواره شوه او اروانښاد امام د هغه فقیه په توګه چې د دې حکومت په سر کښې و، دا واک ترلاسه کړ او دا قدرت یې وموندە چې په هر هغه څه کښې چې د ولي فقیه د ولایت په محدوده کښې راځي دخالت وکړي او حاکمیت اعمال کړي. دغه وخت فقیه کولی شول هغه اختیارات او حقوق چې د شریعت د خاوند او د نړۍ او انسان د مالک له خوا د هغه لپاره ټاکل شوي وو، وکاروي او اعمال یې کړي او کوم ګڼ محدودیتونه چې د طاغوتي حکومتونو د واکمنۍ په وختو کښې یې درلودل، اوس نو ختم شوي وو. په دې وجه د فقیه مطلقه ولایت د وړاندې شوي وضاحت له مخې د طاغوت د واکمنۍ د وختو د فقیه د

محدود ولایت په وړاندې روښانه دی او دا معنا او مفاد په ډیکټاټوری، زبیښاک او خپل سری پورې هیڅ تړاؤ نه لري.

دویم ټکی چې مطلقه ولایت فقیه ورته اشاره لري دا دی چې فقیه کله چې د حکومت په سر کښې راځي نو هر هغه اختیار او حقوق چې د حکومت د چلولو لپاره ضروري دي، د هغه لپاره موجود وي او له دې نظره د هغه او معصوم امام ترمینځ د هیڅ فرق نه شو قائل کیدی؛ یعنې چې وویو یو لړ حقوقو او اختیارات سره له دې چې د یو حکومت د چلولو لپاره ضروري دي، یوازې معصوم امام لره خاص دي او یوازې که خپله معصوم امام د حکومت مشر وي، له هغو استفاده کولی شي خو فقیه نه شي کولی او حق نه لري چې دغه حقوق او اختیارات استعمال کړي. جوته ده چې دا خبره د منلو وړ نه ده ځکه چې که فرض کړو چې دا حقوق او اختیارات له هغو حقوقو او اختیاراتو دي چې د یو حکومت د اداره کولو لپاره ضروري دي او نشتوالی یې د چارو په چلولو کښې د خلل سبب کیږي او واکمن بې له هغو په خپلې دندې چې همهغه د ټولنې د چارو اداره کول دي عمل نه شي کولی، په دې وجه له عقلي نظره په دې لړ کښې د معصوم امام او ولي فقیه ترمینځ د هیڅ فرق نه شو قایل کیدی او د دا ډول حقوقو او اختیاراتو په لړ کښې د فقیه لپاره د هر ډول محدودیت رامینځته کول د عمومي ګټو له لاسه د تلو او د اسلامي ټولنې د ګټو د ضایع کیدو برابر دي. نو له دې امله ضروري ده چې فقیه هم د معصوم امام(ع) په شان له دې ټولو او چورلټو حقوقو او اختیاراتو برخمن وي. دا هم هغه دویم ټکی دی چې په مطلقه ولایت فقیه کښې د (مطلقه) کلمه ورته اشاره لري او بیا هم روښانه ده چې دا مسئله هم د تیر ټکي په شان په فاشیستي حکومت پورې هیڅ اړه نه لري او په یو کس پورې د حاکمیت د ماهیت د محدودیدو سبب نه ګرځي بلکې یوه جوته عقلي او ډیره واضحه چاره ده چې په هر بل حکومت کښې من منله شوې او موجوده ده.

بله خبره چې مطلقه ولایت فقیه ورته اشاره لري، د دې پوښتنې په هکله ده چې آیا د ولي فقیه د تصرف او اختیاراتو ساحه یوازې د ضرورت او ناچاري په حد پورې پیښلې ده او که مسئله دې حد ته هم نه وي رسیدلې خو عقلي او عقلاني ګروهنه ترمینځ وي نو فقیه د تصرف اجازه لري؟ د دې خبرې د روښانه کیدو لپاره د یو مثال ذکرول غوره دي:

وړومبۍ فرضیه: د ښار د ټریفک حالت له جدي ستونزې سره مخ دی او د سړک د کمي یا یې د کم پلن والي په وجه خلک او موټران څو ساعته په ټریفک کښې ځنډیږي او لنډه دا چې د اوسنیو سړکونو حالت د ټولنې ضرورت نه شي پوره کولی او د څو امینو او ماهرو کارپوهانو په نظر، د یوې یا څو لویو لارو جوړول ضروري او حتمي دي. یا د ښار د هوا د ککړتیا حالت دې حد ته رسیدلی چې ماهران او ډاکټران یې په اړه خلکو او حکومت ته پرله پسې او جدي خبرداري ورکوي او د هغوي وړاندیزي حل لاره د شنو سیمو او پارکونو جوړول دي. په دا ډول پیښو کښې هیڅ شک نشته چې ولي فقیه د خپلو حکومتي اختیاراتو په کارولو سره حتی که د هغو ځمکو خاوندان چې دغه لوې لارې او پارکونه پکښې جوړیږي راضي نه وي، د عادلانه بیې په ورکولو او د هغوي د تاوان په جبیره کولو سره د دغو سړکونو او پارکونو د جوړولو حکم ورکړي او ټولنیز مصلحت برابر کړي.

دویمه فرضیه: دا ځل فرض کړئ غواړو د ښار د ښکلا لپاره په یو ځای کښې یو پارک یا میدان (چوک) جوړ کړو خو داسې نه ده چې که دغه میدان یا چوک جوړ نه کړو نو د ښار ټریفک ګډوډ شي او یا که دغه پارک جوړ نه کړو نو د شنې سیمې یا د ښار د هوا د پاکیدو له نظره له جدي ستونزې سره مخ شو؛ او د دغه چوک یا پارک د جوړولو لپاره د هغو کورونو او دکانونو د خرابولو او د هغو ځمکو د نیولو ضرورت وي چې احتمالاً د هغو ځینې مالکان که څه هم د هغوي د ځمکو د ورځې قیمت ورکړو او ټول

تاوان يې جبيره کړو خو بيا هم د خپلې ځمکې او ودانۍ په نيول کيدو او خرابيدو راضي نه وي نو آيا د يو فقيه حکومت د اختياراتو په حدودو کښې دا ډول موارد هم شاملېږي چې وتوانيږي د هغوي د خفګان سره سره د دغه ميدان يا پارک د جوړولو حکم ورکړي؟

مطلقه ولايت فقيه په دې معنا دی چې د ولايت فقيه د اختياراتو اندازه د ضرورت او ناچارۍ په حد پورې محدوده نه ده بلکې مطلق ده او حتی هغه څه هم په کښې شاملېږي چې مسئله د ناچارۍ حد ته نه وي رسيدلې خو عقلي او عقلائي توجيه ولري او د لوې لارې، سړک او پارک د جوړولو او په ټولنيزو چارو کښې د دخالت لپاره ضروري نه ده چې خبره د وړومبۍ فرضيې په شان وي بلکې حتی که د دويمې فرضيې په شان هم وي ولې فقيه يې د نيولو اجازه لري او د هغه د ولايت په ساحه کښې دا ډول شيان هم شاملېږي. او البته څرګنده ده چې د داسې راې او نظريې قايل کيدل په استبداد او ډيکټاټورۍ او فاشيزم پورې هيڅ تړاؤ او سمون نه لري.

اوس په دې وضاحتونو سره څرګندېږي چې ولايت فقيه او مطلق ولايت فقيه په دې معنا نه دي چې فقيه هيڅ ډول معيار او بنياد ته له پاملرنې پرته يوازې د خپلې سليقې او شخصي نظر په بنياد عمل کوي او هر څه يې چې د زړه خوښه وي، ترسره کوي او د هغه ذاتي هوا او هوس دی چې حکومت کوي. بلکې ولايت فقيه د اسلامي احکامو اجرا کونکی دی او اصلاً د روا والي بنياد او هغه دليل چې د هغه ولايت فقيه ثابتوي، د اسلام د مقدس شريعت د احکامو له اجرا او د دغو احکامو د اجرا په رڼا کښې د اسلامي ټولنې د ګټو له تامينولو عبارت دی، په دې وجه جوته ده چې د فيصلو او انتخابونو او د عزل او نصب او د فقيه د ټولو کارونو اساس د اسلام احکام او د اسلامي ټولنې د ګټو تامينول او د متعال خدای رضايت دی او بايد داسې وي او که يو ولي فقيه له دې اصولو سر وغړوي نو صلاحيت يې

به يې په خپله له لاسه لاړ شي او ولايت به يې ختم شي او د هغه هيڅ کوم نظر او پريکړه به يې د اطاعت وړ نه وي.

په دې اساس په يوه وينا ويلی شو چې ولايت فقيه په حقيقت کښې د قانون ولايت دی. ځکه چې د فقيه دنده ده چې د اسلام د قوانينو په محدوده کښې عمل وکړي او له دې محدودې د وتلو حق نه لري؛ لکه څنګه چې خپله رسول الله مبارک او معصوم امامان هم داسې دي. په دې وجه د ولايت فقيه د تعبير پر ځای د (قانون حکومت) تعبير هم کارولی شو البته دې ته په پام سره چې دلته د قانون معنا د اسلام قانون دی او دا هم بايد ياد وساتو چې د ولي فقيه يو شرط (عدالت) دی او عادل هغه کس دی چې د خپل زړه د غوښتنې او د نفس د خواهش په چورليز نه بلکې د امر او نهي او د خدای د حکم په چورليز عمل وکړي. په دې صفت سره د دې خبرې بطلان لا روښانه کيږي چې ګني د ولي فقيه چې هر څه زړه وغواړي هغه کوي او خپله غوښتنه او سليقه په نورو ورتپي، بلکې بايد ووايو چې عادل ولي فقيه يعنې هغه کس چې د (دين)د احکامو په اساس د د (خدای) د غوښتنې او ارادې په لړ کښې حرکت او حکومت کوي. البته د اسلامي او روحانيت دښمنانو په خپلو ځينو خبرو او ليکنو کښې په دې نظريې پورې يولړ دروغ تړلي دي، مثلاً وايي چې مطلقه ولايت فقيه يعنې دا چې فقيه د هر څه واک او اختيار لري، حتی کولی شي چې توحيد بدل کړي او انکار وکړي يا مثلاً په دين کښې لمونځ ختم کړي. البته دا هغه بدرنګې او سمون نه خوړونکې ټوټې دي چې دښمنان او غرضيان يې په دې نظريې پورې د تړلو په لټه کښې وو او دي، ګني هيڅا تر ننه پورې داسې خبره نه کړې ده او نه يې کولی شي. د فقيه وړومبی کار د اسلام ساتنه ده نو آيا اسلام له توحيد پرته کيدی شي؟ آيا اسلام بې له نبوته کيدی شي؟ آيا اسلام د لمونځ او روژې په شان د دين له ضروریاتو پرته کيدی شي؟ که دا له اسلامه لرې کړو نو څه به په کښې پاتې شي چې فقيه يې ساتنه وکړي؟

هغه څه چې احتمالاً د دا ډول شبهو او مغالطو د القا سبب کیږي، دا دي چې فقیه د اسلام د ګټو د ساتنې لپاره، په داسې بڼه کښې چې امر د اهم او مهم ترمینځ راشي نو کولی شي چې مهم له اهمه قربان کړي. مثلاً که حج ته تګ د اسلامي ټولنې لپاره د ځینو زیانونو سبب کیږي نو فقیه حل لري چې ووایي سږ کال حج ته مه ځئ او سره له دې چې یوه ډله خلک استطاعت لري، د اهمو مصالحو په بنیاد في الحال حج بند کړي. یا مثلاً که اوس د لمونځ وخت دی خو شواهد او قرائن لږ وخت پس د دښمن د حملې ښودنه کوي او پکار ده چې جبهه بشپړه تیارسي وي نو دلته فقیه حق لري چې ووایي لمونځ وځنډوئ او اوس تاسو ته لمونځ نه دي کول پکار او په اول وخت لمونځ کول پر تا حرام دي؛ لمونځ دې پریږده او بیا وروسته یې وکړه. په دې مثال کښې نه یوازې فقیه بلکې حتی د فقیه له خوا ټاکل شوی قومندان هم که د دښمن د حملې اټکل وکړي نو دا حکم ورکولی شي. خو په دې ټولو خبرو کښې دا نشته چې ګني فقیه ووایي، حج پریږدوئ، لمونځ مه ټسوئ او زه له ننه وایم چې په اسلام کښې نور نو له سره حج او لمونځ نشته. هغه څه چې په دا ډول پیښو کښې رامینځته کیږي او فقیه یې ترسره کوي، د اهم او مهم پیژندل او د اهم په خاطر د مهم قربانول دي. او دا هم کوم نوی شئ نه دی بلکې ټولو شیعه فقیانو دا خبره کړې ده او مونږ ټول پرې هم خبر یو. د حج او لمونځ په مثال کښې فقیه د څه مودې لپاره د حج د پریښودو یا د وړومبي وخت د لمونځ د ځنډولو حکم د هم دې معیار په اساس صادروي نه د هوا او هوس له مخې او هر څه یې چې زړه وغواړي.

په هر حال د وړاندې شویو توضیحاتو له مخې اوس څرګنده ده چې د (ولایت مطلقه فقیه) سمه معنا څه ده او دا هیڅ کله د استبداد، ډیکټاټوری او داسې نورو په معنا نه ده او د څه چې په دې لږ کښې تبلیغ کیږي زیاتره هغه تهمتونه او دروغ دي چې په دې نظریې یې لګولي دي.

پنځمه برخه: د اسلامي انقلاب د بريالیتوب عوامل

سریزه

کله چې یوه ټولنه دوه قطبي بڼه خپله کړي او د سیاسي قدرت او اجتماعي قدرت ترمینځ د نزدې کیدو امکان له مینځه لاړ شي نو مجبوراً د یو سیاسي او ټولنیز بدلون رامینځته کیدل ضروري شي. په ایران باندې واکمن سیاسي

قدرت د ایران له ټولنې دومره جلا شو او یوه بیله لار یې خپله کړه او د دې خوځښت بهیر د شاه رژیم د عمر په وروستۍ لسیزه کښې دومره ګړندی شو چې د ډیرو کمو کسانو لپاره دا شک پاتې شو چې پر ایراني ټولنې واکمن سیاسي نظام په دې خپل موجوده جوړښت سره د ځان او ټولنې ترمینځ رامینځته شوی درز ختم کړی شي. نه رژیم د بدلون او د خپل کارنده توب د زیاتولو توان او قدرت درلود او نه خلکو په ځان کښې له هغه څخه هیله او د هغه اطاعت او منلو ته چمتو والی لیده.

په دې وجه ایراني ټولنه د چاودیدو پراؤ ته ورسیده او هرې پیښې او حرکت موجوده وضعه ګډه وډه کولې او د ټولنې عادي حرکت یې خرابولی او بندولی شو. پر موجودو زخمونو د مرهم ایښودو او د خلکو او سیاسي نظام ترمینځ د درز ډکولو هر کوشش عبث و او د خلکو د پرګنو د غولولو امکان نه و. شاه په یو ځاې کښې ویلي چې که یو ګوندي(رستا خیز) نظام کامیاب نه شو نو د رژیم دوام ته هیڅ هیله نه لري. خو دا پوښتنه ډیره مهمه ده چې په ټوله نړۍ کښې هره ورځ د روانو سیاسي او ټولنیزو بدلونونو پر ځاې، ولې باید د ایران انقلاب بریالی شوی وی؟

اسلامي انقلاب په داسې شرایطو کښې عملي شو چې له سیاسي او پوځي نظره کورني او نړیوال حالات نه یوازې د یو داسې کار لپاره ښه نه وو بلکې د ځپلو لپاره یې هم ډیرې هلې ځلې وشوې. په دغه زمانه کښې ستر قدرتونه د کړکیچ ختمونې او ګډ صلحه ایز ژوند په پراؤ کښې وو او یو نړیوال امپریالیستي نظام یې رامینځته کړی و.

سترو قدرتونو د موجودې نړیوالې وضعې د ساتنې په سر تفاهم درلود او په تیره بیا هغو ګټو ته په پام سره چې د باچا د رژیم دوام د دواړو ابر قدرتونو لپاره درلودې، تر خپله وسه او د هغه تر وروستیو ورځو پورې یې ترې ملاتړ وکړ. د باچا رژیم هم په یو څلور لکه کسیز پوځي ځواک ملا تړلې وه چې

په پرمختللو وسلو بشپړ سنبال و. په داشان حالات کښې د ایران مسلمان ولس بې د وسلې له کارولو د شهنشاهي نظام خلاف پاڅون وکړ او بریالی شو.

د اسلامي انقلاب د بریالیتوب په علتونو د پوهیدو لپاره باید دوو بنیادي چارو ته پاملرنه وشي:

اوّل) د ایران خلکو په وروستۍ یوه پیړۍ کښې د واکمن سیاسي نظام خلاف په اصلاح غوښې او مینځ لارې توګه دوامدارې مبارزې وکړې او که څه هم په دې لړ کښې یې پوره تجربه ترلاسه کړه خو په عمل کښې له سختو ماتو سره مخامخ وو. د مشروطیت غورځنګ چې د ایراني باچاانو د قدرت د کنټرول او محدودولو لپاره رامینځته شو، د تیلو د صنعت د ملي کیدو غورځنګ چې د پردیو د لاس لنډیدو په موخه وشه او بلآخره د ۱۳۳۲ کال د زمري په ۲۸ نیټه د امریکایي-انګلیسي کودتا او د شاه د ډیکټاټوري او ظالم رژیم د ټینګښت او د ایراني ټولنې په برخلیک کښې د پردیو د ورځ په ورځ زیاتیدونکي نفوذ سبب شو، د دغو ولسو خوځښتونو ځینې نمونې دي.

یادو تاریخي تجربو ثابته کړه ترڅو چې د سیاسي سیستم د فساد د جړړو د بشپړه وچولو او د خلکو د آیډیالونو او ارزښتونو په بنیاد د یو نوي نظام د ټینګښت په موخه کوم اساسي حرکت ونه شي، بیا هم د ضرورت په وخت د وروست شوي نظام پاتې شوني وده کوي او د خلکو د خوښت ټولې بریاوې ضایع کوي. داشان د یو ډول جوړجاړې او روغې لپاره کورنیو او بهرنیو دباونو د خلکو او د غورځنګ د مشرتابه لپاره د شک هیڅ ځاې پرې نښود چې باید د خپلو لوړو غوښتنو د پوره کولو لپاره چې هغوي یې د اسلامي حکومت په ټینګښت کښې ښه لیدلې وو، کوشش وکړي.

دویم) د ایران په اسلامي انقلاب کښې د انقلاب د دریو اصلي او مهمو ارکانو (خلکو، مشرتابه او آیډیالوجۍ) بیخي مطلوب، غږمله او هم مهاله شتون:

1. خلک

یوه مهمه مسئله چې د ایران د اسلامي انقلاب د زیاتره شناندو نظر یې ځانته جلب کړی او بهرني څارونکي یې هک حیران کړي دي، دا حقیقت و چې په دې انقلاب کښې څنګه داسې ناڅاپه ټولو خلکو او تقریباً په یو وخت او غږملتیا سره سر راپورته کړ او پاڅون یې وکړ او په یوه غږ د بنیادي بدلون یعنې د باچا د رژیم د پرزیدو او د اسلامي حکومت د جوړیدو غوښتونکي شول. که د دنیا نورو سترو انقلابونو ته پام وکړو نو دومره پراخه او سټره ښکارنده نه وینو. د فرانسې په ستر انقلاب کښې وړومبی اشراف او بیا ښاري بورجیوسو (د متوسطې پرګنې خلکو) پاڅون وکړ او د بوربنانو حکومت یې نسکور کړ او په همدې وجه دغه انقلاب په بورجوا انقلاب مشهور شو.

د روسیې انقلاب چې په بلشویکي انقلاب مشهور دی، په حقیقت کښې د پطروګراد کارخانو د کاربندیز کونکي کارګران او ورسره ملګري شوي ښاري پوځي مرکزونو یوه ډله عسکر وو چې د تزاري حکومت په نسکورولو بریالي شول. په چین کښې هم بزګران او دهقانان وو چې له کلیو څخه یې د مبارزو د سټرې برخې مشري او لارښوونه وکړه او کامیابې یې کړې او په هم دې وجه د چین انقلاب په کرهنیز-دهقاني انقلاب مشهور شو.

په داسې حال کښې چې په ایران کښې له هغه ډیر کم شمیر کسانو پرته چې د باچا په رژیم پورې یې ډیره نزدې پیئلتیا درلوده او د هغوي ګټې او ژوند د دغه رژیم په دوم پورې تړلی و، د بزرګرانو، کارګرانو، بازاري اصنافو، حکومتي کارکونکو، محصلینو، زده کونکو او ښاریانو او کلیوالو په شمول د ټولنې نورو ټولو پرګنو د هیواد په ټولو سیمو کښې یوځاې پاڅون وکړ او بې له دې چې د ډلو د مختلفو غوښتنو په سر ائتلاف یا تفاهم ته کوم ضرورت

پیدا شي، ټولو په یو آواز، واحد شعارونه ورکول. د دې وحدت او یووالي عیني ننداره په تهران کښې د ۱۳۵۷ کال د وړوکي اختر او د تاسوعا او عاشورا د ورځو په مظاهرو کښې د لیدو وړ وه. د تهران یعنې د هغه ښار خلکو چې د باچا د سیاستونو په وجه یې مذهبي څیره له مینځه تللې وه او د اروپایي ښارونو په شان جوړ شوی او سنبال شوی و او د اسلامي ملکونو د ښارونو پر ځاې اروپایي ښارونو ته ډیر ورته و، ناڅاپه پاڅون وکړ او خپل ارمانونه او آیډیالونه یې په روحانیت او مذهب کښې بیاوارې وپیژندل. حتی هغو کسانو چې چندانې مذهبي نه وو، د ټول ولس په ملتیا یې د (الله اکبر) چیغه پورته کړه او مذهب یې خپل دفن شوی هویت اعلان کړ. د ۱۳۵۷ کال د وړوکي اختر په ورځ تهران د یو داسې خوځښت په درشل کښې راغی چې ټول هیواد پکښې شامل شوی و او په عرفاني تب و تاب کښې یې خپل ورک شوی هویت بیا وپیژنده او هغه څه د ننني ټولنو د عادي نظم برخه ده، لکه د یو سراب یې لرې کړ.

د عاشورا په مظاهرو کښې که ماشومان، ناتوانان او مشران او هغه ډله ښځې چې له کورونو نه وځي، پریږدو، د تهران ټول خلک سکونو ته راوتلي وو او د (مړ دې وي شاه) شعار یې ورکوه. یوازې له هغو کسانو پرته چې د باچا رژیم پورې یې ډیره نزدې پیئلتیا درلوده او د هغه په برکت یې خواړه ترلاسه کول او ژوند یې تیروه، نور ټول خلک حتی هغه کسان چې ډیره موده د باچا د رژیم ملګري وو او تر څه مودې مخکښې پورې یې د مشروطه سلطنت پلویتوب کوه، د مړ دې وي شاه چغه پورته کوله.

داشان د ایران د ولس په تاریخ کښې د پیاوړو مذهبي احساساتو په بنیاد یو ناڅاپه وحدت رامنځته شو. دې احساساتو د هغو مسائلو په وجه بنه ونیوله چې ولس ترې کلونه کلونه رنځیدلی و، د پردیو د نفوذ او سلطې، د ملي سرچینو او پانګو له لوټلو د کرکې د احساس، په بهرني سیاست کښې د پیئلتیا

او په ټولو ځایونو کښې د امریکې او انګلستان د څرګند نفوذ په شان مسائل په دې کښې شامل وو. د یوې داسې ډله ایزې ارادې او د خلکو د اتحاد رامنځته کیدل د مختلو ډلو د اتحاد او یا یې ترمینځ د جوړجاړې او د دې کار نتیجه وه چې په دغو کښې هرې ډلې د خپلو ډول ډول غوښتنو په هکله هوکړه کړې وه چې په ځینو مواردو کښې یې برابر کړي او یا تسلیم شي.

سره له دې چې په ایران کښې انقلابي حرکت د شیعه مکتب د ارزښتونو او ارمانونو په بنیاد و خو اهل سنتو هم د دې غورځنګ پره وکړه او به انقلاب کښې یې ګډون وکړ. میشل فوکو د کردستان له یو سني مذهبي اوسیدونکي سره د کړي بحث په هکله لیکي: کله مې چې له هغه نه سره د ټولو مذهبي او ملي اختلافاتو، په انقلاب کښې د ګډون په هکله پوښتنه وکړه نو داسې یې وویل: دا صحیح ده چې مونږ سنیانو یو خو له هر څه مخکښې مسلمانان یو. او یا دا چې ویې ویل: څنګه کُرد یو؟ نه، هیڅکله، مونږ له هر څه مخکښې ایرانیان یو او د ایران په ټولو مسایلو کښې ونډه لرو. مونږ غواړو چې شاه لاړ شي، ژوندی دې وي خمیني، مړ دې وي شاه. د کردستان شعارونه همهغه د تهران او مشهد شعارونه وو.

هغه څه چې په ایران کښې یې د انقلاب شدت او ژورتیا معلومولې او لامل یې و، یوه، د خلکو ډله ایزه اراده وه چې له سیاسي نظره یې بڼه نیولې وه او هیڅا حتی دښمنانو او خپله شاه هم پکښې شک نه درلود او بله، په سیاسي او ټولنیز نظام او پر ټولنه باندې په واکمنو ارزښتونو کښې د اساسي او بنیادي بدلون په هکله د هغوي غوښتنه او نیت و. په ایران کښې د انګلستان سفیر انتوني پارسونز د غرور او سقوط په نامه د خپلو خاطراتو په کتاب کښې لیکي چې باچا په هغه یو تکراري ملاقات کښې چې د هغه د حکومت په وروستیو میاشتو کښې مې ورسره درلود، په یوې غمجنې ګیلې سره وویل: دا خلک ولې پس له دې دومره خدمتونو چې ما یې کړې دي، زما

په وړاندې ودریدلې دي؟ ما د هغه په ځواب کښې وویل: زما په خیال ډیر علتونه موجود وو. د کارګرانو د ډلو د جوړولو لپاره ښارونو ته د زیات شمیر خلکو له راتګه بې وجې ناراضي شوی و.

هجوم انبوه مردم به داخل شهرها منتهی به تشکیل گروه کارگران بی بنیاد ناراضی شده بود.

په هغو کښې زیاترو د ودانیو جوړولو کار کوه. هغوي به د ورځې د پانګه والو او شتمنو لپاره کورونه جوړول او د شپې به خپلو جونګړو یا حتی هغو سوړو او غارونو ته ستنیدل چې په پلاستیکونو یې بند کړي وو.

پارسونز په دې چارې سترې پټې کړې وې چې د خلکو د پاڅون اصلي وجه دا وه چې باچا د هغوي د ټولنې د هغو یقیني ارزښتونو نابودولو ته ملا تړلې وه چې له مذهبه یې سرچینه اخیسته او همدا وجه وه چې د ایران د مسلمان ولس د مذهبي احساساتو په خوړمنیدو سره د نورو سیاسي، اجتماعي او اقتصادي ناخوالو په وړاندې د صبر او زغم هیڅ ځای نه و پاتې. په همدې وجه لیدل کیدل چې هغه یوازنی څیز چې خلکو به په خپلو شعارونو کښې نه مطرح کوه، مادي او اقتصادي غوښتنې وې. هغوي د مذهب او د هغه د شعارونو تر عنوان لاندې او له جومات څخه چې د ټولو مسلمانانو عبادتځای دی او د مذهبي عالمانو تر مشرۍ لاندې پاڅون وکړ او بریالي شول.

۱. مشرتابه

هر کس چې له امام خمیني(رح) سره نزدې پاتې کیده، پوهیده به چې دغه سړی یو آیډیل انسان و. د هغه قدرت او توانمني بې شکه چې د تقلید د یو مرجع له حده په کراتو زیاته وه او (د یو حقیقي مسلمان په توګه) ځان ته د ستنیدو او د ځان پیژندنې د بشپړ مفهوم یوه بشپړه هینداره او نمونه ګڼل

کیده. حتی غیرایراني مسلمانانو هم په هغه کښې د اسلام د یو آیډیل انسان ډیره ارزښتناکه بیلګه لیدله. په دې ځانګړتیاؤ سره او سره له دې چې هغه داسې کس و چې په یو څو دقیقو کښې یې میلیونونه ایرانیان سړکونو او مظاهرو ته رایستلی شول، په شخصي ژوند او په کور او د کار په ځای کښې یې له سادګۍ پرته بل څه نه لیدل کیدل. هغه به په ځمکه او د خپلو لیکلو له کوچني میز شاته کښیناسته او د هغه د کار د کوټې ټول سامان هم دغه وړوکی میز و. یو غیر مذهبي ترک خبریال چې د انقلاب له بریالیتوب مخکښې د نورو ډیرو خبریالانو په شان د اقلیتونو د حقوقو او د ښځو د حقوقو په شان پوښتنو لپاره امام ته ورغلی و، د امام له شخصیته دومره اغیزمن شو چې په شرمندګۍ سره له خپلو پوښتنو تیر شو او بې حده خجل شو او بس دومره یې وکړی شول چې له امامه وغواړي په خپل شخصي ژوند کښې د استفادې وړ ځینې نصیحتونه ورته وکړي او امام هم ورته سپارښتنه کوي چې د اسلام د دین مطالعه او څیړنه وکړه او ملاتړ یې وکړه. کله چې امام او د هغه د شخصیت جاج اخلو نو وینو چې هغه په حقیقت کښې د شیعه علماؤ د دودیزه بیلګه ده او دا چاره یوازې په سیاسي او ټولنیزو چارو کښې د هغوي د بشپړ، هر اړخیز او پراخ نفوذ او له تصوره د وتلي قدرت په خاطر نه ده بلکې همداشان د هغه د دودیز علمي اړخ په برکت هم ده.

امام خمیني(رح) د نفس د تهذیب او ځان جوړونې له نظره هم د ځوانۍ له پیله علم او عمل یوځای کړل او د اسلامي علومو له زده کړې سره هم مهاله یې په عمل په مقام کښې په تیره بیا د انساني او روحاني فضایلو د ترلاسه کولو له نظره کوشش پیل کړ او له دې اړخه یې هم د سترو علمي او روحاني شخصیتونو او د قم د عامه خلکو او مذهبي ټولنو په مینځ کښې یې یو ځانګړی او غوره مقام او منزلت ترلاسه کړ او وتوانید له هغو ناسمو عادتونو او طریقو ځان وساتي چې ځینې روحاني چارواکي پکښې ګیریږي. امام د نظر او انضباط له نظره خپل ژوند تر یو خاص ډیسپلن او نظم لاندې

راوسته او په اصولي توګه له دې نظره د هغه په شان بيلګه په مذهبي او غير مذهبي شخصيتونو کښې ډيره کمه موندلی شو. د هغوي د ارام، عبادت، مطالعې، ښوونې او پياده ګرځيدو وخت يو خاص ترتيب درلود، داشان چې د کورنۍ نورو غړو به خپل پروګرام د امام د پروګرامونو له مخې برابرول.

د امام خميني(ره) يوه د پام وړ ځانګړتيا دا ده چې د دوي بې مخينې سياسي مشرۍ د هغوي مهم موقعيت د يو غوره استاد، يو فلاسفر او يو عارف په توګه تر تاثير لاندې راوسته. په ماډرن مسلمانانو کښې دا تفکر شته چې د يو فيلسوف يا عارف ذهنيت د ټولنې له حقيقتونو لرې کيږي او هغوي ځان له هر ډول سياسي او ټولنيز رول څخه ځان ډډې ته ساتي. ته به وايې ګڼي يوازې ذهني مسائل د مسلمانانو او اسلامي نړۍ له موجودو مسائلو سره عيني تړاؤ نه لري خو د امام خميني(ره) ژوند د پورتنيو دوو مقولو د تړاؤ د امکان لپاره يو څرګند دليل او د دې حقيقت څرګندونکی دی چې د هغه پروګرام يوازې يو سياسي او ستراتيجک حرکت نه و بلکې په عين حال کښې په يوې بنيادي الهي ليدتوګې ولاړ و. د امام اخلاقي او روحي خصوصيات هغه د يو آيډيل مسلمان د څرګندو ځانګړونو د يوې ټولګې خاوند لوړ انسان باندې بدل کړ. امام يو نايابه وجود لرونکی انقلابي مشر و چې په ډيره ساده طريقه او بې له هيڅ ډول تجمل او تشريفاتو يې ژوند تيروه او ډير ساده خوراک به يې خوړه.

له رژيم سره د امام د چلند ډول بيخي له جوړجاړي پاک او ريډيکل و. دغه رويه نه يوازې د پهلوي رژيم له نظره د بخښنې وړ نه وه بلکې د قم د علميه حوزې د ډيرو کسانو هم نه خوښيده. ځکه چې حوزه د خپل ټول قدرت او توان سره سره وړومبی د خپل موجوديت د ساتنې لپاره کوشش کوه. په هغه پراؤ کښې چې آيت الله بروجردي بشپړ مرجعيت درلود، امام د هغه له نزديو کسانو او سلاکارانو ګڼل کيده خو دا خبره خامخا په دې

معنا نه وه د دوي نظريې د اروښاد بروجردي د سلاکارانو په حلقه کښې کو مسلط نظرات وي. تر څو چې آیت الله بروجردي ژوندی و امام نیغ په نیغه د یوې سیاسي -مذهبي څیرې په توګه نه و پیژندل شوی. تر دې چې د آیت الله بروجردي او د اروښاد کاشاني له وفاته څو میاشتې وروسته شاه خپله اصلي څیره په لا څرګنده توګه وښودله. هغه غوښتل چې له موجودې تشې په ګټه پورته کولو سره ځینې داسې اقدامات وکړي چې له شرعي او مذهبي اصولو سره یې سمون نه خوړه. په دغو حساسو شیبو کښې امام خميني(ره) ډګر ته راودانګل او د ایالتي او ولایتي تنظیمونو له قانون سره د مخالفت په ترڅ کښې یې د باچا له رژیم سره سخته مقابله پیل کړه او کله چې یې نصیحتونو او پندونو نتیجه ور نه کړه نو د شاه په رژیم باندې په نیغو نیوکو او مستقیمې حملې سره یې د تقیې دود مات کړ او د تقیې د حرمت او د حقایقو د څرګندولو د واجب والي او «و لو بلغ ما بلغ» په هکله یې خپله تاریخي فتوا صادره کړه. له دغه وخته امام د خپلې سیاسي مشرۍ څیره څرګنده کړه او په هغه ځانګړي چلند سره چې پریکنده توب او له دښمن سره جوړجاړی نه کول وو، له نورو یې خپله لاره بیله کړه او د خلکو عامه افکار چې د یو داسې مشر تږي او په تمه وو، په چټکۍ سره یې ځانته جلب کړل.

د ورپسې پیښو لاړې وښودله چې د رهبر په مشر په توګه د امام په راتلو سره د ایران د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو په ډګر کښې د دغه هیواد د تاریخ او د شیعه مبارز روحانیت د تاریخ یوه نوې پاڼه واوړیدله. امام خميني(رح) چې د مبارز روحانیت له تجربې ډک تاریخ یې تیر کړی و، کله چې یې مشري په لاس کښې واخیسته نو پرې یې نه ښودل چې د لیبرالانو په شمول نور په دغهې مشرۍ او د خلکو د مبارزو له میوې په ګټه پورته کولو کښې شریک شي. د امام د مبارزې طریقه ډیره ساده او د ننیو سیاسي لوبو له هر ډول پیچلتیاؤ پاکه وه. هغه له پیل څخه خپل هدف د خپلو او د خلکو د غوښتنو

په پوره کیدو او بریالیتوب کښې نه بلکې د شرعي دندې په ترسره کولو او اجرا کولو کښې وګرځوه. هغه به ویل چې مونږ یوازې په خپلې شرعي او الهي دندې عمل کوو، یا به بریالي شو او یا به ووژل شو چې په دواړو ښو کښې کامیابي زمونږ ده. د مبارزې دا طریقه د هغو کسانو لپاره چې کلونه کلونه په ماکیاولي سیاسي طریقو عادت شوي وو او په خپلو ټولنیزو مبارزو او سیاسي معاملو کښې یې لویدیځ سیاسي تاکتیکونه خوښول، ډیره ناخوښه وه. د داشان طریقې غوره کول نه یوازې رژیم او د امام مخالفان په قهر کړل بلکې د دوي د ملګرو او نزدې کسانو لپاره هم حیرانونکي وو.

امام د خلکو له مختلفو پرګنو سره د اړیکې په ټینګولو کښې داسې ځانګړې پوهه درلوده چې په ډیرو لږو کسانو کښې لیدل شوې ده. هغه به په ډیره ساده او د ټولو حتی د ډیرو بې تعلیمه کسانو لپاره د پوهې وړ وینا سره، ډیر پیچلي سیاسي او ټولنیز مسایل مطرح کول او په خپلې وینا سره به یې د معتقدو او مؤمنو کسانو په زړونو کښې نفوذ کوه. پاملرنه پکار ده چې په اسلامي انقلاب کښې د امام د مشرۍ او مبارزې طریقه د هغه اوږد تاریخي سنت نتیجه ده چې د اسلام له ابتدا څخه پیل شوی و. امام د قرآن پاک او د پیغمبر اکرم(ص) او د پاکو امامانو(ع) د سنتو په ژور شناخت او د اسلامي نړۍ په تیره بیا د ایران د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو د تاریخ په پوره څېړنې او هم داشان د اوسنۍ زمانې د سیاسي او اجتماعي حالاتو په څېړنې سره د خپلې مبارزې روده غوره کړه. وړومبی یې د د تقیې په شمول د مبارزې په وړاندې پراته خنډونه هوار کړل، بیا یې خپل ابتدایي هدف د سلطنت د ناروا والي طرحه او د هغه له مرکز سره سخته مبارزه او پرې حمله وګرځوه او ورپسې یې د فاینل هدف په اعلانولو سره چې د اسلامي حکومت ټینګښت و، د جوړ جاړي لپاره د ټولو دباؤنو او هلوځلو سره سره، کامیابۍ ته تر رسیدو پورې پریکنده مقاومت وکړ.

د امام خمینی(رح) د لارښود مرحلې:

د امام د لارښوونې وخت په څلورو بیلا بیلو برخو ویشلی شو:

لومړی پراو: د امام خمینی(ره) د یو سیاسی او مذهبی لارښود په توګه څرګندیدل او په خلکو کښې د هغه مشهوریدل. دا برخه هغه وخت شورو شوه چې د ولایتی انجمنونو د قانون په خلاف یې پمپلیټې وباسلی او بیا دا مخالفتونه د عاشورا په ورځ د امام تقریر او د هغه نیولو او د ۱۵خرداد پاڅون سره خپلې بشپړتیا ته ورسیدل او کله چې هغه ترکیه ته تبعید شو او هغه د کاپیټیلیشن د طرحې مخالفت وکړ نو دې سره ختم شوه.

په دغه جنګ او ولاړتیا په دغه برخه کښې امام څلور اساسي قدمونه اوچت کړل:

۱. د تقیې او پټو ساتلو حرامول، په ټولو کلونو کښې د خلکو نیغ په نیغه هغه ظالم او خودغرضه رژیم سره د مقابله پټ ساتل دا یو لوی مشکل و، امام دغه مشکل له منیځه یوړ او نیغه په نیغه اسلامی مقابله شورو شوه.

۲. د مقابلې اصلي کار یې د مذهبي چارو په لور یعنی د قم علمي حوزې ته راوړ، او دې طریقې سره د هغه نظریې په خلاف کار وکړ چې دښمن به تل دین له سیاسته جدا ګڼه او د دې لپاره یې ډیر کوششونه کړي وو. او تر دې چې هغه کسان چې له سیاسته یې کرکه لرله هغه یې هم دریځ اخستو ته تیار کړل او دې طریقې سره یې هغه زوړ سنت او طریقه چې په حوزې له کلونو کلونو رواج وه ختمه کړه.

۳. خپل بریدونه یې اصلي ځایې باندې شورو کړو یعنی اصل فساد چې په سلطنت او په شاه کښې و او د پټ پټونې طریقه یې ختمه کړه. په تیر وخت کښې د رژیم مخالفان په بیله توګه لیبرل کسانو او ځینې مذهبی کسانو هم دا هڅه کوله چې نیغ په نیغه د شاه په خلاف خبره ونه کړي او د هغه په اندیوالو پسې به یې خبرې کولې لکه لومړي وزیر پسې د لویې جرګې په غړو پسې او داسې نورو پسې به یې د شاه د دربار په ځای خبرې کولې او شاه به یې له جرمونو او خطاګانو بري کاوه. خو امام د پهلوي حکومت په مشروعیت باندې اعتراض شورو کړ او تقیه او پټې خبرې یې له منځه یوړې او خپل برید یې نیغ په نیغ په دربار او د شاه په فساد باندې وکړ او په دې طریقه نورو خلکو هم دا جرأت پیدا کړ چې دا کار وکړي.

یواځې خدای ته پته ده چې د ایران سلطنت له پیدایښته تر دې وخته څومره تیري او ظلمونه کړي دي. د پاچاهان ظلمونو زمونږ ټول تاریخ تور کړی دی، مګر دا پاچاهان نه وو چې د عامو خلکو د وژلو حکم به یې ورکاوه او بې له کوم شکه به یې د سر پریکیدو حکمونه کول. د پیغمبر(ص) له نظره د ملک الملوک ټکښې د خدای په نزد له ټول زیات نفرت پیدا کوونکی ټکی دی. د اسلام اصول سلطنت سره مخالف دي. د ایران د پاچاهانو دغه لویې مانې خرابې کړئ. سلطنت یو ډیر سپک او بې شرمه طریقه وه چې موجوده وه.

٤. په لویو طاقتونو باندې نیغه په نیغه بریدسره، چې په سر کښې یې امریکه وه، پټتیا له منځه یوړه په بیله توګه کله چې د مشروطې د تحریک او د تیلو د صنعت د ملي شونې خبره وه. او په نوي طریقې سره یې مقابله شورو کړه. د مشروطې په وخت کښې مشروطه غوښتو

د انګلینډ په سفارت کښې بهوک هړتال سره دا هڅه وکړه چې د حکومت ملاتړ ترلاسه کړي یعنی د «فخیمه» انګلینډ او د دې نتیجه به په ایران باندې د فراماسونرو حاکمیت و چې د ایران په برخلیک به حاکمیده. د تیلو د ملی شونې په تحریک کښې یې د ډاکټر مصدق په قول د دوو لویو طاقتونو د ګټو له ټکرې ګټه واخسته. یعنی د امریکښې د حکومت په مرسته تیل ملی شو او څو سهاره وروسته بیا د امریکښې او انګلینډ د ۱۳۳۲ کال د ۲۸ مرداد په مارشلا سره نه یوازې د تیلو صنعت بلکښې د ایران په هرې چارې باندې یې تر ۲۵کالو پورې برلاسې پیدا کړ.

امام ډیرې ژورې پیژندګلو سره او تیرو تجربو سره او دغه مشهور عبارت چې ویې فرمایل: امریکه له انګلینډه بدتره ده او انګلینډ له امریکښې او روس له دې دواړو بدتر او له ټولو زیات پلید، او نن زمونږ کار دغه خبیثانو سره او امریکښې سره دی» سره یې د ټولو هغه کسانو لاره وټړله چې هغه بهرنۍ هیوادونو سره ترړلي وو څو هغو دا توان پیدا نه کړي چې د خلکو له دغه مقابلو د خپل ځان لپاره ګټه واخلي.

امام یو خاص مقام عین مرجعیت درلود چې د هغه خبرو او نظرونو ته یې مذهبی مشروعیت ورکاوه، که څه هم رژیم دا غوښتو چې د مرحوم آیت الله بروجردي له وفاته وروسته د مرجعیت له هیواده بهر وباسي خو امام ډیرې تیزې سره په خلکو کښې مشهور شو او په داسې وخت کښې چې د ایران خلک نهیلی وو او د مقابلې ترې وو، د یو مذهبی او سیاسی مشر په توګه راغی، خلکو خپل ورک کړی مشر بیاموند او خپلې هیلې یې د یو نوي مشر او لارښود په وینا کښې ولیدې.

دویم پراو: په دې مرحله کښې د امام د مشرتابۍ خالي ۱۵ کلونه تیر شول، ځکه چې د هغوي هغه تقریر چې د کیپټلیشن د قانون د پاس کیدو په خلاف یې کړې و چې په ایران کښې د هستوګنو امریکنیانو په حمایت کښې پاس شوی، د دې سببه شو چې امام ترکیې ته تبعید کړي. دا پراو له همدې ځایه شورو شو او کله چې امام له نجفه پیرس ته لاړ نو هغه وخت ختم شو. امام په دې پراو کښې که څه هم کله کله به یې د ایران د بیلا بیلو په هکله پمپلیټ جاري کوی او فتوا به یې ورکوه او ویناوې او تقریرونه به یې کول او رژیم سره یې خپلې مقابلې ته په دې طریقه دوام ورکړی و او خلکو سره یې خپله معنوي اړیکه هم ساتلې وه او خلکو ته به یې لارښوونه کوله، خو کوم مهم کار چې امام په دې وخت کښې ترسره کړ هغه دا و چې خپل د فقهې په درس کښې به یې د د اسلامی انقلاب لپاره خپله نظریه او د اسلامی حکومت او ولایت فقیه د نظام بحثونه بیانول او په دې طریقه د هغه کسانو لپاره چې له اسلامی حکومته نه وو خبر او ناپوهه وو، د یو نظام راتلل روښانه کړل چې هغه غواړي کوم ډول ټولنه جوړه کړي.

د انقلاب مشري په درې شکلونو کښې څرګندیږي: د انقلاب ایډیا، د انقلاب اتل یا قوماندان، د انقلاب د حکومت مشر یا جوړونکی.

امام په دې وخت کښې د انقلاب د ایډیا وړاندې کوونکي رول په سه طریقه ترسره کړ. که څه هم د انقلاب ایډیا د اسلام دین او د هغه د اصلي سرچینو پر اساس ده، یعنی قرآن، سنت او حدیثونه چې په کښې کوم شک نه و. خو له دې سببه چې څوارلس سوه کاله له اسلامی حکومته تیر شوي وو هغه حکومت چې په عیني او عملي توګه د اسلام پر بنیاد ولاړ و په بیله توګه د امام مهدی(عج) د غیبت په دوران کښې

او هغه لوړو ژورو ته په پام چې په دغه څوارلس سوو کالو کښې تير شوي وو، خلکو ته روښانه نه وه چې هغه اسلامي حکومت چې د رژيم په خراب شوي سلطنت لپاسه به جوړيږي هغه به څنګه حکومت وي او نوي مسلو په بيله توګه نوي ټيکنالوجي سره به څه رنګ چلند کوي او دا هم معلومه نه وه چې د مشر ټاکل او د مسوليتونو ويش به پر کوم اساس کيږي او ايا دا حکومت به هم د لوديځ د ډموکريسی Democracy يا ټوټاليټريانيسم Totalitarianism په شان به وي. نو داسې حالت کښې امام د ولايت فقيه په راوړلو سره د اسلامی حکومت چاپيريال وټاکه او خلکو ته يې وړاندی کړ.

دريم پراو: د امام مشري په دې پراو کښې هغه وخت شورو شوه چې د انقلاب لومړی بڅرې د ۱۳۵٦کل په دی مياشته کښې په قم کښې په ايرو کښې د پټ اور د بليدو سبب شو. او ډير زر په ايران باندې د حاکم سسټم ملنه وسوزوله او د تل لپاره يې ۲۵۰۰کلن شهنشاهی نظام پای ته ورساوه. په دې مرحله کښې په صحيح او مناسبت وخت کښې او د خلکو په ويختيا سره نور ځنډ مناسب ونه ګڼه او د اسلامی انقلاب مشري او لارښوونه يې قبوله کړه او بې له کوم مصلحت او سازشه او د خلکو د توان او اراده په صحيح درک سره د خلکو له احساساتو او ايثار او ځان تيردو يې صحيح ګټه واخسته او لارويونونو او حکومتی ځواکونو سره په جنګ سره يې دغه انقلاب سر ته ورساوه. او خپلې کلکښې ارادې او نه ماتې نه خوړونکښې مقابلې ته يې د رژيم تر ختميدو پورې ادامه ورکړه.

کله چې امام فرانس ته لاړ نو د هغه مئينان او عاشقان د «نوفل لوشاتو» (هغه ځای چې په پيرس کښې په کښې امام پاتی کيده) په لور د هغوي

د لیدو لپاره په داتلو شو. بلکښې د څه مودې لپاره دا ځای یو ډول د ایران دویمه پلازمینه جوړه شوه او همدلته وو چې اسلامی انقلاب د خبرو له مرحلې عمل ته ورسید او رژیم شاه یې له ویخه ختم کړ.

هغه طریقې چې امام په دې مرحلې کښې د انقلاب د بریالۍ لپاره خپلې کړې هغه دا دي:

۱. د داسې کسانو له نفوذ او ننوتلو یې مخ نیوه وکړه چې د موقعې په لټه کښې ناست او ورته پته وه چې انقلاب بریالی کیږي ویې فرمایل: «امام ویندویې نه لري. مونږ چاسره تفاهم او ګډونه نه دی کړی. هر کس چې زما خبره وکړي هغه مونږ او خلکو سره دی» په دې طریقه امام د هرې بدې ګټې اخستلو مخنیوه وکړه چې په انقلاب کښې دغه کسان کوم لاس ونه لري.

۲. هغوی ځینې مسلو سره ډیر په کلکه او پخې پرې کړې سره چلند وکړ او له سازش او معافې یې ډډه وکړه. د ډیرو لیبرل کسانو دا زور و چې امام ته ووایی یو معتدل سیاست خپل کړه او ورو ورو مخکښې لاړ شه لکه څه رنګ چې انجنیر بازرګان ویل چې یوه یوه مورچه به وهو، امام پخې پرې کړې سره دا ټولې خبرې رد کړې او تل به یې اعلان کاوه چې شاه باید لاړ شي.

۳. په پیرس چې د نړۍ رسنو ته لاس رسي آسانه وه نو امام له دې حالت ګټه واخسته او د انقلاب پیغام یې د نړۍ خلکو ته ورساوه. په داسې طریقه چې که څه هم هغه بوډا و بیا به هم یې هم هره ورځ د څو تلویزیوني او رسنیزو مرکو کښې ګډون کاوه او د خبریالو بیلا بیلو پښتنو ته به یې ځوابونه ورکول. په دې طریقه امام بریالی شو چې د انقلاب

مقصد ته رسیدو او شاه سره د مقابلې لپاره د نړۍ د خلکو په وړاندې یو نړیواله دروازه خلاصه کړي.

په دې طریقه امام وکولی شو چې د خلکو د ویختیا او ارادې داسې لارښوونه او هدایت وکړي چې په ډیر لنډ وخت کښې بې له کوم تاو تریخوالي او وسلې د انقلاب غرضونه ترلاسه کړي. څومره څومره چې د خلکو د حرکت غږ تیزیده، نو د امام د مشرتابې او لارښونې توان هم دومره څرګندیده او د دې مشرتابې له ټولو لوړه مرحه هغه وخت وه چې شاه له ایرانه په روانیدو شو او امام په بریالۍ سره خپل هیواد ته د خلکو تر مینځ راستون شو. نو دغه وخت د خلکو د زړونو درزه او تودوخه نوره هم زیاته شوه. د بهمن د میاشتې په ۲۱ نیټه د شنبې په ورځ امام د مارشلا د حکومت په خلاف د اعتراض حکم ورکړ او د شاه د عمر اخری وختونه او د انقلاب د بریالیتوب وخت راورسید.

څلورم پړاو: دا وخت د انقلاب د مشرتابې له ټولو حساس او مشکل پړاو و، دا هغه وخت و چې د انقلاب مشر هم باید د یو ټولنیز مشر په توګه او هم د حکومت د مشر په توګه د انقلاب چپو وهلې بیړۍ یو آرام ساحل ته رسولی وې، په داسې حال کښې چې د طاغوت سیاسی او فوځی طاقت تازه ختم شوی او په کروړونو انسانان چې د هغه ظالم په بندونو کښې آزاد شوي وو او د هر ډول ګړبړۍ امکان و چې د دغه حرکت د مشر له کنټرولې وباسي. د انقلاب مشر باید له توانه پورته ذمې سره هم د خلکو احساسات کنټرول کړی وې او هم یې له ګړبړۍ مخ نیوه کړې او د یو بلډنګ د یو داسې توانمن ګلکار په شان چې د تیر حکومت په ویران ځای ي خپل هغه ایډیا جوړه کړې وې چې له مخکښې یې ورته فکر کړی و.

دا هغه وخت و چې که په دې کښې د انقلاب مشر لږ غوندې غفلت هم کړې وې نو د دې سبب به شوی و چې د انقلاب له اصلی موټر چې خلک و به ډیره بده ګټه اخستی شوې وې او یا به د انقلاب په لاس راوړي غرضونه پټ کړی شوی وو او په کړې لارې به روان شوي وو.

امام خمینی(ره) که څه هم په ډیره ساده طریقه شاه رژیم سره مقابله کوله او له هر ډول سیاسي لوبې یې ډډه کوله او دا خبره د ډیرو تحلیلګرانو په ذهن کښې وه چې کیدی شي امام دا توان ولري چې رژیم سره مقابله وکړي، خو دا توان نه لري چې د ټولنې کنټرولولو او حکومت جوړولو توان ونه لري. او ډیر کار به کارپوهانو او ټکنوکراتو ته وسپاري. خو دا ځل هم امام خپل ځانګړې توان سره د ډیرو تکنوکراتو هیلې په نهیلۍ بدلې کړې او خپل مهارت او توان یې وښود له یوې خوا یې د انقلاب مخالفانو سره او د رژیم پاتې کسانو سره مقابله وکړه او له بلې خوا یې سیاسي مشرتابه په لاس کښې واخسته. هغه یوې ډیرې لویې حوصلې سره او له بیلا بیلو وختونو او د خلکو له چمتووالي په کټې سره په یو داسې تیزۍ سره چې د نړۍ په ټولو انقلابونو کښې سیال نه لري یوازې په یو کال کښې د اسلامی نظام داسې بنیاد کیښود چې بیلا بیلې ټول ټاکنې یې وکړې لکه د جمهوري اسلامی ریپرینډم، د خبرګانو د غونډې ټول ټاکنې، د صدارت ټولټاکنې، د اسلامی مشورتی اسمبلۍ ټولټاکنې او د اساسي قانون ټولټاکنې یې ترسره کړې په دې طریقه یې له انقلابه وروسته د ټولنې په چلولو کښې خپل بې ځارې توان او قابلیت وښود.

امام خمینی (ره) د انقلاب له بریا تر وفات پورې، یعنی په لسو کلونو کښې، خپلې مشرۍ سره نه یوازې د چې د ایران نوی اسلامي نظام یې

له داسې بیلا بیلو سازشونو او انحرافاتو وساته چې هره یوه پیښه د بل یو سیاسی نظام لپاره په یوازې د منځه وړولو لپاره کافي وه، بلکښې داسې ډیر ایډیالوجیک او فقهي مشکلات او ستونزې یې هم هوارې کړې چې دا نظام یې ختمولی شو، په دې طریقه یې له ځانه وروسته هم د انقلاب د باقي پاتی کیدو لاره هواره کړه.

۱. ایډیالوجي

د یو مشر او لارښود له ذمه وارو یوه دا ده چې د انقلاب ایډیالوجی وړاندې کړي. او د دې لپاره چې هغه ایډیالوجي په ټولنه کښې په پراخه توګه ومنلی شي باید داسې وي چې موجود نظام او ارزښتونه له منځه یوسي او د انقلابیانو په وړاندې یو مطلوب راتلونکښې جوړ کړي. په ایران کښې د اخرنۍ پیړۍ په اول کښې تر ډول ایډیالوجي وې او د ټولنې بیلا بیلې ډلې یې د ځان په لور بللې؛ چې هغه دا وې: نیشنلیزم، سوشلیزم او اسلام چې د هرې ایډیالوجۍ لارویانو او مبلغینو به دا هڅه کوله چې خپله ټولنه خلکو ته مطلوبه ټولنه وښایي او زیات لارویان ولري. لیبرالیزم هم له دې سببه چې یو غیر مذهبی ایډیالوجي وه نو د خلکو تر مینځ یې کوم پوخ ځای جوړ نه کړې شو که څه تر کلونو کلونو تر دې چې انقلاب وروسته یې هم خپل ژوند ته دوام ورکړ.

سوشلیزم، هغه یواځینۍ انقلابي ایډیالوجي وه چې په روس کښې د اکتوبر له انقلابه وروسته د ریډیکل انقلابیانو او ځوانانو یې پام یې ځانته راړولی و. په ایران کښې دا ایډیالوجي له دې سببه وه چې روسیې سره نزدې وو نو ډیر لوی اغیز یې لرلی و او د دې لپاره تبلیغ هم کیده او باقاعده پټ او څرګند ګوندونه یې هم جوړ شوي وو او دا هڅه یې کوله چې خپل غرضونه د ایران د ټولنې د نظام په بدلولو او سوشلیزم

د هغې په ځای د راوستو لار هواره کړي. د دې حرکت انعکاس او هڅه مونږ د توده ګوند په جوړیدو کښې چې یوه اوږده سابقه لري کتلی شو.

دا حرکت که څه هم ډیر کارونه او هڅې یې کړې وې خو د دوو دلیلونو له سببه له نیشنلیزم نه پاتې راغلی و.

۱. الحادي شونه او د مادیت اصل ګڼل، د ایران مذهبي ټولنې سره چې ژورې اسلامی عقیدې یې درلودې په ټکره کښې وې او عام مقبولیت یې نه شو پیدا کولې.

۲. د مارکسیستو ماسکو سره سخت ټړون، دې ته په پام چې د ایران او روسیې تیر تاریخي تراخه حالات د دې سبب شو چې نه یواځې دا چې دغه ګوند یو غیر مستقل او نورو سره ټړلې وګڼل شي بلکښې په خپله هم روس د نړیوالو سیاستونو یوه لوبه وګڼل شي.

خو اسلام د یو اللهي مکتب په توګه د عامو خلکو په زړونو کښې د تاریخ په اوږدو کښې ځای کړی و. هغه مذهب چې په کلو، ښاریو، غریبانو، مالدارو، کارګرانو، بزګرانو، کارمندانو، پوهانو، روشنفکرانو تر مینځ د هغوي د ژوند په هر اړخ کښې حاکم و. هغه ټولنه چې د هغې ۹۸٪ په سلو کښې اته نوي کسان یې مسلمانان دي او اکثریت یې په آسماني کتاب عقیده لري او په حکمونو یې عمل کوي. نو داسې ټولنه د اسلام ایډیالوجۍ لپاره او انقلاب او سیاسی بدون ته چمتو وه. هغه ایډیالوجي چې د اسلامی دین له نورو مکتبونو جدا کوي او اسلام ته یوه رښا ورکوي هغه د اسلام په عقیدو او باورونو کښې پټه ده چې د هغې ځینې اصول او ټرلارې دا دي:

۱. واقعیت او هستی مادې او طبیعت سره برابره نه ده.

۲. مادي نړۍ یو داسې څیز دی چې له هستۍ او مطلق واقعیت سرچینه اخلي او دغه نړۍ یوه شورو لري او عالم مدبر او حکیم او قادر چلوونکی لري هغه کس چې د عالم طبیعت په ټولو اړیکو حاکم دی او ټول عالم، مادي او طبیعی حرکتونه، او په ماده کښې بدلونونه دا ټول د خدای کار او د هغه خدای د ارادې مظهر دي.

۳. په اسلامي عقیدو کښې دا ټوله هستي د الله د ولایت او مشرتابې لاندې ده او ټول مادي موجودات د الله تعالی په تدبیر سره له نشت د کمال په لور په حرکت کښې دي او د ټولو بیا ورتر د هغه په لور دی.

۴. په دې عقیده کښې انسان یواځې مادي اړخ نه لري بلکښې معنوي اړخ هم لري او د مطلق کمال په لور یعنی د دې نړۍ د پیدا کوونکي په لور په حرکت کښې دی او د هغه کمال د الله په ملاقات کښې دی.

۵. انسان یو ابدي او جاوداني موجود دی او مرګ سره فناه او نیشت نه کیږي او له مرګه وروسته بله نړۍ او بل عالم هم لري چې هلته به د دې ژوند د نیکو او بدو علمونو اغیزې او پایلې ګوري.

٦. انسان یو داسې موجود دی چې آزاد دی او پوښتنه به ترې کیږي ځکه چې خدای اختیار ورکړی دی چې خپل اختیار سره دغه حرکت کمال او بشپړتیا ته ورسوي خو دا انسان کله د الله په لور حرکت غوره کوي او کله د شیطان په لور.

۷. په د جهان کښې ژوند هغه مرحله ده چې انسان په کښې کمال ترلاسه کوي او خپل عمل سره تل پاتې او همیشنۍ ژوند جوړوي.

امام خمینی(ره) په داسې حالاتو کښې چې په کلونو تبلیغ شوی و چې سلطان او پاچا د خدای سیورې دی او د سلطان حکم منل د خدای حکم منل دي او د سلطنت او پاچاهۍ د خدای یو کرم دی چې په چا یې کړی وي، خو امام دا ټول نفی کړل فرمایي: دغه اساسی قانون او د دغه قانون بشپړوونکښې برخې لکه ولایت عهدي او داسې نور څیزونه په اسلام کښې چرته دي؟ دا ټول د اسلام پر ضد دي. دا د حکومت پر خلاف او د اسلام د احکامو په خلاف دي. سلطنت او ولایت عهدي هغه څیزونه دي چې اسلام منعه کړي دي او باطل یې ګڼلي دي او د اسلام په لومړیو وختونو کښې اسلام دغه څیزونه په روم، مصر، یمن او ایران کښې له منځه وړي دي. پیغمبر اکرم(ص) په خپلو مبارکو لیکونو کښې چې د ختیځ روم امپراتور هراکلیوس او د ایران شاهنشاه ته یې لیکلی و هغو ته یې بلنه ورکړې وه چې له شهنشاهي حکومته دې لاس واخي او پریږدوي چې انسان په خپله د یو الله عبادت وکړي هغه الله چې شریک نه لري او حقیقي پادشاه هغه دي. سلطنت او ولایت عهدي هماغه باطله طریقه ده چې سید الشهدا امام حسین علیه السلام یې مخنیوه وکړه او د هغه پر خلاف یې پاڅون وکړ او شهید شو.

په دې طریقه د لومړي ځل لپاره د انقلاب ستر لارښود هغه ارزښت چې په کلونو کلونو د هغې لپاره تبلیغم شوی و او په اساسی قانون کښې لیکل شوی و باطل وګڼه او هغه یې د ارزښت په خلاف وګڼه. د انقلاب د ایډیالوجۍ ورپسې ذمه دا ده چې ټولنې ته یوازې لاره ونه ښایي بلکښې په عملي توګه هغه طریقې ورته هم وښایي. د اسلام عقیدتمنو لپاره چې د ټولنې ډیر کسان همدا وو، دا خبره منلې شوې وه چې اسلامی حکومت لکه څه رنګ چې د رسول اکرم(ص) او د خلیفه ګانو

(په بیله توګه د شیعو لپاره د امام علی(ع) د حکومت وخت) په زمانه کښې جاري شوی و نو همدارنګ کمال ته رسیدی شو او د راتلونکي وخت لپاره ورته بیلګه موجوده وه. خو مهمه خبره ده وه چې له څوالسو سوو کالو وروسته د ټولنې بیلا بیلو ستونزو ته په پام به دا څه رنګ او د چا په لاس جاري شي او حکومت به جوړ کړي.

له بلې خوا ځینې کسانو دا باور او عقیده درلوده چې نړۍ باید له ظلم او فساده ډکه شي چې امام مهدی(عج) ظهور وکړي او نړۍ له عدله ډکه کړي او اسلامی حکومت جوړ کړي، نو د هغوي له نظره د غیبت په زمانه کښې د داسې حکومت جوړیدل او د داسې کار لپاره هڅه او کوشش او حرکت کولو کوم ارزښت نه درلود. په داسې حالاتو کښې د انقلاب لارښود په ساده ژبه د اصل ولایت فقیه په وړاندې کولو سره او له قرآن او حدیثونو په ثبوت سره چې د خدای حکمونه خو چټی کیږي نه او په هیڅ یو حال کښې تر دې چې د غیبت په حال کښې هم دا نه شو کولې چې د الله له حکمونو مخ واړوو او چټي یې کړو او دا ذمه د فقیهانو په غاړه ده په بیله توګه د ټولو لوي فقیه په غاړه.

امام(ره) په همدې هکله دینی طالبانو ته په خپله وینا کښې وفرمایل:

تاسو هله د اسلام خلیفه ګان یئ چې اسلام خلکو ته ورزده کړئ، او دا ونه وایئ چې پریږده چې امام زمان(عج) راشي. آیا تاسو خپل لمونځ پریږدئ چې د امام راتلو پورې به لمونځ نه کوو؟ نو د اسلام ساتل خو له لمانځه نه هم زیات ضروري دي. د خمین د حاکم غوندې خبره مه کوئ چې ویل به یې: باید ګناهونه زیات کړو چې امام(عج) ظهور وکړي که ګناهونه زیات نه شي نو امام(ع) ظهور نه کوي.

د انقلاب لارښود درې مهمې مسلې د انقلاب د ستراتژۍ په توګه مقرر کړې:

۱. د طاغوت (شاهنشاه) د حکومت ختمیدل.

۲. د اسلامی حکومت د راوستلو لپاره هڅه کول.

۳. د دغه حکومت د ولایت فقیه اصل سره ساتل.

امام خمینی(ره) په دې هکله فرمایي:

په دې ټولنیزو او سیاسی حالاتو کښې مومن او متقی د ځان مخې ته یواې دوه لارې لري. یوه دا چې مجبور شي ځینې عمل نه ونه کړي او د «طاغوتیانو» د قانون لاندې ژوند ونه کړه او هغه سره مقابله وکړي او فاسد حالات له منځه یوسي. او مونږ بې له دې بله لاره نه لرو مګر دا چې فاسد حکومت سره مقابله وکړو او له منځه یې یوسو. او جابر او ظالم او فاسد نظام له منځه یوسو. او دا هغه دنده ده چې ټول مسلمانان یې په هر یو اسلامی هیوادونو کښې باید ترسره کړي او اسلامی سیاسی انقلاب بریالۍ کړي او مونږ د دې لپاره چې خپل اسلامی وطن د بهرني کسانو له لاسونو ازاد کړو بله لاره نه لرو ملګر دا چې اسلامی حکومت جوړ کړو.

یو بل ځای کښې فرمایي:

نن مونږ څه رنګ چپ او بیکاره کښینو او وګورو چې ځینې خائنان او حرام خواره او د بهرنیو هیوادونو نوکران په زور باندې د کروړونو غم ځپلي مسلمانانو مال او شته مني واخلي او دې ته یې هم نه پریږدي چې له هغه نعمتونو ګټه واخلي. دا د اسلام د عالمانو او ټولو مسلمانانو

دنده ده چې دا له ظلم ډک حالت له منځه یوسي او په دې لاره کښې چې د کروړونو انسانانو د سعادت او نیکمرغۍ لاره ده ظالم حکومتونه له منځه یوسي او اسلامی حکومت جوړ کړي.

د انقلاب لارښود هغه وخت اسلامی حکومت نورو سره پرته کوي او وایي: اسلامی حکومت په نن زمانه کښې د یو موجود حکومت په شان هم نه دی. مثلا ظالم نه دی چې د حکومت مشر دی یوازې په خپله اراره کار وکړي، د خلکو مالونو او ځانونو باندې لوبې وکړي او د خپل زړه مطابق دې په کښې لاسوهنه وکړي. څوک یې چې زړه وغواړي هغه ووژني او چاته یې چې زړه وغواړي انعام ورکړي او چاته چې وغواړي مالونه جایدادونه ورکړي او د خلکو مال ورته وروبخښي.

رسول اکرم(ص) او حضرت امیرالمؤمنین(ع) او ټولو خلیفه ګانو داسې اختیارات نه لرل. اسلامی حکومت نه ظالم دی او نه مطلق، بلکښې مشروط دی البته نه هغه مشروطه چې نن دلته رواج شوی دی چې د قوانون پاس کیدل د اکثریت په خوښه وي. بلکښې د مشروط معنا دا ده چې حکومت کوونکي د حکومت په چلولو کښې ځینې شرطونه لري چې هغه په قرآن او په سنت کښې ښودلې شوي دي. ټول شرطونه چې راغونډ شي نو د اسلام قانون ترې جوړ شي چې باید خیال یې وساتل شي. له همدې سببه اسلامي حکومت په خلکو باندې د الله د قانون حکومت دی... د حکومت په دې طریقه کښې حاکمیت یواځې د الله دی او قانون او فرمان یواځې د الله دی.

خو د حکومت طریقه او اسلامی عدل حکومت ته ګروهنه د انقلاب کسانو په حرکت کښې ګوري او د دې کار لپاره هغه لومړۍ ذمه چې

د عالمانو لپاره يې ښايي، دا ده چې خلکو ته خبرتيا ورکړي. هغه په لومړي وخت کښې خلکو ته يواځې آرام سره د اعتراض سپارښتنه کوله او که څه هم اسلحې حرکت يې نه منعه کاوه خو په لومړي وخت کښې يې د هغې سپارښتنه نه کوله.

که په جمعه سره د يو ظلم په خلاف يا د يو غلط کار په خلاف اعتراض وشي، لکه له ټولو اسلامي هيوادنو په زرګونو تلګرافي وشي چې دا خلاف کار دې نه کوي نو يقينا له دې به لاس اخلي. کله چې د اسلام د حيثيت په خلاف او د خلکو د مصلحت په خلاف يو کار ترسره کيږي او حکم يې کيږي نو که ټول هيواده او له ټولو کليو او ښاريو د هغه کار انکار وشي نو دوي به ډير زر وروسته کيږي.... زه دوي پيژنم. زه يې پيژنم چې دوي څه کولی شي. ډير ډرن دي. زر شاته کيږي. خو کله چې وګورو مونږ بې کاره يو نو خپل کار ته دوام ورکوي.

په دې لاره کښې زمونږ لومړۍ کار تبليغات دي، بايد د تبليغاتو له لارې ورانې راشو... ځکه چې له اوله خو څوک زور نه کوي بلکښې د تبليغ له لارې مخکښې راځي. بايد د هغوي زور ويونکيو په خلاف ولاړ وې او خلکو مو په دې پوه کړې وې چې دا غلط کار کوي. نو ورو ورو به دا تبليغات پراخ شوي وو او د ټولنې ټولو ډلو ته به دا خبره رسيدلې وه او حرکت کښې به راغلي وو او يوې ښې پايلې ته به رسيدلي وو.

تبليغات او تعليمات زمونږ دوه مهم او اساسی فعاليتونه دي. د فقيهانو دا دنده ده چې عقايد او احکام او د اسلامی نظام تبليغ وکړي او خلکو ته يې تعليم ورکړي.

او بیا په عملي او عیني توګه د سیاسی طاقت د لرې کولو او کمزوری کولو لپاره ټیکنیک مقرر کړي:

۱. حکومتي موسسو سره خپله اړیکه پرې کړو او ورسره دې همکاري ونه کړو.
۲. له هر یو هغه کاره ډډه وکړو چې هغوي سره مرسته ګډل کیږي.
۳. خپل قضایي، مالي، اقتصادي او کلتوري او سیاسي موسسې جوړې کړو.

په دې طریقه وه چې په ایران کښې په سیاسی او ټولنیزو بدلونونو کښې د انقلاب درې اصلي رکنونو په خپل ټول توان سره، همغږې او ملتیا سره، یو پراخ او بریالی اغیز ولره. په دې طریقه د ایران د مسلمانانو د انقلاب د لارښود په مشرۍ کښې په مقابلو کښې ښه برخه واخسته او د اسلام د ژوند ورکوونکی بیرغ لاندې د یو داسې مرجع تقلید په مشرۍ کښې بریالیتوب ته ورسیدل چې هغه په پوهې او فکر کښې سیال نه درلود.

شپږمه برخه: اسلامی ډموکریسی[٤]

٤ - "نقش و جایگاه مردم در الگوی مردم سالاری اسلامی از دیدگاه مقام معظم رهبری"، مقاله، د حدیث اقبال لیکل شوی، په په «بصیرت و تربیت اسلامی» فصلنامه کښې خپره شوی، شمیره ٤٠، سپرلی ١٣٩٦.

سریزه:

نن سبا «ډموکریسي» یو پیژندلی شوی او په نړیواله توګه یو قبول مفهوم لري او اوس ډیر حکومتونه دا هڅه کوي چې خپل حکومت ډموکریټ ثابت کړي. دا خبره په نن زمانه کښې د فکر کوونکو د فکر او د انسانانو د خپل حق په لاس راوړلو لپاره د ظالمو حکومتونو په خلاف د پاڅیدو نتیجه او پایله ده چې په نتیجه کښې انسانان له خپلو سیاسي حقونو خبریږي او په خپل برخلیک کښې برخه اخستی شي او د حکومت غوښتو په راغورځیدو کښې رول درلودلی شي. د ښاروالو په سیاست کښې ګډون د سیاسی پراختیا یوه بیلګه ده چې په کښې د یو ټولنې ښاروال په ټولو هغه پری کړو او فیصلو کښې برخه لري چې نیغه په نیغه یا په یوه واسطه سره د هغوي په برخه لیک کښې اثر لري. دغه سیاسی ګډون د سیاست په کار کښې د خلکو رول څرګندوي. ډموکریسي

غوښته او د سیاسی ګډون غوښته په مسلمانو هیوادونو کښې هم د نظریه پردازۍ له مخې، ډیر داستانونه جوړ کړي دي ې یوه بیلګه یې په اخر کښې په مینځني ختیځ کښې اسلامی بیداري ده. د اسلام روښانه دي چې د انسانی د نیکمرغۍ لپاره یو کامل او جامع دین دی په دې هکله حکمونه او قانونونه لري چې په سیاسي نظام کښې د خلکو ګډون ضروري ګڼي. لکه د شورا اصل شونه، په خپل وطن کښې د امنیت او ثبات لپاره ګډون (جهاد)، امر بالمعروف او نهی عن المنکر او نور، چې په دې کښې هر یو د جمهوریت د پیدا کیدو لپاره د یو ابزار په توګه عمل کوي. له همدې سببه لکه څه رنګ نورو اسلامی هیوادونو کښې د ډموکریسي خبره وه په ایران هم دا موضوع و. د ډموکریسۍ غوښته په ایران کښې د مشروطې له وخته کتلی شو؛ خو د ډموکریسي لپاره دغه هڅو د لیکلې شوي نظام په توګه کومه ګټه نه لرله تر هغه وخته پورې چې امام خمینی(ره) یوه بیلګه وړاندې کړي چې هم دین محور وي او هم پکښې د خلکو ګروهنه وي. او دغه کار یې خپلې مشرۍ کښې سر ته ورساوه. امام خمینی(ره) په اسلامی علمونو باندې مکمل برلاسي سره او له اسلامي ابزارو په ګټې د جمهوري اسلامی یوه بیلګه وړاندې کړه چې ډیر هغه ناممکنه ګڼله. او له هغوي وروسته آیت الله خامنه ای نوو ټکو سره د جمهوری اسلامی نامه اسلامی ډموکریسي واخسته او د دې په استعمال باندې ټینګار وکړ او دا خبره د امام خیمینی(ره) د هغه سیاسی نظریې په بشپړتیا کښې شوه. دا لیکل په دې پسې دي چې توصیفی او تحلیلی طریقې سره دا ثابته کړي چې دغه نظام کښې د خلکو دیني رول وښایي او د خلکو د دغه هیواد په چلیدو کښې کوم مقام دی او د جمهوری اسلامی د اوسني مشر څه عمل دی. په لومړۍ برخه کښې، د ډموکریسي سابقه، او د دې مفهوم

تعریف کیږي. په دویمه برخه کښې نظریاتي پوښتنې چې د رهبر په افکارو کښې په اسلامي ډموکریسي کښې د خلکو څه رول دی؟ بیانیږی او بیا ورپسې ادارو جوړولو ته د ګروهنه چوکاټ او وسره د خلکو اړیکې بیانیږي او په ادامه کښې د رهبر د لیدتوګې له مخې په هغه ادارو کښې اسلامی ډموکریسی سره د خلکو رول بیانیږي او په اخر کښې له دغه بیان شوو بحثونو یوه نتیجه بیانیږي.

١. د ډموکریسي نظري چوکاټ

د دې برخې د اطلاعاتو په تحلیل کښې، د ارګان ګروهنې یا ادارې ګروهنې له طریقې ګټه اخستې شوې ده، ارګانونو په بیلا بیلو طریقو د انسانانو ژوند باندې خپل اثر کړی دی او هغوي په فردي او ټولنیزو چارو کښې همدا ارګانونه او ادارې ډیر ژور رول لري. دغه ارګانونه د انسانانو د ژوند د کړو وړو له نمونې او بیلګې له مجموعې راوتلي دي هغه کړه وړه چې د انسانو له رسمونو او رواجونو، ارزښتونو او عقیدو او باورونو له کبله ترسره کیږي او د یو ټولنې د چارو او د هغې چارو د ځواب تر اغیز لاندې ورو ورو جوړیږي او له ټولنې پاس کیږي او ثابتیږي، بیا دغه ارګانونه او اصلونه دوام پیدا کوي، عام کیږي، او نظم او قانون ورته جوړیږي. او همدا د ټولنې د غړو د چارو کنټرولوونکي دي. او د همدې په وسیله زمونږ ګروهنې او د ټولنې ضرورتونه او غوښتې پوره کیږي. د سیاسی تفکر د تاریخ له مخې لومړی نظم لرونکښې تفکر چې د انسان د سیاسی ژوند په هکله و هغه د حکومتي ارګان په هکله و. د ټولنیزو او سیاسی طبیعت د متفکرانو له نظره د یو فرد د کړو وړو د بې ثباتۍ له مخې د هغه ټولینزو غرضونه ته د هدایت لپاره سیاسی ارګانونو جوړیدو ته ضرورت دی.

په ډموکریسي کښې او د خلکو په رول درلودلو کښې د سیاسي ارګانونو ګټه او فایده له دې سببه ده چې سیاسی ارګانونه د قانوني سیاسي خاص توان منظم او قانونمن کوي. کله چې په دې خبرې باندې اختلاف شي چې کوم سیاست باید جاري شي، نو سیاسی طاقت د یوې ډلې د نفوذ لپاره د سیاست په میدان کښې د پرتلې کار ورکوي. که حکومت کوونکي غني او توانمن وي نو داسې وخت عام طور د فقیرانو په ځای کسان د مالدارو او غني کسانو پلوي کوي (عجم اغلو و رابینسون، ۱۳۹۱: ۲۷۱) سیاسی طاقت ارزښت لري او ټول ګوندونه دا خوښه وي چې په هر طریقه وي په راتلونکی کښې سیاسي طاقت پیدا کړي. سیاسي ارګانونه له دې سببه چې تل پاتی او بادوامه دي نو په راتلونکی کښې د سیاسي طاقت یو چا سره خاص کولو کښې رول او اغیز ولري. ارګان جوړل ښاریانو ته دا طاقت ورکوي چې نه یوازې نن بلکښې په راتلونکی کښې هم د ځای ناستی رژیم په وړاندې چې ډموکیریټ نه دی، طاقتور واوسي. دې ته په پام ارګان جوړل ښاریانو ته یو ډول سیاسي طاقت لاس کښې ورکول دي. که ښاریانو نن دا توان ولري چې ډموکریسي وساتي، نو په راتلونکی وخت خپل سیاسي او قانوني توان لا زیاتولی شي. ځکه تر څو چې ډموکریسي باقی پاتی وي، نو هغوي به په راتلونکي وخت کښې د سیاست په ټاکلو او تعیین کښې لا ډیره اراده ولري.

ښاریان څه رنګ دا اطمینان پیدا کړي چې ټولنه ډموکیریټک کیږي؟ هغوي هغه وخت دغه اطمینان ته رسیدی شي چې کافی سیاسي توان ولري. روښانه ده چې که غیر ډموکریټک حالات وي نو هغوي بیا د وټ او رای ورکولو له حقه محرومیږي یا لږ تر لږه، ډیر کم اهمیت لري؛ نو دې ته په پام څه رنګ کولی شي چې سیاسي طاقت پیدا کړي؟ ځواب دا

دی چې ځینې سیاسي طاقت په قانونونو کی دی او ځینې کیدی شي د سیاسي طاقت په شکل او څه رنګوالي کښې وي. ښاریان هغه تر هغه وخته په غیر ډموکریټیک نظام کښې طاقت لری شي چې یو ټولنیز انقلاب او نا آرامي جوړه کړی شي. له «سیاسي طاقته» او هر ډول سیاسي حاکمیته مطلب هغه طاقت دی چې له سیاسي ارګانونو راوځي. د ښاریانو طاقت او د حکومت له منځه وړل او وربانديې اعتراض کول یوه مارشلا جوړوي چې د طاقت په لاس راوړولو کښې د عملي طریقې په معنا ده. په نورو ټکو سیاسی قانوني یا عملي طاقت هغه څیز دی چې یوې ډلې ته دا توان ورکوي چې هغه خپل غوره سیاست ته نږدی کړي.(هماغه: ۱۹ -۳۸)

هغه ډلې چې نن سیاسي طاقت لري هغوي دا توان لري سیاسي ارګانونه جوړ کړي او یا د هغه خلکو حمایت ترلاسه کړي چې د دې ډلې طرفداري کوي. دغه سیاسي ارګانونه تل پاتی دي او په راتلونکی کښې د سیاسي طاقت چا سره د خاص کولو کانټرول لري؛ نو دې ته په پام ارګانونه جوړول د ډموکریسۍ په ترڅ کښې ښاریانو ته دا توان ورکوي چې په راتلونکی کښې خپل سیاسي طاقت لا زیات کړي. خو ښاریان ولې د دې لپاره چې په راتلونکی کښې له خپل سیاسي طاقت لرولو مطمئن شي، سیاسي ارګانونو ته اړمن دي؟ مګر داسې نه ده چې هغوي نن سیاسي طاقت لري. مثلا یو داسې حالت فرض کړو چې ښاریان نن سیاسي عملي طاقت لري، خو دا هیله نه لري چې په راتلونکی وخت کښې به هم داسې سیاسي طاقت ولري. په داسې حالت کښې دې ته اړمن دي چې د ارګانونو داسې غونډه جوړه کړي چې په راتلونکي کښې د هغوی سیاسي طاقت خوندي وساتي، دا هماغه کار دی ډموکریټیک

ارګانونه يې کوي. د ښاريانو عملي طاقت دی چې له غير عادي سياسی بحرانونو او يا د جنګ له ختميدو وروسته په لاس راځي، دا خوندي کيږي او تقريبا آزاد او عادلانه ټول ټاکنې ترسره کيږي چې په کښې د ټولو خلکو، نه يواځې د ځينو وټونه شمېرل کيږي او په راتلونکي کښې ترې يو سياسي طاقت جوړيږي.

۱-۱- ارګانونه د ډموکريسي د ضمانت اوزار

په سياست کښې د «ضمانت» مسله له دې سببه مينځ ته راځي چې کومې ډلې طاقت ته ورسي هغوي د راتلونکي وخت لپاره ځينې ژمنې او وعدې ورکوي خو وروسته په هغه وعدو باندې عمل کول د هغوي په ګټه نه وي. نو هغوي دا غوره کوي چې خپله وعده ماته کړي او بل خوا ته روان شي يا بيل ډول سياست خپل کړي؛ ځکه چې د کوم ګوند چې طاقت په لاس کښې وي نو هغه د يو معين سياست په هکله وعده نه شي ورکولی، مونږ دې مسلې ته «تعهد» يعنې ژمنه وايو. په ژمنې د پاتی کيدو مسله دغه واقعيت سره ډيره ژوره اړيکه لري چې په راتلونکي وخت کښې به طاقت د يو خاص ګوند په لاس کښې وي او هغوي کولی شي چې دغه طاقت سره سياست له هغه وعدې پرته په بل لور بوزي او بل خوا يې واړوي. (هماغه: ۱۹۱-۲۶۷) دې څېړنې او توضيح سره دا ويلی شو چې ارګانونه د تعهد ژمنې او وعدې د ابزار په توګه ګټور دي ځکه چې د راتلونکي وخت د سياسي طاقت په خاص کيدو باندې اغيزمن دي. د ارګانونو د دوام لرو خصوصيت او د هغوي دا توان چې به راتلونکي وخت کښې طاقت د چا په لاس شي، له دې سبب کيږي چې تعهد ته د يو ارزښتمن اوزار په توګه وکتل شي. په ساده بيان سره، که يوه خاصه ډله دا وغواړي په يو لارې باندې د تلو ژمنه او

وعده ورکړي، نو د هغه وعدې د معتبر شوني لپاره له دې طریقه بله کومه طریقه غوره ده چې ډیر طاقت هغه چا ته ورکړي چې د دې لارې په تړ باندې خپله ژمنه پوره کوي.

په عمل کښې دغه اصلی او ارګانی بدلون څه سره سمون لري؟ دغه تعهد او ژمنې ته څه رنګ رسیدی شو؟ کله چې دغه پوښتنو ته ځیر شو نو په خاصو وختونو کښې په کلی شکل سره په دغه څیړنه کښې چې د سیاسی ارګانونو او ډموکریسي لپاره ترسره شوې ده، د ارګانونو اهمیت روښانه کیږي. دا د هماغه خاصیت «یعنی دوام دار شونې» له سببه دي چې اشاره ورته وشوه. سیاسي ارګانونه دا قانون مقرر کوي چې کوم کس دی کوم کار په کوم وخت کښې ترسره کړي او ښاریانو په دې طریقه مطمئن کیدی شي چې کوم څه چې غواړي هغه ته رسیدی شي.

۲. اسلامي ډموکریسي (تعریف او تاریخی مخینه)

د ایران او جهان په ادبیاتو کښې اسلامي ډموکریسی ټکښې یو نوې مفهوم دی چې د ایران د اسلامی انقلاب راتلو سره د امام خمینی(ره) په وسیله د جمهوري اسلامی په قالب کښې استعمال شو او بیا د هغوي د نظراتو په رڼا کښې ستر لارښود خامنه ای دغه لفظ استعمال کړ او بومی شو. که څه هم په اسلامي تاریخ کښې د اسلامي احکامو د جاري کولو لپاره د طاقت او حکومت لاس ته راوړلو خبرې وې خو داسې طریقې سره هم د خلکو د غوښتې مطابق وي او خلک په کښې لاس ولري او هم د الله پاک د احکامو په چوکاټ کښې وي، دې کومه لویه مخینه نه درلوده او یو نوې بیلګه او نمونه ګڼل کیږي چې د امام خمینی(ره) په لاس د اسلامی عالمانو د نظراتو په نتیجه کښې په لاس راغله.

تر اوسه پورې د بیلا بیلو مفکرانو له نظره د اسلامی ډموکریسي بیلا بیل تعریفونه شوي دي. دغه تعریفونو محور او اساس دین و چې په عمل کښې یا ممکن شونه او یا منع شونې ته بحثونه رسیدلي دي. د دغه مفهوم د منعه کوونکیو کسانو عقیده دا ده چې «دیني ډموکریسي» یو غلط ترکیب دی چې خپلو کښې سمون نه لري. د هغوي له نظره دغه مفهوم له دوو مفهومونو جوړ دی چې د دغو تر مینځ هیڅ ډول اړیکه او رابطه نه شو موندی (میراحمدی، ۱۳۸۸: ۹) له همدې سببه دوي وایي چې دوه ارادې سره کښې نه جمع کیږي چې له یوې خوا د انسانانو اراده وي او له بلې خوا د الله اراده وي، یعنې یا به قانون د خلکو پر اساس جوړوې او یا به یې د خدای د وینا پر اساس. له بلې خوا کوم کسان چې دا باور لري چې دینی ډموکریسي امکان لري او دا ترکیب «دیني ډموکریسي» صحیح دی هغوي وایي که څه هم د ډموکریسۍ لومړۍ شکل د لویدیځ په افکارو کښې جوړ شو، خو باوري دي چې دا ترکیب (دیني ډموکریسي) په عامه معنا کښې په دین کښې او په خاصه معنا کښې په اسلام کښې کومه منعه لري او دین ډموکریسي سره کومه ټکره نه لري بلکښې اسلامي حکومت په خپله داسې حکومت دی چې د خلکو مشرتابه محور ګڼي، او دا باور لري چې ظلم او په زور حکومت سره جنګ چې په ډموکریسي کښې اصل ګرځیدلی دی هغه ذاتا په اسلامی کښې موجود دی بلکښې اسلام د ډیکټیټرشپ او ظلم په خلاف دی. ډموکریسي یوازې د یوې ټولنې د چلولو لپاره یوه طریقه ده چې په لویدیځ کښې یې سکولاریزم سره تړون خوړلی دی ګڼي نو د ډموکریسۍ په بیلا بیلو ډولونو کښې د دیني ډموکریسۍ رول په چا پټ نه دی او لاره ورته بنده نه ده. لکه څه رنګ چې همدا ډول یې عملي شوی دی او له نورو ډولونو زیات بریالی دی. دا بیلګه د اللهی مشروعیت پر

اساس او د خلکو د خپل حق په برخه لیک کښې د برخه اخستلو پر اساس دی. د دې بیلګې او نمونې په تعریف کښې دا ویلی شو چې دیني ډموکریسي یو بومی(د دې ځای خپله) بیلګه او نمونه ده چې د «یو کس د مشرۍ(یکه سالاري)» او «کمو کسانو د مشرۍ(اندک سالاري)» پر خلاف هم په کښې د خلکو ګډون او هم په کښې د دین مرجعیت په رسمیت ګنل کیږي او د هغوي «د نظام جوړښت» د داسې ارګانونو په لاس ترسره کیږي چې هغوي «محور دین او خلک ګروهنه» ده.

۲-۱- په ایران کښې اسلامي ډموکریسي

ډموکریسي په ایران کښې له انقلابه وړاندې هیڅ کله نه وه زیږیدلی او که وه نو نیمګړې زیږیدلې وه او بیا زر له منځه لاړه. په ایران کښې د ټولو پاچاهي حکومتونو په وخت کښې حکومت به په دې پسې و چې خپل طاقت زیات کړي او په تیرو دوو پیړیو کښې مونږ ګورو چې په دې ځمکه کښې تل د ډموکریسي لپاره او سیاسي پرمختګ لپاره د مذهبی او ملی ګوندونو په لاس هڅې او کوششونه شوي دي چې هغه ټول کوششونه ماتی سره مخامخ شوي دي. د دویم پهلوي په وخت کښې د دننني او بهرني زور له سببه د دې ډموکریسۍ یو ډیره کمزوې بلیګه چې محور یې نیشنلیزم و، خلکو ته وښودلې وه چې دغه بیلګه هم څه موده وروسته د پهلوي سلطنتي ډکټیټر په لاس له منځه لاړه. د اسلامی انقلاب له بریالۍ وروسته اسلام پالو ځینې نښو سره لکه اسلام، شیعه، امامت، فقاهت، ملت او نور... چې د سوشلیزم، لیبرالیزم او سلطنت په خلاف وو د یو داسې ټولنې انځور یې مخې ته کیښود چې د هغې آرمان یې درلود چې خلک دا هیواد د اللهي ارادې لاندې وچلوي او خلکو د همدې نظریې ډیر هرکلې وکړ. امام خمینی(ره) د جمهوري

اسلامي يوه بيلګه وړاندې کړه او د خلکو ټولټاکنې او نظر ته يې پريښوده چې همدا د امام خمینی(ره) د اسلامی ډموکريسي لپاره لومړۍ ګام و. يعنی په حقيت کښې اسلامي ډموکريسي په ايران کښې وزيږيده. په اسلام پالو ګوندونو کښې داسې کسان وو چې هغوي ډموکريسي د اسلام په خلاف ګڼله او ويل به يې اسلامی حکومت هغه دی چې يوازې د خدای حکم په کښې جاري شي او د خدای قانون په کښې قانون شي او د خلکو په دې کښې هيڅ کار نشته او د خلکو نظر په مشروعيت او قانونو جوړولو او هيواد چلولو کښې هيڅ ډول اثر نه لري. خو داسې حالاتو کښې امام خمینی(ره) يو ژور نظر سره چې د اسلامی له زده کړو يې اخستی وه يوه روښانه لاره پيدا کړه چې خلکو حاکميت د يو ديني مرجع د نظر لاندې وي چې د هغوي د وينا مطابق د حکومت دا طريقه د لويديځ له ډموکريسي ډيره لوړه او غوره ده. او همدا خبره يعنی اسلامی ډموکريسي په ۱۳۷۹کال کښې قدرمن لارښود خامنه ای د امام خمینی(ره) له خوا وکړه ويې فرمايل: «د امام خمینی(ره) په سياسي مکتب کښې، ډموکريسي د دين له متنه اخستې شوې ده او مونږ دا ډموکريسي له چانه قرض نه ده اخستی» (د امام خمینی(ره) د وفات پينځلسمې کليزې کښې د ستر لارښود خامنه ای بيان ۱۴/۰۳/۱۳۸۳)؛ نو دې ته په پام ديني ډموکريسي داسې مفهوم نه دی چې جمهوري اسلامي په مقابله کښې وي بلکښې د ستر لارښود په وينا کښې د دې بيا بيا استعمال په دې باندې دلالت کوي چې دا يوه پراخه معنا لري چې په نظام کښې د خلکو رول ترې څرګندېږي.

له بلې خوا اسلامي ډموکريسي د اصلاحاتو د وخت د بدلونونو لپاره يو ځواب ګڼلی شو. د اصلاحات په وخت کښې د اسلام پالو دننه چې کوم

بحثونه وو چې سياسي پراختيا او ټولنيز اصلاحات يې غوښتل، د هغه بحثونو نتيجه دا کيده چې له جمهوري اسلامی ايران يو نوې مطلب واخلي. د ستر لارښود له خوا د اسلامي ډموکريسۍ يو نوې نقشه، د ډموکريسي غوښتو لپاره چې هغه وخت يې ذهنونه پريشان وو، يو مزبوت ځواب و. ځکه چې د لوديځ غوندې ډموکريسي دا نه وه. له همدې سببه هغوي په سياسي فقه کښې د خلکو رول ته يو ځانګړې او اصلي ځای او مقام ورکړ، په دې هکله يې وفرمايل: «خلکو ته ګروهنه (ډموکريسي) په اسلامي نظام کښې، د اسلام په جرړو کښې موجود دي. کله چې مونږ دا وايو چې په اسلامي نظام کښې خلک نظر انداز نه کيږي نو مطلب يې دا دی چې په دې ټولټاکنو کښې د خلکو حق په خپله اسلام ورکړی دی، له همدې سببه زمونږ دا ډموکريسي چې ديني ډموکريسي ده يو فلسفه او مبنا لري. خلک ولی وټونه ورکړي او په ټول ټاکنو کښې شرکت وکړي، ولی د خلکو ووټ اعتبار او ارزښت ولري؟ دا يوازې د احساساتو او پوچې خبرې نه دي چې يواځې اعتبارات وي، بلکښې يو مزبوت اسلامي مبنا او بنسټ لري». (د امام خمينی(ره) په مزار کښې د ستر لارښود وينا، ۱۳۸۰/۰۳/۱٤).

دې ته په پام دا ډموکريسي که له اسلامي جمهوري راوتی وي او که د اصلاحاتو په هکله د بحث او خبرو نتيجه وي، نن دا يوه مبارکه ونه ده چې ميوه يې د اسلامي نظام د ښاريانو د حق خيال ساتل دي.

۳. د ستر لارښود له نظره په اسلامي ډموکريسۍ کښې د خلکو رول

اسلامي ډموکريسۍ ته له دوو اړخو کتنه کولی شو؛ اول، اسلامي ډموکريسي معنا له دوو څيزونو راوتې ده يو ډموکريسي او بل دين يا

اسلام، یعنی په دویمه پیړۍ کښې د مسلمانانو ډموکریسي غوښتو یو ځواب اسلامي ډموکریسي ده. دویمه دا چې اسلامی ډموکریسي یو اصیل مفهوم لري او داسې هویت لري چې له بل مفهومه یې نه دی اخستی بلکښې په خپل ځان ولاړ دی. له لومړۍ لیدتوګه کښې یو اصل چې د دینی ډموکریسي لاندې راشي نشته، بلکښې دا مفهوم د ډموکریسي غوښتو د مطالباتو نتیجه ده. او په دې مطالبې چې ګورو چې کله دین د دوي د غوښتو ځواب نه شي ورکولی نو دې ته په پام دا هڅه کیږي چې دوه څیزونه سره یوځای کړو یعنی «دین او ډموکریسي» چې دواړه په یوځای شي نو هم د اسلام پالو د مطالباتو ځواب ورکړي او هم د ډموکریسي غوښتو د مطالباتو ځواب ورکړي. نو دې ته په پام اسلامي ډموکریسي یو داسې مفهوم شو چې له دوو څیزونو جوړ دی هم ډموکریسي او هم دین، نو باید د زمانې او وخت مطابق ټول ضرورتونه پوره کړي که هغه نظري وي او که عملي او د یو نوي بیلګې په توګه خلکو ته وښودل شي.

له دویم نظره، چې د ستر لارښود هم دا نظریه ده اسلامي ډموکریسي «یو اصلی او یو مفهوم دی چې په خپله هویت لري» چې له پیړیو پیړیو وړاندې په اسلامي زده کړو کښې پټ پروت و. او اوس ظهور ته ورسیدلی دی. له دې نظره «دیني ډموکریسي د دین او د ډموکریسۍ جمعه نه ده، بلکښې یو واحد حقیقت دی چې به اسلامي نظام کښې موجود دي. ځکه چې که یو نظام غواړي د دین پر مبنا عمل وکړي نو بې له خلکو نه کیږي او له بلې خوا حقیقي ډموکریسي هم بې له دینه امکان نه لري». (د ټولو هیواد د محصلانو د اسلامی انجمنونو د اتحادیې د عمومي شورا د غړو په لیدلو کښې د ستر لارښود وینا ۱۳۷۰/۱۰/۱۳)

دیني ډموکریسي دوه څیزونه دي؛ یعنی داسې نه ده چې مونږ ډموکریسي له لویدیځه اخستې وي او دین سره مو ترڅنګ وي چې یوه بشپړه ټولګه تریې جوړه کړو، بلکښې په خپله دا ډموکریسي هم په دین کښې ده. ډموکریسي هم دوه سره لري چې په یوه بله ناسته کښې مې دا خبرې مشرانو ته کړې وې، د ډموکریسۍ یو سر دا دی چې دا یو نظام د خلکو د ټولټاکنو په نتیجه کښې جوړ شي یعنې خلک دا نظام په خپله خوښ کړي او د ډموکریسۍ دویم سر دا دی چې له دې وروسته چې تاسو او مونږ یې وټاکلو او انتخاب یې کړو، نو مونږ اوس د هغوي د دې کار په بدل ذمه واري لرو. ځینې دوستانو دغه روایتونه له نهج البلاغې او نورو کتابونو غونډ کړي دي مه په خلکو باندې دا احسان کوئ چې مونږ ستاسو لپاره دا کارونه وکړل یا به یې درله وکړو، او مه به هغه څه کښې له حده تیریږئ چې د خلکو لپاره مو کړي دي» (د نظام کارمندانو سره په لیدنه کښې د ستر لارښود بیانات ۱۳۷۹/۰۲/۲۳».

دیني ډموکریسي یو حقیقت دی. ځینې عالمانو او پوهانو فکر کړی دی چې دیني ډموکریسي په خپله یو بل سره ټکره لرونکی مفهوم دی؛ د دوي په قوم دا یو متناقضه قضیه ده، نه داسې نه ده، بلکښې دا یوه نیغه، عملي او صحیح قضیه ده. مونږ دیني ډموکریسي بیان کړې ده، د دیني ډموکریسۍ بنیادونه مو مزبوت کړي او وربانديې مو عمل کړی دی دا څه رنګ یو متناقضه نظریه کیدی شي چې درې ویشت کاله وشو چې ایجاد شوی او واقع شوې ده؟» (د تحکیم وحدت دفتر غونډې ته په پیغام کښې د ستر لارښود خبرې، ۱۳۸۱/۰۵/۲۷).

د هغوي په فکر کښې ډموکریسي یو داسې لودیځي مفهوم نه دی چې لیبرالیزم په کښې وي بلکښې هره ډله د خپلې ټولنې ارزښتونو ته په پام

او خپل ارزښتي نظام ته په پام کولی شي خپله یوه کورنۍ ډموکریسي جوړه کړي. اسلامي ډموکریسي هم «یو کورنۍ بیلګه ده چې له اسلامي ټولینز نظامه راوتې ده» چې یو تاریخي اصالت لري. اسلامي تعلیمات په خپله د هر ټول ظلم زیاتي او ډیکټیټرشپ په خلاف دی او په خپل برخلیک باندې د خلکو حکم مني. «دین، حکومت لپاره د خلکو په وړاندې یو رښتیا مسول ګڼي دین ظلم او ډکټیټرشپ له یوه حاکمه هم نه قبلوي که هر رنګه حالات وي» (جهان اسلام چالش ها و فرصت ها سمینار کښې د ستر لارښود وینا، ۱۳۸۲/۱۰/۲). د هغوي په تفکر کښې داسې حکمراني له دې سببه چې اسلامي ده نو ډموکریټیک هم ده، ځکه چې ډموکریټک شونه یې له دې معنا ده چې د بشر ساتل او نظم چلول یې په خپله ضمانت کړي دي. له همدې سببه اسلامي ډموکریسي د لویدځ په مقابله کښې یو پرمختللې مفهوم دی. هغوي په اسلامي ډموکریسي کښې د لودیځ په مقابله کښې خلکو رول په داسې طریقه بیان کړ چې ویې فرمایل: « د دیني ډموکریسي بنیاد او بنسټ د لویدځ ډموکریسي سره بیل دی. دیني ډموکریسي چې زمونږ د ټولټاکنو مبنا او بنسټ دی هغه له دې راوتلی دی چې «د انسان حق او الهی دنده ده» یواځې یو قرار داد نه دی. ټول انسانان د خپل حق او برخلیک د انتخاب حق لري، او په جمهوري اسلامي ټولټاکنې او انتخابات کولو معنا همدا ده. او دا خبره ډیره پرمختللې، معنا او بنسټ لرونکښې ده له هغه ډموکریسۍ چې د لیبرل په بنسټ په لویدیځ کښې موجوده ده.» (د حضرت امام خمینی(ره) د مړینه په پینځلسمې کلیزې کښې د ستر لارښود وینا، ۱۳۸٤/۰۳/۱٤)

په دې نظریه کښې په ډموکریسي کښې دوه اصلی اساسه او بنسټه دي چې د لویدیځ په ډموکریسۍ کښې نشته: د چارو په چلولو کښې ګډون کول د خلکو حق دی ځکه چې د انسان شوني مقام ته نږدی دی ځکه چې لومړۍ خبره خو دا ده چې په اصل کښې د انسان انسان شونه انسان دا حق ورکوي چې په خپل برخلیک کښې حق لري او دا حق ورته د خدای له خوا ورکړی شوی دی او هیڅوک یې تړې اخستی نه شي او نور خلک هم دا دعوا نه شی کولی چې مونږ هغه ته د سیاست په برخه لیک کښې دا حق ورکړ، او دا هماغه کار دی چې لویدیځ یې دعوا کوي. دویمه دا چې له دې پرته په اسلامي تعلیماتو کښې، چې د اسلامی ډموکریسۍ بنسټ او بنیاد جوړي، په خپل برخلیک کښې ګډون کول نه یواځې دا چې د هغه خپل حق دی بلکښې د هغه شرعی ذمه واري ده او همدرنګ په حساسو چارو او د حاکمانو په عملونو او کارونو کښې ګډون کول هم د هغه حق بلکښې شرعی ذمه ده.

٤. امر بالمعروف او نهی عن المنکر، د حکومت په چلوونکیو باندې نظر د ټولو دنده

په ټولنه کښې او ګډ ژوند کول د هر انسان د انسانیت غوښته ده؛ د انسان دا دنده ده چې کوم حالات او مسایل له هغه ګیر چاپیر راځي باید د هغې په باره کښې حساسیت وښایي. له همدې سببه د ډموکریسي او په حکومت کښې د خلکو د رول یو بل دلیل دا دی چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر له مخې د خلکو دا دنده چې هغوي د خپلو حاکمانو د کړو وړو ذمه دار دي او باید په هغوي نظارت وکړي او همدا اسلامي ډموکریسي ده، ځکه چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر د دین له ټولو اساسي رکن دی. همدا قاعده مونږ ته دا وایي چې

په خپل برخليک کښې او حاکميت کښې خلک څه رول لري. او همدا خبره د ديني ډموکريسۍ په بنسټ کښې ايخې شوې ده چې يو ډول ضمانت دی چې خلک په حاکميت کښې دخالت لري. د اسلام د ټولينزو تعليماتو يو مهم تعليم امر بالمعروف او نهی عن المنکر دی چې د ټولنې په سياست کښې د عامو خلکو په نظارت او کانټرول دلالت کوي او همدارنګ تړې دا خبره هم راوځي چې عام خلک بايد په سياست کښې او ټولنيزو مسلو کښې ګډون وکړي. که چرې عامو خلکو د ټولنې په سياست هيڅ کوم حق نه درلودی نو هيڅ کله به دا خطرناکه او مهمه دنده (د ټولو خلکو په ټولو خلکو نظارت) نه ورپه غاړه کيده. نو خلک د دې حکم پر بنياد ذمه وار دي چې د ټولنې په چارو کښې سياسي ګډون وکړي (مقيمی، ۱۳۸۸: ۲۳۹) محقق نائينی د دې لپاره چې د خلکو د سياسي حق مشروعيت ثابت کړي، د دې په ضمن کښې چې د اسلامي حکومت شورايی شونه ده او خلک مالیات ورکوي، د دغه اصل بلې برخې «نهی عن المنکر» ته اشاره کوي چې له دې د خلکو د سياسي نظارت حق راوځي، فرمايي: «له دې پرته چې مخکښې مو اشاره وکړه ې اسلامي حکومت د شورا پر اساس دی، عالم خلک له همدې سببه او هم له دې سببه چې د خپلو مصلحتونو لپاره مالیات ورکوي نو دا حق لري چې نظارت وکړي او هر ډول تيري او زياتي مخ نيوه وکړي او نهی عن المنکر له مخې په هره ممکنه طريقه چې وي دا کار ورباندې واجبيږي. او دا کار هاله ممکن دی چې خلک په انتخاب کښې حق ولري او ټولټاکنه کښې ګډون وکړي» (نائينی، ۱۳۷۸: ۷۷-۷۸) د سورة آل عمران په ۱۰٤ آيت کښې، امر بالمعروف او نهی عن المنکر په اسلامي ډموکريسۍ کښې ايخی شوی دی. په دې آيت کښې لولو: او بايد ستاسو

تر مینځ یوه ډله (خلک) نیکۍ او ښو چارو ته وبلي او له بدو چارو یې منعې کړي او هم دوي فلاح موندونکي دي).

په حقیقت کښې په دې آیت کښې له مومنانو غوښتی شوي دي چې د یوې ډلې په شکل کښې دغه جمله عملي کړي یعنې ټول او عمومي نظارت وشي، او دا یوه ډله شي؛ نو دې ته په پام د شورا تعلیم او له بلې خوا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر تعلیم (په اسلام کښې په پرې کړو او ارادو کښې عام ګډون) ښایي. ستر لارښود فرمایي: «د امر بالمعروف موضوع خو څه نوې موضوع نه دی. دا د مسلمانانو همیشنۍ دنده ده. اسلامي ټولنه د دغې ذمه وارو له سببه ژوندۍ پاتی کیدی شي. د اسلامي قوم پاتی کیدل په امر بالمعروف او نهی المنکر له سه سببه دي؛ د اسلام حکومت ولاړتیا او د مشرانو باقي پاتی کیدل په دې باندې دي چې به ټولنه کښې امر بالمعروف او نهی المنکر وشي. امر بالمعروف یواځې دا نه دی چې مونږ یواځې د دې لپاره چې ذمه مو پوره شي دوه ټکي ووایو. هغه هم د داسې منکراتو په وړاندې چې کیدی شي له ټولو مهم منکرات او ګناهونه وي کله چې خدای پاک د یوې ټولنې دا دنده جوړوي چې هر هر کس یې باید امر بالمعروف او نهی المنکر وکړي نو د دې څه معنا ده؟ دا کله ممکنه کیدی شي چې د یو قوم هر یو غړی امر بالمعروف او نهی المنکر وکولی شي؟ دا هاله کیدی شي چې ټول کسان د هیواد په مسلو کښې حضور پیدا کړي؛ د ټولو کسانو ټولنې سره کار وي؛ ټول ورته اهمیت ورکړي؛ ټول خبر واوسي؛ او ټول ښه او بد کارونه وپیژني. او د دې مطلب یو عمومي نظارت دی؛ یو عمومي حضور، یو عمومي همکاري؛ په ټولو کښې یو لوړ معرفت او پوهه، دې ته امر بالمعروف او نهی المنکر ویلي شي»

(عالمانو سره په کتنه کښې د ستر لارښود بیان، ۱۳۷۱/۰۵/۰۷) هغه بل موضوع چې ستر لارښود له نظره په اسلامي ډموکریسۍ کښې د خلکو رول ښایی «د انسان کرامت ته پاملرنه» ده. د لویدیځ د بشري حقونو د غږونو پر خلاف، د انسان کرامت د پیغمبر اکرم(ص) له زمانې شورو شوی دی له کله راهسې د اسلام د مبین دین تبلیغ شورو دی نو ورسره سم د دین تعلیمات او زده کړې هم شورو دي او پاک الله هغه په خپل پاک کتاب کښې په څرګنده بیان کړي دي: وَ لَقَدْ کَرَّمْنا بَنِي آدَمَ وَ حَمَلْناهُمْ فِي الْبَرِّ وَ الْبَحْرِ وَ رَزَقْناهُمْ مِنَ الطَّیِّباتِ وَ فَضَّلْناهُمْ عَلی کَثیرٍ مِمَّنْ خَلَقْنا تَفْضیلاً (اسراء/۷۰)؛ او بیشکه چې مونږ بنی آدم ته ډیر عزت ورکړ او هغوي مو په وچه او دریاب کښې (په کشتۍ او څورلۍ) سپاره کړل او له پاکو څیزونو مو ورته روزي ورکړه او هغوي ته مو په خپلو ډیرو مخلوقاتو پوره فضلیت ورکړ. د «کرامت» په تعریف کښې د آیت االله جوادی آملی بیان جامع او بشپړ ښکاري، هغوي په دې هکله فرمایي: «کرامت یعنې له پستې او سپکاوي خلاصیدل. کریم له لوی او عظیم او غټ په معنا نه دی. کریم یوه داسې معنا لري چې کیدی شي مونږ په پښتو کښې د هغې مطلب یو ټکي سره سم نه شو بیانولی باید څو ټکي یو ځای کړو چې معنا یې وکړو. هغه روح چې له هرې پستۍ پاک وي هغه ته کریم وایي. (یداالله پور، ۱۳۸۹) کله چې مونږ د انسان لپاره کرامت ومنل نو د انسان لپاره مو ځانګړي حقونه ومنل او دا حقوق انسان ته له هغه حقونه ګټه اخستل ورکوي. انسان یو داسې موجود دی چې د ځینې ځانګړتیاو، لکه عقل او روح او نور...، د لرولو په سبب ورباندې خدای پاک خاص نظر کړی او کرامت یې ورکړی دی او د همدې کرامت په سبب تر څو چې هغه انسان دی نو دغه حقونه لري او دغه حقونه مونږ د اسلامي ډموکریسۍ په نظام کښې په اساسی

قانون کښې لیدلی شو داسې حقونه لکه د ټولو انسانانو په خپلو کښې برابرۍ حق، ټولنیز او کلتوري حقونه، قضایي او سیاسي حقونه، په فردي او ټولنیزو چارو کښې د آزادۍ حق او نور. دا ټول په دې دلالت کوي چې له دې سببه چې د انسان وجود له دې سببه چې کرامت لري نو د هغه اراده او غوښته د الله پاک د ارادې لاندې ده او په نورو څیزونو وړاندې ده. ستر لارښود خامنه ای په همدې موضوع باندې علم لري نو ځکه خو فرمایي: «په دینی ډموکریسي کښې په الله په شریعت کښې دا موضوع راغلی ده چې خلک باید هغه حاکم وغواړي او ورته قبول وي نو هاله هغه حاکم حق لري چې په خلکو باندې حکومت وکړي. ای هغه کسه چې مسلمان یې! ولې د خلکو ووټ او رای اعتبار لري؟ وایه ځکه چې مسلمان یم ځکه چې په اسلام عقیده لرم او ځکه چې د اسلام په زده کړو کښې د خلکو وټ او رای د انسان د کرامت پر اساس اعتبار لري» (د قزوین معلمانو او محصلانو سره په ملاقات کښې د امام خامنه ای وینا، ۱۳۸۲/۰۹/۲۶) نو دې ته په پام په اسلام باندې داسې عقیده لرل په دیني ډموکریسۍ کښې مونږ دې ته اړباسي چې د خلکو نظر هم قبول کړو ځکه چې اسلام مو قبول کړی دی.

کله چې مونږ د امام خامنه ای په خبرو کښې ځیر شو نو دې مطلب ته رسیږو چې دیني ډموکریسي په دې معنا ده چې خلکو د حکومت په جوړولو او حاکم او د نظام د مسولینو په ټاکلو کښې رول او اثر لري. او د دې مطلب دا دی چې په اسلامي ډموکریسي کښې خلک نظام ته مشروعیت ورکوي. هغوي په ځینې عبارتونو کښې د خلکو په حکومت کښې د رول په هکله داسې فرمایي: په اسلام کښې د خلکو حکومت شونه په دوو معنو ده: یوه ده چې خلک «د حکومت په چلولو او

جوړولو کښې رول لري» او حاکم هغوي جوړي او کیدی شي یو حکومتي رژیم او سیاسي رول ولري. دویمه دا چې اسلامی حکومت د خلکو په خدمت کښې نه د ځینې خاصو او ټاکلی کسانو په خدمت کښې. اسلام په دواړو معنو سره ډموکریټیک دی (یعنی د خلکو په لاس کښې دی او د خلکو په ګټه دی). خو تر څو چې لومړۍ معنا ترلاسه نه شي او خلک په حکومت جوړلو کښې رول ونه لري نو دا نه شو ویلی چې دا د خلکو حکومت دی او د خلکو په خدمت کښې دی. او دا دعوا کول چې یو حکومت د خلکو حکومت دی بې له دې چې خلکو سره نیغ په نیغه اړیکه ولري او د هغوي د وټولو او رای مطابق وي، نو دا دعوا د قبلیدو نه ده. او بیا دا نه شي ثابتیدی چې دا د خلکو حکومت دی، ځکه چې ډیر استبدادي حکومتونه داسې دي چې ځان یې د خلکو حکومت ګڼي» (د تهران د جمعې د لمانځه په خطبو کښې د امام خامنه ای وینا ۵/۱٤ /۱۳٦۲). له همدې سببه دیني ډموکریسي دوه مخه لري یو مخ یې په د حکومت په جوړولو او د مسولانو په ټاکلو کښې د خلکو رول دی او بل مخ یې د خلکو د ستونزو هوارول دي چې پر همدې اساس مسولان باید د خلکو مشکلاتو او ستونزو ته مخ کړي او هغه حل کړي» (د هیواد د فرمانداراانو په غونډه کښې د امام خامنه ای بیان، ۱۳۷۹/۸/۳۰؛ سعیدی، ۱۳۹۲: ۱٦۹).

۵. په اسلامي ډموکریسۍ کښې جوړ شوو ارګانونو کښې د خلکو رول

۵-۱- د ټولټاکنو ارګان (کمیټي)

په اسلامي ډموکریسۍ کښې د خلکو ګډون کښې او د هغوي په لاس د ارګان یا کمیټۍ جوړیدل چې صفا ستره طریقې سره د خلکو ګډون ته امنیت ورکړي، دا خبره په دې څیړنې کښې قبوله شوې ده. په ډموکریسۍ کښې د ټولټاکنو د اعتبار په باب ډیر زیات اختلافونه دي. ځینې متفکران په دې باور دي چې به ټولټاکنې کښې هغه څه په لاس نه راځي چې کوم مطلوب دي ځکه چې کله عام خلکو ته خبره لاس کښې ورکړی شي چې هغوي نه خبرتیا لري او نه د خپلو استازو او نمایندګانو په وړتیا او صلاحیت باندې پوه دي بلکښې د هغه وخت د ګرمو تبلیغاتو تر اغیز لاندې راشي متاثر شي او یوه غلطه فیصله وکړي او کیدی شي همدې فیصلې او غلط وټ او رای سره هیواد د تباهۍ په لور بوځي. د دوي په مقابله کښې ځینې نور کسان دي چې هغوي په همدې ټولټاکنو پسې دي ځکه چې دا له ډموکریسي نه جدا کیدونکي برخه ګڼي او د عامو خلکو د ارادې څرګندولو لپاره بې له ټولټاکنو بله کومه لاره نه ویني. د تاریخ له نظره په تیرو وختونو کښې ټولټاکنو چې په ډموکریسۍ که کوم رول لرلی دی او د سیاسي ګوندونو په ګډون سره ترسره شوي دي نو دا ټولټاکنې د ډموکریسۍ یو اصل رکن ګرځیدلی دی، او دا خبره د دویم نظر تاییدوونکښې ده. ټولټاکنې په بیله توګه په دریم پراو کښې نه یوازې دا چې د ډموکریسي ژوندې کوونکښې ده بلکښې د ډکټیټرشپ د مرګ وسیله هم ده.(هانتینګټون، ۱۳۷۲: ۱۲۰)

ټولټاکنې د یو ارګان په توګه، به عمل کښې د ټولنې او سیاسي نظام د ژوندۍ کولو کار ورکوي؛ د قواعدو او کړچارو یوه ټولګه او مجموعه د سیاسي ګوندونو د کارکوونکو لپاره خاص قانونونه جوړوي، چې د ځینو برخو مشروعیت او د ځینو هویت او څه رنګوالی ښایي او په دې

طریقې سیاسي ژوند ته بقا او ادامه ورکوي؛ ځکه چې دغه قواعد سیاسی رابطې او معاملات سموي، د سیاسي کړو وړو هدایت کوي او خلکو ټمو ته بقا ورکوي. سیاسي ارګان کولی شي چې د ټولټاکنو طریقې او د هغې سیاسي پایلې مزبوتې او په چوکاټ کښې راولي؛ په نورو ټکو، د بیلا بیلو کسانو ټولنیزې فیصلې د سیاست د په زغره کښې بیانوي او د ټولنې غوښتو ته دلیل راوړي او لاره یې بیانوي او د دې په مقابله کښې د کسانو تر مینځ اعتماد هم پیدا کوي؛ انتخابات د یو ټولنیز ارګان په توګه، د انسانان د بیلا بیلو ګوندونو تر مینځ د هغوي چارو ته نظم ورکوي او ټاکلي شوي غونډو او اجتماعاتو ته یې لارښوونه کوي. د اتخاباتو ارګان دوم، عمومیت، پاتې والې، نظلم لري او د ټولنې د کسانو کارونه کانټرول کوي او د همدې ارګان به وسیله د ټولنې اساسی ضرورتونه او ګروهنې پوره کیږي. ټولټاکنې د وخت په اوږدو کښې دوه مهمې دندې لري، یو «د سیاسي طاقت منظم کول او خاص کول» او دویم «د ډموکریسۍ د جاری کیدو ضمانت ورکول». همدارنګ د ټولټاکنو ارګان د قاعدو په ټاکلو سره او قانوني کړچار سره مونږ ته نظم ښیي او د فیصلو او پرې کړو ترتیب ښایي؛ نو دې ته په پام دا دعوا کولی شو چې د ګډو ټولټاکنو چې ټول په کښې سره مقابله وکړې شي، لارې چارې مشخص کړی شوي دي او همدا ارګان د ډموکریسۍ د پرمختږ لپاره یو ابزار دی. او همدا د ډموکریسۍ د مزبوتیا او ضمانت لپاره هم ابزار دی. مطلب دا چې د مثال په توګه چې آزادي یوه آیډیا نه ده بلکښې یوه تجربه هم ده او د آزادۍ یو عملي نمونه همدا ټولټاکنې دي. او همدې ټولټاکنو کښې دننه څو آزادۍ نورې ښکاري لکه د فکر آزادي، د ارادې او پرې کړې آزادي او په عمل کښې آزادي او همداسې نور... د حضرت آیت االله خامنه ای د مشرۍ په وخت کښې،

تقریبا هر کال یو ځل ټولټاکنې ترسره شوي دي. ستر لارښود امام خامنه ای په ایران کښې د اسلامي ډموکریسۍ د ممکن شوني لپاره همدا منظمې ټولټاکنې یادې کړي دي او فرمایلي یې دي: «په ایران کښې حقیقي ډموکریسي ده، له انقلابه یو، دوه ویشت کاله وروسته تقریبا هر کال په هیواد کښې یو ځل ټولټاکنې ترسره شوي دي او خلکو د هیواد په ټولو چارو کښې لاس لرلی دی» (د قم خلکو سره په ملاقات کښې د امام خامنه وینا، ۱۳۷۹/۱۰/۱۹) همدارنګ هغوي په یو بل ځای کښې ټولټاکنې د دیني ډموکریسۍ بنسټ او حقیقي او اثر لرونی ځیز ښودی دی او فرمایلي یې دي: «زمونږ په هیواد کښې ټولټاکنې یو نمایشي حرکت نه دی چې یواځې نورو ته د ښوولو لپاره وي، بلکښې زمونږ د نظام بنسټ همدا ټولټاکنې دي. یو بنسټ او اصل یې ټولټاکنې دي، ډموکریسي یواځې خبرو سره نه کیږي؛ اسلامي ډموکریسي هاله ثابتیږي چې خلک په ټولټاکنو کښې ګډون وکړي، حاضر شي، خپله اراده څرګنده کړي او یو بل سره فکري او عقلاني او عاطفي اړیکې ولري چې ورسره هیواد کښې بدلون راشي؛ او دا کار بې له یو صحیح او د ټولو په ګډه پراخو ټولټاکنو بغیر ممکن نه دی» (د امام رضا علیه السلام د حرم زائرنو په ملاقات کښې د امام خامنه ای وینا، ۱۳۸۸/۱/۱).

هغوي د امام خمینی(ره) په نړۍ په حکومت کښې د څلورو ځیزونو چې یو تړې خلک وو ذکر کاوه چې په کښې په ټولټاکنو کښې د خلکو رول په څرګنده بیان شوی دی هغه فرمایي: هغه دوم ځیز چې امام خمینی(ره) ورته ډیره پاملرنه کوله هغه «خلک» وو. تقریبا د نړۍ د حکومت په ټولو نظامونو کښې د خلکو په هکله خبرې کیږي او هیڅوک دا نه وایي چې زه د خلکو د خوښې پر خلاف کار کوم، تر دې چې د

رژیم په حکومت کښې او په ظلم راغلی سلطنتي ارثي حکومتونو کښې هم هیڅوک دا نه وایي چې زه غواړم د خلکو د خوښې پر خلاف عمل وکړم؛ نو دې ته په پام خلکو ته د ګروهنې دعوا شته؛ خو مهمه دا ده چې په کوم کښې خلکو ته رول ورکول کیږي. کله چې به امام خمینی(ره) د خلکو په شتون باندې ټینګار کاوه نو یوازې ټکو او لفظونو سره به یې لوبې نه کولی بلکښې په حقیقی معنې سره به یې په اسلامي نظام کښې د خلکو د رول باور درلود او خلکو ته په یې څو ځایونو کښې پاملرنه کوله. لومړۍ ځای: دا نظام د خلکو په ټولټاکنو او وټونو باندې ولاړ دی. په خلکو باندې د دې نظام قایمیدل یو هغه ډګر دی چې خلک په کښې حقیقي رول لرلی شي. د خلکو حاضریدل او په خلکو باندې باور باید همدې ډګر کښې ځان څرګند کړي. د جمهوري اسلامي ایران په اساسي قانون کښې او د امام په تعلیماتو او لارښوونو کښې، تل په دې خبرې ټینګار شوی دی چې دا نظام د خلکو له رای او غوښتی پرته هیڅ هم نه دی. باید د خلکو په رای او ټاکنې باندې یې تکیه وهلې وي، کوم کس چې مشر جوړیږي باید د خلکو په خوښه او خلکو په ارادې سره وي او دې طریقې سره دا نظام حرکت کولی شي. باید د خلکو د ارادې مطابق نظام حرکت وکړي. د ولس مشر ټولټاکنې، د اسلامي مشورتي جرګې د استازو ټولټاکنې د شورا د غړو ټولټاکنې او نورې د خلکو د ارادې او غوښتې مظهر دي. دا د خلکو د ځان ښوونې یو ډګر دی. له همدې سببه امام خمینی هم په خپل ژوند کې په دې خبرې ټینګ ولاړ و او په خپله وصیت نامه کې یې هم دا لیکلي دي او خلکو او مسولانو ته یې سپارښتنه وکړه. په حقیقت کې د د ولس مشر په ټولټاکنو، د اسلامي مشورتي جرګې د استازو په ټولټاکنو د شورا د غړو په ټولټاکنو کې د خلکو حاضریدل، دا هم د خلکو حق دی هم د هغوي

ذمه او دنده ده. په اسلامی نظام کې خلکو معین کوونکي او ټاکونکي دي. او دا خبره هم له اسلامه راوتلی ده. هغه اساسی مسله چې ما په هغې باندې په ځلونو ټینګار کړی دی چې اسلام ته ګروهنه په اسلامی نظام کې له خلکو ګروهنې او ډموکریسۍ جدا نه ده. خلکو ته ګروهنه به اسلامی نظام کې دا اسلامي جرړه لري. کله چې مونږ وایي «اسلامی نظام» نو دا امکان نه لري چې له خلکو مخ واړول شي. په ټولټاکنو کې د خلکو د ګډون حق، د دې اساس په خپله اسلام دی؛ له همدې سببه زمونږ ډموکریسي چې اسلامي ډموکریسي ده دا یوه مبنا او اساس لري. ولی باید خلک وټونه ورکړي؟ ولی باید د خلکو پر احساساتو او پوچو او ډډو څیزونو ولاړه وي بلکې دا پر یو مزبوت اسلامی بنسټ او مبنا ولاړه ده. نو یو له هغه څیزونو چې امام هم وربانديې ټینګار درلود او هغه یې د اسلامی نظام په جوړښت کې کیښود او د تل لپاره پاتی شو هغه په ټولټاکنو کې د خلکو ګډون دی چې خلک په خپله خپل مسولین خوښ کړي او دا خبره د خلکو ارادې او غوښتی ته ورګرځي. دویم ډګر د خلکو په وړاندې د مسولینو د ذمې او دندې دی. کله چې مونږ وایو: «خلک» د دې معنا دا نه ده چې خلک دې راشي وټ دې ورکړي یو مسول دې وټاکي او د هغه مسول د خلکو په وړاندې کومه دنده او ذمه نه وی؛ او کارونه یواځې د دې لپاره وکړي چې که بیا وټونو ته ودرید نو خلک ورته بیا وټ ورکړي؛ مسله دا نه ده. په اسلام کې او په جمهوري اسلامی نظام کې، د یو مسول د جوړیدو فلسفه او حمکت دا دی چې د خلکو لپاره دې کار وکړي. مسولان د خلکو خدمت کوونکي د خلکو امانت دار او پور وړي دي. خلک محور دي. دریم ډګر د خلکو له فکر او عمله د ملت په ګټه د هیواد د پرمختګ لپاره کار اخستل دي؛ یعنی د استعدادنو غوړول او په انتظار کې نه پریښودل. امام په

دې نظام کې دا فکر او پاملرنه هم واچوله چې د دې هیواد د ځوانانو استعدادونه توانمن شي. څلورم ډګر دا دی چې خلک خبرتیا ولري. په خپله امام خمینی په بودیوالي کې له هرې موقعې ګټه اخستې ده د دې لپاره چې خلکو ته حقیقتونه بیان کړي. (د ټولو هیواد د قوماندانانو په لیدلو کې د بیان، ۱۳۷۹/۸/۳۰)

هغوي په دې باور او عقیده وو چې په ټولټاکنو کې د خلکو پراخ ګډون یوائې د هغوي د هیواد په چارو کې رول نه دی بلکې له زیات د هغوي د سیاسي بلوغ نښه ده چې غواړي په خپله رول ولري او په دې طریقه د خپلې ډموکریسۍ په خپله ساتنه وکړي. کوم څه چې تر ننه د ایران ملت په ټولټاکنو کې له ګډونه په لاس راوړي دي هغه یوائې دا نه دي چې د هیواد په چلولو او د نوي کسانو په ټاکلو کې رول لرلی دی بلکې له دې پرته د هغي د سیاسي پوخوالي او سیاسي بلوغ نښه ده چې دې طریقې سره د ملت حکمت عقلانیت ښیي چې د نړۍ په عمومي فکر کې د دې هیواد رتبه ورسره نوره هم وچتیږي» (د یوولسمې دورې د ولس مشر د تنفیذ د حکم متن، ۱۳۹۲/۰۵/۱۲)

له بلې خوا کوم څیز چې د امام خامنه ای په فکر کې دی او د اسلامي ډموکریسی په چوکاټ کې دننه، له نورو ډموکریسي نظامونو دا نظام لوړوي هغه دا دی چې خلک په ټولټاکنو کې ګډون خپله شرعي ذمه ګڼي. د کوم څیز چې لویدیځ دعوا کوي هغه دا دی چې هغوي د خلکو لپاره په سیاست کې د ګډون حق راخستی دی. اوس له دې تیریږو چې دا دعوا یې صحیح ده که نه، که مونږ دا فرض کړو چې صحیح ده بیا هم دینی ډموکریسي له هغه ډموکریسو ډیره غوره ده چې ځکه چې دیني ډموکریسي دا دعوا نه لري چې مونږ خلکو لپاره دا حق راخستی

دی بلکې دین دا وایي چې د انسان د انسانیت حق همدا دی چې خپل برخلیک کې برخه واخلي او هیڅ کس دا حق نه لري چې له هغوي دا حق واخلي او دا باور لري چې نه یې تړې څوک اخستی شي نو د بیا بیرته ورکولو کومه لاره په کې نه پاتی کیږي. بلکې له دې زیاته خبره دا ده چې خلک نه یوازې دا چې د وټ ورکولو حق لري بلکې د هر انسان لپاره دا شرعي او الهی ذمه واري ده چې په ټولټاکنو کې ګډون وکړي لکه څه رنګ چې امام خامنه ای فرمایي: «ټولټاکنې د خلکو حق دی، د خلکو ذمه ده، هم باید دغه استعمال کړي او باید خپله دنده په صحیح طریقې ترسره کړي». (د ټولټاکنو د ارګان د کارمندانو په لیدنه کې د هغوي وینا، ۱۳۹۲/۰۲/۱۶) او همدا خبره ده چې د خلکو د ګډون ضماتن ورکوي او مونږ تل ګورو چې په ټولټاکنو کې د خلکو شمېر نور هم زیاتیږي او کله کله خو د لویدیځ دوه برابره خلک په ټولټاکنو کې ګډون کوي.

دې ته په پام، ټولټاکنې د ډموکریسۍ عملي نښه ده او په کې د ګډون مقدار د هغه د پرتله کولو تله ده. د انقلاب د ستر لارښود یوه اصلي غم دا دی چې خلک په بیلا بیلو ټولټاکنو کې ګډون وکړي بلکې د هغوي له نظره دا خبره زیاته مهمه ده له دې چې یو زیات با صلاحیته کس وټاکي، په دې هکله فرمایي: «ما په ځلونو دا خبره کړې ده چې اصل دا دی چې خلک په ټولټاکنو کې ګډون وکړي او د نښه کس له ټاکلو هم دغه خبره مهمه ده؛ که څه هم د نښه کس ټاکل هم ډیر اهمیت لري» (د جیرف د خلکو په لیدنه کې، ۱۳۸٤/۰۲/۱۷)؛ له همدې سببه هغوي په خپله مشرۍ کې چې ډیر لوړ سیاسي مقام دی، د خلکو لپاره د دې حق ساتنه کړې ده که څه هم ډیرې ستونزې او مشکلات او د دښمن

چلونو او زورونو سره مخ شوی دی چې غوښتل يې په ټولټاکنو او ديني ډموکريسۍ کې خنډ شي خو بيا يې هم دا اجازت نه دی ورکړی چې يوه ورځ دا مهم کار له خپل ټاکلي شوي وخته وروسته شي.

۲-۵- خلک او د پارليمان د غړو ارګان

د پارليمان د غړو ټاکل هغه ډګر دی د چې خلک په کې خپل ګډون ښودلی شي او دغه ارګان له هغه مهمو ارګانونو دی چې مونږ په دنيي ډموکريسۍ کې د خلکو ګډون ښايي چې خلک څه رنګ په قانون جوړولو او عامو چارو کې مهمو فيصلو کې رول لرلی شي. او لکه څنګه چې روښانه ده خلکو په دې طريقه چې د پارليمان غړو ته وټ ورکړي او هغوي وټاکي په قانون په جوړولو او جاري کولو کې رول لري. د ايران په ديني ډموکريسۍ کې هم خلک داسې کوي چې خپلو نمايندګانو ته چې د پارليمان غړي دي وټ ورکوي او په سياست کې په دې طريقې برخه اخلي. دغه ارګان له تخصصي کميټو جوړ شوی دی چې په کط د خلکو ټاکلي شوي استازي چې په کوم خاص ډګر کې کارپوه دي د قانون د جوړښت په کار بوخت دي.

امام خامنه ای د پارليمان لپاره د يو ارګان په توګه چې د خلکو غوښتې پوره کوي، د محوري رول قايل دی هغه په خپلو بياناتو کې فرمايي: «د اسلامی شورا پارليمان، د انقلاب لپاره يو اساسی او تعيين کوونکی مرکز دی، ځکه چې د ټولو چارو جرړې اسلامي پارليمان ته ورګرځي». (په ۲۲/۹/٦۸ تاريخ باندې د امام خامنه ای بيان) له دې نظره د پارليمان شونه هم دومره ضرورت لري لکه څومره چې د نظام اسلامي شونه

ضرورت لري. پارليمان له دې نظره په هر نظام کې ډموکريسۍ يوه نښه ده. د يو نظام د پاک شوني لپاره د پارليمان شونه د ډموکريسۍ يوه څرګنده نښه ده. د پارليمان غړي د ملت له خوا ټاکلي شوي کسان دي چې د ملت په وکالت کې په چارو او قانون جوړولو باندې نظارت کوي؛ نو دې ته په پام د لارښود د ارګان يوه ذمه دا ده چې د پارليمان د شان ساتنه وکړي چې د ايران ستر لارښود ايت الله خامنه ای هم په خپله تړلاره کې د دې ډير خيال ساتلی دی. هغوي د تل لپاره د اسلامي شورا د پارليمان د حقونو خيال ساتلی چې هغه د هغه غړي يو ډول وکيلان دي چې بايد آزادۍ سره خپل نظر بيان کړي او کله چې ځينې قانون پاسيږي چې په کې اختلاف وي نو هلته يې د پارليمان د نظره سخته دفاع هم کړې ده. فرمايي: «زه هيڅ کله د پارليمان په غړو کې کس طرفداري نه کوم چې هغه غلی ناست وي او يوازې خبرې اوري او کوم اثر نه لري. يو داسې پارليمان چې سرونه يې ټيټ کړی وي او په هره خبره سر خوځوي د دې کسانو طرفدار نه يم. بلکې باوري يم چې نبايد چپ کښيني بلکې بايد خبرې وکړي متحرک او زيارباسونکی وي».(د قزوين د استاذانو او محصلانو په ليدنه کې د هغوي وينا، ۱۳۸۲/۹/۲۶)

له همدې سببه د پارليمان غړي چې کله ځان د هيواد د يو لوی سياسي مشر د حمايت لاندې ووينې، نو په چالشي او حساسو بحثونو کې قدم پورته کوي او په دې طريقه د خلکو حقو مطالباتو ته د قانون په جوړيدو کې پاملرنه کوي او د ټولنې د مشکلاتو د لرې کيدو هيڅه کوي. او همدا کار سبب کيږي چې ملت په سياسي چارو کې خپله اراده په دې طريقه څرګنده کړي. او د پارليمان ټکی يو ډول د ملت ارادې سره په يوې معنا کيږي. په ځينې برخو کې چې د مجلس او نورو

ارګانونو تر مینځ اختلاف شي نو لارښود د پارلیمان د حکم د نفوذ حکم ورکوي او پارلیمان ته په ټولو ارګانونو باندې برې ورکوي. د مثال په توګه د اساسي قانون په اصلاح کې او د لارښود د اختیاراتو په پراختیا کې چې یو تړې د پارلیمان له منځه د وړولو حق هم دی. دې موضوع باندې په پارلیمان کې بحث وشو او لارښود چې کله د پارلیمان د غړو له حساسیت خبر شو نو دا کار یې د هیواد په ګټه ونه ګڼه او دا حکم یې حذف کړی. له همدې سبب د پارلیمان ارګان چې د خلکو د حاکمیت نښه ده ډیر زیات د لارښود حمایت ورته حاصل دی او مونږ ته داسې کوم سند په لاس نه راځي چې هغوي په کې د پارلیمان ارزښت کم کړی وي.

۳-۵- سیمه ایز ځانګړی حکومت (د ښاریو او کلیو د شوراګانو د سیمه ایز شونې بیلګه)

یو له هغه ارګانونو چې په اساسي قانون کې ورته ځای ورکړی شوی دی چې په عمل کې په سیاست کې د عوامو ګډون او سیمه ایز شونه ښایي، د ښاریو او کلیو د شورا ګانو شتون دی چې د ایران د ډموکریټیک اساسي قانون د شپږم اصل مطابق د پرمختږ لپاره دی فرمایي: «د دې لپاره چې ټولنیز پروګرامونه په سرعت سره پرمختږ وکړي لکه په آبادۍ، اقتصاد، بهداشت، کلتور او زده کړې او نورو رفاهی چارو کې د عامو خلکو په مرسته د هغه ځایونو د غوښتې مطابق به هر کلي، ښار، ولایت کې د کلي شورا، د ښار شورا د ولایت شورا او داسې نورو نامو سره جوړی شوي دی چې د هغه شورا غړي له هماغه ځایونو ټاکلي شوي دي». دې ته په پام د اسلامي جمهوري ایران په نظام کې د انقلاب له بریالۍ وروسته د جمهوري اسلامي د کار یوه ځلیدونکی بیلګه د خلکو مشرتابه

او ډموکریسي ده. د ښاریو او د کلیو د شورا ګانو ټولټاکنې او انتخاب په لومړي ځل د خامنه ای په مشرۍ کې ترسره شو، هغه دا شوراګانو د خلکو د میدان ته راوتلو او نیغ په نیغه لاس درلودلو یوه بیلګه ښایي چې په دې کې لویو جرګو او معرکو ته ضرورت نشته. هغوي فرمایي: «د جمهوري اسلامي ایران په اساسي قانون کې د ښاریو او کلیو د شورا ګانو شتون د دې دلیل دی چې جمهوري اسلامي د هیواد په چلولو کې د خلکو نظرونو، مشورو او د بیلا بیلو فکرونو غونډیدو ته اهمیت ورکوي. او همدا خبره په زور باندې د حکومت کولو په خلاف دی. د جمهوري اسلامی ایران فخر دا دی چې له لومړۍ ورځې د خلکو نظریې او د خلکو غوښتی یې د نظر لاندې وې او پاملرنه یې ورته کوله».

په ۱۳۷۷ کال کې چې کله په لومړي ځل د ښاریو او کلیو د شوراګانو ټولټاکنې وشوې نو د دیني ډموکریسۍ اخرنۍ برخه هم ترسره شوه. او د هیواد په ټولو ځایونو کې د هیواد د آبادۍ پراختیا او کلتوري پرمختګ لپاره خلکو ته ګډون ورکړی شو. د ستر لارښود په وینا: «مونږ د خدای پاک شکر کوو چې ټولټاکنو په ارګان ې د شورا د ګانو ټولټاکنو یو بله برخه هم زیاته شوه چې د خلکو او د ایران د ملت د خدمت لپاره جوړه شوې ده او هم د دې لپاره قدم اوچتوي او په دې طریقې د اسلامي جمهوري پرمختګ ته نور هم نږدی شو. اوس چې د امام خمینی د پیغام کلیزه لمانځو او دا کال هغه یواځینې کس په نامه ایخی شوی دی، دغه اصلي ارګان خپل کار شورو کوي؛ زه د زړه له کومې دا ارمان کوم چې د ښاریو او د کلیو شوراګانې د انقلاب د بنسټګر امام خمینی د اسلامی نظام د غرضونو په لور روان شي او د قانون په چوکاټ کې د ننه د خلک ستونزې هوارې کړي».

هغوي تل په دې خبره ټير تاکيد کووي چې عام خلک دې بايد د هيواد د مسلو او مشکلاتو په حل کولو کې ګډون وکړي او په بيلا بيلو سيمو کې بايد هغوي دا احساس وکړي چې دا د هغوي يوه ملي دنده ده. د ښاريو او کليو د شوراګانو يوه مثبته خبره دا ده چې د هر کلي او ښار چارې د سيمه ايزو کسانو په لاس کې شوې. او دا کار خامخا د دې سبب کيږي چې عام خلک د هيواد په چارو کې نيغ په نيغه ګډون ولري او په وړو وړو ټولنو کې اسلامي ډموکريسي خپل ځان وښايي او د دې کار ښې پايلې د ايران په شان لوی هيواد کې څرګندی شي. او دا خبره په خپله د انقلاب يو لوی غرض او هدف په لاس راوړي او ورسره د ډموکريسۍ رواج کيږي. امام خامنه ای نه يوازې د چې د ښاريو او کليو خلک يې په ټولټاکنو کې ګډون ته تشويق کړل بلکې کوم کسان چې په دغه شورا کې وټاکل شوم هغوي يې هم د خلک ښه خدمت ته وبلل. هغوي وفرمايل: د ښاريو د او کليو د شوراګانو په ټولټاکنو کې ګډون نيغ په نيغه په ټاکل شوي کسانو کې هم اثر کوي ځکه چې د خلکو له خوا ټاکلي شوي کسان چې د خپلو سيمو لپاره څومره ښه کار وکړي په راتلونکي وخت کې خلک هم دومره زيات په ټولټاکنو کې ګډون وکړي.

اوومه برخه: د اسلامی انقلاب هدفونه، غرضونه او هیلې[۵]

۵ - د "فلسفه انقلاب اسلامی" کتاب له دریم څپرکي اخستل شوی، لیکوال: محمد حقی، المصطفی(ص)خپرندویه، ۱۳۹۵.

سریزه

د هر یو انقلاب په څیرنه کې یو اساسي او بنسټیز بحث، د هغه انقلاب د غرضونو، هدفونو، هیلو او ارمانونو بحث دی. هغه انقلابونه چې د یو سیاسي نظام په ختمولو پسې دي، هغه بې هدفونو او بې هیلو نه شي کیدی او بې له دې نه شي کیدی چې خلکو ته د یوسې داسې ټولنې تصویر وښایي چې خلک یې غواړي، ځکه چې خلک په همدې ارمان او غرض پسې راځي او پاڅون کوي او انقلاب کې هڅه او کوشش کوي. او ورسره دا خبره چې د یو انقلاب نتیجې هم هاله معلومیږي چې کله د هغه انقلاب غرضونه او هدفونه ټاکلي شوي وي. همدا مسله د اسلامی انقلاب په هکله هم ده. نو دې ته په پام باید د انقلاب هدفونه وپیژنو. د انقلاب د غرضونو د پیژندګلو لپاره بیلا بیلې لارې شته چې د ایران د انقلاب د غرضونو په لاس راوړلو لپاره هم دغه لارې کتلی شو. لکه د انقلاب له مشرانو پوښتنې کول د هغوی د خبرو او د سیاسي ډلو د ویناو تحلیل کول، په انقلاب کې د موجودو کسانو د نظریاتو څیړل او

همدارنګ د انقلاب د ایډیا څیړل او د انقلاب د غږونو څیړل ځینې لارې دي چې مونږ دغه موخو او غرضونو ته رسوي. (شفیعی، ۱۳۹۱: ۷۱)

اسلامی انقلاب په بیلا بیلو برخو کې د خلکو او حکومت لپاره په فردي او ټولنیزې، دنني او بهرني، سیاسی او اقتصادي او کلتوري ټولو برخو کې ډیر لوړ غرضونه او هدفونه لري. او دا غرضونه ټول د قرآن او پیغمبر(ص) او اهلبیتو(ع) له زده کړو راوتي دي چې د انقلاب په وخت کې د امام خمینی په کلام او د خلکو په نعرو او غږونو کې څرګند دي. دا غرضونه په رسمي توګه د ایران په اساسی قانون کې ځای شوي دي او پاس شوي دي. د پوهنتون د یوې څیړنې له مخې چې نامه یې «بررسی زمینه ها و اهداف انقلاب اسلامی ایران بر اساس شعارهای انقلاب» وه، دا غرضونه لیکل شوي دي چې په کې هغه غږونه او هدفونه او د اسلامی انقلاب ارزښتونه ۳۶٪ سیاسی، ۳۹٪ کلتوري ارزښتونه او یواځې ۵٪ کلتوري ارزښتونه په دې غږونو او نعرو کې بیان شوي دي. د دغه څیړنې د لیکوال د وینا له مخې که چرې مونږ د دې انقلاب یواځې غږونه او نعرې د ځان لپاره پرتله جوړه کړو نو معلومیږي راته چې ۴۹٪ په کې کلتوري ارزښتونه دي او له دې سببه ګورو چې سیاسي غرضونه او هدفونه په دویم نمبر دی او بیا ورپسې اقتصادي غرضونه چې د انقلاب غوښتونکو له غرضونو وو. همدارنګ د انقلاب په وخت کې چې کوم اقتصادي ارزښتونه د نعرو په شکل کې بیانیدل هغه مونږ ته دا ښایي خلکو غوښتل چې فقر او محرومیت ختم شي او د غریبو حمایت یې لومړۍ په نظر کې و او همدارنګ د شته منو د هغه شته منې مخالف چې په ظلم سره یې لاس ته راوړې وه، د هغې له منځه وړل یې ورپسې په نظر کې وو. (پناهی،۱۳۸۱: ۲۳)

یوې بلې خېرنې ته په کتلو سره چې په هغه کلونو کې یعنی له ۱۳۵٦ تر ۱۳٦۰ تر مینځ لیکل شوې وه، او د امام خمینی د صحیفه نور کتاب په کتلو سره چې په کې د امام خمینی ویناګانې دي دا خبره روښانیږي چې د امام خبرو او د خلکو نعرو، دواړو په خپلو کې ډیر ټرون درلود او یو بل سره یې ډیر سمون درلود. لکه څه رنګ چې د امام خمیني(ره) په ډیرو پیغامونو کې دا هڅه شوې ده چې د اسلام د پرمختللي احکامو او او د عدالت او په هر ډګر کې د پرمختږ لاره هواریدو باندې تاکید شوی دی. لکه څه رنګ چې اشاره وشوه، د انقلاب غرضونه او هیلې مونږ د خلکو په نعرو او د امام خمینی په پیغامونو کې لټولی شو او پیژندلی شو، هغه غرضونه چې د جمهوري اسلامی ایران په اساسی قانون کې هم د اصولو په توګه لیکل شوي دي. (صادق تهرانی، ۱۳۸۷: ۳۵)

په ټول کط ویلی شو چې د اسلامی انقلاب غرضونه او هیلې د دې عنوانونو لاندې بیانیدی شي: کلتوري، سیاسي، ټولنیز او قتصادي چې په ادامه کې همدا غرضونه بیانوو:

۱. د اسلامی انقلاب دینی او کلتوري هدفونه

کلتوري غرضونه او هدفونه د انقلابیانو د غوښتو له ټولو ښه برخه وه له دې سببه اسلامي انقلاب د اسلام له کلتوره متاثر دی، کله اسلام ځان د انسان د جوړښت دین معرفي کوي. نو کلتوري اړخ ته پام او د هغه پرمختږ لپاره هڅه او کوښښ د اسلامی انقلاب له مهمو غرضونو دی چې په هکله یې د امام خمینی او د امام خامنه ای ویناوې او د انقلاب د وخت د خلکو نعرې موجودې دي او په قانون اساسي کې وربانديې تتاکید شوی دی.

اسلامی انقلاب په دې غرض رامنځته شو چې یوه داسې متعالی ټولنه جوړه کړي د انسانی او معنوي ارزښتونو څرګنده ونه پکې وشي. د اسلامي تعلیماتو او د انسان د الهی تربیت پر اساس د انسان د دین او د دنیا د سلامتۍ لپاره یو داسې د امن کور جوړ شي چې د انسان نیکمرغي په کې وي. پر همدې اساس امام خمینی(ره) «د صالح انسان تربیت» د ټولو پروګرامونو په سر کې ایښی دی او د انقلاب له غرضونو یې له ټولو وړاندې همدا غرض ګڼلی دی، په دې هکله فرمایي:

«لکه څومره چې یو غیر تربیت شده انسان ټولنې ته زیان او نقصان ورکوي دومره ورته یو شیطان او یو ځناور هم زیان نه ورکوي او لکه څومره چې یو تربیت شوی او روزل شوی انسان د ټولنې لپاره ګټه ور دی دومره ورته یوه فرښته او یا یو بل موجود هم ګټه ور نه دی. د نړۍ بنسټ د انسان په تربیت باندې دی» (امام خمینی، ۱۳۷۸، ج ١٤: ۱۰۳)

همدارنګ که مونږ د انقلاب په وخت کې د خلکو نعرې وګورو نو دا راته څرګندیږي چې په دې کې اکثرې نعرې د کلتوري ارزښتونو د ژوندی کیدو لپاره وې چې تقریبا ٥٤٪ وې. دومره زیاتې نعرې مونږ ته دا ښایي چې کیدی شي په هغه وخت کې خلک هم دومره د ټولنې او رژیم له کلتوري حالته خپه وو. (پناهی: هماغه)

دې ته په پام که مونږ د امام خمینی بیاناتو ته او د خلکو نعرو ته او اساسي قانون ته وګورو نو مونږ کلتوري غرضونه په لاندیني عنوانونو کې پیدا کولی شو:

الف: د اسلامی قانون په جاری کولو سره د اخلاقی فضیلتونو د پرمختېر لپاره یو ښه ډکر جوړول

یو له هغه کارونو چې پهلوي رژیم د خپل حکومت په وخت کې ترسره کړ، له اسلامه د خلکو اړول او د اسلام د کلتور پر ځای د زور، شهنشاهي او د لویدیځ کلتور راوستل وو. چې سبب یې دا و چې د شهنشاهي نظام چلوونکیو د خلکو عقیدو ته پام نه کاوه او له بلې خوا د لویدیځ له تمدنه متاثر وو او د هغوي په وړاندې سرټیټي او تسلیم وو. او اسلامی انقلاب د همداسې کارونو پر خلاف جوړ شو. (هاشمی، ۱۳۸٤: ۵۹) او خلکو چې ولیدل چې د دینی عقیدو او باورونو هیڅ قدر نشته نو په ټولنه او نظام کې د اساسي او بنسټیز بدلون غوښتونکي شو.(انقلابی ممتاز، ۱۳۸۵: ٦۳) دې په پام د اسلامی انقلاب له مهمو غرضونو یو د اسلام ژوندي کول او په ایران کې د اسلامي قانون جاري کول وو چې خلکو به په خپلو نعرو کې غوښتل او د ۱۳۵۸هجري لمریز کال د فرودین د میاشتې په دویمه نیټه یې ۹۸.۲٪ وټونه همدې قانون ته ورکړل. (هاشمی: همان)

امام خمینی(ره) د اسلامی انقلاب له غرضونو یو غرض د اسلام پر اساس د قانون جاري کول ښایي، فرمایي:... دا ملت یو اسلامی ملت دی او دوي اسلام غواړي او اسلامي احکام غواړي... تاسو دا اسلامي انقلاب وکړ چې اسلام او اسلامي حکمونه په دې هیواد کې جاري کړئ... مونږ باید ټول توان سره ړوندې لاړ شو چې اسلامي احکام زمونږ په هیواد کې بلکې په ټوله سیمه بلکې په ټوله نړۍ کې جاري کړو. (بلاغ: ۹۸)

د ایران د جمهوري اسلامي اساسي قانون هم په بیلا بیلو اصلونو کې د نظام په اسلامي شونې او د ټولو قانونونو د اسلام پر اساس جاري شونې ټینګار کوي. د بیلګې په توګه د اساسي قانون دوم اصل وایي: د جمهوري اسلامي نظام یو داسې نظام ګڼي چې پر دې اساسونو ولاړ دی: په یو الله باندې ایمان، د الله په وحي، قیامت منل، عدل منل، امامت منل او د انسان لپاره کرامت منل او همدې غرضونو ته د رسیدو لپاره د حکومت ذمې په شپاړسو بندونو کې بیان کړي دي. د اسلام پر اساس د قانونونو جاري کول او د نظام په اسلامی شونې کې د هیڅ قسم بدلون نه منل او... ځینې هغه څیزونه دي چې په د اساسي قانون ٤ او ۱۷۷ اصل وربانديې ټینګار کوي. نو دې ته په پام په ټولو چارو، ټولو ځایونو او ټولو وختونو کې د اسلامي احکامو جاری کیدل یو له هغه غرضونو دی چې د ایران د جمهوري اسلامي په اساسي قانون کې په څرګنده بیان شوی دی. (انقلاب اسلامی و انقلاب های جهانی: ۹۵)

ب: د تعلیم او روزنې پراختیا او د کلتوري استقلال لپاره هڅې

د کلتور په برخه کې د اسلامي انقلاب یو مهم هدف، د اسلام د اصلي عقیدو پر اساس د تربیت او روزنې د نظام سمول او اصلاح دي. ځکه چې د کورنۍ یا مدرسې په چوکاټ کې که هر څومره د روزنې پروګرام سه وي خو چې کله په ټولنه کې نور کلتورونه راننوتلی شي او فساد او بې اخلاقي له دننه او بهره یرغل کولی شي نو د تربیت او روزنې لپاره ټولې هڅې بې ځایه کیږي. ځکه چې کلتور (یوازې د کسانو ظاهري عمل نه دی بلکې) پراختیا لري او شاملیږي د یو ملت او د کسانو ټولو باورونو، عقیدو فردي او جمعي کړو وړو ته. (منصوری لاریجانی، ۱۳۸۷: ٤۱) امام خمینی د کلتور د ژوندي کولو لپاره لومړۍ ګام د ټولنې د

تربیت او رونې د نظام سمول او د اسلامي پروګرامونو د جاري کیدو ضمانت او د فساد د عواملو له ویخه ختمول ګڼي، فرمایي: «لومړۍ ګام دا دی چې د فساد ټول لاملونه او له دې زیاته مهمه په ټولنیزو او اقتصادي ډګروو کې د فساد د ټولو لاملونو مخه نیول دي چې باید په ډیر ځیرتیا سره له ویخه ختم شي». (امام خمینی،۱۳۷۸، ج ۳: ٤٧)

دې ته په پام د ټولنې تربیتي او کلتوري اړخ ته پاملرنه د اسلامی انقلاب له غرضونو ده او د دې انقلاب غوښتی شوی بشپړتیا دا ده چې ټولنه له جهل او بې خبرۍ پاکه شي او په خبرتیا سره خپل مسولیتونه وپیژني. (انقلاب اسلامی و انقلاب های جهانی: ۱۰۱) امام خمینی د تاریخ په اوږدو کې د ټولو مشکلاتو او ستونزو د رامنځته کیدو اصلی لامل د خلکو جهل ګڼي او فرمایي:

هغه ټولې ستونزې چې مونږ یې د تاریخ په اوږدو کې وینو سبب یې د خلکو جهالت دی، د جهالت له مخې به خلک د نورو په لاس استعمالیدل او د خپل مصلحتونو په خلاف به یې حرکت کاوه که چرې دوي علم درلودی نو بې لارې کوونکو هیڅکله هغوي له خپلې سمې لارې چې د ملتونو خپله لاره ده، بې لارې نه شو بوتلی. (بلاغ: ۹۵)

ج: د صحیح اسلام او د هغې د احکامو شودل

د انقلاب له کلتوري غرضونو یو غرض دا دی چې داسې سریزې برابرې شي چې صحیح اسلام او د اسلام صحیح حکمونه خلکو ته بیان کړی شي چې په بیلا بیلو ټولنو کې انسانان دا توان پیدا کړي چې بې غرضه صحیح اسلام وپیژني. امام خمینی په دې هکله فرمایي: دا زمونږ دنده او ذمه ده چې هغه ابهامات او نیوکې چې د اسلام په هکله یې په

خلکو کې راوستي دي، هغه لرې کړو. تر څو چې مو دغه نیوکې د خلکو له فکره نه وي لرې کړی، نو هیڅ کار نه شو کولی... تاسو مطمئن وسئ که دا مکتب وړاندې کړئ او اسلامی حکومت لکه څنګه چې باید وي هماغه شان یې پوهنتون ته وړاندی کړئ، نو محصلان ورته هرکلی وایي.... تاسو باید ځان وښایئ، خپل اسلام، خپل د مشرتابۍ بیلګه او اسلامي حکومت نړۍ ته وښایئ؛ په بیله توګه د پوهنتون ډلو او زده کړه لرونکو کسانو ته. بیشکه که اسلام په صحیح او منطقي طریقه نړۍ ته وښودل شي، نو د اسلام د لومړیو ورځو غوندې به پراخیتا وموميي ځکه چې د اسلام قانون د انسان او ټولنې فطرت سره سمون لري. په بیله توګه په نن زمانه کې چې رابطې او رسنې زیاتی شوي دی (او یو نړیوال کلی یې جوړ کړی دی) او په ټوله نړۍ کې د ځوانانو سترګې او غوږونه خلاص دي. (امام خمینی، ۱۳۸۷: ۱۳۰)

د: فکري او کلتوري بې لاریو سره مقابله

د ایران د اسلامی انقلاب یو غرض فکري او کلتوري بې لاریو سره مقابله ده په بیله توګه د لویدیځ کلتور او د هغې تقلید سره. د انقلاب ستر لارښود امام خمینی تل په خپلو بیاناتو کې په دې خبره ټینګار کاوه چې په خپل کلتور باندې روان شي او د لویدیځ تقلید پریږدئ او دا خبره به یې تل کوله چې د ایران انقلابي خلک د لودیځ د کلتور د ختمولو لپاره کار کوي. (عیوضی و هراتی، ۱۳۹۰: ۱٤٥) امام خمینی د اسلامي انقلاب غرض د یو داسې ټولنې جوړول ښایي چې په هغه کې عدل وي او حکومت په عدل او انصاف سره په کې چلند وکړي، هغه فرمایي: «زمونږ

انقلاب بیلا بیلې موخې لري: د دې لپاره انقلاب دی چې فاسد رژیم لری کړي، د دې لپاره انقلاب دی چې حق مشر راولي، او هیله ده چې دا انقلاب د یو انسان او یو داسې هیواد د جوړولو لپاره وي چې په کې انسانیت وي... د انقلاب د عدل د راوستلو لپاره دی چې جمهوري اسلامي یې ورپسې غرض دی... او د عدالت خیال ساتل ورپسې غرض» (امام خمینی،۱۳۷۸، ج ۸: ۳۱۷) د هر مقابله کوونکي مسلمان له دندو یوه مهمه دنده دا ده چې د بدعتونو او د اسلام د مخالفینو مخه ونیسي. دا هغه اصل و چې د دې پاڅون له شورو کیدو وړاندې امام بیان کړی و او د عمر تر اخري وخته وروسته چې له بنده آزاد شول په ۱۳٤۲ کال کې یې وفرمایل: «مونږ باید خپل ځانونه له اسلامه قربان کړو، خپل ارمانونه او هیلې له اسلامه قربان کړو».(امام خمینی،۱۳۷۸، ج ۱: ۳۰۷) هغوي په دې هکله فرمایي: «مونږ د دې لپاره انقلاب وکړ چې اسلام او د اسلام او د قرآن قانون په دې هیواد کې حکومت وکړي» (هماغه، ۹ټوک: ١٦٦) «د ایران ملت نن د همدې غرض لپاره چې اسلام ژوندی کړي او اسلامی حکمونه ژوندي کړي پاڅون کړی دی؛ او داسې پاڅون یې کړی دی چې د اسلام په تاریخ کې او د ایران په تاریخ کې کومه مخینه نه لري». (هماغه، ٤ټوک: ٦١)

په همدې لړ کې د بیان شوي هدفونو په ادامه کې نور کلتوري هدفونه هم د څیړنې وړ دي چې لاندې ورته اشاره کولی شو:

أ. له صحیح مطبوعاتو او رسنو او نورو وسایلو په ګټه سره، په ټولو برخو کې د خلکو عام معلومات او پوهه زیاتول.

ب. د ټولو کسانو لپاره په ټولو سطحو کې د وړیا تعلیم او زده کړې عام کول.

ت. د ځیرنی د مرکزونو په جوړولو سره او د محققانو په تشویق سره په ټولو علمي، فني، کلتوري او اسلامي ډګرونو کې د ځیرنې او ایجاد د برخو مزبوتول. (قانون اساسی، دریم اصل)

۲. د اسلامی انقلاب سیاسي هدفونه

د انقلابونو له لومړي غرضونو یو غرض په ساسي جوړښت کې بدلون دی. له همدې سببه د خلکو په غږونو کې او اسلامی انقلاب د مشرانو په ویناو کې دا هدف لیدل کیږي چې د شهنشاهي نظام له ورانولو وروسته یو داسې تازه نظام جوړ کړي چې په کې د هغوي ټولې هیلې (په بیله توګه د اسلامی حکومت هیله) وي. بیشکه د یو داسې نظام جوړول د انقلابیانو له ټولو لوی ارمان و، له همدې سببه د اسلامي انقلاب له سیاسي هدفونو، د شهنشاهي رژیم غورځول او د هغه پرځای اسلامی نظام، استقلال او آزادی او د بهرني طاقتونو مخه نیوه وه. چې په ادامه کې دغو ځینې هدفونه بیانوو. له دې پرته نور سیاسي غرضونه یې هم درلودل چې هغه هدفونو ته فرعی هدفونه یا داسې هدفونه ولی شو چې لنډ مهاله وو او ورسره دې لویو هدفونو ته رسیدی شو. په دغه هدفونو کې څو ته اشاره کولی شو:

الف: د اسلام ظالم نظام ختمول او د اسلام ډموکریټ حکومت راوستل

که مونږ وغواړو چې د اسلامي انقلاب د هدفونو یوه رتبه بندي وکړو چې څه رنګ یې جوړښت وشو، نو په دې د استبدادي او ظالم شهنشاهي نظام ختمول د ټولو له مهمو غرضونو کیدی شي چې سبب شو د ملت

له ټولو زیات کسان د شاه په خلاف راویخ کړي. دا مسله په لارویونونو او د انقلاب په غړونو کې څرګنده ده. د هغه نعرو پر اساس چې په دغه ورځو کې په تهران کې لږیدی ځینې دا باور لري چې ۴۰٪ نعرې د شاه د ظالم او ډکټېټرشپ په خلاف وې. (عیوضی و هراتی،۱۳۹۰: ۱۲۲)

امام خمینی په دې هکله فرمایي: مونږ د یو جمهوري اسلامي غوښتونکي یو او هغه داسې حکومت دی چې د عامو خلکو په وټ باندې ولاړ دی. زمونږ د حکومت او د حکومت د شرطونو جوړیدل به هم د دې خلکو په سال د وخت مطابق کیږي.(امام خمینی،۱۳۷۸، ج ۲: ۲٦۹) د امام خمینی له نظره د انقلاب غوښتې شوی نظام، اسلام او د اسلام هغه اساسي اصول دي چې کوم په قرآن او سنت کې بیان شوي دي: «نن چې د ایران ملت پاڅون کړی دی... اسلامي حکومت غواړي، غواړي چې آزاد شي، غواړي چې مستقل شي، غواړي چې حکومت یې اسلامي حکومت شي». (هماغه: ۱۹۸)

د امام خمینی له نظره د حکومت قالب جمهوري او دننه اسلامي دی: «زمونږ د حکومت شکل اسلامی جمهوري دی، جمهوري په دې معنا چې د اکثریتو په رای او وټ به جوړیږي او اسلامي له دې سببه چې قانون یې اسلامي دی او نور حکومتونه داسې نه دي چې د اسلام د قانون پر اساس وي». (امام خمینی،۱۳۷۸: ۳۷)

امام خامنه ای هم د اسلامی انقلاب د ظلم په خلاف شونې ته اشاره فرمایي: «انقلاب دوه اړخونه لري: یو اړخ دنني ظلم سره مقابله او داسې فاسد حکومت سره مقابله وه چې بهرنیو حکومتونو سره یې ځان ترلی و او هیواد یې خوار او ذلیل کړی و. زمونږ انقلاب غوښتل چې

هیواد او ملت وژغوري؛ د اسلام په لمن کې خلک وساتل شي او حکومت اسلامي وي؛ دویم اړخ یې نړۍ او بشریت ته یو نوې پیغام او یوه نوې وینا ده. (آیت الله خامنه ای، بیانات: ۱۳۸۰/۱۱/۱۷)

ب: د عامو خلکو به ګډون سره د هیواد د چارو چلول

د ایران اسلامي انقلاب په حقیقت د انقلابونو د تاریخ یو ډموکریټیک انقلاب و چې خلکو په کې ډیره برخه اخستې وه. د خلکو د برخې اخستو او ګډون له ټولو مهم غرض دا و چې د هیواد په چلولو کې ګډون ولري او پر همدې اساس وو چې د ۱۳۵۸کال په ریفرینډم کې په اساسي قانون کې په لومړي اصل کې د حکومت ډول، جمهوري اسلامي ولیکل شو. هغه مفهوم چې د نظام په جوړولو کې د خلکو رول بیانوي او په آزادو ټولټاکنو ټینګار کوي. دا طبیعي خبره ده چې کله جمهوري نظام مو قبول کړی نو د ښاریانو او عامو وګړو د سیاسي حقونو په بیله توګه آزادو ټولټاکنو حق مو ورته ورکړ، ځکه چې د جمهوریت اساس دا دی چې د خلکو حاکمیت شي او سیاسي مشران په ټولټاکنې او نتخاب او خوښې سره راشي. او له بلې خوا همدا ټولټاکنې د دې غوښته کوي چې ټول مسولین د خلکو په وړاندې مسول دي یعنی جوابګو دي. د ایران حکومت د اسلام د قانون پر اساس جوړ شوی او اسلامی شونه هم په کې بیان شوې ده چې بیشکه د حکومت د څه رنګ والي بیان کوي. په دې معنا چې دا جمهوري حکومت د اسلامی پر اصولو او د اسلام پر بنسټ چلیږي. (درخشه، ۱۳۸۳: ۲۳)

د اسلامی انقلاب لارښود امام خمینی(ره) به تل په دې باندې ټینګار کاوه چې خلک په خپل برخلیک کې رول ولري. هغه باوري وو: «ملت

باید په خپله خپل برخلیک په لاس کې واخلي... دا ملت دی چې په خپله خپل ولس مشر ټاکي، جمهوري اسلامی ته وټ ورکوي او همدې خپل وټ سره به د حکومت د لویې جرګې غړي ټاکي او ټولې چارې به په خپله د ملت په لاس کې وي».(امام خمینی،۱۳۷۸، ۱۳ټوک: ۲۹) لکه څه رنګ چې هغه په دې هم ټینګار لري: خلک په ټولټاکنو کې آزاد دي او کم بلږونکي او جوړوونکي ته اړتیا نه لري او هیڅ یو کس یا یوه ډله او ګوند دا حق نه لري چې خپله نظریه په چا په زور وروتپي. د ایران اسلامي ټولنې خپلې پوهې او سیاسي پرمختږ سره جمهوری اسلامی او د هغه ارزښتونه او د الله قانون غوره کړی دی او په خپله دې بیعت سره وفادار پاتی دي، نو دا منلی شوې ده چې هغوي له ټولو زیات د صلاحیت لرونکي کاندیډیټ د ټاکلو توان لري» (امام خمینی،۱۳۷۸، ۱۹ټوک: ۲۰۶)

د اسلامي جمهوري ایران په اساسي قانون کې د خلکو وټونه او ټولټاکنې د خلکو د حاکمیت د حق لرولو یو مهم اوزار بیان شوی دی. په دې لړ کې د جمهوري اسلامی ایران د اساسي نظام له ځانګړتیاو یوه دا ده چې د هیواد چارې د عامو کسانو د وټونو مطابق دي چې د اساسي قانون په شپږم اصل کې او د دې اصل په کلیاتو کې بیان شوي دي. دا اصل په دې خبره ټینګار کوي: «د ایران د جمهوري اسلامي د هیواد چارې باید د عمومي وټونو پر اساس د ټولټاکنو له لارې وي، له د ولس مشر ټولټاکنې، د اسلامي مشورتي جرګې د استازو ټولټاکنې د شورا د غړو ټولټاکنې او داسې نورې، یا باید د ټولو متبوعاتو له لارې په هغه ځایونو کې چې د دې قانون په نورو اصولو کې معین کیږي، وي» همدارنګ د شپږپنځوسم اصل په اخري برخه کې په دې باندې ټینګار شوی دی:

«هیڅ کس دا حق نه لري چې د خدای دغه حق له کوم انسانه واخلي.» (د اساسي قانون شپږ پنځوسم اصل)

د اساسي قانون د دریم اصل په اتم بند کې، په خپل سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري برخلیک کې د عامو خلکو ګډون باندې ټینګار شوی دی.

ج: د خپرونو، مطبوعاتو، غونډو او لارویونونو قانونمنه ازادي

امام خمینی په دې هکله فرمایي: د ایران خلکو چې پاڅن کړی دی دا د یو څرګند مطلب لپاره دی چې ټول انسانیت هغه مني چې باید آزاد وي. نباید چې په بند کې واچول شي، نباید د خبرو کولو مخه ونیول شي او په مړې ورله غلی شي چې نباید خبره وکړي، قلم ورته مات کړي چې نباید ولیکي... کوم څه چې د انسانانو حقونه ده او انسان لومړۍ حق دی هغه آزادي، خپلواکي او د عدل حکومت دی، خلک همدا غواړي. (امام خمینی،۱۳۷۸، ٤ټوک: ٤٧)

د انقلاب په وخت کې د خلکو سیاسي نعرو ته په پام د سیاسي انقلاب او د ارزښتونو په هکله نعرې زیاتې وې، چې دا د سیاسي ازادۍ او سیاسی حقونو په لړ کې رازي. چې ٢٦٪ نعرې د دې په حق کې وې. دغه حد کې نعرې ښایي چې د ایران د اسلامی انقلاب له مهمو هدفونو یو هدف، سیاسي ازادي او د په نظام کې د خلکو سیاسي حق و. که دې سره مونږ د خلکو ګډون او

د په جمهوري نظام کې سياسي حقونه هم ورزيات کړو نو په آزادۍ او سياسي حقونو باندې ټينګار نور مزبوتيږي. (پناهی، ۱۳۸۳: ۲۳)

د: د خپلواکۍ غوښته او غيرو سره د تړاو نفی

ايرانی ملت له دې سببه چې زوړ ايراني هويت او پيژندنه لري نو غيرو سره تړون نه مني؛ له همدې سببه د يو مستعمر باچا په شتون کې خلکو ته د انقلاب شوق ورکوي. د امام خمينی له نظره، د ايران د ملت د انقلاب يو هدف، خپلواکۍ غوښته او نورو حکومتونو لکه امريکې او لويديځ سره تړاو منفی کوي چې په نتيجه کې يې د دې تړاو منفی اثرات هم له منځه ځي لکه چې د ملي پانګې له منځه نه تلل. امام خمينی په دې هکله فرمايي: «په دې وخت کې ملت په دې پوه شو چې شاه د هغه تړاو له مخې چې لويديځ په بيله توګه امريکې سره يې لري، او همدارنګ ختيځ سره يې لري، زمونږ ټولې خزانه هغوي ته ورکړي دي، بلکې زمونږ انساني توان يې هم خراب کړی دی او په دې هم پوه شو چې کوم ظلمونه کوي هغه هم د هغه تړاو له مخې دي چې شاه يې لوړو طاقتونو سره لري. له همدې سببه زمونږ ملت پاڅيد. (امام خمينی،۱۳۷۸، ٤ټوک: ۱۸۳) [پهلوي رژيم] زمونږ اقتصاد ټول له منځه يوړ او زمونږ هر څيز يې غيرو سره وتړه د ايران هر څه له منځه لاړل، خلک ستړي شو او له

همدې سببه يې پاڅون وکړ او دا تحريک يې شورو کړ. (هماغه، ۷ټوک: ۲۳٤)

امام خمینی د اسلامي انقلاب هدفونه له اسلامي هيواده د غيرو لاس پرې کول، او د ټرو د جړو پرې کول، د غيرو ځواک ختمول، د استعمار په وړاندې د سستۍ او کمزورۍ ختمول، همدارنګ د غيرو له ايران ناجايزه ګټه اخستل او ټې سترګې ختمول، او د استعمار په ضد شونې باندې ټينګار او د نورو هوادونو له ټراوه ځان وباسل او اخر د لويو طاقتونو ماتی او شکست ګڼي. له همدې لړ کې امام خميني(ره) نه يوازې په دې خبره تاکيد کوي چې د ظالمانو بهرني لاسونه دې لنډ کړی شي او د نړۍ استعماري طاقتونه دې ختم کړې شي بلکې د دې سيمې د امپراتورۍ او صهيونيستو په وړاندې لاړتيا باندې هم ټينګار کوي

(پیشگاهی فرد و رحمانی، ۱۳۸۸: ۱۰۲)

د امام له نظره د تير رژيم ټراو يوازې په اقتصاد کې نه و، بلکې په ټولو سياسي، اقتصادي، کلتوري او فوځي برخو کې شاه ټراو کړی و او دا ملت يې نورو ته اړمن کړی و او همدا خبره د دې سبب شوه چې خلک له رژيمه جدا شي هغه په خلکو زور وکړي او اخر دا چې انقلاب بريالی شي. د شاه ظالم په خلکو باندې زور خلک دومره تنګ کړو چې هغوي په ګرده سره پاڅون وکړ. شاه زمونږ سياسي، فوځي، کلتوري او اقتصادي خپلواکي له منځه

وړی دی او ایران یې په هر اړخ کې لویدیځ او ختیځ سره ټرلی دی، د ایران خلک یې په تورو کویانو او بندونو کې مړه کړي دي. ټول عالمان او وینا وال یې د حقیقت له ویلو منعه کړي دي. دا ټول د دې سبب شو چې د ایران مسلمان خلک د یو اسلامی حکومت غوښته وکړي. (امام خمینی،۱۳۷۸، ۳ټوک: ١٦٤)

ه: استکبار او ځواکمنۍ سره مقابله

اسلامي انقلاب چې د اسلام د دین پر اساس جوړ شوی دی، استکباره او ځواکمني یې غندلې ده او د نړۍ په لرې لرې سیمو کې هم د نړۍ د ټولو مستضعفانو د حمایت اعلان کړی دی. په حقیقت کې د نړیوال استکباره سرغړونې سره یې نړۍ ته یو نوې نظام وښود چې په کې د جغرافیا، نسل، زبان او مذهب ټولې پولې له منځه تللي دي او دا اعلان یې کړی دی چې دا ټکره او تضاد له کومه راغلی دی دا ټکره نه د حکومتونو تر منځ ده، نه ده عقیدو او مادي او مارکسیسم او کپیټلیشن تر مینځ ده بلکې واقعي ټکره له یوه خوا د نړیوالو مستکبرانو ظالمانو او له بلې خوا د مستضعفانو او مظلومانو تر مینځ راغلې ده. نړیواله ټولنه به تر هغه وخته د صلحې او آرامښت مخ ونه ویني تر څو چې مستکبري له منځه لاړ نه شي او مستضعفین په ټوله نړۍ حاکمان نه شي.(محمدی، ۱۳۸۸: ۹٦)

د اسلامی انقلاب جوړښت داسې دی چې د نړیوالو ظالمانو د ګټو او غرضونو سره په دایمي ټکره کې دی؛ له همدې سببه، ظالمو طاقتونو هیڅکله د اسلامی انقلاب ظهور په نړیوال ډګر کې قبول نه دی کړی او ټول توان سره یې دا هڅه کړې ده چې هغه کمزورې او تحریف کړي او راتلونکي وخت کې هم دا تفکر له ویخه له منځه یوسي یا یې له خپل اصلیته وغړوي. امام خمینی د انقلاب د معمار په توګه او پوره خبرتیا سره په دې موضوع باندې ټینګار کړی دی چې که مونږ وغواړو او که ونه غواړو، زمونږ دښمن به تل مونږ سره په مقابه کې وي، نو څومره ښه ده چې مونږ کامل او بشپړ چمتو والي سره د مقابلې په ډګر کې حاضر و او په ټولو حالاتو کې د دښمن موقف په خطریه کې واچوو او ذهني آرامښت ترې واخلو. (انقلابی ممتاز، ۱۳۸۵: ۱۰۳)

... زه بیا دا خبره کوم چې د ایران ټول خلک او د نظام ټول مسولان دې پوه شي لودیځ او ختیځ چې تر څو تاسو له خپلې پیژندګلو او هویته ونه باسي (د هغوي د خپل کچه خیال مطابق) نو هغوي په آرام نه کښیني نه هغوي سره په اړیکې خوشحال شئ او نه هغوي سره په اړیکې پرې کیدو خپه شئ. تل بصیرت او غړیدلو سترګو سره دښمنانو ته ځیر شئ او هغوي په آرام پرې نه ږدئ، که چرې هغوي مو په آرام پریښودل نو

تاسو یوې ګړۍ ته په آرام نه پریږدي. (امام خمینی،۱۳۷۸، ۲۱ټوک: ۱۰۹مخ)

همدارنګ امام خمینی فاسدو نړیوالو طاقتونو سره دایمی مقابله د اسلامی ایران د بهرني سیاست له هدفونو ګڼي او د اسلامی انقلاب بریالي او غیرو د ځواک ختمول د دې مقابلې شورو ګڼي، فرمایي: «زه یو ځل بیا د اسلامی جمهوري نظام له مسولینو دا غواړم چې بې له خدایه نور له هیڅ څیز ونه ویریږئ او ملا ورته وتړئ او د فساد او فحشا او د لویدیځ پوچې سرمایه داری او د کمیونیستو تجاوز سره له جهاده لاس ونه خلئ؛ مونږ لا تراوسه د لویدیځ او ختیځ د نړیوالې مقابلې په سر کې یو. (هماغه: ۱۰۸)

همدارنګ که چرې مونږ د اساسی قانون ځینې برخو ته نظر وکړو نو د اسلامی انقلاب ځینې ساسي هدفونه په لاندیني برخو کې لنډ بیانولی شو:

داخلي امینت ساتل

- د استعمار مکمل ختمول او د غیرو له نفوذه مخه نیول (له استکباره خلاصون)
- د هر رنګ استبداد له منځه وړل، ځانواکي.
- د ملی دفاع د بنیاد او بنسټ کامله مزبوتیا

- یو مستقل بهرنۍ سیاست برابرول، نورو هیوادونو سره د صلح اړیکې ټینګول اود مستضعفانو حمایت کول.
- د نړۍ په هر ځای کې د مستکبرانو به وړاندې د مستضعفانو د حقو د مقابلې حمایت کول، دې ته په پام چې د نورو ملتونو په دنني چارو کې له لاس وهنې ځان وساتلی شي.
- د یو نړیوال امت د حاکمیت لپاره هڅه کول (د اساسی قانون د ۱۱ اصل سریزه)
- په نړیواله توګه د ملی حاکمیت او خپلواکي خیال ساتل
- د مسلمانانو له حقونو دفاع کول
- غیر مسلمانو ته د اسلام بلنه ورکول
- نه په چا ځواکمني غوښتل او نه د چا ځواکمني قبلول (د اساسي قانون له ۳، ٦، ۷، ۲۲، ۲۳، ۲٤، ۲۵، ۲۷، ۱۵۲ او ۱۵٤ اصلونو اخستی شوی)

۳. د اسلامی انقلاب ټولنیز هدفونه

اسلامي انقلاب یوازې د دې لپاره نه و چې د پهلوي رژیم نظام ختم کړي بلکې د دې لپاره هم و چې یو اسلامي سیاسي نظام راشي او په کې اسلامي ټولنیز، اقتصادي او کلتوري نوی نظام

هم وي چې د اسلام د حکمونو او ارزښتونو مطابق وي. د ۵۷ کال د ایران د انقلاب اسلامي شونه په دې معنا ده چې د دې انقلاب هدفونه او غرضونه هماغه د اسلام هدفونه او غرضونه دي. اسلام د ټولنې په فردي او ټولنیز ټولو برخو کې د جامع او په کار راتلونکي دین په توګه زمونږ په نظر کې دی، چې د انسان د خلقت عالي غرضونو سره سمون لري او انسان د الله د خلافت مقام ته رسوي چې د مطلق کمال په لورې حرکت وکړي. د انسان په ژوند کې چې کوم ارزښتونه خدای د هغه د پیدایښت په څه رنګوالي کې ایخي دي اسلام د هغه ارزښتونو کلي اصول بیان کړي دي. او د اسلام په هکله همدا نظریه وه چې د اسلامي انقلاب اعتقادي او نظري بنسټ یې جوړ کړ.

اسلامي انقلاب په بیلا ډګرونو کې که هغه فردي وي که ټولنیز، که دنني وي که بهرني، سیاسي وي که اقتصادي که کلتوري وي، د خلکو او د دولت لپاره یې ډیر لوړ غرضونه او هدفونه ښودلي دي. او دا هدفونه ډیر په کې له قرآن او د پیغمبر صلی الله علیه و آله او د هغه د اهلبیتو علیهم السلام له زده کړو اخستی شوي دي چې د انقلاب په وخت کې د امام خمینی او د خلکو په نعرو کې څرګند دي. او دغه هدفونه په قانونمنده توګه په اساسی قانون کې په رسمي او قانونمنده توګه راغلي دي او پاس شوي دي. ټول په دې خبرې یوه خله دي چې د ایران ډیر خلک، معنویت، آزادي او عدالت، خپلواکي او پرمختګ او نیکمرغي،

د هیواد غوړیدل او عزت او سرلوړي غواړي خو د د اسلامي احکامو او د پیغمبر صلی الله علیه و آله د ارزښتونو په رڼا کې باید ولټول شي. (صادق تهرانی،، ۱۳۸۷: ۲٤) لاندې د اسلامي انقلاب ځینې ټولنیز غرضونه بیانیږي:

الف: د ټولنیز عدالت راوستل

ټولنیز عدالت یعنی داسې عدالت چې د ټولنې د ټولو خلکو د حقونو خیال وساتل شي. (انوری، ۱۳۸۱، ٥ټوک: ٤۹۷۷) یعنی د ټولنې هر کس سره داسې چلند وشي چې د کوم حق لري او هغه مقام ورته ورکړې شي چې د کوم مقام وړتیا لري. په نورو ټکو، هر کس باید د هغه د کار، فکري او ذهني او جسمي امکاناتو پر اساس وکولی شي چې له مناسبو نعمتونو ګټه واخستی شي. (آقا بخشي و افشاري راد، ۱۳۷۹: ٥٤۷) ټولنیز عدالت په دوو برخو کې دی، یو په ټولنیزو حقونو کې چې هغه ته قضایي عدالت ویل کیږي، او بل په اقتصاد او د معیشت کې چې ورته اقتصادي عدالت ویل کیږي. قضایي عدالت یعنی د ټولنې ټو خلک یو برابر او بې له کوم فرق چې له شتمنۍ یا ټولنیز موقف، یا سیاسی او عقیدتي موقف له مخې یې لري، ټولو ته یو شان عدالتي خدمتونه ورکړي شي او یو شان حق په کې ولري. (طارمی، ۱۳۸۸: ۱)

بیشکه د اسلامی ایران له عالی هدفونو یو هدف، د ټولنیز عدالت راوستل او د ظلم او زور زیاتي ختمول وو. امام خمینی او امام خامنه ای د دې اسلامی انقلاب غرض د عدالت راوستل، په ټولنیزو او فردي چارو کې د عدالت جاري کول او د ظلم مخه نیول، د قانون حکومت جوړل او د عدالت مطابق د قانون جاري کول، ګڼي. هغوي په دې هکله باوري دي: «غرض دا دی چې خلک عدالت سره پاڅون وکړي او ټولنیز عدالت ته ورسیږي، ظلمونه له منځه لاړ شي، زیاتي له منځه لاړ شي او د ضعیفانو غم وشي». (امام خمینی، ۱۳۷۸: ۱۵ټوک: ۱٤٦)

یو له هغه مهمو هدفونو چې امام خمینی په نظر کې درلود د ټولنیز او اقتصادي عدالت راوستل او د محرومینو او مستضعفیونو حمایت کول وو، تر دې حده چې د غریب یو ویښته ته هم پا ماڼیو ناستو خلکو باندې ترجیح ورکړي. امام خمینی د انقلاب بریالی د دې خلکو په سبب ګڼي چې کوم فقیران دي او مسولانو او حکومت ته به یې یل چې تل د محرومو کسانو ملاتړ کوئ او فرمایل به یې: «خدای دې هغه ورځ نه راولي چې د هیواد سیاست دا شي چې غریبانو ته شا کړي او د شته منو حمایت شورو کړي او شته من په کې ډیر اعتبار ولري». (پیام انقلاب، ۲۲۵: ۱٤)

شهید مطهری د اسلامی انقلاب د نظریه بیانوونکي په توګه د ایران په اسلامي انقلاب کې د عدالت موضوع ته ډیره پام لرنه کړې ده او په همدې باندې تاکید سره د انقلاب د ساتنې او دوام لپاره یو بنیادي او اساسی رکن ټولنیز عدالت ګڼي چې د ایران له اسلامی انقلابه جدا کیدونکی نه دی. فرمایي: «د ایران د اسلامي انقلاب د باقي پاتی کیدو لپاره درې اساسي رکنونه دي او هغه ټولنیز عدالت، خپلواکي او آزادي او اسلامی معنویت دی». که مونږ ټونیز عدالت ته اهمیت ورنه کړو نو زمونږ انقلاب به ماتی وخوري او یو بل انقلاب به د هغه ځای ونیسي». (مطهری، ۱۳٦۸: ۱۱٤)

همدارنګ امام خامنه ای په ایران او نړۍ کې ټولنیز عدالت د دین له هدفونو او د انسان د ارمان ګڼلی دی او دا ټولنیز عدالت بې له دینه او بې له دینی طاقته راتلل مشکل دی ځکه خو فرمایي: «... تاسو دا خیال کوئ چې په ټولنه کې ټولنیز عدالت په سپارښتې، نصیحت، او ارمان سره راتلی شي؟ ټولنیز عدالت چې پکې تبعیض ختم شي او قانون د هر چا لپاره په برابر او مساوي توګه جاري شي دا بې له طاقته نه راځي چې هم دننه په هیواد کې طاقت ولرې او هم په نړۍ کې طاقتور شې». (جمهوری اسلامی، ۱۳۷۵/۹/۲۰: ۵۰۷۵۹)

د جمهوري اسلامی اساسي قانون هم د ټولنیز عدالت راوستلو لپاره د حکومت په بیلا بیلو اصلونو کې دا ذمه ایخې ده چې له خپلو ټولو امکاناتو ګټه واخلي او ناروا تبعیض او په غټ وړوکی کې فرق ختم کړي او د ټولو لپاره یوشان مساوي امکانات په مادي او معنوي برخو کې پیدا کړي». «د کسانو د حقونو خیال ساتل که ښځه وي که سړي او د عامو کسانو لپاره مساوي عدالت او امنیت راولي او په قانون کې ټول سره برابر کړي»، «او قانون په چوکاټ کې سیاسي او ټولنیزه آزادي»، په خپل سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري برخلیک کې د عامو خلکو ګډون» (د اساسي قانون دریم اصل) او داسې نور... پکار راولي.

ب: د ټولو خلکو لپاره مساوي حقونه بې له دې چې قوم، قبیلې، رنګ او نسل ته یې وکتل شي

ډیر ځلې داسې کیږي چې عدالت مساوات او برابرۍ سره یو شان ګڼل کیږي، په داسې حال کې چې په دې دواړو کې اساسي فرق دی. د عدالت مطلب دا دی چې «د حق لرونکیو ته د هغوي حق بې له کوم تبعیضه ورکړی شي» (مطهری، ۱۳۷۳: ٤٦) نو باید دې ته پام وکړو چې د عدالت معنا دا نه ده چې ټول خلک دې په یوه درجه او مقام کې وي، خو د مساوات مطلب دا دی چې ټول افراد د قانون په وړاندې برابر دي.

(مطهری، ۱۳۷٤: ۳۱۲) یعنې ارثي، نسلي، ملي، ديني او نور څيزونه په سياسي، ټولنيزو، حقوقي او اقتصادي قانونونو کې له منځه وړل کيږي او کوم فرق په کې نه وي، ټول هغه حقونه لکه اداري، د کورونو اخستل، د زده کړې حقونه، د کار او نور حقونه د ټولنې د ټولو کسانو لپاره دي او کوم فرق په کې نشته چې دا کس له کوم نسل، کوم دين او کومې قبيلې دی. (حسنی، ۱۳۷۷: ۸۹)

امام خميني(ره) په اسلامي حکومت کې مساوات او برابري د ټولو خلکو لپاره ګڼي و ټول خلک له ټولو لوړ مقامه تر کم مقامه د قانون په وړاندې يوشان ګڼي، امام فرمايي: «په اسلام کې هر کس د قانون په وړاندې يو شان په يو صف کې دی او د قرآن او اسلام حکمونه په ټولو جاري کيږي او د انسانانو شرف او ارزښت د قانون په لارويئ کې دی چې دا هماغه تقوا ده، د قانون مخالفت کوونکی مجرم دی او پلټنې وړ دی». (امام خمينی، ۱۳۷۸، ١٤ټوک: ۲۲۱)

«... هغه قانون چې ټول يې بې له استثنا بايد پيروي او لارويي وکړ، د خدای حکم د مشر او کشر لپاره يوشان دی، هغه يوازينۍ حکم او قانون چې د خلکو لپاره يې جاري کول لازم دي هغه د الله قانون او حکم دی. (امام خمينی، ۱۳۸۷: ٤٥)

هغوي د انسانيت له مخې ټول انسانان سره برابر ګڼي که هغه ښځه ده که نر دی او دا باور لري چې کوم انساني حقونه د سړو لپاره دي هماغه د ښځو لپاره هم دي او که چرې د هغوي تر مينځ کوم اختلاف شته هغه د هغوي په طبيعت کې دی نه د هغوي په ذات کې. هغوي په دې لړ کې فرمايي: «د انساني حقونو له نظره په ښځې او سړي کې کوم فرق نشته ځکه چې دواړه انسانان دي او لکه څه رنګ چې سړی د خپل برخه ليک حق لري همدارنګ يې ښځه هم لري، هو په ځينې ځايونو کې د ښځې او سړي تر مينځ اختلاف شته خو د هغوي انساني حيثت سره کومه اړيکه نه لري. (امام خمینی، ۱۳۷۸، ۳ټوک: ٤٩)

د جمهوري اسلامي د اساسی قانون په دريم اصل کې په ١٤ بند کې که ښځې دي که نران حقونه، د هغوي لپاره قضايي امنيت او عدالت، د ټولو کسانو لپاره برابر ګڼل شوی دی د قانون په وړاندې د ټولو برابر شونه ده، چې دا د اسلامی انقلاب له غرضونو او د ايران د جمهوري اسلامی ايران له ذمه وارو ګڼل شوی دی. همدارنګ د اساسي قانون په يو بل اصل کې راغلي دي: د ايران خلک چې د هر قوم او قبيلې وي مساوي حقونه لري او رنګ او نسل او ژبه او داسې نور فرقونه کوم توپير نه راولي. (د اساسي قانون ۱۹ اصل) د ملت ټول کسان که ښځه وي که نر ټول يوشان د قانون له خوا حمايت کيږي او ټول له

انسانی، سیاسي، اقتصادي او کلتوري له نظره د اسلام د قانون مطابق یو شان حقونه لري. (د اساسي قانون شلم اصل).

ج: ټولنیزه آزادي

ټولنیزه آزادی یعنی انسان باید په ټولنه کې د ټولو کسانو له خوا آزادي لري، نور کسان دې د هغه د بشپړتیا او تکامل کې نه خنډ کیږي، هغه دې بندي نه کړي، د یو زنداني په توګه دې نه جوړوي چې د هغه د کارونو مخه ونیسل شي، او نور خلک یې د خپلې ګټې لپاره استعمال کړي، یا یې په خدمت ونیسي او مریې ترې جوړ کړي، یعنې د هغه ټول توانونه که فکري وي که بدني د خپلو ګټو لپاره پکار راولي. (مطهری، گفتارهای معنوی: ١٤) د امام خمینی له نظره د اسلامی انقلاب له هدفونو یو هدف ټولنیزه ازادي ده چې له ظلم او د حاکم له استبداده خلاصیدل دي او همدارنګ دا آزادي غواړي چې داسې ارګانونه دې جوړ شي چې دغه آزادي ورته ثابته کړي او عام خلک دې په خپل سیاسي برخلیک کې ګډون وکړي، په دې لړ کې امام خمینی ټینګار کوي چې باید د ازادیۍ غوښتې او له مریې توبه د خلاصي روح باید ژوندی شي، او داسې حکومت جوړ شي چې په سیاسي چارو کې خلک خپل نظر په آزادیۍ سره ورکولی شي او خلک په اقتصادي، سیاسي، ټولنزو او کلتوري چارو کې د اصلاحاتو لپاره ګډون وکړي او دا آزادي د عقل او عدل پرتله

وي. له بلې خوا د ديني او مذهبي لږکو د حقونو خيال هم وساتلی شي او هغوي سره ډير انصاف سره د قانون مطابق عمل يو له هغه آزاديو ده چې امام خمينی يې په خپلو نظريو کې بيانوي. (امام خمينی، ۱۳۷۸، ٤ټوک: ٦مخ او ٦ټوک، ۱٦۲مخ)

امام خمينی په دې هکله باوري دی: د خلکو عقيده آزاده ده. ځوک چا باندې دا زور نه کوي چې حتما بايد داسې عقيده لرې، په تاسو ځوک دا زور نه کوي چې حتما بايد په دې لاره لاړ شې. په تا باندې ځوک دا زور نه کوي چې حتما يايد دا کس وټاکې او دا زور هم دربانديې نشته چې کوم ځای بايد کور ولرې، يا بايد کوم شغل او کار وکړې. آزادي يو ځرګند او روښانه ځيز دی». (هماغه، ۱۰ټوک، ۹٤مخ)

امام خميني په اسلامي نظام کې د قانون په چوکاټ کې دننه د خلکو آزادي تاييدوي فرمايي: «په هر هيواد کې آزادي د هغه هيواد د قانون په چوکاټ کې ده. خلک داسې آزاد نه دي چې قانون مات کړي، د آزادۍ معنا دا نه ده چې د هر چې هر څه زړه غواړي هغه دې وکړي، د ايران قانون اسلامي قانون دی، د اسلامي قانون بايد خيال وساتلی شي، د اسلام د قانون په چوکاټ کې او د اساسي قانون په چوکاټ کې خبرې آزادی دي او بحث هم آزاد دی. (هماغه، ۷ټوک: ۵۳۵) هغوي د قلم د آزادۍ په هکله، چې د بيان د آزادۍ ځرګندونکی دی، فرمايي: «هغه قلم

آزاد دی چې چلګر نه وي. هغه قلم آزاد دی او هغه ورځپاڼه آزاده ده چې دا نه غواړي چې ملت دې شاته پاتی شي او د تباهۍ په لور دې روان شي. ځکه چې دا قلمونه هماغه د تير وخت د نيزو څوکې دي چې غواړي دا ملت د تباهۍ په لور روان کړي. (هماغه، ۱۰ټوک: ۳۵۰)

د جمهوري اسلامي ايران په اساسي قانون کې هم په مشروعې ټولنيزې آزادۍ تاکيد شوی دی چې د قانون په چوکاټ کې وي. د اساسي قانون د دريم اصل په اووم بند کې د قانون په چوکاټ کې سياسي او ټولنيزې آزادۍ ته اشاره شوې ده.

د اساسي قانون په نهم اصل کې راغلي دي: هيڅ يو مشر دا حق نه لري چې د خپلواکۍ د ساتنې او د هيواد د علاقې د بشپړتيا په غرض مشروعه آزادي، که څه هم قانون جوړولو سره، له خلکو واخي، همدارنګ د اساسي قانون په نورو اصلونو کې په ټولنيزې آزادۍ ټينګار شوی دی چې د بيلګې په توګه ځينې بحثونو ته يې اشاره کوو:

۲۴ اصل: مطبوعات او خپرونې د مطالبو په بيان کې ازادې دي مګر دا چې د اسلامي اصولو يا د عوامو د حقوقو ګډوډوونکې وي. تفصيل به يې قانون په ګوته کوي.

۲۶ اصل: ګوندونه، ډلې، سیاسي اوصنفي ټولنې او اسلامي انجمنونه یا د دیني لږکیو چې په رسمیت پیژندل شوې دي انجمونونه ازاد دي په دې شرط چې خپلواکي، ازادي، ملي وحدت، اسلامي اصول او د اسلامي جمهوریت له اساس سره ټکر ونه لري. هیڅوک په هغو کې له برخه اخستلو نه شو منعې کولی یا یې پکې ګډون ته نه شو مجبورولی.

اصل ۲۷: د غونډو او لاریونونو جوړول په دې شرط چې وسله پکښې ونه ګرځول شي او د اسلام اصولو ته تاوان ونه رسوي ازا د دي.

د: ټولنیزو مفاسدو او بې لاریو سره مقابله

د اسلامی انقلاب له ټولنزو هدفونو یو هدف ټولنیزو مفاسدو سره مقابله، او د ټولنې د نیکمرغۍ او بریالۍ سریزې برابرول دي. له ټولنیزو مفاسدو مراد هغه عوامل دي چې د بشري ټولنې د تباهۍ او نابودۍ سبب کیږی او ټولنه د مادي او معنوي سعادت او ښه نصیبۍ له لارې وباسي او غیر ضروري او ځرګند حالت لري. همدارنګ د ټولنیزو مفاسدو په څېړنه کې ویلی شو: هغه کارونه چې د شرع او اخلاقو په خلاف وي چې سبب شي نور ښاریان له خپل شرعي او قانوني حقه برخه من نه شي.

د اسلامي انقلاب ځرګندیدل له دې سببه وو چې د پهلوي حکومت د هیواد په بیلا بیلو چارو کې ناکام شوی و په بیله

توګه د ټولنیزو مفاسد د خپریدو په مخ نیوه کې؛ د پهلوي په حکومت په وخت کې که څه هم د ډکټیټر او ظلم حکومت و او غیر خلک به زمونږ د هیواد په برخلیک واکمن و، ټولنیز مفاسد هم په هیواد کې ډیر زیات شوي وو. بیکاري زیاته وه، د ښاریو د ګټې اخستو سطح ډیره ټیټه، د عمومي بهداشت او درمل حالت خراب، علم ته بې پامي، علمي او تحقیقاتي مرکزونو ته بې پامي، د هیواد هغه آبادۍ چې د پرمختګ سبب کیږي د هغه پاتې والي، د ګډوډ سیاست جاري کول، پا شاهانه چارو کې له حده زیاته د هیواد پانګه خرچول، د ملي پانګو بې عدله ویش، د طبقاتي وټونو زیاتیدل او لنډه دا چې فساد، اسراف، ټولنیز ظلم، د ایرن د ډیرو خلکو فقیر شونه د هغه وخت د بد مدیریت او بدې او بې کاره مشرۍ ځینې بیلګې دي چې همدا سبب شوې چې خلک خپه شي او د انقلاب سبب جوړ شي. نو دې ته په پام ټولنیزو مفاسدو سره مقابله د ایران د اسلامی انقلاب له مهمو هدفونو ګڼل کیږی چې د اساسي قانون د دریم اصل نهم او اول بند د فساد او تباهۍ ټولو څرګندونو او د ناروا تبعیضاتو لرې کوونو باندې تاکید کوي:

«د ایران د اسلامي جمهوریت دولت دنده لري په دوهمې مادې کې راغلیو موخو ته د رسیدلو لپاره د لاندینیو چارو لپاره خپل ټول امکانات وکاروي:

۱. د ایمان او تقوا په اساس د اخلاقي فضیلتونو د ودې لپاره د چمتو چاپیریال برابرول او د فساد او تباهۍ له ټولو بیلګو سره مبارزه.

۹. په ټولو مادي او معنوي برخو کې د ناروا توپیرونو ختمول او د ټولو لپاره د عادلانه امکاناتو برابرول.(د اساسي قانون دریم اصل)

امام خمینی(ره) هم د اسلامی انقلاب له ټولنیز معنوي هدفونو یو هدف، فساد او جنسی او اداري فحشاء سره مقابله، د فساد جړو پړې کول، د له بې لاریو منعه کول او د اخلاقي ارزښتونو راوستل ګڼي. هغوي د طاغوتی ارزښتونو په ځای د اصل اسلامي ارزښتونو راتللو یوه بیلګه د فساد او فحشاء او عیش او عشرت د ځایونو بندیدل ګڼي، چې ورسره به یې ځوان نسل له سمې لارې بې کاوه او همدارنګ همدې ارزښتونو سره ټولنیز فساد او د شرعي خلاف کارونه ختمیدل او د هغه په ځای یې په ځوانانو کې د اسلامی اخلاقي او معنوي طاقت مزبوتیدل ګڼي.(امام خمینی، ۱۳۷۸، ۱۶ټوک: ۱٤ او ۲٦٤مخونه)

٤. د اسلامي انقلاب اقتصادي هدفونه

اسلامی انقلاب یوازې اقتصاي انقلاب نه و او هیڅ کله هغه نظریو سره چې د اقتصاد له نظره ورته ګوري د تفسیر وړ نه دی، ځکه چې کله مونږ هغه نعرو ته وګورو چې په هغه وخت

د اسلامی انقلاب له د هدفونو او ارزښتونو په هکله لږیدی، په هغو کې ٤٠٪ د سیاسي ارزښتونو، ۵۴٪ د کلتوري ارزښتونو او ۶٪ د اقتصادي ارزښتونو په هکله وې، دا نعرې چې مونږ ته د اقتصاد برخه ښایي، د دې نښه ده چې د اقتصاد برخې ته د انقلابیانو پاملرنه ډیره کمه وه. په نورو ټکو د اقتصاد په هکله کمې نعرې دا ښایي چې خلک د کلتوري او سیاسي حالت په مقابله کې له اقتصاده ډیر خپه نه وو.(شفیعی فر،۱۳۹۰: ۷۳) لکه څه رنګ چې لیدل کیږي د انقلابیانو د اقتصاد په هکله نعرې ډیرې کمې وې نو د انقلابیانو د اقتصاد غرض ته پاملرنه هم کمه وه. البته په اقتصادی نعرو کې تقریبا ۹۰٪ نعرې د غریبانو په حمایت کې وې چې هغه کسان چې په ټولنه کې فقیران او محروم دي د هغوي حمایت وکړی شي. او دا خبره مونږ ته څرګندیږي چې فقیري او محرومیت هغه وخت کې زیات و او رژیم به د غریبانو بد حال ته پاملرنه نه کوله. که څه هم د غږونو کم شونه مونږ ته دا ښایي چې د انقلاب له اساسی مشکلاتو د اقتصاد مشکل نه و. (پناهی، ۱۳۸۳: ۲۳)

د اسلامی انقلاب د مشر په توګه، کله چې مونږ د امام خمینی تفکر او سیرت ته پام وکړو نو دې خاص ټکي ته رسو چې امام خمینی لپاره که څه هم اصل د ټولنې خدایي ارزښتونه وو خو د خلکو د معیشت او اقتصاد مسلو ته یې هم پاملرنه کړې ده، او دغه پاملرنه د دې سبب شوې ده ده چې په نوي نظر سره

دې مسلې ته وګوري او په ایران کې د اسلامی اقتصاد جوړښت یو هدف وګرځوي او نقشه ورته جوړه کړي. له همدې سببه امام خمینی اسلامی اقتصاد د «سرمایه داری(پلازمینیزم) او سوسیالیزم» نه جدا یو څیز وښایه، له اسلامی عالمانو او متفکرانو یې وغوښتل چې څومره زر او ښې طریقې سره کیدی شي، د اسلامي اقتصاد اصول، او څه رنګ والی ولیکئ او څېړنه یې وکړئ، امام فرمایي: «یو له هغه مهمو مسلو چې د عالمانو او فقیهانو او دینی زده کوونکو په ذمې ده هغه د لویدیځ او د ختیځ د دوو کلتورو د ظالم اقتصاد سره مقابله ده.... او دا ذمه یې ده چې په اسلامي نړۍ کې د غلط اقتصادي سسټم پر ځای، ښه او جوړوونکي پروګرامونه ړوندې کړي چې په کې د پښې ابلو او غریبو محرومو ګټه وي».(امام خمینی، ۱۳۷۸، ۲۰ټوک: ۱۲۸) کوم څه چې روښانه دي هغه دا دي چې د اسلامي اقتصاد سسټم په عدالت باندې ولاړ دی، د اسلامي انقلاب له مهمو غرضونو یو غرض او هدف «اقتصادي عدالت» دی.

الف: په ټولنه کې د اقتصادي عدالت راتلل

اقتصادي عدالت، په دې معنا دی چې په اقتصادي اړیکو کې د اقتصاد د حقونو خیال وساتل شي. که څه هم د «عدالت» ټکی د «مساوي» ټکې سره فرق لري، خو ټول انسانان د خدایي نعمتونو په ګټه اخستو کې سره مساوي او برابر دي. له دې

وروسته چې ټولو ته یو شان سریزې برابرې شي او موقع ورته ورکړی شي که یبا یوه ډله د خپلو دیرو کوششونو او هڅو په سبب له نورو زیات نعمتونه په لاس راوړي نو عدالت باندې کومه نیوکه نه راځي. (رجایی و معلمی، ۱۳۹۰: ۳۰) نو دې ته په پام اقتصادي عدالت یعنی د ژوند په مقابله کې ټولو ته یو شان سریزې او حالات برابول چې په کې کوم تبعیض او فرق نه وي. بیا چې کوم کس ډیر توان لري او ډیره هڅه کوي نو له نورو مخکې کیدی شي. اسلامي ټولنه بې تبعیضه ټولنه ده نه بې فرقه، البته دا فرقونه د هغه تدبیرونو په سبب چې اسلام ورته فکر کړی دی لکه د مالیاتو په ګمارلو کې د شرعي حاکم اختیارات او همدارنګ د اقتصاد اخلاقو سره د ټرون په سبب به هیڅ کله بدې ته ونه وځي. (مطهری{علی}، ۱۳۸۰: ٦) د امام خمینی له نظره اقتصادي عدالت د ټولې ټولنې د برابرې سبب کیږي دې طریقې سره چې ټول خلک خپل شرعی اقتصادي حقونو ته رسیږي او بدمعاشان بیا له خلکو بده ګټه نه شي اخستی، چې د ځان لپاره د لوړې درجې ژوند جوړ کړي، امام خمینی فرمایي: «اسلام هغه دین دی چې د شخصي ګټو مخه نیسي. اسلام هغه دین دی چې بدمعاشان د ځان لپاره لوړ ژوند جوړ کړي... اسلام په کې برابري او تعدیل راولي. (امام خمینی، ۱۳۷۸، ٤ټوک: ۲۷۲)

په ساده ټکو اسلامي حکومت د عدالت پر اساس ولاړ دی او دا خبره د اسلام له تفکره راوتی ده چې اسلامي مشران دا ذمه لري چې ځان د ټولنې د غریبو او کمزورو خلکو په رتبه کې راولي، د غریبانو حق له شته منو واخلي، چې دې طریقې سره د ټولنې د غړو تر منځ طبقاتي فرق جوړ نه شي. امام خميني(ره) همدې اصل ته په پام فرمايي: «زه هیله لرم چې په ایران کې اسلامی حکومت جوړ شي او کومې ګټې چې په اسلامي حکومت کې دی هغه ټولو انسانانو ته روښانه شي چې لومړۍ خو دا چې په هغه اسلام څنګه دی... د عدالت جاری کول په څه طریقه او د هیواد له ټولو د لوړې درجې کس عامو وګړو سره په ژوند کې کوم فرق نه لري... او داسې حکومت له دې وړاندې نه دی تیر شوی.» (هماغه، ۳ټوک: ۸٤) او دا چې فرمايي: «ستاسو دښمنان غواړي چې خپل جیبونه ډک کړي او اسلام جیب ډکوونکی نه دی، اسلام کمزورو سره دی. اسلام هغه دی چې د هغه امیر فرمايي چې زه ویریږم چې د هیواد په بل اړخ کې کوم کس ورځې نه وي کیدی شي هلته څه ونه لري چې ویې خوري، زما ژوند باید داسې وي، داسې نه وي چې په خپله مې زړه په آرام وي...» (هماغه، ۷ټوک: ١٤٦)

ب: اقتصادي خپلواکۍ ته رسیدل

اقتصادي خپلواکي او د ځان بسیا د قبلیدو وړ تر پولې ځان رسول د تاریخ په اوږدو کې د بیلا بیلو ټولنو ارمان پاتی دی. امام خمینی د اسلامي انقلاب د جوړونکي په توګه د خپلو ټولو نظریو تر څنګ په اقتصاد کې هم خپله خاصه پاملرنه کړې ده او خپلې مشرتابې په اوږدو کې په خپلو بیاناتو او لیکونو کې د د ټولنې به پرمختېر کې د خپلواکه اقتصاد په رول باندې ټینګار کړی دی(احمدی، ۱۳۸۰: ۱) هغوي خپلواکه اقتصاد ته د رسیدلو لپاره د سختو او تکلیفونو زغمل د ملت او حکومت یوه شرعه ذمه ګڼلې ده. فرمایي: «زمونږ د هیواد وفادار او انقلابي خلک د حقیقي خپلواکۍ په لاس راوړلو لپاره او ځان بسیا ته د رسیدلو لپاره، له دې زیات صبر او زغم ته چمتو دي او زه مطمئن یم د ایران ملت د یوې ګړئ آزادي او خپلواکي د ناز او نعمت هغه زور کالو سره نه سموي چې د نورو د حکم لاندې او نورو سره تړلي وي. (امام خمینی، ۱۳۷۸، ۲۱ټوک: ٥٦)

د پام وړ خبره دا ده چې د امام خمینی په نظر کې اقتصاد یو ګته ور او په کاریدونکی ابزار دی چې هیڅکله بنسټیز رول نه لوبوي. له همدې سببه د اسلامی انقلاب چې کوم د اقتصاد غرض دی هغه داسې حال ته رسیدل دي د توحید پر اساس- چې اصل بنسټ دی- اقتصادي جوړښت داسې شکل پیدا کړي چې هم په کې ځان بسیا وي او هم د انسان د معنوي پرمختګ لپاره اوزار وي چې خپلې مشروعې اړتیاوې ورسره پوره کولې

شي. (افتخاری، ۱۳۷۷: ۱۲) له همدې سببه دی چې د امام په اخرنو سپارښتنو کې دا راغلي دي: «زما ټولو ته دا سپارښتنه ده چې د الله تعالی یاد سره په ټولو ډګرونو کې د ځان پیژندنې او ځان بسیا او خپلواکۍ په لور لاړ شئ او بیشکه چې د خدای مرسته تاسو سره دی.»(امام خمینی، ۱۳۷۸، ۲۱ټوک: ۲۰٤)

امام خمینی د هیواد د اقتصادي بنسټونو مزبوتیا د هیواد د خپلواکۍ لپاره ضروري ګڼلې ده او دا باور یې درلود چې په هغه څیزونو کې چې هغه ضروري او ژوند سره اړین څیزونه دي لکه د بزګرۍ په چارو کې باید مونږ خپلواکۍ او ځان بسیا ته ورسیږو او تر څو چې مادي خپلواکۍ ته نه وو رسیدلي نو په نورو چارو کې خپلواکي ممکنه نه ده که ستاسو هیواد په اقتصاد که ونه ژغورل شي او اقتصادي تړاو ولري نو په دې پسې نور تړاوونه هم راځي لکه سیاسي تړاو، فوځي تړاو، ځکه چې کله مونږ سره څه نه وي نو امریکې ته به لاس اوږدوو او هغه وخت به امریکه هر څه په مونږ باندې په زور مني، مونږ هغه وخت توان لرو چې انکار ترې وکړ چې کله په خپله توانمن وو. (هماغه، ۱۱ټوک: ۱۱۷)

امام خمینی دا ټول اقتصادي، کلتوري او سیاسي سسټمونه یو بل سره تړلي ګڼي، داسې ښکاري لکه چې هغوي د اقتصاد د خپلواکۍ په باب د هیواد د پردي ځواک د لاندې راتلل او نه

راتلل ګڼي چې سياسي تړاو او کلتوري تړاو هغه وخت پيدا کيږي چې مونږ خپلواکه نه وو او نورو هيوادونو لکه امريکې وغيره ته اړمن وو. (موسايی، «د حضرت امام خمينی له نظره اقتصادي هدفونه» کتاب کې) لکه څه رنګ فرمايي: «تاسو ته معلومه ده چې که يو هيواد په اقتصاد کې لکه ډوډۍ کې بهرني هيوادونو ته اړمن شي او داسې اړتيا چې خپله يې نه شي پوره کولی او بايد نور يې وسائي، نو دا اقتصادي تړاو، هغه هم په دې برخه کې، د دې سبب کيږي چې ايران نورو ته تسليم شي». (امام خمينی، ۱۳۷۸، ۱۱ټوک: ٤١٣)

اتمه برخه: د ایران د اسلامی انقلاب بیلګه ځانګړتیاوې[٦]

[٦] - دا برخه د آیت الله مصباح یزدی د کتاب "انقلاب اسلامی و ریشه های آن"، له ژلورمې لوسته اخستی شوې ده، د امام خمینی د موسسې له خوا په ١٣٨٦ کال کې چاپ شوی، او همدار د "انقلاب اسلامی؛ زمینه ها و پیامدها"، کتاب له دریمې برخې، د "انقلاب اسلامی در میان انقلاب های بزرگ جهان" د عنوان لاندې، چې منوچهر محمدی لیکلی، او معارف خپرندویې په ١٣٩٠ کال کې خپور کړی دی.

سریزه

د اسلامي انقلاب داسې ځانګړنې چې له نورو انقلابونو يې بيله وي، هغه د نبيانو په لارې تړ دی. د نبيانو حرکت هم ځانته ځانګړنې لرلی چې په هغو کې يو دا وه چې په باطلو عقيدو به يې حقې عقيدې ته لوړاوې ورکاوه. د دې ليدتوګې پر اساس بايد د حق د پيژندلو لپاره هڅه او کوشش وکړو، او د دې خبرې د ثابتولو او رواج کولو لپاره بايد قدم اوچت کړو او د باطل فکر ته يوه ذره هم تسليم نه شو. له همدې سببه وو چې نبيانو حرکت په بيلګو او تړلارې او طريقې کې نورو حرکتونو سره او ټولنيزو انقلابونو او بدلونونو سره فرق درلود.

له ټولو مهمه ځانګړتيا چې د نبيانو حرکت درلوده او په هغوي پسې د اسلامي ايران انقلاب درلوده، هغه انسان ته په معوني برخه کې پاملرنه ورکول وو. او دا ځانګړتيا په ټول کې مکمل نورو حرکتونو سره جدا کوي او د انسان انسانيت ته پاملرنه کوي. د نبيانو د حرکت بله ځانګړنه دا ده چې هيڅکله ځان غوښتې او ځان خوښې ته ارزښت نه ورکوي. ځکه چې مادی ګروهنه او دنيا ته مخ کول دا هغه څيزونه دي چې نبيانو ټول

عمر د دې په خلاف تر کړی دی. هغوي به تل دا هڅه کوله چې ټول انسانان له خدایي برکتونو ګټه واخلي او د خدای په لور هغه ته د نږدی کیدو لپاره قدم اوچت کړي. د ټولنې په بیلا بیلو ډلو کې د وحدت او یووالي راوستل هغه یوبله ځانګړنه وه چې د نبیانو دې حرکت درلوده د دې لپاره چې انسانان حقیقي نیکمرغۍ ته ګروهنه پیدا کړي.

باید دې مطلب ته هم پاملرنه وشي چې د خدای وعده دا ده چې اخرنۍ بریالي د نبیانو ده: وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ * إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنصُورُونَ * وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ؛(صافات (۳۷)، ۱۷۳ ـ ۱۷۱.) او په تحقیق سره چې زمونږ خبره زمونږ رسولانو ته له وړاندې شوې ده، چې بیشکه هم له دوي سره مرسته کیږي. او بیشکه چې زمونږ لښکر بریالے دے.

خو د هغه څه پر اساس چې د تیرو کسان له تاریخ مونږ ته رسیدلي دي، په تاریخ کې داسې ځایونه دي چې انسان د نبیانو د اطاعت او پیروۍ په سبب په دې دنیا کې کاملې نیکمرغۍ ته رسیدلي دي هغه زیات نه دي بلکې د هغوي په مقابله کې هغه کسان چې د نبیانو مخالفت به یې کاوه او ګناه به یې کوله هغه ډیر دي. د مسلمانانو ۱۴۰۰ کلن تاریخ کې داسې حرکت یو ځل د رسول الله په زمانه کې وشو او هغه حکومتونه چې

څو زره کاله زاړه وو له منځه لاړل. که څه هم دا د ویلو ده چې په خپله د پیغمبر صلی الله علیه و آله په زمانه کې دغه اسلام زمونږ هیواد ته راونه رسید خو د هماغه بعثت برکت و چې له څه وخت وروسته د ټولو د هدایت سرچینې برابرې شوې او ایرانیانو په خپلې خوښې سره اسلام قبول کړ. له هغه تاریخه وروسته بیا داسې حرکتونه چې د پیغمبرانو د اطاعت لاندې ترسره شي په نړۍ کې په نظر نه راځي. البته داسې ټولنیز بدلونونه چې د پیغمبرانو د زده کړو د ښودلو په سبب وي هغه کم نه وو، خو داسې وخت چې د یو حکومت د جوړیدو سبب شي او د اسلامي او خدایي قانون لاندې وي هغه کم پیدا کیږي. که څه هم له دې انکار نه شو کولې چې کله کله په ګوټ کې په ښارونو یا یوه ولایت کې د کم وخت لپاره ځینې حکومتونه راغلي دي خو داسې هراړخیز حکومت چې په یو داسې هیواد کې وي چې څو ګروړه خلک ولري د اسلامي قانون پر اساس انقلاب راشي، دا مونږ ته نه میلاویږي.

له همدې مخې دا دعوا کولی شو چې له هغه حرکته وروسته چې د مسلمانانو په تاریخ کې د رسول الله صلی الله علیه و آله په زمانه کې ترسره شو بیا داسې حرکت نه دی شوی چې د رسول الله صلی الله علیه و آله د یو لمسي په لاس باندې چې د خدای د رسول عاشق و او د خدای عبادت کوونکی بنده او حق پالی و د اسلامی انقلاب بریا په ایران کې ترسره شي. دا نقلاب د

خدايي حرکتونو دويمه غټه نمونه ده چې د اسلام په تاريخ کې بلکې د خدايي دينونو په تاريخ کې يې پيدا کولی شو. کوم څه چې تير شو له هغې د ايران د اسلامی انقلاب د لوړاوي سرچينې ته رسيدی شو چې د نړۍ ټولو خلکو وباندې اتفاق کړی دی او هغه ديرو شهادتونو او دليلونو په رڼا کې چې د سياستمدارانو او حکومتي کسانو، ټولن پوهانو او د نظر د خاوندانو په بيانانو کې راغلي دي نو د دې په وړاندې د تعظيم او زبرګې سر ټيټوي.

۱. د اسلامی انقلاب ځانګړتياوې

هغه انقلاب ته اسلامي ويلی شو چې په هغه کې لاندينې خبرې وي. او که په کوم انقلاب يې له دې يوه خبره هم کمه شي نو هغه ته بيان هسې اسلامي انقلاب نامه ورکول کيږي.

الف ـ کلتوري اړخونو ته پاملرنه: اسلامی انقلاب له هر څه وړاندې يو کلتوري انقلاب دی؛ نه يو سياسي، حقوقي او اقتصادي. خو د دې مطلب دا نه دی چې مونږ يې هغه بيلګې او اړخونه منفی کوو؛ په نورو ټکو دا ويلی شو چې که څه هم دغه اړخونه هم په نظر کوي لکه د خلکو غريبانه، ظلم، نړيوال حيثيت له منځه تلل او د ژوند د نورو برخو ته پام نه کول خو کوم اصل مقصد چې په دې انقلاب کې وي هغه اخلاقي او معنوي بشپړتياوې دي او که دا انقلاب په دې نورو اړخونو هم کار کوي لکه ظلم، غربت او جهالت وغيره نو له دې سببه دي

چې دغه چارې سبب کيږي چې انسانان د معنوي او اخلاقي پرمختګ او کماله هيساروي.

ب ـ خبرتيا سره ټاکنې ته اهميت: له دې سببه چې د دې انقلاب اصلي هدف د انسان د معنويت بشپړتيا ده او دا هدف بې له دې په لاس نه راځي چې انسان په خپل اختيار سره چارې ترسره کړي، نو د دې انقلاب مشران ډير کسان ځان سره د انقلابيانو په صف کې راولي، او هيڅ کله هغوي نه مجبوري او په زور وربانديې بار نه وراچوي؛ بلکې دا هڅه کوي چې خلک په خپله د انقلاب په مقصدونو ايمان راوړي او خبرتيا او ازادۍ سره په خپله انقلابيانو سره شي او د زړه له کومې د فاسد نظام غورځول او انقلابی نظام راوستل وغواړي. له همدې سببه د انقلاب مشران نه حقيقتونه پټوي او نه دروغ خپروي او له هر ډول غفلت او دهوکه بازۍ مخ اړوي. په حقيقت کې هغوي خپله ذمه ګڼي چې د خلکو خبرتيا، فکري پرمختګ او کلتوري پوهه زياته کړي.

ج ـ د حقو عقيدو د مزبوتيا لپاره هڅه: د انسانانو او انقلابيانو د معنوي بشپړتيا مطلب، اول دا دی چې هيڅه کوي په خلکو کې د حقو عقيدې مزبوطې کړي او بيا له هغه حقو عيدو د انقلاب د غرضونو لپاره ګټه اخلي. د دې انقلاب مشران د نورو انقلابونو پر خلاف له هرې عقيدې ګڼه نه اخلي که غلطه وي

که صحیح. له بلې خوا د انقلاب د خدمت لپاره د هغوي له احساساتو او انساني عاطفی هم غلطه ګټه نه اخلي بلکې احساسات او عاطفي د شرعی حکمونو تابع جوړوي او د عقل مطابق پیژنده او صحیح عقیدې ورته وړاندې کوي او بیا د انقلاب د بریا لپاره له همدې خبرتیا ګټه اخلي. په همدې سب د اسلامي ارزښتونو خپرول او رایج کول چې هم صحیح او د واقع مطابق دي او همد اثیار او فداکارۍ لپاره چمتو دي هغه په خلکو کې راولي.

د ـ د هدفونو په ځیرتیا بیان باندې ټینګار: د اسلامی انقلاب مشران همدارنګ د انقلاب مقصدونه او هدفونه په څرګنده بیان کړي دي او ټینګار یې ورباندې کړی دی. له همدې سببه تل اعلان کوي چې ملت ګروهنه، وطن پرستي او نسل پرستي او داسې نور غرضونو پسې نه دي او یواخې په حق او عدالت پسې دي، په داسې حال کې چې د نورو انقلابونو غرضونه او مقصدونه په پرده او ابهام کې وي. د دې لپاره چې د خلکو یوه ډله هم له ځانه خپه نه کړي او ټول ځان سره ترڅنګ وساتي او حاکم نظام له منځه یوسي او انقلاب بریالی کړي. د اسلامی انقلاب مشران که هم څه د ټولو خلکو خیر غوښتونکي دي او د ټولنې د ټولو افرادو ګټې او مصلحت پسې دي خو خپل هدفونه په څرګنده بیانوي د دې لپاره چې د حقو او باطلو ارزښتونه خپلو کې ګډوډ نه شي او خلک بې لارې نه کړي.

هـ ـ انقلاب د ټولو لپاره: انقلابیان د دې لپاره چې ټول ګټه ور کسان وپیژني او خپل طرف ته یې کړي ډیر سخت کار کوي ځکه چې د انقلاب د یو کس یا یوې ډلې بریالیتوب لپاره نه دی، بلکې غواړي چې ټول کسان او ټولې ډلې او د ټولنې د هرې رتبې خلک پرمختګ وکړي او خپلو حقیقي مصلحتونو ته ورسي. البته د مفید او موثر کسانو په لاس راوړلو لپاره له خپل یو اصل او بنسټ نه هم نه تیریږي.

و ـ په بهرنیانو باندې تکیه نه وهل: انقلابی کسان هیڅکله په غیرو باندې نه تکیه کیږي، (د یادونې ده چې له غیرو مطلب یوازې نور هیوادونه او نورو ټولنې او قومونه دي چې د اسلام دین او اسلامي انقلاب سره مخالف دي او دښمنان دي) ځکه د اسلامی له دښمنانو بیزاري همداسې باید لازمه وي لکه څه رنګ دوستانو سره تولی او مینه لازمه ده دا د دې دین اصول دي. له همدې سببه دا انقلاب یوازې په خپلو دوستانو باندې تکیه وهي او مستقل دی.

ز ـ د قانون تل پاتی والی: له دې سببه چې دا انقلاب اسلامي جړه لري چې هغه خپل ثابت او تل پاتې قانون، حکمونه، حقونه او ارزښتونه لري چې بدلیږي نه، نو کومه اړتیا نه لري چې به هره مسله او مشکل کې د نظر له خاوندانو او کارپوهانو رای او نظر واخلي. له همدې سببه هیڅ یو قبیله او ټولې له

انقلابه کومه ټمه نه لري چې د احکامو او قانون په لاس وهنې سره خپل خصوصي ګټې ترلاسه کړي. او همدا عامل د انقلاب له بریا وروسته د انقلاب په باقي پاتی کیدو کې دیر زیات اغیر لري.

ح ـ د بدلیدونکو مصلحتونو خیال ساتل: د قانون ثابت شونه او تل پاتی والې هیڅ کله مونږ له دې نه منعه کوي چې کوم بدلیدونکي مصلحتونه دي د هغې خنډ جوړ شي، بلکه د هغه ثابت قانون او ارزښتونو په رڼا کې خاص او جزئي قانون جوړیږي او د هغه په وسیله هغه مصلحتونه او اړتیاوې پوره کیږي.

ط ـ د حاکمیت ثابت ملاتړ: د دې انقلاب د مشرتابې او لارښود حاکمیت د شیعه مذهب له نظره د الله د لوی ولي امام زمان له حاکمیته سرچینه اخستې ده او په لوړه مرتبه کې د الله د حاکمیت یو څرک دی؛ او دا خبره د حاکمې ټولنې د بقا او پاتې والی ضمانت او ثابت ملاتړ دی.

ي ـ له غیبي مرستې برخه من شونه: دا یوه داسې خبره ده چې له وړاندې ټولو خبرو زیاته مهمه ده او علمي او تجربی حسابونو سره نه حسابیږي، د دې خبرې پر اساس الله تعالی د هغه کسانو چې د انقلاب لپاره په رښتیا او مخلصانه خدمت کوي، مرسته کوي او له همدې سببه هغوي ماتی نه خوړونکي ګرځي.

۲. د ایران د اسلامي انقلاب د نړۍ لویو انقلابونو سره مقایسه

دلته مونږ د ایران د اسلامي انقلاب د فرانس او روس لویو انقلابونو سره کوو چې هم دې سره تقریبا نزدی وختونو کې وو او هم د یورپ له خوا لوي او نړیوال انقلابونه ګڼل شوي دي او سبب شول چې د لیبرالیزم او سوشیالیزم خبرې شورو شوې، دلته مونږ دا ښایو چې څه رنګ د ایران اسلامی انقلاب له هغه انقلابونو زیات ژور، او د خلکو د ګډون له مخې زیات پراخ او بشریت ته یې یو نوې نظریه وړاندې کړه. همدارنګ دا هڅه کوو چې د ایران انقلاب د فرانس او روس انقلابونو سره د اقتصاد، سیاست او ټولنیزو چارو له مخې هم مقایسه کړو.

الف: له انقلابه وړاندې د رژیم اقتصادي حالت

په فرانس کې د ۱۷۸۹ له انقلابه وړاندې داسې نښې موجودې وې چې د هغه اقتصاد خراب شوی او دا هیواد له انقلابه پنځوس کاله وړاندې اقتصادي مشکلاتو کې ښکیل و او هره ورځ مشکلات زیاتیدل.

همدارنګ روس کې هم له انقلابه وړاندې حالات د شلمې پیړۍ له لومړۍ لسیزې راهسې ښه نه وو. هغه دوه بهرني جنګونه چې په دې وخت کې ترسره شو د هغو له سببه اقتصادي حالت نور خراب شو، او د اقتصاد خراب حالت تر ۱۹۰۹ پورې دوام

درلود او د کارګرانو او دهقانانو لپاره يې حالات خراب کړي وو. له يوې خوا بيکاري ډيره شوې وه او له بلې خوا د کار دا حال و چې چا تنخوا په پيسې نه ورکولې او له همدې سببه دا حالت د زغم وړ نه و. په هغه وخت کې چې کارګرانو کوم لارويون وکړ او له کاره يې لاس واخست نو هغه د اقتصاد له مخې و او ورو ورو د کارګرانو د لارويون شمير زياتيده.

په داسې حال کې چې په ايران کې د رژيم شاه د حکومت په آخرني وختونو کې هيواد له اقتصادي نظره ټول هيواد د پهلوي رژيم د ۵۷ کلن حکومت په ټولو سِنه حالت کې و. د تيلو ګټې په راتلو سره د ايران رژيم نه يواځې دا چې يو شته من حکومت شو بلکې د ايران ټولنه يې په خرچ کوونکي ټولنې بدله کړې وه. نو ګورو چې د فرانس او روس حالت له اقتصادي نظره ډير بد و او په حقيقت کې د ختميدو حالت ته راغلي وو. د ايران حکومت له دې سببه چې په يو ځل د تيلو قيمت زيات شو نو له مالي نظره او اقتصادي نظره په ډير سِنه حالت کې و چې تاريخ وربانديې ګواهي ورکوي.

ب: له انقلابه وړاندې د رژيم فوځي توان

د هر يو رژيم لپاره د خپل طاقت د استعمال له ټولو مهم او غټ ابزار دا دی چې فوځی توان ولري په بيله توګه هغه وخت چې دنني زور سره مخامخ وي، نو د فوځ په وسيله خپلو

مخالفو کسانو باندې رعب اچولې شي او چپ کولی شي. کله چې په یو سیاسي نظام کې فوځي توان برابر نه وي او پرله پسې ماتو سره خپله حوصله له لاسه ورکړي او همدرانګ د اقتصادي مشکلاتو له مخې د فوځ خرچه او وسله هم نه شي پوره کولې نو فوځیان په سیاسي رژیم باندې خپل باور او ایمان له لاسه ورکوي نو داسې حال کې حکومت او سیاسي طاقت د خپلو مخالفانو د ځپلو لپاره له هغوي ګټه نه شي اخستی بلکه هغه فوځ په خپله یو خطرناک حالت کې بدلیږي او کله کله د حکومت مخالف ډلو سره یو کیږي او له دې عمله د سیاسي طاقت د ختمیدو وخت نور هم نږدی کیږي.

فرانس له انقلابه پنځوس کاله وړاندې ۲۶ کاله په نړیوالو جنګونو کې بوخت و او په دې جنګونو کې نه یواځې دا چې بې له یوه ولایت بل څه یې په لاس نه وو راوړي بلکې دومره ماتې او مالي او ځمکیز تاوانونه یې کړي وو او دا وړاندوینه کیده چې کیدی شي د فوځ افسران پرځای د دې چې انقلابیان وځپي د حکومت په خلاف شي او انقلابیانو سره شي او همدا څیز د سیاسي او ټولنیزې ټکرې سبب شي تر دې وړوکې غوندې حرکت هم د حکومت لپاره د کنټرول وړ نه وي او د انقلاب د بریالي کیدو سریزې برابرې شي.

د روس فوځی حالت هم د په یورپ کې د کریمه په جنګونو کې په ۱۹۰۵ کې بدل شوی و. هغه طاقت چې په ۱۸۱۵ کې په یورپ کط یواځینې توانمن طاقت و او له ۱۸۴۸ وروسته داسې ښکاریده چې اوس هم د یورپ له ټولو طاقتونو سره ډیره فاصله لري د کریمه له جنګونو وروسته دومره خراب شو چې د یورپ نورو هیوادونو سره برابر و او تر کومه چې تزار په سن پطرزبورګ کې حاکم و هیڅکله یې د ۱۸۱۵ غوندې موقعه پیدا نه کړه. لومړۍ نړیوال جنګ د پراختیا او وخت له نظره او د روس پولو سره د نزدیوالي په سببه د روس او د جاپان له جنګه ډیر مهم و او په هیواد کې دننه یې ډیر لوی اثر ولره تر دې حده چې د هیواد فوځیان یې ټول بې حوصلې کړل او کوم کسان چې به له جنګه راتلل هغوي به د حاکم په خلاف وو او همدا سبب و چې د روس انقلاب د لومړي نړیوال جنګ په مینځ کې راغی.

نو ګورو چې په روس کې هم له انقلابه وړاندې د مسلحو ځواکونو توان او سیاسی حکومت سره وفاداري ختمه وه بلکې یو ماتې خوړلی فوځ و او له بلې خو کارګرانو سره د یو کیدو لپاره چمتو و چې د انقلاب په بریالیتوب کې د دې خبرې ډیر لوی رول و.

خو د ایران شهنشاهي فوځ د فرانس او روس پر خلاف، له انقلابه تقریبا ۵۷ کاله وړاندې راهسې یې په هیڅ کوم بهرني جنګ کې برخه نه وه اخستی. او د ایران له نورو پاچایانو زیات محمدرضا شاه فوځي ځواکونو ته پاملرنه کوله. هغه د مسلحو ځواکونو د قوماندان په توګه دا احساس کاوه چې یو مزبوت او او پاچا سره وفادار فوځ لري چې نه یوازې د ننني مخالفینو په وړاندې د سیاسي نظام ساتنه کولی شي بلکې په نړیوالې توګه د ګاونډی هیوادونو کې هم خپل هدفونه مخې ته وړې شي.

نو یقین سره دا دعوا کولی شو چې په روس او فرانس کې له انقلابه وړاندې د فوځیانو د ماتو له سببه بد حالت و او د هغوي فوځیانو نه یوازې دا توان نه درلود چې د سیاسي نظام حمایت وکړي بلکې د انقلابیانو په وړاندې یې هم کومه ولاړتیا نه ښودله او کله کله به انقلابیانو سره یو شو، په داسې حال کې چې د ایران فوځیان د طاقت له نظره له ټولو په ښه حالاتو کې وو او بې له ډیرو کمو ځایونو تر اخري وخته شاه سره وفادار وو او د انقلابیانو په ځپلو کې یې هم کوم کمی نه و کړی.

د کومو دریو هیوادونو چې مونږ څیړنه کوو دغه هیوادونه نه یوازې دا چې استراټیجک او حساس ځایونه لري بلکې اوس یا راتلونکي کې ډیر لوی طاقتونه ګڼل کیږي او د تاریخ په اوږدو کې یې په نړیوالو اړیکو کې ډیر لوی رول درلودلی دی. نو دا

فطری خبره ده چې په داسې هیوادونو کې بدلون او انقلاب سره د هغوي ګاونډي هیوادونه د ګټې یا تاوان اثران ښایي او د حاکم سیاسي طاقت په حمایت کې یا مخالفت کې به خپل رول ادا کوي. نو یو نړیوال لوی اثر لري چې دا هغه عامل دی چې د سیاسي رژیم د توان او طاقت په څېړنه کې ورته باید له انقلابه وړاندې او وروسته پام وشي.

په فرانس کې په ۱۸ پیړۍ کې اوږدو جنګونو ته په پام چې پینځلسم او شپاړسم لویي خپلو ګاونډیانو سره ولرل لکه، اترش، روس، انګلینډ او سپین سره، نو دا د دې سبب شو چې هغوي خو د سیاسي ګوند حمایت خود نه کاوه چې کله کله به یې د شپاړسم لوي د کمزورۍ کولو لپاره د حکومت مخالفانو سره مرسته کوله.

روس هم له دې نظره فرانس سره کوم توپیر نه درلود، په دې معنا چې له لومړي نړیوال جنګ کې د روس نیغ په نیغه جنګ کې ورګډېدل او د جرمنۍ، جاپان، عثماني حکومتونو سره دښمني جوړول په بیله توګه جرمني سره دا سبب شو چې لنن خپلو ټولو امکاناتو سره انقلابیانو سره ملګرۍ شي او د ۱۹۱۷ د بلشویکۍ د انقلاب بنسټ کېږدي له بلې خوا دې ته په پام چې فرانس او انګلینډ په خپله جرمني او د هغوي ملګرو سره په جنګ وو نو له یوې خوا هم ورسره د مرستې امکان نه و.

خو د ایران هیواد او شاه رژیم له دې سببه چې له خپلو غورځیدو یو لسیزه وړاندې د نړۍ د دواړو لویو طاقتونو تر حمایت لاندې و ځکه چې جنګونه ختم شوي وو او د آرامښت وخت راغلی و. او د خپل حکومت تر آخري ورځو یې د شاه حمایت کاوه او د دې په مقابل کې په نړیواله توګه د انقلابیانو څوک حمایت کوونکي نه وو.

نو معلومه شوه چې د روس او فرانس دواړو له انقلابه وړاندې ګاونډیان حمایت کوونکي نه وو خو د ایران د نړۍ دوه لوی طاقتونه له انقلابه وړاندې د شاه رژیم حمایت کوونکي وو.

ج: له انقلابه وړاندې د رژیم مزبوتیا

په هر یو نظام کې یوازې اقتصادي او فوځي طاقت د سیاسي حاکم د مزبوتیا لپاره کافی نه وی بلکې په سیاسي نظام کې مطلوب مدیریت او پوخ مهارت په بحراني او خرابو حالاتو د سیاسي حاکم حکومت بچولی شي. په فوځي جنګونو کې دا خبره ثابته شوې ده چې کوم کوماندان قابل وي هغه ډیرو کمو امکاناتو او وسلو سره هغه کوماندان ته ماتې ورکوي چې وسله او فوځیان خو ډیر لري خو پوهه او تجربه او مهارت ورسره نه وي. نو د فرانس او روس سیاسي نظام که څه هم ظالم حکمرانان یې درلودل خو مهارت یې نه درلود چې د کوم له سببه بهرني کسان په حکومتي ارګانونو کې ورننوتل او هغوي دغه کسان په

وخت ونه پیژندل او خپل حفاظت او ساتنه یې ونه کړې شوه. خو شاه په ۳۸ کالو کې سخت وخت تیر کړی و او د اعتماد او ارام وخت ته رسیدلی و او داسې پټ او خطرناک فوځیان لکه ساواک یې درلود چې تل یې ورسره خپله ساتنه کولې شوه.

د ظالمو حکومتونو د غورځیدو لپاره باید په خپله نظام هم څه نه څه کمزورې شوې وي څو انقلابیان دا توفیق بیامومي چې څه په لاس رواړي. په حقیقت کې د تاریخ له نظره یواځې د خلکو انقلاب د دې سبب نه کیږي چې انقلاب کامیاب شي بلکې له بهره باید ځینې لاسونه وي چې د حکومت په ادارو کې ننوځي او په کې کمزورتیا پیدا کړي او د انقلابیانو لپاره لاره هواره کړي.

د فرانس په انقلاب کې همدا کمزورتیا وې چې سیاسي حاکم نظام یې وغورځاوه، ځکه چې یوازې د خلکو مخالفت نه و بلکې په خپله د خلکو اقتصادي او سیاسي مشکلاتو حل لاره یې نه درلوده او پارلمینټ ته یې پناه راوړه او ځان یې تسلیم کړ او دا هاغه وخت و چې د خلکو ډلې جوړې شوې او انقلاب ورسره نور هم تیز شو.

همدارنګ د روس په انقلاب کې که څه هم مخالف طاقتونه وو، هغوي ډلې او سیاسي حزبونه جوړ کړي وو او د شلمې پیړۍ په لومړیو کې جوړ شوي وو خو د رومانوفانو د نظام په

ختمولو کې يې هيڅ ډول رول ادا کړې شو بلکې تصور يې هم نه شو کولی چې داسې آسانۍ سره به د روس امپراتوري ختمه شي. روس له بهره دير زور زغمه خو بيا يې هم په خپله ځان نه دی تسليم کړی خو کله چې د خلکو له خوا هغه لارويون وشو چې هغه د اقتصادي بحران له امله راپورته شوې و او لارويونو او کارخانو د بنديدو په شکل په پتروګراد ښار کې څرګند شو نو حکومت ورته تسليم شو او د يخو د غر په شان ويلی شو.

د ايران انقلاب په داسې حال کې بريالی شو چې شهنشاهي رژيم ځان په ډير لوی توان کې ليده او د مخالفانو په مقابله تر آخري وخته ولاړ و او انقلابيان يې تسليم ته راوستي وو نو داسې وخت کې بايد ډير لوی پروګرام سره او د ډيرو خلکو قربانۍ سره بايد يو توانمن نظام له منځه يوسي.

د: ټولنيز توان

ټولنيز توان له داسې ټولنيزو ډلو جوړ دی چې د ارزښتونو او باورونو په سبب يوځای له راغونډ شويو کسانو جوړ شوی دی او کله چې سياسي طاقت د هغوي د ارزښتونو او غوښتو ځواب ورنه کړې شي يا يې نه غواړي چې غوښتې يې پورا کړي نو دغه ټولنيزې ډلې نهيلي شي او د داسې مشرانو په لټه کې شي چې هغوي ورته دغه غوښتې پوره کولی شي، د ټولنيز طاقت په جوړيدو کې درې اساسي رکنونه دي: خلک، مشر او ايډيالوجي.

۱- د خلکو ګډون

په داسې حال کې چې په فرانس او روس کې د ظالم رژیم په غورځولو کې ډیرو کمو کسانو ګډون کړی و او تر دې چې په فرانس کې لکه څه رنګ چې وویل شول د خپلو کمزورو له سببه تسلیم شول او روس که هم د پطرزبورګ د کارخانو ډیرو کمو کارګرانو او د هماغه ښار ځینې فوځیانو مخالفت شورو کړی و او د ورمانوفانو د کورنې د غورځیدو سریزې برابرې کړې. د ایران په اسلامي انقلاب کې بې له فوځیانو او ځینې شته منو کسانو نورو ټولو په کلیو، ښاریو کې که کارګران وو که کارمندان او که بزګران ټولو په یو هیر د هیواد ټول اقتصادي سسټم او ادارې له کاره وغورځولې او د شاه په مقابله کې خالي لاس ودریدو او هغه یې له منځه یوړ.

ورپسې مطالعې هم دا ښایي چې د انقلاب له بریالۍ وروسته هم د استبداد او ډکټېټرشپ کړې پرې شوي او سیاسي خبرتیا او د خلکو د ګډون سریزې برابرې شوي دي له انقلابه وروسته ورو ورو حاکمیت سره د خلکو ګروهنه ختمه شوی او د فرانس او روس په مقابله کې چې هلته ورو ورو په ټولټاکنو کې د خلکو ګډون په کمیدو دی خو دلته په ایران کې له انقلابه وروسته دا ګډون په زاتیدو دی.

په ایران کې د اسلامي انقلاب له بریالۍ وروسته بیا بیاپه ټولټاکنو کې د خلکو ګډون زیات شوی او تر دې چې د ښاریو د ېمونو غورځیدو په حالت کې هم دغه ګډون کم نه دی شو او نه ټولټاکنې وروسته شوي او نه ودریدلي دي. په تیرو لسو کلونو کې مونږ له شلو په زیاتو ټولټاکنو (اته د ولس مشر او پینځه د اسلامي شورا د غونډې، درې د خبرګانو د غونډې، یو د حکومت د څرګنوالي په هکله او دوه ټولټاکنېد اساسي قانون د رفرینډم په او دوه د اسلامي شورا ګانو) کې خلکو ګډون کړی دی او په ټولټاکنو کې د خلکو دا ګډون ډیر د پام وړ دی. او له ټولو مهمه دا ده چې هر کال په اجتماعونو او لارویونونو کې په کروړونو خلک ګډون کوي او د انقلاب کلیزه لمانځه او دا د خلکو ویختیا او د انقلاب حمایت ښیي.

۲- د لارښود شخصیت او رول

د لارښود شخصیت او رول هغه وخت روښانه کیږي چې کله د ایډیالوجیک انقلابي ډلې په خپلو کې جدا وي یا یې یو والې او اتحاد کمزوری شوی وي نو داسې وخت کې د لارښود رول پراختیا سره سره روښانه کیږي له بلې خوا د انقلاب د مشرانو رول په دریو اړخو کې کتلی شو چې هغه دا دی: لارښود د انقلاب د ایډیالوګ په توګه، لارښود د یو قوماندان په توګه، او لارښود د له انقلابه وروسته نظام د جوړوونکي په توګه. که

چرې مونږ د دغه دریو انقلابونو د لارښودانو رول وګورو نو مونږ ته معلومیږي چې زمونږ انقلاب د روس او فرانس د انقلابونو په مقایسه کې داسې توان او طاقت او ځانګړتیا درلوده چې په هغوي کې دا نه وه.

الف: د فرانس او روس په انقلابونو کې د هغوي لارښودان د ټولنې د مینځ یا لوړې رتبې کسان وو په داسې حال کې د ایران د اسلامي انقلاب لارښود د ټولنې د محرومې او فقیرې رتبې کسان وو.

ب: د فرانس او روس په انقلابونو کې په بیله توګه د روس په انقلاب کې مشران او لارښود هغه کسانو چې په خپله د هغه رتبې کسان نه وو په داسې حال کې چې په اسلامي انقلاب کې لارښود او مشران له هماغه رتبې وو چې د کومې رتبې دفاع یې کوله.

ج: د فرانس او روس په انقلاب کې هغه کسان مشري په غاړه اخستې وه چې روشنخیاله او تعلیم یافته وو او روحانیان د انقلاب پر ضد وو په داسې حال کې چې زمونږ په انقلاب کې دغه روشنخیال ښې یا کڅ اړخ سره ترلې وو.

د: د فرانس او روس په انقلاب کې مونږ داسې کس نه ګورو چې د ایران د لارښود په شان دغه درې ځانګړنې په کې وي هم ایډیالوجي هم د انقلاب قوماندانې او هم د له انقلابه وروسته

د حکومت ته شکل ورکول. د فرانس په انقلاب کې ځینې کسان دي لکه لافایټ، روبسپیر، ډوک د، اورلئان چې په دې کې یو کس هم د انقلاب په ټول وخت کې مشرتابه په جامعه توګه په ذمې نه لرله.

د روس په انقلاب کې لنین ګورو چې د انقلاب د تاریخ مشهور کس دی هغه خاص استعدادونه او شخصي نبوغ درلود چې د ۱۹۱۷ د اکتوبر په انقلاب کې یې د عمل په مرحله کې ښه رول درلود. په داسې حال کې چې په فروري میاشت کې یې رومانوفانو په غورځیدو کې کوم رول نه درلود او بیا ځینې کسان لکه زینوویف، کامنف، استالین، ټروټسکي او کرنسکي هم مشهور وو خو هغوي هم د رژیم په غورځیدو کې کوم رول نه درلود بلکې د رژیم غورځید د یو خودجوشه حرکت په نتیجه کې وو چې بې له مشرۍ ترسره شوی و.

لنډه دا چې نه د فرانس په انقلاب کې و نه د روس په هغه کې داسې کس په لاس نه راځي چې د انقلاب کوماندانې یې په لاس کې وي او نه په دوي کې کوم کس داسې ایډیالوجي درلوده بلکې دوي له انقلابه وروسته د حکومت جوړوونکي وو دا هغه کسان وو چې د له انقلابه وروسته یې واګې په لاس کې واخستل او خپل کار یې پیل کړ. په داسې حال کې چې د انقلاب لارښود حضرت امام خمینی(ره) له یوې خوا دینی مرجع و او خاص

نبوغ او ځانګړنې يې درلودې چې هم يې ايډيالوجي، هم کوماندانې او هم د انقلاب معماري او جووښت يې تقريبا د پيړۍ په ځلورمه برخه کې په لاس کې وه.

۳- په انقلاب باندې حاکمه ايډيالوجي

دې ته په پام چې د تير نظام او ټولنې په مشروعيت کې يوازينې لامل په درې واړو هيوادونو کې پاچاهي وه چې د انقلاب راتلو په سبب بې اعتباره شوې وه نو له دې سببه د انقلاب ايډياجوي مخې ته راځي د دې لپاره چې د نوي حکومت د راتلو لپاره هغه ايډيالوجي يو رنګ دليل وي. همدارنګ دغه مکتب او ايډياجوي انقلابيانو سره په يو کيدو او سياسي چارو کې هم مرسته کوي.

کله چې مونږ د دغه دوو هيوادونه په انقلاب کې ايډيالوجي وګورو نو دې ته رسو چې ليبراليزم او مارکسيزم په فرانس او روس کې يوازې خپل مادي محدوده ساحه درلوده او يوازې دا دنيا يې ليده او د رژيم په غورځولو کې يې هم کوم رول نه درلود او تر دې چې د نظام له ختميدو وروسته د خپلو ارزښتونو او معيارونو په عملو کولو کې مشکل سره مخامخ وو او مجبور شي په هغه نظرياتو کې ډير لوی بدلونونه راولي. او له بلې خوا دا دواړه مکتبونه او نظريې د فرانس او د روس خلکو لپاره نامانوسه او نوی وې. او د عامو خلکو عقيدو سره چې ظاهرا

هغوي مذهبي وو په تعارض کې وې نو له دې سببه دغه ایډیالوجۍ هیڅکله د خلکو او د ټولنې د راغونډیو لپاره کوم خاص رول ولري یوازې د خال مرتبې یعنې روشنفکر کسانو لپاره څرګندې وې.

په داسې حال کې چې د اسلام دین له ۱۴۰۰کالو وړاندې ایران ته راغلی و او خلکو پیژنده او ډیرو خلکو وربانديې ایمان درلود او د هغوي د ژوند په هره برخه کې دا دین موجود و او د نړیوال شونې له سببه یې د خلکو ته ډیره لویه ساحه جوړه کړې وه او د اخرت د نیکمرغۍ هیله به یې هم ورکوله له همدې سببه یې هم د دې دنیا لپاره د هغوي د ژوند او ټولنې و ورځنیو چارو ټول قانونونه ښودلي وو او هغه دوو نورو مکتبونو سره په مقابله کې د دین ایډیالوجۍ ډیر لوی عظمت درلود. په بیله توګه په شیعه مذهب کې یې د انقلاب لپاره بشپړې سریزې درلودې چې د یو طاقتور مکتب په توګه د اسلامی انقلاب په شکل ظاهر شي.

د فرانس او روس انقلابونه نه یوازې د حکومت په خلاف بلکې د روحانیت او کلیسا په خلاف وو، کلیسا په فرانس کې فرانسوي شوه او د پاپ زور په کې پاتې نه شو او واتیکار له اختیاره ووته او په روس کې مطروده او نفرت وړ شوه په داسې حال کې چې

په اسلامی انقلاب کې ټول روحانیت د حکومت په خلاف پاڅون کړی و او مشرتابه یې کوله.

په ایران کې د اسلام انقلابي ایډیالوچي د اسلامي انقلاب یوه ځانګړنه وه او دا ایډیالوجي د سیاسی غوښته په مقابله کې یو مزبوت ځواب و او په عین حال کې له مادي مکتبونو ستړې وه. بیا په دې ایډیالوجیې کې د لویدیځ د سیاسي سسټم ایډیالوجی هم په کار راوستلی شوه او له ټکنالوجیې او تجربې هم ګټه واخستل شوه. په نورو ټکو دې ایډیالوجیې د کمیونیزم په وړاندې چې مذهب سره په تعارض کې وه ډیره لویه ځانګړنه لرله او هغه دا وه چې له انقلابه وروسته هم دغه اسلامي ایډیالوجي وه چې له هیواده یې دفاع وکړه. د زاګورین په وینا چې د امریکې مشهور لیکوال دی وایي: که نن څوک پوښتنه وکړي چې د مارکس د انقلاب په نظریه کې کوم څه اعتبار درلود او کوم څه نه درلود، نو ځواب یې باید دا وي چې هغه نظریه د تیر وخت او تاریخ لپاره وه. د مارکس د نظریې نامناسب شونه هاله څرګنده شوه چې له ټولو په پرمختللي هیوادونو لکه د لویدځ په هیوادونو کې دا نظریه عملي نه شو او له همدې سببه سوشلیزم د وروسته پاتې ټولنې لپاره لکه په بزګرانو کې په روس او چین کې باقی پاتی شو. د په ډیرو انقلابونو باندې د تحقیقاتو په زیاتیدو او پرمختګ سره دا خبره ثابته شوه چې د مارکس ماډل د ډیر زیات ساده شونې له سببه اوس د ګټه

اخستو وړ نه دی بلکې د ډیرو انقلابونو د پیژندنې لپاره مانع جوړ شوی دی.

نو دې طریقې سره کتلی شو چې د اسلامي انقلاب د بریالۍ راز نه یوازې د دغه درې رکنونو په اعمال کې دی دا درې کنونه یعنی خلک، مشرتابه و مکتب کې لټوولی شو بلکې د تحلیل ګران د حساب او وړاندوینې پر خلاف د نړۍ د توانمن طاقتونه حیرانولی شي او د شهنشاه ډیر زوړ نظام له منځه وړی شي.

د فرانس او روس د انقلاب بریالي له دې سببه نه وه چې په خپله انقلابي ډله دومزه مزبوته وي بلکې حاکم رژیم او حکومتي جوړښت ورته کمزوری شو ځکه چې اقتصادي او فوځي ستونزو او نړیوال زور سره مخامخ شو تر دې حده چې د نظام له منځه تلل لازمي وو. په حقیقت کې هغه انقلابی ډلې په داسې وخت کې چې نظام له حاکمه خالي و، راغلی او هڅه یې وکړه او طاقت او حکومت یې په لاس کې واخست. او د همدې مقایسو په ترڅ کې چې فرانس او روس سره مو وکړه پوهیږو چې اسلامي انقلاب په ځلونو زیات عظمت او لوړاوې لري.

د انقلاب پریالیتوب په بیله توګه په سیاسي او پوهنتوني مرکزونو د حیرانتیا وړ شو ځکه چې کومو کسانو د تیرو انقلابونو مطالعه درلوده هغوي دا تصور نه شو کولی چې په پوهنتون کې داسې

وشي. د امريکي د اطلاعاتو مرکزونوFAOFA د شاه له غورځيدو څلور مياشتې وړاندې دې نتيجې ته رسيدلي وو چې په ايران کې نه د انقلاب حالت دی او د نه له انقلابه مخکې حالت دی او تر راتلونکي لسو کالو پورې شاه په خپل ځای باقي دی.

تداسکاچيل په دې هکله وايي: «د شاه غورځيدل او د ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۹ تر مينځ د انقلاب راتلل زمونږ د ټولو بهرني او دنني تر دې چې د شاه د ملګرو لپاره او خبريالو او د سياسي علمونو د پوهانو لپاره چې په خپله هم د انقلابونو کارپوه يم، يوه ناڅاپی خبره وه. مونږ ټول د انقلاب پيښو ته په حيرانتيا سره کتل. او بله دا چې د ايران انقلاب د طبيعي قاعدې برخلاف و. په تحقيق سره چې دا انقلاب يو ټولنيز انقلاب دی او زمونږ وړاندې پروژې چې په کې مو د فرانس، چين او روس د انقلابونو په هکله نظريې جوړې کړې وې هغه يې راته خرابې کړې. د ايران انقلاب د دومره خلکو په شتون سره وو او دومره يې د ايران کلتور، اقتصاد او ټولنيزې اړيکې بدلې کړې چې په حقيقت کې د ټولنيزو انقلابونو يو لويه تاريخي بيلګه وګرځيد.

اوس دا پوښتنه کيدی شي چې که مونږ د فرانس او روس انقلابونو ته لوی انقلابونه ووايو، نو د اسلامي انقلاب ته کومه نامه ورکړو او که اسلامي انقلا حقيقي انقلاب دی نو بيا په روس او فرانس کې چې څه شوي دي هغه ته څه نامه ورکړو؟ همدا

سبب دی چې د اسکاچیل خبرې رښتیا دي چې وایي د فرانس او روس انقلابونه راغلل خو جوړ نه وو شوي، خو د ایران اسلامي انقلاب رانغله بلکې موجودو حالاتو ته پام جوړ شو، او داسې ساده طریقې سره نه بلکې مکمل امکاناتو سره په ټول هیواد کې او دټولنې په ټولو رتبو کې د یو مزبوت مشر په لاس او د ډیرو زیاتو قربانو په وسیله چې هغه د انقلاب عاشقان څو لاکه کسان وو او همدا سبب و چې د ایران اسلامي انقلاب ټول حیران کړل. او یقین سره دا دعوا کولی شو چې د ایران انقلاب په تاریخ کې بی ځاري انقلاب دی.

د امام خمینی په وینا اسلامي انقلاب له ټولو انقلابونو جدا دی هم په پیدایښت کې او د مقابله کولو په څرنګوالي کې او هم د انقلاب او پاڅون په اسبابو کې.(امام خمینی، ۱۳۸۷، ۲۱ټوک: ٤٠١) کوم انقلابونه چې په نړۍ کې ترسره شوي دي یا به له دې وروسته ترسره کیږي، یا د ملتونو له خوا دی او یا د حکومتونو له خوا چې د مارشلا په شکل کې انقلاب راځي. اکثر انقلابونه د مارشلا (کودتا) له مخې راځي او کوم انقلابونه هم چې د ملت له خوا دي په هغوي کې ډیر کم داسې پیدا کیږي چې د ټاکلي شوي ډلو له خوا نه وي. تاسو که وګرځي نو څومره انقلابونه چې راغلي دي په هغوي کې به دا پیدا نه کړئ چې دا دوه ځانګړنې ولري. یو دا چې د ملت له خوا وي بې له دې چې کوم حزب او ډلې او سیاسي پارټۍ په کې لاس درلودلی وي، او

دویمه دا چې هغه انقلاب مکتبی وي او هغه د خدايي مکتب. په هغه ټولو انقلابونو کې چې په نړۍ کې تر سره شوي دي د ايران د انقلاب په شان به پيدا نه کړئ (امام خمینی، ۱۳۵۹/۰۳/۲۷) په جهان کې ډير انقلابونه ترسره شوي دي؛ په روس کې انقلاب و؛ په فرانس کې انقلاب و؛ نو د ايران انقلاب هغوي سره څه فرق لري؟ دا يو خدايي تحريک و داسې تحريک چې الله تعالی په کې رول درلود. (امام خمینی، ۱۳۸۷، ۸ټوک: ٦۳) نور انقلابونه په يو رژيم د بل رژيم چې دواړه تقريبا يو شان وي؛ خو زمونږ اسلامي انقلاب په اسلام باندي تکيه دی او له همدې سببه ګورو چې له انقلابه وروسته ځينې ګړبړ د منحرفان له خوا دي، په خپله د مسلمانانو له خوا انحرافونه کم دي يا بيخي نيشته. (امام خمینی، ۱۳۸۷، ۹ټوک: ۱٤۷)

همدارنګ ستر لارښود په دې هکله باوري دی: نور انقلابونه، ډير د مادي تفکراتو پر نيستټ ترسره شوي دي او يا دا چې په کوم مادي دين باندې هم باور ونه لري؛ بلکې د ماده پرستۍ پر بنياد عمل کوي. تر دې حده چې د ځينې انقلابونو سريزې اسلامی او مذهبي هم وې، خو اخر کې له اسلامي شونې ووتل. تقريبا داسې يو انقلاب هم نشته چې له دې قاعده (مادي شونې) بهر وي؛ خو په اسلامي انقلاب کې داسې ونه شو. انقلاب د مذهب له کوره يعنې جومات او مدرسې شورو شو او مذهبي پلو پاله په کې ورو ورو په زياتيدو شوه او مذهبي او معنوي

رول په کې دومره مزبوت شو چې هغه داسې کسان يې هم ميدان ته راوباسل چې په يو انقلاب کې هم نه دي راوتلي دين د انقلاب له ځانګړتيا و او وي به. او دا ځانګړنه به يو انقلاب کې هم نه وه او دا هغه مهمه ځانګړنه وه چې په نړۍ کې هر چرته مسلمان وې د هغه زړه به جمهوري اسلامي ايران لپاره درزيده، او جمهوري اسلامي سره به يې مينه پيدا کيده چې کم د اسلام د فکر د پرمختګ لپاره لګيا و. (آيت الله خامنه ای، بيانات،٢٠ بهمن سال ١٣٦٨)

اسلامي انقلاب له نورو ټولو انقلابونو بدل دی؛ نه يوازې دا چې معنوي او کلتوري انقلاب دی، نه يوازې دا چې اقتصادي انقلاب دی، نه يوازې سياسي انقلاب دی؛ بلکې يو هر اړخيز انقلاب دی. په خپله د اسلام په شان دی. لکه څه رنګ چې اسلام اخلاقي او معنوي اړخونه لري، خدايي اړخونه لري؛ اسلامي انقلاب هم ډير اړخونه لري بيا هم د خلکو ژوند ته يې نظر دی، لکه سياسي اړخ، اقتصادي اړخ او ټولنيز اړخ په ټولو کې دا انقلاب هره ورځ ورو ورو پرمختګ کوي د د ې انقلاب په سيمه او نړۍ کې د ژوندي کيدو سبب همدا هر اړخيز شونه ده چې انسانيت اړتياو سره سم دی. (د آيت الله خامنه ای، بيانات؛ ١٣٨٧کال؛ ص٧١)

د انقلاب په دین او اسلام تکیه وهلې وه. داسې انقلابونه ډیر دي چې د هغه د مقابلې جړۍ له دیني ایمانه اخستی شوي دی، که څه هم د انقلاب په جوړښت کې دغه این نه ښکاریږي خو اسلامي انقلاب خپل ټول څیزونه، هدفونه، اصول او تر دې چې د مقابلې طریقه هم د به یوه نوې طریقې له اسلامه راخستې ده. (آیت الله خامنه ای، په نړیوال سازمان کې وینا، ٦٦/٦/٣١)

سرچينې

١. ابوالحمد، عبدالحميد(١٣٨٢)، مباني سياست، تهران؛ توس خپرندويه اداره.

٢. احمدی، حسین و جوان، مصطفی (١٣٨٩)، «رهبری امام خمینی در فرایند انقلاب اسلامی ایران»، مطالعات بسیج، کال ١٣ شمېره ٤٦.

٣. احمدی، علی محمد(١٣٨٠)، راهبرد امام خمینی در عرصه اقتصاد؛ رهایی از اقتصاد وابسته، د امام خمینی د اقتصادي نظريو څيرنه، د دويم سمينار د مقالاتو مجموعه، موسسه تنظيم و نشر آثار حضرت امام خميني.

٤. اخوان مفرد، حمید(١٣٨٠)، «ایدئولوژی انقلابی امام خمینی(ره)، احیای تشیع»، قبسات، شمېره ٢٢.

٥. اخوان مفرد، حمیدرضا (١٣٨١)، ایدئولوژی انقلاب ایران، تهران: عروج.

٦. اردبیلی، عبدالغنی (١٣٨١)، تقریرات فلسفی امام خمینی، ١ و ٢ټوکونه، تهران، مؤسسه تنظیم و نشر آثار امام خمینی.

٧. آرنت، هانا، انقلاب، مترجم: عزت الله فولادوند، تهران، خوارزمی، ١٣٨١.

٨. اسکاچپول، تدا(١٣٧٦)، دولتها و انقلابهاي اجتماعي، ترجمه د سید مجید روئین تن، تهران: سروش.

۹. اسماعیلی جوشقانی، محمد (بی‌تاریخه)، «ویژگی‌های رهبری امام خمینی(ره)»، پژوهش‌های مدیریت راهبردی بصیرت، شمپره ۲۰، ۱۹.
۱۰. آقا بخشي، علي و افشاري راد، مينو(۱۳۷۹)، فرهنگ علوم سياسي، تهران: نشر چاپار.
۱۱. اقبال،حدیث(۱۳۹٦)، نقش و جایگاه مردم در الگوی مردم سالاری اسلامی از دیدگاه مقام معظم رهبری، بصیرت و تربیت اسلامی، درې میاشتنی ژورنال، شمپره ٤۰.
۱۲. اکبرزاده، فریدون (۱۳۸۰)، نقش رهبری در نهضت مشروطه ـ نهضت ملی نفت و انقلاب اسلامی، تهران: د اسلامي انقلاب د اسنادو مرکز.
۱۳. انصاری، منصور (۱۳۸٤)، چالش ها و فرصت های فراروی گذار به دموکراسی، زیر نظر حسین بشیریه، تهران: نگاه معاصر.
۱٤. انوری، حسن(۱۳۸۱)، فرهنگ بزرگ سخن، تهران، سخن خپرندویه اداره.
۱۵. ایمان‌پور، عباس (۱۳۸۷)، انقلاب اسلامی چالشی بر نظریه‌های انقلاب، تهران: د اسلامي انقلاب د اسنادو مرکز.
۱٦. باوند، نعمت‌الله (۱۳۷۸)، درآمدی بر نظریه انقلاب اسلامی، تهران: دانش و اندیشه معاصر.
۱۷. برزگر، ابراهیم(۱۳۸۹)، «ساختار فهم اندیشه سیاسی اسلام»، درې میاشتنی ژورنال دانش سیاسی، شپږم کال، دویمه شمپره، ژمې.
۱۸. بشیریه، حسین (۱۳۷٤)، انقلاب و بسیج سیاسی، تهران: د تهران د پوهنتون خپرندویه اداره.
۱۹. بی‌نا (۱۳٦۱)، در جستجوی را از کلام امام، تهران: امیرکبیر.
۲۰. پارسانیا، حمید (۱۳۷۹)، حدیث پیمانه: پژوهشی در انقلاب اسلامی، قم: معارف.
۲۱. پارسانیا، حمید (۱۳۸٦)، هفت موج اصلاحات: نسبت تئوری و عمل، قم: بوستان کتاب.

۲۲. پاکتچی، احمد (۱۳٦۷)، مدخل امام خمینی، ج ۲۲، تهران، د اسلامی انسائیکلو پیډیا لوی مرکز.
۲۳. پزشکی، محمد (۱۳۹۵)، «حکمت صدرایی، الگوی فلسفی علم سیاست»، حکمت اسلامی درې میاشتنی ژورنال، دریم کال، ۳شمېره، دوبی.
۲٤. پناهی، محمدحسین (۱۳۸۹)، نظریه‌های انقلاب: وقوع، فرآیند و پیامدها، تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی.
۲۵. پناهی، محمدحسین پناهي(۱۳۸۳)، بررسی زمینه ها و اهداف انقلاب اسلامی ایران بر اساس شعارهای انقلاب، معارف مجله، ۲۳شمېره.
۲٦. پیشگاهی فرد، زهرا و رحمانی، محمدعلی(۱۳۸۸)، قلمروخواهی ایران و آمریکا در خاورمیانه، د سازمان جغرافیایی نیروهای مسلح خپرندویه اداره.
۲۷. تبیان دفتر بیستم (۱۳۷۸)، تاریخ معاصر از دیدگاه امام خمینی(ره)، تهران: آثار امام خمینی(ره) خپرندویه عروج.
۲۸. جمشیدی، محمدحسین(۱۳۸۸)، اندیشه سیاسی امام خمینی، مرکز تنظیم و آثار امام خمینی(ره) خپرندویه.
۲۹. جمشیدی، مهدی (۱۳۹۰)، بنیادهای اجتماعی وقوع انقلاب اسلامی در نظریه علامه مرتضی مطهری(ره)، تهران: امام صادق(ع) پوهنتون.
۳۰. جمعی از نویسندگان(۱۳۸۵)، انقلابی متمایز، جستارهای در انقلاب اسلامی، بوستان کتاب.
۳۱. جوادی آملی، عبدالله (۱۳۷۵)، بنیان مرصوص، قم، اسراء.
۳۲. جوادی آملی، عبدالله (۱۳۷۷)، عرفان و حماسه، قم، اسراء.
۳۳. جوادی آملی، عبدالله (۱۳۸۷)، «حکمت متعالیه سیاست متعالیه دارد»، در سیاست متعالیه از منظر حکمت متعالیه، لومړۍ دفتر: نشست‌ها و گفتگوها، قم، علوم و فرهنگ اسلامی څېړنځای.

۳٤. حاضری، علی‌محمد (۱۳۸۰)، انقلاب و اندیشه، تهران: امام خمینی(ره) و انقلاب اسلامی څیړنځای.

۳۵. حسنی، محمدحسین(۱۳۷۷)، حسني، نوسازي جامعه از دیدگاه امام خميني، تهران: موسسه چاپ و نشر عروج.

۳٦. حسینی، حسین (۱۳۸۱)، رهبری و انقلاب، تهران: د امام خمینی(ره) څیړنځای خپرندویه اداره.

۳۷. حقی، محمد (۱۳۹۵)، فلسفه انقلاب اسلامی، د المصطفی(ص) خپرندویه اداره.

۳۸. حقی، محمد (۱۳۹٤)، صورت بندی و تحلیل نظریه های انقلاب اسلامی، د المصطفی(ص) خپرندویه اداره.

۳۹. حیدری، حمید (۱۳۷۸)، «آزادی در اندیشه حضرت امام خمینی(ره)». متین، ۲شمپره.

٤۰. خامنه‌ای، سید علی (۱۳۸۹)، حدیث ولایت سافټ ویر.

٤۱. خسروی، احمدعلی (۱۳۷۹)، بررسی استراتژی امام خمینی(ره) در رهبری انقلاب اسلامی ۱۳۵۷ـ ۱۳٤۲، قم: پیک ولایت خپرندویه.

٤۲. خمینی، روح‌الله (۱۳۷۳)، شئون و اختیارات ولی فقیه، تهران: د اسلامي کلتور او ارشاد وزارت.

٤۳. خمینی، روح‌الله (۱۳۷۸)، صحیفه امام، تهران: د اسلامي کلتور او ارشاد وزارت، د انقلاب د کتلوري مدرکونو سازمان، ۲۲ جلدی.

٤٤. خمینی، روح‌الله (۱۳۸۷)، ولایت فقیه، تهران: امیرکبیر.

٤۵. خمینی، سید روح الله (۱۳۸۸الف)، آداب الصلاة، تهران، مؤسسه تنظیم و نشر آثار امام خمینی.

٤٦. خمینی، سید روح الله (۱۳۸۸ب)، تفسیر سوره حمد، تهران، مؤسسه تنظیم و نشر آثار امام خمینی.

٤۷. خمینی، سید روح الله (بی تا)، کشف اسرار، بی‌جا، بی‌نا.

۴۸. دفتر بیست و نهم (۱۳۸٦)، بسیج در اندیشه امام خمینی(ره)، تهران: آثار امام خمینی(ره) خپرندویه، عروج.

۴۹. دفتر پانزدهم (۱۳۸٦)، وحدت از دیدگاه امام خمینی(ره)، تهران: آثار امام خمینی(ره) خپرندویه، عروج.

۵۰. دفتر چهل و پنجم (۱۳۸٦)، حکومت اسلامی و ولایت فقیه در اندیشه امام خمینی(ره)، تهران: آثار امام خمینی(ره) خپرندویه، عروج.

۵۱. دهشیری، محمدرضا (۱۳۸۰)، درآمدی بر نظریه سیاسی امام خمینی(ره)، تهران: د انقلاب د کتلوري مدرکونو سازمان.

۵۲. دهقان، حمید (۱۳۸۲) انقلاب اسلامی (نقطه عطفی در تاریخ)، قم: مدین خپرندویه اداره.

۵۳. رایت، رابین (۱۳۸۲)، آخرین انقلاب بزرگ: انقلاب و تحول در ایران، ترجمه د احمد تدین و شهین احمدی، تهران: خدمات فرهنگی رسا موسسه.

۵٤. رجایی، سیدمحمّدکاظم رجايي و معلّمي، سیدمهدی(۱۳۹۰)، درآمدي بر مفهوم عدالت اقتصادي و شاخص‌هاي آن، معرفت اقتصادی مجله، دویم کال، دویمه شمېره.

۵۵. سالاروند، امیر (۱۳۹۱)، گفتمان مبارزه در اندیشه سیاسی امام خمینی(ره) رویکردی به اصول و شیوه‌های مبارزاتی، قم: دفتر نشر معارف.

۵٦. سعیدی، مهدی (۱۳۹۲)، مردم سالاری دینی از منظر حضرت آیت االله خامنه ای، تهران :د اسلامی انقلاب د سندونو مرکز.

۵۷. شجاعیان، محمد(۱۳۸۲)، انقلاب اسلامی و رهیافت فرهنگی، د اسلامی انقلاب د سندونو مرکز.

۵۸. شفیعی فر، محمد(۱۳۹۰)، انقلاب اسلامی، ماهیت، زمینه ها و پیامدها، نشر معارف.

۵۹. شیدائیان، حسین (۱۳۸۵)، «جلوه‌های سیره نبوی در رهبری انقلاب اسلامی»، پیام، ۷۹شمپره.
٦۰. شیرازی، صدرالدین محمد بن ابراهیم (۱۳۷۵)، الشواهد الربوبیه، ترجمه او تفسیر د جواد مصلح، تهران، سروش.
٦۱. شیرازی، صدرالدین محمد بن ابراهیم (بی‌تا)، الحکمة المتعالیة فی الأسفار العقلیة الاربعه، قم، مصطفوی.
٦۲. صدیقی، کلیم(۱۳۷۵)، نهضتهای اسلامی و انقلاب اسلامی ایران، ترجمه د سیدهادی خسروشاهی، اداره اطلاعات خپرندویه.
٦۳. صلیبا، جمیل (۱۳٦٦)، فرهنگ فلسفی، ترجمه د منوچهر صانعی دره بیدی، تهران، حکمت خپرندویه.
٦٤. طارمی،محمد حسین(۱۳۸۸)، عدالت قضایی و جرایم پیرامونی، پگاه حوزه.
٦۵. طلوعي، محمود(۱۳۷۰)، داستان انقلاب، تهران: علم.
٦٦. عجم اغلو، دارون و جیمز رابینسون (۱۳۹۱)، ریشهٔ اقتصادی دیکتاتوری و دموکراسی، تهران: کویر.
٦۷. عشقی، لیلی (۱۳۷۹)، زمانی غیر زمان‌ها: امام، شیعه و ایران، ترجمه د احمد نقیب‌زاده، تهران، د اسلام او ایران د پیژندنې.
٦۸. عمید زنجاني، عباسعلي(۱۳٦۷)، انقلاب اسلامي و ریشه هاي آن، تهران: کتاب سیاسی خپرندویه.
٦۹. عمید زنجانی، عباسعلی(۱۳۷۷)، د انقلاب اسلامی و ریشه‌های آن کتاب لنډیز، تهران، کتاب طوبی خپرندویه، دولسم چاپ.
۷۰. عمید، حسن(۱۳۵٦)، فرهنگ فارسي عمید، تهران: امیرکبیر.
۷۱. عیوضی، محمدحیم و هراتی، محمدجواد(۱۳۹۰)، درآمدی تحلیلی بر انقلاب اسلامی، معارف خپرندویه.
۷۲. غفاری، سید محمد خالد (۱۳۸۰)، فرهنگ اصطلاحات آثار شیخ اشراق، تهران، د شیخ اشراق د آثارو انجمن.

۷۳. فدایی مهربانی، مهدی(۱۳۹۳)، حکمت، معرفت و سیاست در ایران، تهران، نی خپرندویه.
۷٤. فراتی، عبدالوهاب (۱۳۸۰)، «نظریه انقلاب در اندیشه امام خمینی(ره)»، علوم سیاسی مجله، څلورم کال، ۱٦شمېره.
۷۵. فلاحی، اکبر (۱۳۸۵)، سال‌های تبعید امام خمینی(ره)، تهران: د اسلامي انقلاب د اسنادو مرکز.
۷٦. قائدان، اصغر (۱۳۸۵)، «مدیریت و رهبری پیامبر(ص) در عرصه‌های نظامی»، مطالعات بسیج، ۲۱شمېره.
۷۷. کشاورز شکری، شکری، غفاری هشجین، زاهد و شیخی، معصومه (۱۳۹۳)، مدل انقلاب اسلامی در اندیشه امام خمینی(ره)، درې میاشتنی علمی د انقلاب اسلامی څېړنیزه مجله، ۱۰شمېره.
۷۸. کشاورزشکری، عباس، غفاری، زاهد و جمشیدی، مهدی (۱۳۹۱)، «ماهیت رهبری امام خمینی(ره) در نظریه علامه شهید مطهری(ره)»، مطالعات انقلاب اسلامی، نهم کال، ۲۹شمېره.
۷۹. کیخا، نجمه (۱۳۸۹)، «مبانی فلسفی اخلاق و سیاست در تقریرات فلسفی امام خمینی»، در سیاست متعالیه از منظر حکمت متعالیه، د مقالاتو د ټولګې څلورم ټوک، قم، د اسلامي کلتور او علمونو څېړنځای.
۸۰. کیخا، نجمه (۱۳۹٦)، چارچوبی برای تحلیل انقلاب اسلامی در اندیشه امام خمینی(ره)، درې میاشتنی علمی د انقلاب اسلامی څېړنیزه مجله، شمېره ۵۱.
۸۱. لک زایی، رضا(۱۳۹۵)، مولفه های بنیادین اندیشه سیاسی امام خمینی(ره)، المصطفی خپرندویه اداره.
۸۲. لک زایی، شریف (۱۳۹۰)، «جمهوری متعالیه- تأملی در نسبت حکمت متعالیه و انقلاب اسلامی»، سوره اندیشه، ٥٦ او ۵۷ شمېره، د بهمن او اسفند میاشت.

۸۳. لک زایی، شریف و کیخا، نجمه (۱۳۹٤)، «ظرفیت های حکمت متعالیه در تبیین انقلاب اسلامی ایران»، درې میاشتنی علمی د انقلاب اسلامی د انقلاب د وخت څېړنیزه مجله فصلنامه، لومړۍ کال، دریمه شمېره، اوړی ۱۳۹۵.
۸٤. لک زایی، شریف و کیخا، نجمه (۱۳۹۵)، «پیش زمینه های مردم سالاری دینی و رابطه حکمت متعالیه و انقلاب اسلامی»، درې میاشتنې مجله سپهر سیاست، ۹شمېره، منی.
۸۵. لک زایی، نجف (۱۳۹٤)، اندیشه سیاسی امام خمینی، قم: د اسلامی کتلور د علمونو څېړنځای.
۸٦. لک‌زایی، رضا و نجف لک‌زایی (۱۳۹۱)، «تحلیل انقلاب اسلامی در چهارچوب حکمت متعالیه»، متین درې میاشتنۍ مجله، ۵۱شمېره، اوړی.
۸۷. لک‌زایی، شریف (۱۳۸۹)، «تکوین حکمت متعالیه از صدرالمتألهین تا امام خمینی»، در سیاست متعالیه از منظر حکمت متعالیه، د مقالاتو د ټولګې دویم ټوک، قم، د اسلامی کتلور د علمونو څېړنځای.
۸۸. لک‌زایی، شریف و فتح الهی، محمدعلی (۱۳۹۲)، «حکمت متعالیه و انقلاب اسلامی»، جستارهای سیاسی معاصر درې میاشتنۍ مجله، ۸شمېره، اوړی.
۸۹. محبوبی‌منش، حسین (۱۳۸۰) «امام(ره)، فرهنگ و اصلاحات بررسی جامعه‌شناختی دیدگاه حضرت امام خمینی(ره) درباره فرهنگ»، دانش انتظامی، ۳ یا ۱۰شمېره.
۹۰. محمدی، منوچهر (۱۳۷٤)، انقلاب اسلامی در مقایسه با انقلاب‌های فرانسه و روسیه، مولف خپرندویه.
۹۱. محمدی، منوچهر(۱۳۹۰)،"انقلاب اسلامی، زمینه ها و پیامدها"، معارف خپرندویه.

۹۲. مصباح یزدی، محمدتقی(۱۳۸٦)، انقلاب اسلامی و ریشه های آن، نوشته آیت الله مصباح یزدی د موسسه آموزشی و پژوهشی امام خمینی(ره)خپرندویه.
۹۳. مصباح یزدی، محمدتقی،(۱۳۸۷)، نگاهي گذرا به نظریه ولایت فقیه، د موسسه آموزشی و پژوهشی امام خمینی(ره)خپرندویه.
۹٤. مطهری، مرتضی (۱۳٦۸)، آشنایی با علوم اسلامی: منطق و فلسفه، تهران، صدرا.
۹۵. مطهری، مرتضی (۱۳۷۸)، آینده انقلاب اسلامی ایران، تهران: صدرا.
۹٦. مطهري، مرتضی(۱۳۷۳)، زندگي جاوید یا حیات اخروي، قم: صدرا.
۹۷. مطهري، مرتضی(۱۳۷٤)، اسلام و مقتضیات زمان، تهران: صدرا.
۹۸. مقیمی، غلام حسین (۱۳۸۸)، جایگاه حق رأی در مردم سالاری دینی، د اسلامي ډموکریسۍ د سمینار د مقالاتو ټولګه، تهران: د اسلامي کتلور او معارفو څیړنځای.
۹۹. ملکوتیان، مصطفی (۱۳۸۹)، «ایدئولوژی و رهبری و تاثیر آن بر چیروزی سریع، ثبات پایدار و بازتاب جهانی انقلاب اسلامی ایران»، سیاست درئ میاشتنۍ مجله، دانشکده حقوق و علوم سیاسی، ٤۰دوره.
۱۰۰.ملکوتیان، مصطفی(۱۳۸۷)، بازخوانی علل وقوع انقلاب اسلامی در سپهر نظریه پردازی ها، تهران، خپرندویه د اسلامي کتلور او معارفو څیړنځای.
۱۰۱.منصوری لاریجانی، اسماعیل(۱۳۸۷)، اهداف دفاع فرهنگي، سوره مهر مجله،٤۱شمپره.
۱۰۲.میراحمدي، منصور (۱۳۸۸)، نظریهٔ مردم سالاری دینی، تهران: شهید بهشتی پوهنتون.
۱۰۳.میرباقری، سید مهدی (۱۳۸۹)، «ولایت فقیه یا ولایت حکیم: بررسی جایگاه فلسفه اسلامی در انقلاب اسلامی»، سورهٔ اندیشه مجلهٔ، ٤۸ او ٤۹ شمیره.

۱۰٤.میرسندسی، محمد (۱۳۸۱)، گفتارهای اندیشه اجتماعی امام خمینی(ره)، (با تاکید بر عدالت و توسعه). تهران: امام حسین(ع) پوهنتون.
۱۰۵.ناصری، علی اکبر(۱۳۹۰)، مبانی فقهی انقلاب اسلامی، قم: د المصطفی د خپرولو او ترجمې نړیوال مرکز.
۱۰٦.نائینی، محمدحسین (۱۳۷۸)،تنبیه الامه و تنزیه المله، د سید محمود طالقانی څېړنو سره، تهران، نهم چاپ.
۱۰۷.نبوی، سیدعبدالامیر (۱۳۷۷)، «تطور اندیشه سیاسی امام خمینی(ره)»، د امام صادق علیه السلام د پوهنتون د څېړنو مرکز ٦ او ۷.
۱۰۸.نصر، سید حسین (۱۳۸٤)، «عرفان نظری و تصوف عملی و اهمیت آها در دوران کنونی»، ترجمه د انشاء الله رحمتی، اطلاعات حکمت و معرفت، ٤ اسفند.
۱۰۹.هانتینگتون، ساموئل(۱۳۸۲)، سامان سیاسي در جوامع دستخوش دگرگوني، ترجمه د محسن ثلاثي، تهران: علم خپرندویه.
۱۱۰.هراتی، محمد جواد (۱۳۹۰)، «وجوه سیاسی کتاب شرح چهل حدیث حضرت امام خمینی»، در سیاست متعالیه از منظر حکمت متعالیه، په زیار د شریف لکزایی، قم، د اسلامي کتلور او معارفو څېړنځای.
۱۱۱.ورعی، سید جواد و ناصری، علی اکبر(۱۳۸۸)، «مبانی فقهی انقلاب اسلامی در اندیشه امام خمینی»، حکومت اسلامی درې میاشتنۍ مجله، څوارلسم کال، ٤شمېره، اوړی.
۱۱۲. یدالله پور، بهروز (۱۳۸۹)، «کرامت انسان در قرآن و انگاره های اندیشمندان مسلمان معاصر»، په راسخون ویب سایټ کې یې موندلی شئ.
۱۱۳. یزدانی، عنایت‌الله (۱۳۷٦)، «ابعاد و زمینه‌های تهاجم فرهنگی در اندیشه امام خمینی(ره)». اسلامي پوهنتون، دریمه شمېره.